

# افغانستان

## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې
## د ۲۰۲۰ کلنی راپور

د بشري حقونو لپاره
د ملګرو ملتونو
د عالي کمیشنرۍ دفتر


د افغانستان لپاره
د ملګرو ملتونو
مرستندویه پلاوی

فبروری ۲۰۲۱
کابل، افغانستان

دا او په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې ټول نور راپورونه چې دلته يې یادونه شوې، د یوناما پر لاندې  انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

د راپور لومړی مخ : د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو ترمنځ د افغانستان د سولې د مذاکراتو تر پیل درې میاشتې وروسته، یو افغان هلک د ۲۰۲۰ کال د دسمبر پر ۱۲ نېټه په کابل کې پر یوې هستوګنځې سیمې د راکیټونو تر لګېدو وروسته له ماتو شیشو پر ډکه لار خپل کور ته روان دی. د عراق او شام د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د دغه راکیټي برید مسوولیت پر غاړه واخیست د کوم په پایله کې چې یو ملکي نارینه ووژل شو او دوه نور ژوبل شول. نومورې ډلې دغه راز تر دغه برید یوه میاشت پخوا د نومبر پر ۲۱ نېټه پر کابل د یوه بل راکیټي برید مسوولیت هم پر غاړه اخیستی و د کوم په پایله کې چې ۱۰ ملکي وګړي ووژل شول او ۵۰ نور ژوبل شول.

انځورEPA-EFE © /هدایت الله حامد


کابل ۸۱۷ ملکي تلفات
ننګرهار ۵۷۶ ملکي تلفات
ملکي تلفات
700 +
400 to 699
200 to 399
100 to 199
0 to 99
بلخ ۷۱۲ ملکي تلفات
فریاب ۵۷۶ ملکي تلفات



**"دغه راپور هغه زړه بګنونکی کړاو مستندوي چې افغانانو په ۲۰۲۰ کال کې ګاللی، یو داسې کال چې کولای یې شول افغانستان د سولې په لور نږدې کړي. خو د دې پر ځای کوم څه چې موږ ولېدل په سپټمبر میاشت کې د سولې د مذاکراتو د پیل په تعقیب په ملکي زیان کې زیاتوالی و. د دغې لسیزو اوږدې جګړې له امله د ډېری وګړو دوامداره مړینې ویجاړوونکې دي. زه پر ښځو او ماشومانو څوک چې په ۲۰۲۰ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو تر ۴۳ سلنې پورې جوړوي، د دغې جګړې د اغېز په اړه سخته اندېښمنه یم. ملګرو ملتونو په پر له پسې ډول د اوربند غوښتنه کړې، کوم څه چې له زیان څخه د ولسي وګړو د ساتنې تر ټولو غوره لار ګڼل کېږي. زه له ښکېلو خواوو غوښتنه کوم چې د جګړې د پای ته رسولو لپاره د مذاکراتو مېز وکاروي، او د دغه کار د ترسره کولو لپاره آن یوه ورځ هم ضایع نه کړي او پرې نه ږدي چې نور افغانان بې دلیله خپل ژوند له لاسه ورکړي."**

## دیبورا لاینز

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې

کابل افغانستان

فبروري ۲۰۲۱



**"افغانستان په نړۍ کې د ولسي وګړو لپاره یو تر ټولو مرګونی ځای ګڼل کېږي، چېرې چې ملګرو ملتونو د وژل شویو ښځو په شمېر کې د ۱۳ سلنه هېښوونکی زیاتوالي په ګډون، د وسله والې جګړې له امله د اووم پر له پسې کال لپاره له ۳۰۰۰ څخه زیاتې ملکي وژنې مستندوي. زه همدارنګه په ځانګړي ډول په سپټمبر میاشت کې د سولې د مذاکراتو له پیل راهیسې د بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالستانو او رسنیو د کارمندانو د وژنو د لوړو شمېرو په اړه شاک شوې یم. دغه راپور د وسله والې جګړې د قربانیانو شدیدې او پایېدونکې اړتیاوې او دغه راز دا په ډاګه کوي چې د مهمو لارو چارو له لارې د دغو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د څومره کار ترسره کولو ته اړتیا ده. هغه تاوتریخوالی چې د لسیزو لپاره یې افغان وګړو ته درد او کړاو راوړی باید پای ته ورسیږي او پایېدونکې سولې ته د رسېدو په لور د ګامونو اوچتول باید دوام وکړي."**

## میشل باشلی

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنره

جنیوا، سویټزرلنډ

فبروري ۲۰۲۱

## صلاحیت/واک

په افغانستان کې په وسله واله جګړه د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۲۰ کال کلنی راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا چمتو شوی او د ۲۰۲۰ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې موده تر پوښښ لاندې نیسي.

د یوناما د بشري حقونو څانګې دغه راپور یوناما ته د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۵۴۳ (۲۰۲۰) پرېکړه لیک له مخې د صلاحیت پر اساس چمتو کړی "چې د ملکي وګړو وضعیت وڅاري، هڅې سره همغږې کړي څو د هغوي ساتنه ډاډمنه کړي [...] احتساب ته وده ورکړي، [...] او د بنسټیزو ازادیو او بشري حقونو د احکامو، چې د افغانستان په اساسي قانون او هغو نړیوالو تړونونو کې چې افغانستان یې غړیتوب لري تسجیل شوي دي، په بشپړ ډول پلي کېدو کې مرسته وکړي، په ځانګړي ډول د هغو احکامو په پلي کولو کې چې د ښځو له خوا د هغوي له ټولو حقونو څخه د برخمن کېدو سره تړاو لري."

د امنیت شورا ۲۵۴۳ (۲۰۲۰) شمېره پرېکړه لیک په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د وضعیت په ځانګړي ډول د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې روانې څارنې او په اړه یې امنیت شورا ته د راپور ورکونې پر اهمیت ټینګار کوي.

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه: په خپلواکه او ناپېیلې ډول د هغو پېښو څارنه چې د ملکي وګړو مرګ ژوبله په کې شامل وي؛ په وسله والو جګړو کې د زیانمن شویو ملکي وګړو د ساتنې د تقویې په موخه ملاتړ او مدافعه؛ او داسې نوښتونه چې د جګړې د ټولو ښکېلو خواوو ترمنځ په ځانګړي ډول د ژوند او جسمي سلامتیا حقونو ته د درناوي په ګډون، د بشري حقونو او د بشر پالنې د نړیوالو قوانینو او د افغانستان د اساسي قانون رعایت کولو ته وده ورکوي.

دغه راپور د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنر د دفتر د تخنیکي معلوماتو څخه برخمن شوی.

# د مطالبو فهرست


میتودولوژي ........ 7
**د راپور لنډیز........ 10**
**د پېښې ډولونه چې ملکي وګړو ته تر ټولو زیات زیان اړوي ........ 14**
**د جګړې ښکېلو خواوو ته د ملکي تلفاتو منسوبونه ........ 16**
**دولت ضد عناصر ........ 16**
**دولت پلوه ځواکونه ........ 17**
**سپارښتنې ........ 19**
**لومړی: هغه سیاسي او امنیتي ډینامیکونه چې د ملکي وګړو ساتنه اغیزمنوي ........ 22**
**دویم: ښځې او وسله واله جګړه ........ 25**
**دریم. ماشومان او وسله واله جګړه........ 29**
**الف. د جګړې د ښکېلو لورو له خوا د ماشومانو ګمارنه او کارونه ........ 32**
**ب. د ماشومانو پر وړاندې د جګړې اړوند جنسي تاوتریخوالی........ 34**
**ج. پر روغتیا د وسله والې نښتې اغېز ........ 34**
**د. پر پوهنې د وسله والې جګړې اغېز ........ 36**
**څلورم. دولت ضد عناصر ........ 38**
**الف. عمومي کتنه ........ 38**
**۱. طالبان........ 40**
**۲. دعراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ........ 41**
**۳. نا معلوم دولت ضد عناصر ........ 41**
**ب. د پېښې ډولونه چې ملکي وګړو ته د ډېر زیان لامل کېږي........ 42**
**۱. انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شوي چاودېدونکي توکي........ 42**
**لومړی. ځانمرګي بریدونه ........ 43**
**دویم: هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکي وکړي او ملکي شیان په نښه کوي ........ 49**
**دریم: د جګړې اړوند د ملکي وکړو تښتونې ........ 56**
**څلورم: ظالمانه، نا انساني او له سپکاوي ډکې سزاګانې او له ژوندانه څخه خپل سری محرومیت ........ 57**
**پنځم: له خطر سره د ملکي خلکو مخ کول: د نظامي موخو لپاره د ملکي کورنو او نورو جوړښتونو کارول او د خطرناکو او تحریک کوونکو کړنو پیلول ........ 57**
**پنځم: حکومت پلوه ځواکونه ........ 59**
**الف. عمومي کتنه ........ 59**
**۱. افغان ملي امنیتي ځواکونه ........ 61**
**۲. نړیوال نظامي ځواکونه ........ 63**
**دریم. دولت پلوه وسله والې ډلې........ 63**
**ب. د پېښو هغو ډول چې تر ټولو زیات ملکي تلفات یې اړولي........ 64**
**۱.هوایي بریدونه:........ 64**
**۲. د صحرایي اعدامونو په ګډون، ملکي وګړو ته عمدي زیان ........ 67**

شپږم: ځمکنۍ نښتې او له جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي توکي.......... 69
الف. ځمکنۍ نښتې: په ډزو کې ګير ملکي وګړي .......... 69
. 1 غير مستقيمې ډزې: د توپ مرمۍ، هاوانونه او راکيټونه .......... 70
۲: د ځمکنۍ نښتو پرمهال د ډزو له امله ملکي تلفات .......... 72
۳: د پولې هغې غاړې پېښې .......... 73
ب. له جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي توکي .......... 74
پنځم. پر قربانيانو د جګړې پايېدونکې اغيزې او زيان ته د رسيدګۍ هڅې.......... 76
الف. په قربانيانو اغيز .......... 76
۱. د قرباني سره مرسته.......... 83
۲: پر قرباني متمرکز عدالت .......... 85
شپږم: د احتساب د هڅو په ګډون له زيان څخه د ملکي وګړو د ساتنې پاليسي ګانې او تدابير .......... 88
الف: کتنه .......... 88
ب: دولت او افغان ملي امنيتي ځواکونه .......... 89
ج. نړيوال وسله وال ځواکونه:.......... 91
د. طالبان.......... 92
لومړۍ ضميمه: حقوقي چوکاټ.......... 94
دويمه ضميمه: د جګړې اصلي خواوې .......... 98
څلورمه ضميمه: د ملکي تلفاتو ولايتي تجزيه.......... 107
پنځمه ضميمه: د افغان دولت غبرګون.......... 109
شپږمه ضميمه: د طالبانو غبرګون.......... 111

## میتودولوژي

د ۲۰۰۹ کال راهیسې، یوناما د یوې ثابتې میتودولوژۍ په کارونې سره کوښښ کړی چې کال په کال د تمایلاتو د شننې او راپور ورکونې زمینه برابره کړي، په سیستماتیک ډول هغه ملکي تلفات مستند کوي چې په افغانستان کې د جګړې ښکېلو خواوو ته منسوب شوي. د ۲۰۱۲ کال راهیسې، کلني راپورونه د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر له دفتر سره یو ځای په ګډه خپرېږي. د یوناما د ملکي وګړو د خوندیتوب چارې د بشري حقونو او د بشرپالنې پر نړیوالو قوانینو مبتني دي او د ښو مشقونو او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د سلا مشورو او لارښوونو پر بنسټ دي.

د ملکي تلفاتو شتون په دې مانا نه دی چې ګواکې سرغړونه رامنځ ته شوی، خو بیا هم د تلفاتو لوړې شمېرې ښايي د تاوتریخوالي څرګندوي وي یا د اوښتي زیان نمونې منعکسې کړي.

**تاییدونه او د ثبوت معیار**

د ملکي وګړو د خوندیتوب په اړه د خپلو راپورونو لپاره، یوناما یوازې تایید شوي ملکي تلفات شاملوي.[1] ملکي تلفات د "تایید شویو" هغو په حیث هغه مهال ثبت کېږي، چې د یوناما له خوا د کتل شویو معلوماتو د بشپړتیا پر بنسټ دا په ډاګه شوې وي، چې څرګند او قانع کوونکي شواهد شتون ولري چې ملکي وګړي وژل شوي یا ژوبل شوي. د دغه معیار د پوره کولو لپاره یوناما لږ تر لږه درې ډوله مختلفو او خپلواکو سرچینو ته اړتیا لري لکه قرباني، شاهدان، روغتیايي کارکوونکي، ځايي چارواکي، په جګړه کې د ښکېلو غاړو له خوا تایید، قومي مشر او یا نورې سرچینې. چېرې چې شونې وي، معلومات د قربانیانو یا د پېښو د عیني شاهدانو او د پېښې د ځای د حقیقت موندنې د هڅو له لومړنیو سرچینو څخه تر لاسه کېږي. د حقیقت موندنې دغه ډول چارې د امنیتي محدودیتونو له امله چې لاس رسی اغیزمن کوي، تل شونې نه وي. په دغه ډول حالاتو کې یوناما پر یو لړ تخنیکونو اتکا کوي چې د باوري شبکو له لارې چې تر شونې بریده پراخې سرچینې او معلومات کاروي معلومات راغونډ کړي، چې ټول یې د اعتبار او باور په موخه ارزول کېږي. په دغو تخنیکونو کې د پېښو په صحنو کې د راغونډ شویو ډیجیټالي شواهدو لکه د ویډیوګانو، انځورونو او غږیزو ریکارډونو ارزونه؛ له روغتونونو او روغتیايي مرکزونو څخه لېدنې؛ د ملګرو ملتونو د امنیت او خوندیتوب د څانګې راپورونه؛ د دویم لاس سرچینو معلومات، د نا دولتي ادارو او د دریم لوري له خوا راغونډ شوي معلومات؛ او پخپله د جګړې ښکېلې خواوې شامل دي. یوناما په فعال ډول د جنډر په لحاظ له بېلابېلو سرچینو او دغه راز د نژادي، مذهبي او قومي لړکیو او په ټولنه کې له تجرید شویو قشرونو سره مشورې کوي، څو د نظرونو تنوع ډاډمن کړي او د یوه ځانګړي تمایل یا پلوۍ ګواښ راکم کړي. چېرې چې یوناما د ملکي تلفاتو د معلوماتو د کمیت یا کیفیت په اړه ډاډمنه نه وي، نو هغه د تایید شویو په حیث په پام کې نه نیسي. نا تایید شوې پېښې په دغه راپور کې نه دي شاملې شوې. یوناما ادعا نه کوي چې په دغه راپور کې وړاندې شوې احصائیې بشپړې دي او دا منې چې په عملیاتي چاپیریال کې په تېره بیا د هغو د ننګونو په پام کې نیولو سره چې د کووید-۱۹ وبا له امله پر خوځښت د وضع شویو محدودیتونو له امله رامنځ ته شوې، د ملکي وګړو مرګ ژوبله په بشپړ ډول نه وي راپور شوې.

**د جګړې له ښکېلو خواوو سره تعامل**

یوناما د تایید شویو پېښو معلومات د جګړې له ښکېلو خواوو سره شریکوي څو په راپور ورکونه کې کره والی ډاډمن کړي او له هغوی سره پر ملکي وګړو د هغوی د عملیاتو د اغیز په درک کولو کې مرسته وکړي، څو ښايي هغوی وکولای شي هغه زیان ته رسیدګي وکړي چې دوی لامل شوي او د ملکي وګړو د غوره ساتنې لپاره تدابیر عملي کړي. که چېرې کوم لوری د هغو پېښو په اړه چې ملکي تلفات په کې رامنځ ته شوي او دوی په کې ښکېل وي داسې معلومات ولري چې د حقایقو په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړي، اړوند لوری د دغه ډول معلوماتو شریکولو ته هڅول کېږي. یوناما د ملکي تلفاتو په اړه خپلو تاییدونو کې ټول شته معلومات د اعتبار او باور په موخه ارزوي.

**د سرچینو ساتنه**

د ملکي تلفاتو د پېښو د مستند کولو پر مهال، یوناما د معلوماتو د ورکولو لپاره زیانمنېدونکې سرچینې له هر ډول ممکنه غچ اخیستنې څخه خوندي ساتلو ته پاملرنه کوي، لکه په خوندي ځایونو کې ناستې ترسره کول، له رایج ټولنیزو نورمونو سره سم له ښځو سره مرکې ترسره کول، او په هغو ځایونو کې چې سرچینې له ګواښ سره مخ کوي د حقیقت موندنې د چارو بیا تنظیمول یا درول.

---

[1] یوناما همدارنګه هغه پېښې مستند او تاییدوي چې ملکي شتمنۍ ته د زیان لامل شوې وي.

### د مسوولیت منسوبونه

څرنګه چې په جګړه کې ګڼې خواوې ښکېلې دي، یوناما هره شونې هڅه ترسره کوي چې تر شوني بریده د هرې ځانګړې ملکي مرګ ژوبلې لپاره مسووله خوا په څرګند ډول په ګوته کړي. دغه کار له عملیاتي چاپېریال سره د ملو ننګونو له امله ښایي تل شونی نه وي. د بېلګې په توګه، لومړنی سرچینې ښایي د دې وړ نه وي چې په څرګند ډول مسوولې خواوې په ګوته کړي یا په هره قضیه کې د مختلفو نظامي فعالینو یا د وسله والو ډلو د غړو ترمنځ توپیر وکړي یا ښایي داسې یو حالت چېرې چې هیڅ لوری د پېښې مسوولیت نه وي منلی. یوناما د هرې ملکي مرګ ژوبلې مسوولیت یا دولت پلوه ځواکونو یا دولت ضد عناصرو، په ګډه دواړو ډلو، یا د "نامشخص لوري" په څېر یوه لوري ته منسوبوي. د دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو تر منځ د ځمکنیو نښتو پر مهال په هغو قضیو کې په کومو کې چې ملکي مرګ ژوبله یوه لوري ته منسوب کېدای نه شي، یوناما دغه ډول مسوولیت په ګډه دواړو ډلو ته د "دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو" په څېر ثبت او منسوبوي. چېرې چې مړینې له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي وي او په پرېکنده ډول یوې خوا یا خواوو ته نه شي منسوب کېدای یا ښایي دغه توکي له پخوانیو جګړو څخه پاتې شوي وي، دغه ډول قضیې د هغو په څېر ډلبندي کېږي چې مرتکب یې نا معلوم وي "نامعلوم مرتکب".

### د قربانیانو د ملکي وضعیت معلومول

یوناما ملکي وګړي داسې تعریفوي، هغه څوک چې د وسله والو ځواکونو یا د تنظیم شویو وسله والو ډلو غړي نه وي. یوناما هغه تلفات نه مستندوي چېرې چې ملکي وګړو د مرګ ژوبلې پر مهال په مستقیم ډول په جګړو کې ګډون کړی وی، او نه له بریدونو څخه د هغو خوندي شویو افرادو تلفات مستند کوي څوک د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې ملکیان نه ګڼل کېږي، لکه له جګړې څخه لویدلي افراد یا د وسله والو ځواکونو روغتیایي او مذهبي کارمندان.[2] یوناما د جنګ کولو عمر په پام کې نه نیسي، نارینه یا خو ملکي وګړي دي یا هم جنګیالي. بلکې دغه ډول ادعاوې د هرې مرګ ژوبلې په تړاو د موجوده حقایقو پر بنسټ ارزول او مستند کېږي. په ځینو پېښو کې د قرباني شخص ملکي وضعیت په پرېکنده ډول نه شي معلومېدای او یا هم لانجمن وي. چېرې چې بسیا معلومات موجود نه وي، دغه ډول تلفات په احصائیې راپور ورکوَنه کې نه شاملېږي.

### د جګړې له ښکېلو خواوو سره د ملکي تلفاتو په شمېرو کې توپیرونه

یوناما د دې یادونه کوي چې د دغې ادارې د ملکي تلفاتو شمېرې ښایي له هغو سره توپیر ولري کومې چې د جګړې د ښکېلو خواوو له خوا راغونډې شوي. یوناما موندلې چې د جګړې ښکېلې خواوې د یوناما د موندنو په پرتله په ثابت ډول د هغو ملکي تلفاتو په اړه چې د دوی د عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي کم راپور ورکوي. د جګړې ښکېلې خواوې د معلوماتو د راغونډولو په خپلو میتودولوژي ګانو او په خورا مهم ډول د ملکي شخص د تعریف په حقوقي شننه کې له یوناما سره توپیر لري.

یوناما د ملکي شخص هغه تعریف تطبیقوي کوم چې د بشرپالنې نړیوال قانون منعکسوي. ملکي اشخاص داسې تعریف شوي، څوک چې د جګړې د ښکېلو خواوو د وسله والو ځواکونو غړي نه وي. د داخلي وسله والې جګړې په صورت کې، په دې کې د دولتي وسله والو ځواکونو غړي او دغه راز د جګړې د غیر دولتي خواوو د تنظیم شویو وسله والو ډلو غړي شامل دي.[3] د منظمو وسله والو ډلو غړي، په منحصر ډول د نادولتي ډلو وسله والې یا نظامي څانګې پر غړو اطلاق کېږي، چېرې چې افراد نا دولتي ډلو ته بل ډول فعالیتونه یا د ملاتړ نور شکلونه وړاندې کوي، نو هغوی د منظمو وسله والو ډلو غړي نه ګڼل کېږي.[4] د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې په جګړو کې د مستقیم ګډون د نظریې په اړه د سره صلیب د نړیوالې کمېټې د تفسیري لارښوونو پر بنسټ، چې په تعقیب یې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو یو شمېر میکانیزمونه او څارندوی ماموریتونه هم رامنځ ته شوي، "په منظمو وسله والو ډلو کې د انفرادي غړیتوب لپاره پرېکنده معیار دا دی، چې یو شخص د یوې ډلې لپاره په جګړو کې د هغه/هغې د مستقیم ګډون لپاره یوه دوامداره دنده اشغالوي".[5] هغه کسان چې له وسله والې مخالفې ډلې سره کوي - په سیاسي، مالي یا بل ډول - خو په منظم وسله واله ډله کې کوم دوامدار جګړه ییز فعالیت نه لري، د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې د وسله والې ډلې غړي نه ګڼل کېږي. د ملکیانو په څېر، هغوی له بریدونو خوندي دي، تر هغې چې هغوی په جګړو کې په مستقیم ډول ګډون نه وي کړی.[6]

---

[2] د لا زیاتو معلوماتو لپاره، لومړی ضمیمه: حقوقي چوکاټ، او په دویمه ضمیمه: د اصطلاح ګانو په قاموس کې د ملکیان او ملکي تلفاتو تعریف وګورئ

[3] د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې په جګړو کې د مستقیمې ونډې اخیستنې په اړه د آی سي آر سي تفسیري لارښوونې، مئ ۲۰۰۹، ۳۲ مخ.

[4] همدا ماخذ، ۳۲-۳۵ مخونه.

[5] د آی سي آر سي د بشرپالنې نړیوال عرفي قانون، ۲۰۰۵، لومړی ټوک: قواعد ("د آی سي آر سي د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون څېړنه")، ۶ قاعده.

[6] په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۳ کال (۳۲ مخ) او ۲۰۱۴ کال (۷۴) کلني راپورونه وګورئ.

یوناما موندلې چې د جګړې ښکېلې خواوې د هغه څه په پرتله چې د بشرپالنې په نړیوال قانون کې منعکس شوي په دوارو پالیسي او عمل کې د "ملکي شخص" خورا کوچنی تعریف کاروي، چې له امله یې د وګړو پراخه برخه د هدف ګرځونې سره مخ شوې. یوناما په دوامدار ډول د هغه تعریف په اړه چې د طالبانو[7] له خوا کارول شوي اندېښنه څرګنده کړې او همدارنګه له دولت پلوه ځواکونو سره د خپلو تعاملاتو پرمهال په زیاته کچه ورته اندېښنې په ډاګه کړي.[8] د بشرپالنې د نړیوال قانون له معیارونو سره په تعریفونو کې دغه توپېرونه په عام ډول د ملکي وګړو لپاره خوندي شوی چاپیریال په منفي ډول اغیزمن کوي، او دغه راز د یوناما له خوا د مستند شویو په پرتله د جګړې د ښکېلو خواوو له خوا د راپور شویو ملکي تلفاتو د کم شمېر د راپور لامل ګرځي.

**د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون سره همکاري**

یوناما د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون په ځانګړي ډول د ځانګړو پېښو له ټیم سره د پېښو په اړه د حقیقت موندنو د چارو په ترسره کولو او د عمومي جریانونو او نمونو په شننه کې همغږي او همکاري ترسره کوي. وخت نا وخت په ځانګړي ډول د لوړې کچې پېښو په اړه د یوناما او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ترمنځ ګډ ماموریتونه ترسره کېږي. په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د طالبانو تر ولکې لاندې سیمه کې یو ګډ ماموریت ترسره کړ، څو د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د هوایي بریدونو په پایله کې د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو په اړه د حقیقت موندنې چارې ترسره کړي.

[7] د ۲۰۱۸ کال د اپریل پر ۲ نېټه د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالۍ د هوایي بریدونو په اړه د یوناما ځانګړی راپور (د ۲۰۱۸ کال په مۍ کې خپور شوی)؛ او د نشه یي توکو د پروسس پر مرکزونو د بریدونو په اړه د یوناما ځانګړی راپور (د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر کې خپور شوی) وګورئ.
[8] همدا ماخذ.


## د راپور لنډيز

دلسيزو جګړې وروسته په ميليونونو افغانو د پاره ۲۰۲۰ کال د ريښتينې سولې د پاره هيله بخښونکی وليد. د فبروري په مياشت کې متحده ايالات او طالبان يوې هوکړې ته رسېدو وروسته چې بيا سپتمبر کې د افغان سولې مذاکرات په رسمي ډول پيل شول. د کال په اوږدو کې جګړې ادامه درلوده، ليکن د دوه پر له پسې اخترونو په موقع عارضي اوربند وشو چې له امله يې د کال په لومړيو نهه مياشتو کې ثبت شوي تلفات راکم شول. خو د دې په مقابل کې د کال په وروستيو درې مياشتو کې ملکي تلفات په بې سارې ډول زيات شول – چې د جګړې د طبعي بد وضعيت ښکاروندي دی. د کال په پای کې د تاوترېخوالي په کچه کې د ډېروالی سره د تل پاتې سولې د پاره اميدونه لمنځه لاړ.
د کال په اوږدو کې د ځينې تاکتيکونو د کمښت له امله ملکي زيان کموالی باندې څرګنده اغيز و، چې په مقابل کې نورو تاکتيکونو له امله د تاوتريخوالي د کچې زياتېدو سره په ټوله کې ملکي تلفات هم ډير شوي.

د امريکا د متحده ايالاتو او طالبانو تر منځ هوکړه ليک وروسته يوناما په ښاري سيمو کې د دولت ضد وسلوالو په ځانګړې ډول د طالبانو له خوا د لويو بريدونو او د نړيوال ځواکونو د هوايي بريدونو له امله ملکي تلفاتو کې کمښت مشاهده کړی. خو بل لور ته ملکي تلفات د دولت ضد عناصرو له خوا په هدفي وژنو، د طالبانو له خوا دفشار سره چاودېدونکو توکو، او افغان هوايي ځواک بريدونو او همدا راز‌نګه د ځمکنۍ نښتو له امله ملکي وګړو ته زيان اوښتی.

د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، يوناما ۸۸۲۰ ملکي تلفات (۳۰۳۵ مړه او ۵۷۸۵ ټپيان) مستند کړي چې په ۲۰۱۹ کال کې د ثبت شويو ملکي تلفاتو د شمېر په پرتله ۱۵ سلنه کموالی په ډاګه کوي او د ۲۰۱۳ کال راهيسې د ملکي تلفاتو تر ټولو ټيټ شمېر ګڼل کېږي. يوناما په داسې حال کې چې په ملکي تلفاتو کې د ټوليز کموالي هرکلی کوي، خو د ۲۰۲۰ کال په وروستۍ ربع کې په ملکي تلفاتو کې د ناڅاپي زياتوالي په اړه اندېښمنه ده، چې دغه کار په ځانګړې ډول د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پر ۱۲ نېټه د افغانستان د سولې مذاکراتو د رسمي پيل سره هم مهالی و. د ۲۰۰۹ کال راهيسې چې يوناما په سستماتيک ډول ملکي تلفات ثبتول پيل کړي، لمړی ځل دی چې په څلورمه ربع کې د تېرې ربع په پرتله زيات تلفات ثبت شوي. د دې سربېره د ۲۰۲۰ کال په وروستيو درې ربعو کې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۴۵ سلنه ملکي تلفات په ځانګړې ډول تعبيه شويو چاودېدونکو توکو او د هدفي وژنو له امله ډير شوي. د زياتې انديښنې وړ د دې تاکتيکونو له امله زياتوالي د ډار چاپيريال لا بدتر کړی چې د ټولنې زياتې برخې يې فلج کړي.

په ۲۰۲۰ کال کې ملکي وګړو ته اوښتی زيان د وسله والې جګړې د هغه درد او کړاو دوام دی چې د افغانستان خلکو د لسيزو لپاره ګاللی. د وسله والې جګړې له خوا رامنځ ته شوي درد او کړاو په پراخه کچه شتون لري او د ټول عمر، جنسيت، قومونو او مختلفو ټولنيزو-اقتصادي مخينو درلودونکو خلکو له خوا په ښارونو او کليوالی سيمو کې محسوس دی. تر فيزيکي زيان ها خوا وسله والې شخړې رواني تروما او بې وزلې رامنځ ته کړې او زيات شمېر ملکي وګړي يې پوهني او عدالت ته له محدود لاس رسي سره پر بشري مرستو متکي کړځولي. په ۲۰۲۰ کال کې، رواني جګړې د کوويډ-۱۹ وبا غبرګون ته د اړينو روغتيايي خدمتونو او درملو برابرول له خنډ سره مخ کړي.[9]





[9] د يوناما ځانګړی راپور: د کوويډ-۱۹ وبا پر مهال پر روغتيا بريدونه (جون ۲۰۲۰) وګورئ.

یوناما یو ځل بیا پر دې ټینګار کوي چې په افغانستان کې د زیاتېدونکي زیان د پای ته رسولو ترټولو غوره لار د جګړو او دوښمنیو پای ته رسول او د مذاکرې له لارې رامنځته شوی سیاسي حل دی. د ملګرو ملتونو عمومي مونشي انتونیو ګوټیرس د بشر مرستو د پاره د نړیوال اوربند غوښتنه کړې، چې کووید -۱۹ د ګډ دوښمن سره مبارزه وشي، د بشري مرستو د پاره زمینه برابر شي او د خلکو ژوند وژغورې.[10] د دې په غبرګون کې په ټوله نړۍ کې په پراخه کچه خلکو [11] د ملګرو ملتونو غړو هیوادونو [12] او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا [13] له خوا ملاتړ وشو. نړیوالې ټولنې هم د جګړې په ښکېلو لورو باندې غږ کړی چې په اوربند موافقه وکړي تر څو د سولې خبرې بریاته رسېدو ته د پاره مناسب چاپېریال برابر شي. په داسې حال کې چې افغان دولت، د افغانستان اسلامي جمهوریت په مکرر ډول د اوربند سره خپل ملاتړ اعلان کړی او طالبانو دا ټول غوښتنه تل رد کړې.

یوناما په دې بیا ټینګار کوي چې په افغانستان کې په ټولیز ډول د ملکي وګړو زیان پای ته رسول، د جګړې پای ته رسول او د خبرو اترو د لارې سیاسي حل یې غوره لار ده.

د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې، یوناما له سیاسي تحولاتو سره په هم مهالې ډول د ملکي تلفاتو په شمېر کې ادلون بدلون مستند کړی. د کال په پیل کې د متحده ایالاتو-طالبانو ترمنځ په دوحه کې د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲۹ نېټه د تړون تر لاسلیک مخکې "د تاوتریخوالي د کمښت اونۍ" په ډاګه کړه چې د جګړې ښکېلې خواوې ملکي وګړو ته د زیان د مخنیوي او راکمولو ځواک لري، خو کله چې د دغه کار هوډ ولري. بیا د مارچ میاشتې راهیسې د تاوتریخوالي د لوړېدونکي کچې [14] په اړه اندېښنې داسې مهال زیاتې شوې، کله چې یوناما د ملکي تلفاتو او د کووید-۱۹ وبا خپرېدو په لومړیو کې پر روغتیا او اړوندو مرکزونو د بریدونو زیاتېدونکی شمېر مستند کړ.[15] د کال په اوږدو کې د کوچنې اختر (مې ۲۴-۲۶) او لوی اختر (۳۱ جولای- ۲ اګست) پر مهال د افغان ملي امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ دوو موقتو اوربندونو تر ډېره په دغو مودو کې ملکي وګړو ته زیان راکم کړ.




[10] د ۲۰۲۰ ال د مارچ پر ۲۳ نېټه د عمومي منشي ویډیویي پیغام په دې ویب پاڼه وګورئ: https://www.un.org/en/globalceasefire

[11] وګورئ: https://secure.avaaz.org/campaign/en/global_ceasefire_loc/

[12] د ملګرو ملتونو خبرونه وګورئ، د کووید-۱۹ د ناورین پر مهال د ملګرو ملتونو د اوربند غوښتنې د تصویب لپاره ۱۷۰ لاسلیکونه: https://news.un.org/en/story/2020/06/1066982

[13] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۵۳۲ (۲۰۲۰) پرېکړه لیک وګورئ.

[14] د مثال په ډول؛ https://unama.unmissions.org/unama-calls-parties-further-reduce-violence-and-work-towards-ceasefire او https://eeas.europa.eu/headquarters/headquarters-homepage_en/76616/Afghanistan:%20Statement%20by%20the%20Spokesperson%20on%20the%20need%20for%20an%20immediate%20and%20permanent%20ceasefire; وګورئ.

[15] د یوناما ځانګړی راپور: د کووید-۱۹ وبا پر مهال پر روغتیا بریدونه (جون ۲۰۲۰) وګورئ.

> یوناما په ۲۰۲۰ کال کې د ریکارډ ترکچې د ښځو تلفات ثبت کړي، د ښځو تلفات ۱۳ سلنه لوړ شوي ; ښځې او ماشومان دواړه د ټول ملکي تلفاتو ۴۳ سلنه تشکیلوي.

د سپتمبر پر ۱۲ نېټه، د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو په استازیتوب مذاکره کوونکو ټیمونو په رسمي ډول د قطر په دوحه کې د افغانستان د سولې مذاکرات پیل کړل. که څه هم دغه کار د ملکي وګړو وضعیت ښه نه کړای شو. تر هغې راوروسته په درېیو میاشتو کې، د کوم وخت راهیسې چې یې په ۲۰۰۹ کال په سیستماتیک ډول مستندونه پیل کړي یوناما په لومړي ځل د دریمې ربع په پرتله د ملکي تلفاتو په شمېر کې د کال په څلورمه ربع کې زیاتوالی مستند کړی. سربېره پر دې، دا په ۲۰۱۹ کال کې د ورته درېیو میاشتو په پرتله ۴۵ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي، په تېره بیا د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د کارونې او هدفي وژنو له امله دی.[16] په اکتوبر میاشت کې د ۲۰۲۰ کال د بلې هرې میاشتې په پرتله ملکي تلفات لوړ وو، او د نومبر په میاشت کې، له کوم وخت راهیسې چې یوناما ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک ډول مستندول پیل کړي د ملکي تلفاتو شمېر تر ټولو لوړ وو.[17] په دسمبر میاشت کې خلک د رسنیو د کارمندانو، د مدني ټولنې د فعالینو، د قضائیه قوې د غړو د حکومت د ملکي اداري، او دغه راز د جنګیالو د کورنیو ملکي غړو په ګډون د ولسي وګړو دهدفي وژنو له لړۍ سره مخ شول، چې ډېری یې "د ترور" نوم بولي.[18]

دولت ضد عناصر لا اوس هم د زیاترو ملکي تلفاتو لامل ګڼل کېږي چې په ۲۰۲۰ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۶۲ سلنه جوړوي. په داسې حال کې چې یوناما د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې او طالبانو ته کم شمېر ملکي تلفات منسوب کړي، د دولت ضد عناصرو له خوا د هغو ملکي تلفاتو شمېر چې یوناما یې کوم مشخص لوري ته منسوب نه کړای شول، د تېر کال په پرتله دوه برابره زیات شوي.

دولت پلوه ځواکونو په ۲۰۲۰ کال کې د وژل شویو او ژوبل شویو ملکیانو (ملکي مرګ ژوبلې) یوه ربع (۲۵ سلنه) اړولې. نړیوالو نظامي ځواکونو ته د ملکي تلفاتو منسوب شوي شمېر د پام وړ راټیټ شوی، چې زیاتره هغه یې په لومړیو دوه میاشتو کې رامنځ ته شوي او د متحده ایالاتو-طالبانو ترمنځ د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲۹ نېټه تر تړون وروسته د کال په پاتې میاشتو کې د هغوی له خوا هیڅ تلفات نه دي رامنځ ته شوي. په ورته وخت کې، له کوم وخت راهیسې چې په ۲۰۰۹ کال کې یې په سیستماتیک ډول مستندول پیل کړي، ۲۰۲۰ کال د افغان هوايي ځواک په ګډون افغان ملي اردو ته د ملکي تلفاتو د منسوب شوي د تر ټولو لوړ شمېر شاهد و، چې زیاتره هغه یې د هوايي بریدونو او ځمکنۍ نښتو په پایله کې رامنځ ته شوي.

یوناما د ښځو د ۱۱۴۶ تلفاتو (۳۹۰ مړي او ۷۵۶ ټپیانې – چې د ټولو تلفاتو ۱۳ سلنه جوړوي) او د ماشومانو د ۲۶۱۹ تلفاتو (۷۶۰ مړه او ۱۸۵۹ ټپیان چې د ټولو تلفاتو ۳۰ سلنه جوړوي) په ګډون، پر ښځو او ماشومانو څوک چې سره یو ځای په ۲۰۲۰ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو تر ۴۳ سلنې پورې تشکیلوي، د جګړې د ویجاړوونکې اغیز په اړه اندېښمنه ده. د اندېښنې وړ ده چې د ۲۰۰۹ کال د کله راهیسې چې یوناما په سستماتیک ډول ملکي تلفات ثبتول پیل کړي ۲۰۲۰ کال کې د وژل شویو ښځو شمېر د ریکارډ ترکچې لوړ شوي، چې د وژل شوي ښځو شمېر کې ۲۰۲۰ کال کې ۱۳ سلنه ډېر والی راغلی. یوناما همدارنګه له اندېښنې سره د دې یادونه کوي چې په ۲۰۲۰ کال کې دولت پلوه ځواکونه د دولت ضد عناصرو په پرتله د زیات شمېر ماشومانو د وژنو مسوول دي.[19]

---

[16] د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر له ۱ څخه د دسمبر تر ۳۱ نېټې پورې، یوناما ۲۷۹۲ ملکي تلفات (۸۹۱ مړه او ۱۹۰۱ ټپیان) مستند کړي، چې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې د ۱۹۳۱ (۷۲۶ مړه او ۱۲۰۵ ټپیان) ملکي تلفاتو په پرتله ۴۵ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي؛ یوناما همدارنګه په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله په ملکي تلفاتو کې ۶۹ سلنه زیاتوالی او د هدفي وژنو له امله په ملکي تلفاتو کې ۶۲ سلنه زیاتوالی مستند کړی.

[17] د ۲۰۲۰ کال په اکتوبر کې، یوناما ۱۲۵۷ ملکي تلفات (۴۰۰ مړه او ۸۵۷ ټپیان) او په نومبر کې یې ۹۶۵ ملکي تلفات (۳۰۲ مړه او ۶۶۳ ټپیان) مستند کړي.

[18] یوناما ملاحظه کړې چې دغه ډول بریدونو د ۲۰۲۱ کال په جنوري میاشت کې چې دغه راپور لیکل کېدو، دوام درلود. په داسې حال کې چې دا د راپور ورکولو له مودې څخه بهر و، د ۲۰۱۲ کال د جنوري په پای او د فبروري په پیل کې په ځانګړي ډول د ځینو تر ټولو وروستیو پېښو لپاره د مختلفو فعالینو له خوا د مسوولیت اخیستلو تورونه او ردونې په ښکاره ډول ترسره شوي. دولت خبر ورکړی چې یو شمېر هغه کسان چې د دغو بریدونو په تړاو نیول شوي له دولت ضد عناصرو لکه طالبانو سره اړیکې لري. د ۲۰۲۱ کال د جنوري پر ۳۱ نېټه، په کابل کې ۱۵ ډیپلوماتیکو ماموریتونو د ترورونو، تښتونو، او د حیاتي زیربناوو د تخریب دوام وغانده او پر دې یې ټینګار وکړه چې طالبان د زیاتره دغه هدفي تاوتریخوالي مسوول ګڼل کېږي (اعلامیه پر دې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ ده: https://af.usembassy.gov/statement-on-continuation-of-assassinations-kidnappings-and-destruction-of-vital-infrastructure/، په وروسته ځل د ۲۰۲۱ کال د فبروري پر ۱۱ نېټه لېدل شوې). د فبروري پر ۱ نېټه، طالبانو په دغې پېښې خپله ښکېلتیا رد کړه (اعلامیه پر لاندې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ ده: https://alemarahenglish.net/?p=42271، په وروسته ځل د ۲۰۲۱ کال د فبروري پر ۱۱ نېټه لېدل شوې). د فبروري پر ۱۵ نېټه، یوناما په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالستان او رسنیو د کارمندانو د وژنې په اړه راپور خپور کړ، چې همدارنګه هغه پېښې هم تر پوښښ لاندې نیسي کومې چې د هغوی د جګړې تړاو په معلوموولو کې د یوناما د نا توانۍ له امله د ملکي وګړو د ساتنې په چوکاټ کې نه دي راپور شوي. دغه راپور پر راتلونکې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org.

[19] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما دولت پلوه ځواکونو ته ۳۳۷ ملکي تلفاتو وژل کېدل او  او دولت ضد عناصرو ته ۲۸۱ وژل کېدل منسوب کړي.

ښځې او ماشومان لا اوس هم د جنسي تېري او بچه بازۍ[20] په ګډون د جګړې اړوند جنسي تاوتریخوالي څخه زیانمن کېږي. سره له دې چې دغه عملونه جرم ګڼل کېږي، خو عدالت ته محدود لاس رسي او د چوپتیا، شرم او قرباني د ملامتولو کلتور د حساب ورکړې چارې له سختو ننګونو سره مخ کړې.

د قربانیانو سره مرکې په ډاګه کوي چې د اوښتي زیان په اړه ښکېلو ډلو د اعتراف په ډول، چې د ملکي تلفاتو د پېښې وروسته د قرباني د حقونو خوندیتوب په اړه دي، ډېر لږ څه شوي.

یوناما همدارنګه د جګړې د ښکېلو لورو په تېره بیا د طالبانو له خوا د ماشومانو د ګمارنې او کارونې مستندول جاري ساتلي، خو یوناما همدارنګه د داسې پېښو مستندول جاري ساتلي په کومو کې چې افغان ملي امنيتي ځواکونه او دولت پلوه وسله والې ډلې د ماشومانو د ګمارنې او کارونې مسوول وو، خو سره له دې چې د کورنیو چارو وزارت د افغان ملي پولیسو د جلب او جذب په مرکزونو کې د ماشومانو د ساتنې د واحدونو له لارې د کم عمره اشخاصو د ګمارنې او کارونې د مخنیوي په برخه کې د پام وړ پرمختګ کړی. یوناما دغه راز اندېښمنه ده چې د کوویډ-۱۹ وبا له امله د بې کارۍ او بې وزلۍ د کچې لوړېدلو ماشومان د جګړې د ښکېلو لورو له خوا د ګمارنې او کارونې په وړاندې لا زیات زیانمنېدونکي کړي، په تېره بیا له دې امله چې هغوی د کار پیدا کولو ته اړ دي څو له خپلو کورنیو سره مرسته وکړي.[21]

یوناما په ۲۰۲۰ کال کې د جګړې د ښکېلو لورو له خوا پر روغتونونو او اړوندو کارمندانو د بریدونو په شمېر کې ، په ځانګړي ډول د کال په دویمه او څلورمه ربع کې لږ څه زیاتوالی مستند کړی. یوناما په مکرر ډول د روغتیايي مرکزونو او کارمندانو د ساتنې پر اهمیت ، په تېره بیا د کوویډ-۱۹ وبا په زمینه کې ټینګار کړی. دغو بریدونو په افغانستان کې د خلکو لپاره د کافي روغتیايي خدمتونو د برابرولو په وړاندې د پام وړ خنډونه لا پسې ناوړه کړي. د ۲۰۲۰ کال یو تر ټولو وحشتناک برید د کابل په ۱۳ امنیتي حوزه کې د زېږنتون پر څانګې د مۍ میاشتې د ۱۲نېټې برید و، کله چې یو شمېر وسله کسان په زوره روغتون ته ننوتل او په عمدي ډول د زېږنتون د څانګې په لور لاړل او هلته یې پر ملکي وګړو ډزې وکړې او لاسي بمونه ګذار کړل. دغه برید د ۴۶ ملکي تلفاتو (۲۳ مړه او ۲۳ ټپیان) لامل شو، چې زیاتره یې هغه میندې وې چې تازه یې ماشومان زېږولي وو. د دغه برید مسوول لوری لا تر اوسه نامعلوم پاتې دی.

پوهنې ته د ماشومانو د لاس رسي حق په ۲۰۲۰ کال کې د وسله والې جګړې له امله ، په تېره بیا پر ښوونځیو او ښوونکو د بریدونو له امله کمزوری شوی. دغه کار په عمده ډول د سوځولو او ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو له لارې د ښوونځیو د ورانولو او د ښوونکو د هدفي وژنو په ګډون د دولت ضد عناصرو له خوا د مستقیمو بریدونو له امله رامنځ ته شوی.

په ۲۰۲۰ کال له قربانیانو سره له ۱۳۰ څخه د زیاتو مرکو له لارې، یوناما د قربانیانو پر ټولنیزو، اقتصادي او کلتوري حقونو د جګړې سخت اغېز مستند کړی. زیاتره مرکه شوي قربانیان ښځینه شوي، په کلتوري یا مذهبي فعالیتونو کې ګډون نه کوي، او د روزي ګټونکي د له لاسه ورکولو او روغتیايي لګښتونو له امله له مالي ستونزو سره مخ دي. دغه حالت په ځانګړي ډول د هغو قربانیانو لپاره ویجاړوونکی و څوک چې له جسمي معلولیت او رواني تروما سره لاس او ګرېوان دي.

سربېره پر دې، هغو قربانیانو چې یوناما ورسره مرکه کړې په ډاګه کړې چې د جګړې د ښکېلو لورو له خوا د اړول شویو زیانو په اړه او دقربانیانو د کرامت د منلو په برخه کې، او د ملکي تلفاتو تر پېښو روسته د هغوی د حقونو د ساتلو په برخه کې تر حده کم اغېزمن کار ترسره شوی. یوازې په استثنايي حالاتو کې د جګړې مسوول لوري قرباني ته رسېدنه کړې څو رامنځ ته شوی زیان ومني یا بخښنه وغواړي. قربانیان زیاتره له دې خبر نه وو چې آیا د هغې پېښې چې ملکي وګړو ته یې زیان اړولی څېړنه ترسره شوې، او خورا کم شمېر قربانیانو د خسارې جبران ترلاسه کړی. زیات شمېر قربانیانو په ډاګه کړې چې د دغه ډول پېښو بیا نه تکرار تر ټولو مهم بللی، او د سولې لپاره یې خپله هیله په ډاګه کړې.

[20] بچه بازي یو زیانمونکی عمل دی چې هلکان د شتمنو او زورواکو لخوا د ساعت تېرۍ د پاره استحصال کېږي، په ځانګړي ډول د ګډولو او جنسي فعالیتونو په موخه : دا د نوي جزا په کوډ کې جرم ګڼل شوی، چې د ۲۰۱۸ کال د فبرورۍ په میاشت کې مرعي الاجرا دی.
[21] د یونیسف، د ماشومانو لپاره د بشري مرستو پلان، کوویډ-۱۹ نړیواله وبا (دسمبر ۲۰۲۰) وګورئ.

## د پېښې ډولونه چې ملکي وګړو ته تر ټولو زيات زيان اړوي


په ۲۰۲۰ کال کې د ملکي وګړو په ټولټال شمېر کې ۱۵ سلنه کموالي په عمده ډول د دولت ضد عناصرو د ډله ييزو بريدونو په ګډون د ځانمرګو بريدونو له امله د کم شمېر ملکي تلفاتو او د نړيوالو نظامي ځواکونو د هوايي بريدونو او د دولت پلوه ځواکونو د ځانيزو عملياتو له امله په ملکي تلفاتو کې د کموالي له امله رامنځ ته شوی. په ورته وخت کې، يوناما د غير انتحاري تعبيه شويو چاودېدونکو توکو او هدفي وژنو په شمول د ملکي کسانو په اصطلاح "ترور"، له امله د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی د ملکي تلفاتو لوړ شمېر مستند کړی. يوناما دغه راز د افغان ملي اردو د ځمکنيو نښتو او د افغان هوايي ځواک د هوايي بريدونو له امله په ملکي تلفاتو کې لوړوالی مستند کړی.

په ۲۰۲۰ کال کې، د ۲۰۱۶ کال راهيسې د لومړي ځل لپاره ځمکنۍ نښتې د پېښې هغه ډول و چې تر ټولو زيات د ملکي تلفاتو لامل شوي، او د ټولټال شمېر د ۳۶ سلنې مسووليت ګنل کېږي.[22] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، ځمکنيو نښتو ۳۱۵۴ ملکي تلفات (۸۷۲ مړه او ۲۲۸۲ ټپيان) اړولي – چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله يو څه زياتوالی په ډاګه کوي چې په عمده ډول د ملکي وګړو د وژنو له امله لوړ شوی.[23] د ځمکنۍ نښتو له امله زياتره ملکي تلفات په عمده ډول په ګڼ ميشتو سيمو کې د غير مستقيمو وسلو لکه د توپ ډزو، هاوانونو او راکيټونو د کارونې له امله رامنځ ته شوي.

د دولت ضد عناصرو له خوا د دواړو انتحاري او غير انتحاري تعبيه شويو چاودېدونکو توکو کارونې نږدې د ټولو ملکي تلفاتو يو په درېيمه برخه اړولې، چې ۳۰۴۲ ملکي تلفات (۸۷۲ مړه او ۲۱۷۰ ټپيان) تشکيلوي. دا د ۲۰۱۹ کال په پرتله له دغو وسيلو څخه د رامنځ ته شويو ملکي

### د پېښو پر اساس ملکي تلفات

د ۱ جنورۍ څخه تر ۳۰ دسمبر ۲۰۲۰




---

[22] له ۲۰۱۷ کال څخه تر ۲۰۱۹ پورې، تعبيه شوي چاودېدونکي توکي (د انتحاري او غير انتحاري تعبيه شويو چاودېدونکو توکو ګډه کارونه) د ملکي تلفاتو مخکښ لامل ګڼل کېده.

[23] په ۲۰۱۹ کال کې، يوناما د ځمکنۍ نښتو له امله ۳۰۶۱ ملکي تلفات (۷۶۶ مړه او ۲۲۹۵ ټپيان) مستند کړي.

هغه ملکي تلفات چې د غیر انتحاري چاودېدونکو توکو، هدفي وژنو او په اصطلاح د"ترور" په شمول چې د دولت ضد عناصروته منسوب شوي، په دې کې ډېروالی راغلی، او همدا رنګه د افغان ملي اردو له لوري د ځمکنۍ نښتو او هوايي بریدونو له امله تلفات زیات شوي.

تلفاتو د شمېر په پرتله ۳۰ سلنه کموالی په ډاګه کوي، چې په عمده ډول د دله ییزو بریدونو په ګډون د ځانمرګو بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې د ۶۴ سلنه کموالی له امله رامنځ ته شوی. غیر انتحاري ځای په ځای شویو چاودېدونکو توکو په ۲۰۲۰ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۶ سلنه اړولي. په ۲۰۲۰ کال کې د غیر انتحاري ځای په ځای شویو چاودېدونکو توکو له امله د وژل شویو ملکیانو شمېر د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۴۳ سلنه زیات شوی، په داسې حال کې چې د ژوبل شویو هغو شمېر ۱۰ سلنه راکم شوی.

دواړو ځانمرګو بریدونو او غیر انتحاري موټر بمونو (چې زیاتره "لاری بمونه" یا "موټر بمونه" یادېږي) په ګڼ میشتو سیمو کې زیات شمېر ملکي تلفات اړولي، چې زیاتره د هغوي د ځواکمنو چاودنو پر پراخې سیمې د اغیز ښیندلو له امله رامنځ ته شوي. دغه وسیلې همدارنګه د ملکیانو او ملکي شیانو په ضد کارول شوي، کوم چې د نړیوال قانون له مخې منع دي. آن که چېرې په ګڼ میشتو سیمو کې د مشروع اهدافو په ضد هم کارول شوې وي، هغه بې توپیره اغیز درلودای شي چې دغه ډول کارونه د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونه ګڼل کېږي او ښايي جنګي جرمونه وګڼل شي.

د غیر انتحاري ځای په ځای شویو چاودېدونکو توکو ترمنځ د فشاري چاودیدونکي توکي  کوم چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۳۵ سلنه زیات ملکي تلفات اړولي او نږدې د ټولو پېښو مسوول طالبان ګڼل کېږي، د زیاتې اندېښنې وړ دي. یوناما یو ځل بیا پر طالبانو غږ کوي چې تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د فشاري ماینونو کارونه په بشپړ ډول بنده کړي او په دې برخه کې یو ځل بیا د طالبانو له خوا د پخوانیو شویو ژمنو یادونه کوي. دغه وسیلې څرنګه چې په افغانستان کې کارول شوې، د قرباني په وسیله فعالېږي او په ذاتي ډول بې توپېره دي او د پرسونل ضد ځمکنیو ماینونو په څیر کار کوي. د دغه ډول وسلو کارونه د بشري حقونو له نړیوال قانون او د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه سرغړونه ګڼل کېږي.

هدفي وژنو، د ملکي وګړو په اصطلاح "ترور" په ګډون، په ۲۰۲۰ کال کې ۱۲۴۸ ملکي تلفات (۷۰۷ مړه او ۵۴۱ ټپیان) اړولي، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله د دغو بریدونو له امله د ملکي تلفاتو په شمېر کې ۴۵ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. په دې کې د رسنیو د کارمندانو، د مدني ټولنې د فعالینو، د قضائیه قوې د غړو د حکومت د ملکي اداري، او دغه راز د جنګیالو د کورنیو د ملکي غړو په ګډون د ملکي وګړو عمدي وژنه شامله ده.[24] یوناما د دغو ملکي تلفاتو ۹۴ سلنه هغه بې دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي. د دې له جملې، ۷۶۱ ملکي تلفات (۴۵۹ مړه او ۳۰۲ ټپیان) د هدفي وژنو له امله وو چې طالبانو ته منسوب شوي او د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۲۲ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي.[25]

په ۲۰۲۰ کال کې د تېر کال په پرتله د هوايي بریدونو له امله ملکي تلفات ۳۴ سلنه راټیټ شوي، چې ۶۹۳ ملکي تلفات (۳۴۱ وژل شوي او ۳۵۲ ټپیان). د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د هوکړې لیک وروسته د نړیوال امنیتي ځواکونو خپل هوايي بریدونه محدود کړل چې په پایله کې د هوايي بریدونو له امله ۸۵ سلنه کمښت راغلی. په مقابل کې افغان هوايي ځواک هوايي عملیات زیات کړي او د ۲۰۲۰ کال په مهال د هوايي عملیاتو په نتیجه کې د ۷۶ سلنې لامل شوي. یو ناما د افغان هوايي ځواک د بریدونو په پایله کې په ملکي تلفاتو کې ۱۲۶ سلنه زیاتوالی ثبت کړی چې دا د ۲۰۰۹ کال راهیسې د کله نه چې یوناما په سستماتیک ډول ملکي تلفات ثبتول پیل کړي تر ټولو لوړ شمېر دی.

په ۲۰۲۰ کال کې، له جګړې څخه پاتې شونو چاودېدونکو توکو ۳۹۴ ملکي تلفات (۱۰۳ مړه او ۲۹۱ ټپیان) اړولي، چې د تېر کال په پرتله ۲۴ سلنه کم تلفات په ډاګه کوي. دغه ناچاوده یا پرېښودل شوي مهمات د ماشومانو لپاره خوړک چې د پېښې له دغه ډول څخه د ټولو ملکي تلفاتو ۸۰ سلنه جوړوي، خورا زیات زیان رسوونکي ګڼل کېږي. له جګړې څخه پاتې شونو چاودېدونکو توکو همدارنګه د فبروري میاشت په پای کې "تاوتریخوالي د کمښت اونۍ" او د اختورنو د اوربندونو پرمهال ملکي تلفات اړولي، چې آن که چېرې جګړه قراره هم شي د دغو چاودېدونکو توکو دوامدار زیان په ډاګه کوي. د دې لپاره چې ماشومان یې له زیان څخه وژغورل شي، د نا چاودو او پرېښودل شویو توکو نښاني کول، معلومول او خنثی کول باید یو لومړیتوب وي.

[24] په دې شمېرو کې دواړه د ملکي وګړو په نښه کول او هغه نور ملکي وګړي شامل دي چې د نورو افرادو د په نښه کولو له امله په تصادفي ډول زیانمن شوي. د اصطلاحاتو برخه وګورئ.

[25] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د هدفي وژنو له امله ۶۲۶ ملکي تلفات (۳۸۸ مړه او ۲۳۸ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي.

### د جګړې ښکېلو خواوو ته د ملکي تلفاتو منسوبونه

د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ له ۱ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۶۲ سلنه دولت ضد عناصرو ته منسوب کړې چې د هغو له جملې څخه، ۴۵ سلنه يې طالبانو، اته سلنه يې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې، او نهه سلنه يې نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې.

دولت پلوه ځواکونو په ۲۰۲۰ کال کې ۲۵ سلنه ملکي تلفات اړولي. یوناما ۲۲ سلنه ملکي تلفات افغان ملي امنیتي ځواکونو او یوه یوه سلنه يې هر يو نړیوالو نظامي ځواکونو، دولت پلوه وسله والو ډلو او نا معلوموګېو دولت پلوه ځواکونو ته په ترتیب سره منسوب کړې.

نهه سلنه ملکي تلفات د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د ځمکنیو نښتو له امله رامنځ ته شوي چې کوم مشخص لوري ته منسوب کیدای نشي. د پولې په اوږدو کې نښتې چې پاکستاني نظامي ځواکونو ته منسوب شوي له دوه سلنې کم ملکي تلفات اړولي. پاتې دوه سلنه ملکي تلفات هیڅ لوري ته منسوب کېدای نشي او زیاتره هغه يې له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله رامنځته شوي ملکي تلفات دي.


### دولت ضد عناصر

په ۲۰۲۰ کال کې، دولت ضد عناصر د ۵۴۵۹ ملکي تلفاتو (۱۸۸۵ وژل شویو او ۳۵۷۴ ټپیان) مسوول وو، چې د تېر کال په پرتله ۱۵ سلنه کم ملکي تلفات ګڼل کېږي. د ۲۰۱۹ کال په پرتله په ملکي تلفاتو کې کموالی په عمده ډول د ځانمرګو بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې د کمښت له امله رامنځ ته شوی.

یوناما په ۲۰۲۰ کال کې طالبانو ته ۳۹۶۰ ملکي تلفات (۱۴۷۰ مړه او ۲۴۹۰ ټپیان) منسوب کړي. دا د ۲۰۱۹ کال په پرتله د ۱۹ سلنې عمومي کموالي ښکارندوی ده، چې په ملکي ژوبلو کې ۳۱ سلنه کموالی تشکیلوی او په جزئي ډول د وژل شویو ملکیانو په شمېر کې د ۱۳ سلنه اندېښمن کوونکي زیاتوالی له امله بېرته پوره شوی. په ۲۰۲۰ کال کې، د ۲۰۱۹ کال په پرتله د غیر انتحاري ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو له امله په ځانګړي ډول د فشاري ماینونو او غیر انتحاري موټر بمونو کې د کاروونې له لارې، طالبان د وژل شویو ملکیانو په شمېر د ۴۳ سلنه زیاتوالي مسوول ګڼل کېږي. د هدفي وژنو له امله د ملکي تلفاتو شمېر چې په ۲۰۲۰ کال کې طالبانو ته منسوب شوي د تېر کال په پرتله ۲۲ سلنه لوړ شوی. په معکوس ډول په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځانمرګو بریدونو له امله ۷۹ سلنه کم شمېر ملکي تلفات طالبانو ته منسوب کړي. د ځمکنیو

په وسله واله جګړه کې د ښکېلو ډلو لخوا ملکي تلفات

د ۱ جنورۍ څخه تر ۳۱ دسمبر ۲۰۲۰



یوناما طالبانو ته منسوب د اندیښنې وړ د وژل شوي ملکي وګړو شمېر کې ۱۳ سلنه ډېر والی او په مقابل کې د ټپي شوي ملکي وګړو په شمېر کې ۳۱ سلنه کمښت ثبت کړی.

نښتو له امله ملکي تلفات چې د طالبانو له خوا اړول شوي په ۲۰۲۰ کال کې د تېر کال په پرتله ۱۰ سلنه راکم شوي، چې زیاتره یې د هغو ملکي تلفاتو د نښتون له امله دي چې طالبانو ته د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي له امله منسوب شوي وو.[26]


د دویم کال لپاره سر په سر، یوناما د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب د ملکي تلفاتو په شمېر کې کموالی مستند کړی. په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما ۶۷۳ ملکي تلفات (۲۱۳ مړه او ۴۶۰ ټپیان) نوموړې ډلې ته منسوب کړي، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۴۵ سلنه کموالی په ډاګه کوي. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې زیاتره ملکي تلفات په کابل او جلال اباد کې د ستړې کچې ځانمرګو بریدونو او په پراخه کچه د دزو کولو له امله رامنځ ته شوي.

د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي تلفاتو زیات شمېر داسې پېښې مستندې کړې چې نه هم طالبانو او نه هم د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوبېدای شي، او د نا معلومو دولت ضد عناصرو په خیر ثبتې شوې. دغه کار د طالبانو او د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا د مسوولیت منلو د کم شمېر ثبت شویو ادعاوو سره هم مهالی و. د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ له ۱ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما ۸۲۶ ملکي تلفات (۲۰۲ مړه او ۶۲۴ ټپیان) دغو نامعلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۱۵۸ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.

د ځانګړې اندیښنې وړه چې په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د داسې بریدونو مستندول جاري ساتلي کومو چې د پېښې د مختلفو ډولونو لکه د وژنو، انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شوي چاودېدونکو توکو، تښتونو، دغه راز د هغوی د موازي عدلي جوړښتونو د پرېکړو د تنفیذولو په پلمه د ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډکو سزاګانو د کاروني له لارې، په عمدي ډول ملکي وګړي په نښه کړي. په دې کې د قضائي قوې پر غړو، روغتیايي کارمندانو او مرکزونو، مرستندویه کارکوونکو، د بشري حقونو پر مدافعینو، ژورنالستانو او پر هغو ملکیانو بریدونه شامل دي، څوک چې د دولت د ملکي ادارو لپاره کار کوي. یوناما همدارنګه د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا پر مذهبي لړکیو په ځانګړي ډول شیعه مذهبو چې زیاتره یې هزاره توکمه دي، سیک مذهبي لړکیو؛ او د اهل تصوف مسلمانانو مذهبي لړکیو د بریدونو مستندول جاري ساتلي.

### دولت پلوه ځواکونه

د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ له ۱ څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، دولت پلوه ځواکونه د ۲۲۳۱ ملکي تلفاتو (۸۴۱ مړه او ۱۳۹۰ټپیان) مسؤل وو، چې د تېر کال په پرتله ۲۴ سلنه کموالی ښیي. دا کمښت په عمده ډول د فبرورۍ په ۲۹ د متحده ایالاتو - طالبانو ترمنځ د توافقنامه د لاسلیک




[26] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي له امله ۳۹۱ ملکي تلفات (۷۰ مړه او ۳۲۱ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي.

کېدو وروسته د نړیوال نظامي ځواکونو هوايي بریدونو او د حکومت پلوه ځواکونو د لټون عملیاتو کې د ملکي تلفاتو کموالي له امله رامنځته شوی.

د ۲۰۲۰ کال د جنوري ۱ څخه تر دسمبر ۳۱ پورې، افغان ملي امنیتي ځواکونو د ۱۹۰۶ ملکي تلفاتو (۶۷۴ مړه او ۱۲۳۲ ټپیان) لامل شوي، چې د ۲۰۱۹کال په پرتله ۱۳سلنه زیاتوالی او د ۲۰۱۶کال راهیسې د دوی د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه کچه ثبت شوې. له هغه راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې د ملکي تلفاتو سیستماتیک ثبت پیل کړې، د ملکي تلفاتو شمېر په ۲۰۲۰ کال کې چې افغان ملي اردو (د افغانستان هوايي ځواک په شمول) ته منسوب شوي، ترټولو لوړه کچه ده. د ملي امنیت ریاست په ګډون د افغانستان د ملي امنیتي نورو ځانګې د لړ شمېر ملکي تلفاتو لامل شوي دي. د متحده ایالاتو - طالبانو د تړون له لاسلیک کولو وروسته، د ملي امنیت ځانګړو ځواکونو د لټون عملیات د لړ ملکي تلفاتو لامل شوي.

د ۲۰۰۹ کال راهیسې چې یوناما په سستماتیک ډول د ملکي وګړو تلفات ثبتول پیل کړي په ۲۰۲۰ کال کې مشاهده شوې چې د افغان هوايي ځواک په شمول افغان ملي اردو (د افغان هوايي ځواک په ګډون) لخوا تر ټولو زیات ملکي تلفات اوښتي، چې دا په ۲۰۲۰ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۸ سلنه جوړوي.

یوناما ۱۲۰ ملکي تلفات (۸۹ مړه او ۳۱ ټپیان) نړیوال نظامي ځواکونو ته منسوب کړي، چې ۸۵ سلنه کمښت ښيي او د ملکي تلفاتو ترټولو کمه شمېره ده له هغه مهاله چې یوناما ۲۰۰۹ کال کې د سیستماتیک ثبت ولو کار پیل شوی. د ۲۰۲۰ کال په لومړیو دوه میاشتو کې، د نړیوال نظامي ځواکونو هوايي بریدونه په ۲۰۱۹ کال کې د ورته ملکي تلفاتو لامل شو. بیا وروسته، د متحده ایالاتو - طالبانو د تړون له لاسلیک کېدو وروسته، د نړیوال نظامي ځواکونو ملکي تلفات ټول ودریدل.

په ۲۰۲۰ کې، د دولت پلوه وسله واله ډلو د ۱۰۷ ملکي تلفاتو ( ۵۰ مړه او ۵۷ ټپیان) لامل شوي دي، چې په دغه رقم د ۲۰۱۹په پرتله ۴۲ سلنه کموالی راغلی. د ملکي وګړو لړ تلفات د خوست محافظت ځواک او پکتیکا میشته "شاهین ځواکونو" ته منسوب دي او د ملکي تلفاتو د دې کمښت لامل شوی.

یوناما د پیښو د دوام په اړه اندیښنه لري په داسې حال کې چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو په قصدي ډول ملکي وګړو ته زیان رسولی، د هغو پیښو په ګډون چې د اعدامونه په څیر ترسره شوي.

## سپارښتنې

یوناما یو ځل بیا تکرار کوي چې د شخړو بندول او د شخړې پای ته رسېدو لپاره د سیاسي جوړجاړي خبرې د ملکي وګړو د ساتنې لپاره ترټولو غوره لاره ده. څرنګه چې جګړه د افغانستان د سولې د خبرو اترو او د کوویډ-وبا د خپرېدو په جریان کې دوام وموند، یوناما د جګړې اړخونو ته لاندې وړاندیزونه وړاندې کوي ترڅو د ملکي وګړو ساتنه، د ملکي زیانونو مخنیوی او حداقل ته رسولو لپاره د دوی د هڅو ملاتړ وکړي او د نړیوال بشردوستانه قانون او د بشري حقونو نړیوال قانون لاندې د خپل مکلفیتونه ترسره کړي:

### ټول دولت ضد عناصر

- د ټولو تعبیه شویو چاودېدونکو توکو بې توپیره او نامناسبه کارول په ځانګړي ډول په نفوس لرونکو سیمو کې ودروئ؛
- د استوګن سیمو کې د غیر مستقیمو ډزو (هاوانونو، راکټونو او لاسي بمونو) کارول بند کړئ؛
- سمدلاسه د ملکي وګړو هدف ګرځولو ودروئ، د ملکي حکومتي اداري غړو، د قضایي قوې غړو، ژورنالیستانو، د ښوونځي ښوونکو، د اړتیا وخت کې لومړی ځواب ویونکي، مرستندویه کارکونکي او د بشري حقونو مدافعینو په ګډون چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون هم پکې شامل دی، د ملکي وګړو د خوندي وضعیت په اړه ټولو جنګیالیو ته فوري او واضح لارښوونې چمتو کړې، ترڅو دوی د وکولای شي پرته له ضرره او خنډ څخه خپل کار ته دوام ورکړي؛
- د رسنیو پر وړاندې ټول ګواښونه او بریدونه بند کړئ، او بل هر هغه عمل بندول چې د مطبوعاتو او بیان آزادۍ اغیزمنه کوي؛
- د هغه لارښوونو پلي کولو لپاره ګامونو ته ادامه ورکړئ چې د ماشومانو ګمارنه او کارول منع کوي او د هغو قوماندانانو حساب ورکونه یقیني کوي چې ماشومان استخداموي او کاروي؛
- د ګوزڼ واکسیناتورانو او کمپاین کونکو په شمول، د روغتیا پاملرنې تاسیساتو او روغتیا پاملرنې کارمندانو پروړاندې ټول بریدونه او ګواښونه بند کړئ، او طبي او بشردوستانه کارمندانو ته بې له ځنډه لاسرسي چمتو کول، په ځانګړي توګه هغه څوک چې د کوویډ-۱۹ وبا پورې اړوندو برخو کې کار کوي؛
- د ښوونځیو او ښوونې پرسونل پروړاندې ټول بریدونه او ګواښونه ودروئ، او داډ ترلاسه کړئ چې زده کړې ته د ماشومانو لاسرسی د نظامي عملیاتو له امله خنډ نشي؛
- سمدلاسه د اشخاصو په وړاندې د ظالمانه، غیر انساني یا د تحقیر څخه ډک چلند یا جزا د کارولو ودروئ.

### طالبان

د حکومت ضد ټولو عناصرو لپاره د سپارښتنو سربېره:

- ډاډ ترلاسه کړئ چې ټولې لارښوونې او حکمونه د نړیوال بشردوستانه قانون سره مطابقت ولري، په ځانګړي توګه د احتیاط، توپیر او تناسب اصول او هغه کسان مسوول وګڼل شي چې د ملکي افراد یا ملکي توکي پر وړاندې بې توپیري بریدونو کوي یا هغوی په قصدي ډول په نښه کوي. د ملکي وګړو هغه تعریف تطبیق کړئ چې د نړیوال بشردوستانه قانون سره برابر وي؛ د طالبانو د رهبرۍ څرګندونې پلي کړئ چې د ملکي خلکو او ملکي وګړو په وړاندې بریدونه منع کوي؛ د طالبانو غړو ته د ملکي تلفاتو مخنیوي امرونه پلي کړئ؛ او د طالبانو د ملکي محافظت پالیسۍ خپرې کړئ؛
- سمدلاسه د قرباني پواسطه فعال کېدونکې چاودېدونکې توکي لکه د فشاري چاودېدونکې توکو کارولو مخه ونیسئ، کوم چې د پرسونل ضد ماینونو په توګه کار کوي، او د پرسونل ضد ماینونو بندیز پورې اړوند پخوانیو ژمنې سرته ورسوئ؛
- ټولې هغه کړنې ودروئ چې ملکي وګړي پکې په خطر کې اچوي، په ځانګړي توګه د نظامي اهدافو او ملکي وګړو ګډ موقعیت؛
- د خپل اغیز کنټرول لاندې ساحو کې د ماین پاکۍ کارکونکو لپاره د لاسرسي ډاډ ترلاسه کړئ؛
- د ملکي تلفاتو او شکایتونو څخه د مخنیوي لپاره د کمیسیون کار پیاوړی کړئ، د سازمانونو سره د یاد کمیسیون د مشرانو د اړیکو بهتر کړئ کوم چې ملکي تلفاتو مخنیوي باندې کار کوي په شمول او د ملکي تلفاتو مخنیوي په اړه خپل تمرکز زیات کړئ. همدا راز په نړیوال بشري قانون کې جنګیالیو لپاره د روزنې په شمول، د پېښو پوره څېړنه او تحقیق وکړئ.

## ټول دولت پلوه ځواکونه

- د موثریت او ارزونې او د بهتره کېدو لپاره د سپارښتنو د رامنځته کولو په موخه د ژوند طریقو د ارزونو په ګډون، د هدف د تثبیتولو په طرزالعملونو او د احتیاطي تدبیرونو په برخه کې په ځانګړي ډول د هوايي عملیاتو د ترسره کولو په زمینه کې پر وخت او هر اړخیزه بیاکته تر سره کړئ.
- عملیاتو وروسته د ملکي تلفاتو د تورونو په صورت کې بیاکتنې او څېړنې پیاوړي کړئ، څو د زیان پراخ ډولونه په ګوته او عملیاتي کړنې بهتره او حساب ورکونه یقیني کړئ. د ملکي تلفاتو د بیاکتنې پرمختللي میکانیزم نهايي کولو ته لومړیتوب ورکړئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې یاد میکانیزم مناسبې سرچینې لري ترڅو سم فعالیت وکړي.
- د ملکي تلفاتو په پېښو کې د څېړنې شفافیت زیات کړئ او پایلې له ملکي قربانیانو او د هغوی له کورنیو سره شریکې کړئ؛ دا یقیني کړئ چې د اوښتې زیان په مقابل کې د خسارې کافي، اغېزمن او ګړندي جبران برابر شي؛ د قرباني مرستې چمتو کولو لپاره د اصلاح شوي سیستم پلي کېدو ته لومړیتوب ورکړئ ترڅو په سمدستي ډول د انتظار وړ غوښتنلیکونو ته رسیدګي وکړي او د قربانیانو نویو غوښتنلیکونو په اړه اجرآات وکړي؛ او د غېزمن شویو خلکو د باور بیا جوړولو لپاره د خسارې د جبران اضافي غیر مالي ډولونه لکه بخښنه غوښتنه هم په پام کې ونیسئ.

## افغان دولت

د حکومت پلوه ځواکونو لپاره د لیست شوي وړاندیزونو سربېره:

- د ملي امنیت ریاست د ځانګړو د ځواکونو کوم چې د رسمي حکومتي قوماندې له سلسله مراتبو څخه بهر ښکاري د یاد ریاست تر بشپړ کنټرول لاندې راولي، او باید د نړیوالو ځواکونو سره یې همغږي کړي؛ د خوست د ژغورنې ځواک او د شاهین د ځواکونو په ګډون، زر تر زره ټولې ناقانونه وسله واله ډلې او ملیشې منحل او بې وسلې کړئ؛ یا یې غړي په رسمي ډول په افغان ملی امنیتي ځواکونو کې د چاڼ تر یوه پیاوړې کړندود وروسته ادغام کړئ.
- تاکتیکي لارښوونې، د ښکېلتیا قواعد او نور پروسیجرونو ته وده او پرمختیا ورکړئ چې د نړیوال بشردوستانه قانون او د بشري حقونو نړیوال مکلفیتونو ته درناوی کوي، د ملکي وګړو ساتنه، روڼتیا او حساب ورکونه ډېروي؛ او د بشري حقونو څخه سرغړونې او د نړیوال بشري قانون څخه د سرغړونو ټول تورونه د حساب ورکونې د تضمین لپاره وڅېړئ
- په ګڼ شمېر میشته سیمو کې د هوايي بمبارد مرمیو په ګډون د غیر مستقیمو ډزو (د توپونو ګولۍ، هاوانونه، راکټونه او لاسي بمونه) او نورې چاودېدونکې وسلې کارول ودروئ. د وسله والو الوتکو کارولو په تړاو تاکتیکي لارښوونې، د ښکېلتیا اصول او نور پروسیجرونو ته وده او پرمختیا ورکړئ؛
- د مذهبي مشرانو، او همدارنګه د مذهبي لړکیو، لکه د شیعه مسلمانانو او سک مذهبي لړکیو وګړي د فرقه ایزو بریدونو د ساتنې په موخه خپلې هڅې زیاتې کړي. همدغه راز د موجوده محافظت او امنیتي اقداماتو د ښه کولو او د مخنیوي میکانیزمونو د پیاوړي کولو له لاري د بشري حقونو مدافعینو او د رسنیو پرسونل څخه ساتنه وکړئ، او د اغېزمنو ټولنو سره همغږۍ او اړیکې تامین کړئ؛
- د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د استحصال په ګډون، د دغو توکو د له منځه وړلو لپاره د موثرو عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ظرفیت تقویه کول جاري وساتئ او دا یقیني کړئ چې دولت د دې لپاره ټولې اړینې سرچېنې ځانګړې کوي څو د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو په ضد د ملی ستراتیږي بشپړ تطبیق یقیني کړي.
- د عمر د معلوموولو او چاڼ طرزلعملونه تقویه کړئ او په افغان ملي پولیسو کې د ماشومانو د ساتنې د واحددونو چارې لا پسې پراخه کړئ څو په امنیتي پوستو کې فعاله او ګټوره څارنه ځای کړئ چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د غړو له خوا په جګړه ییزه او ناجګړه ییزو نقشونو کې د ماشومانو د کارونې د پېښو مخنیوې وکړي.
- د هغه ماشومانو د خپلو کورنیو سره د پیوستون د پاره میکانیزمونه رامنځ کړئ، کوم چې د مخه د وسله ښکېلو ډلو سره تړلي وو، په شمول د هغه ماشومانو چې د ملي امنیت د اتهاماتو له امله توقیف شوي او هغه ماشومان چې د ملي پولیسو د ماشومانو د خوندي ساتنې ځانګې له خوا رد شوي.
- د هغو ماشومانو په ګډون چې د ملي امنیت پورې په اړوندو تورونو توقیف شوي او هغه چې د ملي پولیسو د ماشومانو د ساتنې د واحدونو له خوا د پولیسو په لیکو کې له جلب و جذب څخه مسترد شوي، د هغو ماشومانو لپاره چې پخوا د جګړو له ښکېلو خواوو سره تړلي وو، د بېرته ادغام لپاره میکانیزمونه رامنځ ته کړي؛
- د تعدیل شوي جزا قانون کې د بچه بازۍ په اړه احکام پلي کړئ او د ماشومانو په وړاندې د جنسي تاوتریخوالي جرمونو حساب ورکول یقیني کړئ. همدغه راز، د ۲۰۱۹ کا د ماشومانو د حقونو د ملاتړ قانون د پارلمان له خوا تصویب کړئ. په یاد قانون کې د ماشومانو

ګمارنه، د ماشومانو کارول او د بچه بازۍ عمل ترسره کول جرم ګرځول شوي، او د قوماندې او ګمارنې افسرانو لپاره د اغېزمن تحقیق او تادیبي جزاګانو میکانیزم یې رامنځته کړې چې د ماشومانو د ګمارنې او کارونې مسوول ګڼل شوي دې، او همدارنګه په یاد قانون کې د جنسي تاو تریخوالي څخه ژغورونکو لپاره د ټولنیز روانې ملاتړ پیاوړي شوې دې.

## نړیوال نظامی ځواکونه

د حکومت پلوه ځواکونو لپاره د وړاندیز شوي سپارښتنو سریېره:

- د ملکي تلفاتو کمولو ټیم تمویل ته دوام ورکړئ ترڅو دوی د دې جوګه کړي چې د ملکي تلفاتو پېښې ژور او وخت په وخت ارزونه ترسره کړي، او د ټیم دندې پراخه کړي ترڅو زده کړل شوي درسونو کې برخه واخلي.
- د ملکي تلفاتو مخنیوي لپاره د اوسني تاکتیکي پروتوکولونو بشپړه بیا کتنه او تقویه وکړئ، په ځانګړي توګه د هوایي بریدونو په چوکاټ کې چې د ځمکني ځواکونو په ملاتړ ترسره کېږي کوم چې تر برید لاندې راځي، او هغه بریدونه چې په هر حالت کې ترسره کېږي.
- په هوایي بریدونو او نورو عملیاتو کې د ملکي تلفاتو د ادعاوو په صورت، د عملیاتو څخه وروسته بیاکتنې او تحقیقاتو ته ادامه ورکړئ، او د شفافیت ډاډ ترلاسه کړئ، ترڅو د زیان د پراخو نمونو وپېژندل شي، عملیاتي اجراآت بهتره شي او حساب ورکولو ته وده ورکړل شي، او د قربانیانو لپاره د کافي، مؤثره او سمدستي جبران خسارې برابرولو اطمیان ترلاسه شي.
- د افغان همکارانو سره د ملکي تلفاتو پېښو د بیاکتنې لپاره هڅې پیاوړې کړئ کوم چې د ګډو عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي؛ د جګړې اغېزمنې ارزونې په ترسره کولو کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته نورې روزنې او مرستې چمتو کړئ؛ او په هغو پېښو کې چې ملکي تلفات رامنځ ته شوي له اغېزمن شویو ټولنو سره د هغوی د افغان شریکانو له لارې ګډون او ښکېلتیا زیاته کړي.
- افغان ملي امنیتي ځواکونو ته په پالیسي عملیاتي او تاکتیکي کچو د دوامداره روزنو، سرچېنو او اړوند ملاتړ د برابرولو له لارې د ملکي تلفاتو د مخنیوي د ملي پالیسي په تطبیق کې د افغان دولت ملاتړ جاري وساتئ، په ځانګړي ډول له غیر مستقیمو وسلو کارولو، چاودېدونکو وسلو چې پراخه سیمه اغېزمنه کوي او همدارګه له جنګي الوتکو څخه ملکي وګړو ته د زیان اوښتلو د مخنیوي لپاره مخه نیوونکي تدابیر ترسره کړئ.

## په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو ځواکونه

د ټول نړیواله ځواکونو لپاره د وړاندیز شوي سپارښتنو سریېره:


- د هغو وګړو په نښه کولو پالیسي ګانو بیاکتنه وکړئ، څوک چې نه په مستقیم ډول په شخړه کې ګډون کوي، او نه د کومې وسله والې ډلې لپاره جګړه ییز فعالیت ترسره کوي، څو نوموړې پالیسي ګانې د بشرپالنې له نړیوال قانون سره په سمون کې شي.

## لومړی: هغه سیاسي او امنیتي ډینامیکونه چې د ملکي وګړو ساتنه اغیزمنوي

په ۲۰۲۰ کال کې د نړیوالې وبا او د سولې مذاکراتو په زمینه کې په ۲۰۲۰ کال کې په افغانستان کې وسله واله جګړه سخته شوې. د SARS-CoV-2 وایروس چې د کوویډ-۱۹ (کرونا) لامل شوې چې د ۲۰۲۰ له لومړیو راهیسې یې د ټولې نړۍ چارې ټکنۍ کړي، له بده مرغه نوموړې وبا په افغانستان کې پر وسله واله جګړه دغه ډول اغیز نه درلود. دغې ناروغۍ هغه کمې منابع تر لا زیات فشار لاندې راوستې کومو ته چې ملکي وګړو سخته اړتیا درلوده څرنګه چې هغوی لا اوس هم د لسیزو جګړې له اغیزو څخه کړیږي. له بلې خوا د جګړې د پای ته رسولو لپاره د ښکېلو لورو له خوا د سیاسي حل د پیدا کولو لپاره د خپلو هیلو په ډاګه کولو او د اړوند مباحثو پیلولو د ستړي ولس لپاره د ښه ژوند هیلې راټوکولې.

په افغانستان کې ۲۰۲۰ د لورو ژورو یا مثبت او منفي بدلونونو کال بلل کیدای شي څکه چې په هیواد کې په امنیتي او سیاسي وضعیت کې دپام وړ بدلونونو له کبله ملکي وګړي په بېلابېلو لارو په پراخه کچه اغیزمن شوي. څرنګه چې متحده ایالاتو او طالبانو خپلو خبرو اترو ته دوام ورکړ او د فبرورۍ په وروستۍ اونۍ کې موافقه وشوه چې په "تاوتریخوالي کې د کمښت" اونۍ به وي، او بیا د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲۹ نېټه په دوحه کې شرایطو یو تړون لاسلیک کړ، دغه کال د هیلو په غوړېدو سره پیل شو. د تړون لیک په شرایطو کې راتلونکې هغه شامل وو، چې طالبان به د دې اجازه نه ورکوي چې افغان خاوره د متحده ایالاتو یا د هغې د متحدینو په ضد وکارول شي، د شرایطو پر بنسټ د متحده ایالاتو د وتلو لپاره پلانونه، او د سولې د بین الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره پلانونه کوم چې به د یوه هر اړخیز او دایمي اوربند په اړه مباحثې راونغاړي.
وروسته له هغه چې د فبروري میاشتې "په تاوتریخوالي کې د کموالي اوونۍ" د دې نور شواهد وړاندې کړل چې د ملکي خلکو د ساتنې لپاره تر ټولو غوره لار د جګړې بندول دي، د کوویډ- ۱۹ (کرونا )د رامنځ ته کېدو سره د بریدونو د هغه هېښوونکي جریان د پیل په ګډون چې لا وار د مخه تر فشار لاندې سیستم لا زیات اغیزمن کوي، د مارچ په میاشت کې د ملکي زیانونو کچه یو ځل بیا مخ په لوړېدو شوه.[27] یوناما د دغه وضعیت په اړه د ۲۰۲۰ کال د جون په میاشت کې په یوه ځانګړي راپور کې خپلې اندیښنې په ډاګه کړې.[28]

څرنګه چې د زرګونو بندیانو د خوشې کولو لپاره د پلانونو د نهایي کولو په ګډون د بین الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره پلانونه د پرمختګ په حال کې وو، زیات شمېر ملکي وګړو د یو څو میاشتو لپاره د یو څه نسبي هوساینې ساه واخیسته. یو کم شمېر یې د دولت ضد عناصرو له خوا د ځانمرګو بریدونو او د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا هوایي بریدونو له امله زیانمن شول، چې دغه کار د یوې روښانه راتلونکې په لور د خوځښت




[27] د ۲۰۲۰ کال د د جنوري او فبروري په هره میاشت کې د ۴۰۰ کم شمېر تلفاتو په پرتله، یوناما د ۲۰۲۰ کال د مارچ په میاشت کې ۶۲۱ ملکي (۲۳۷ مړه او ۳۸۵ ټپیان) مستند کړي.
[28] دکووید-۱۹ وبا پر مهال پر روغتیایي مرکزونو د بریدونو په اړه دیوناما د ۲۰۲۰ کال د جون د میاشتې ځانګړی راپور وګورئ.



*د سپتمبر پر ۱۲ نېټه، د افغانستان د سولې مذاکرات په رسمي ډول په قطر، دوحه کې پیل شوې، د افغانستان د اسلامي جمهوریت پلاوی (کیڼ لوری) او طالبان (ښي لوري) کې حاضر دي. انځور، روېټرز، ابراهیم العمري*

لپاره یو څه هیلې راوټوکولې. په ترتیب سره د مې د ۲۴-۲۶ او د جولای له ۳۱ څخه د اګست تر ۲ پورې د کوچني او لوي اخترونو موقتو اوربندونو د جګړې د ښکېلو لورو له خوا ملکي وګړو ته د زیان د مخنیوي د ورتیا لا زیات شواهد وړاندې کړل، خو کله چې هغوی دا وغواړي.[29]

د ۲۰۲۰ کال دسپتمبر ۱۲ نېټې وروسته کله چې دواړو خواوو په دې اړه فکر وکړ چې د بندیانو د خوشې کولو په ګډون د بین الافغاني مذاکراتو اړین شرایط پوره شوي، د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو په استازیتوب مذاکره کوونکو ټیمونو په رسمي ډول په دوحه کې د افغان سولې خبرې اترې پیل کړې. لومړنې بحثونه د طرز العمل د قواعدو په اړه موافقې ته پر رسېدو متمرکز وو. څرنګه چې دغو بحثونو دوام درلود او له بلې خوا ملکي وګړي په زیاتېدونکي ډول د جګړې د ښکېلو خواوو له امله کړېدل چې له امله یې د اکتوبر او نومبر په میاشتو کې په سلګونو ملکي وګړي ووژل او ټپیان شول په تېره بیا د دولت ضد عناصرو له خوا د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د کارونې له امله، یو بې خونده انځور په راڅرګندېدو شو.[30] د ډېری دغو بریدونو مسوولیت د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې چا چې د افغانستان په ختیځ کې د زیاترو سیمو کنټرول له لاسه ورکړی او خپل تمرکز یې په کابل او نورو ښارونو کې د لوړې کچې بریدونو ترسره کولو ته اړولی، پر غاړه اخیستی، او د ۲۰۲۰ کال په وروستیو میاشتو کې دغه ډول بریدونه لوړو کچو ته رسیدلي.

د اکتوبر د لومړیو راهیسې، د هلمند او کندهار ولایتونو کې د طالبانو او افغان ملي امنیت ځواکونو ترمنځ د ساحو کنترول په موخه جګړو زرګونه کورنۍ بې ځایه کړې او خلک پر کابل دوه ځله توغندیو د بې توپیره ګذارولو، په لویه کچه د پوهنې پر بنسټونو بریدونو او په نسبي ډول د بامیان په سوله ییز ښار کې د ډله ییز تلفاتو لومړۍ پېښه[31]، شاک کړل. سربېره پر دې، د طالبانو له خوا د هدفي وژنو او د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د فشاري ماینونو له امله د ملکي تلفاتو په شمېر کې زیاتوالي چې د کال په اوږدو کې رامنځ ته شوي د اندېښنې وړ دی. پر دې سربېره، افغان ملي اردو د ځمکنیو نښتو او هوایي بریدونو پر مهال په لوړه کچه ملکي تلفات اړولي، سره له دې چې د فبروري تر ۲۹ نېټې وروسته د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا هوايي بریدونه او د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو له خوا د چاپېزو عملیاتو په پایله کې د

---

[29] د ۲۰۲۰ کال د مې له ۲۴ څخه تر ۲۶ پورې، یوناما ۴۹ ملکي تلفات (۲۷ مړه او ۲۲ ټپیان) او د ۲۰۲۰ کال د جولای له ۳۱ څخه د اګست تر ۲ پورې یوناما ۹۷ ملکي تلفات (۳۹ مړه او ۵۸ ټپیان) مستند کړي، چې په دې کې د جلال اباد پر محبس د جولای د ۲ نېټې ډله ییز برید چې مسوولیت یې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا اخیستل شوي او ۵۹ ملکي تلفات (۲۸ مړه او ۳۱ ټپیان) یې واړول او د یوه ځای پر ځای شوی فشاري ماین او له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو چاودنه شامل دي چې د دې امکان لري چې د اوربندونو تر پیل مخکې پاتې شوي، او د دغو توکو چاودنې ۱۷ ملکي تلفات (۱۰ مړه او اوو ټپیان) واړول.
[30] یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د ورته موده په پرتله، د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر له ۱ څخه د نومبر تر ۳۰ پورې د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له لامله په ملکي تلفاتو کې ۶۳ سلنه زیاتوالی ثبت کړی.
[31] د ۲۰۰۹ کال راهیسي کله چې یوناما په سیستماتیک ډول مستند کول پیل کړي، دا د یوناما له خوا د پراخو ملکي تلفاتو لومړی ثبت شوی برید ګڼل کېږي.

ملکي تلفاتو اوښتل تر ډېره پای ته رسیدلي. د دغه کار زیاتېدونکي اغیز له امله زیات شمېر خلکو/ادارو د جګړې پر ښکېلو خواوو د تاوتریخوالي د راکمولو غږ وکړ په داسې حال کې چې هغوي په دوحه کې خپلو خبرو اترو ته ادامه ورکړې، او دا چې د یوه بشري اوربند لپاره خپلې مباحثې لومړیتوب بندي کړي. په داسې حال کې چې د افغانستان اسلامي جمهوریت مذاکره کوونکي ټیم په ډاګه کړې، چې اوربند باید هغه څه وې چې د اجنډا په لومړیو کې ورته رسېدنه وشي، خو د دغه راپور تر خپرېدو پورې، طالبانو په رسمي ډول په دې اړه څه نه دي ویلي چې د مذاکراتو په کومه نکته کې به هغوي د اوربند په اړه خبرو اترو ته چمتو شي. سره له دې چې په رسنیو او مدني ټولنه کې د رول لرونکو ملکي وګړو د هدفي وژنو، چې زیات شمېر خلک یې د "ترور" په نامه یادوي، په اوج کې، د کال پای د دې هیلې راوټوکلوې چې یوه سوله ییز حل ته د ښکېلو خواوو د رسېدو هیلې واقعي وې. د نومبر په وروستیو کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د طالبانو د مذاکره کوونکي ټیمونه د طرز العمل د قواعد په اړه یوې هوکړې ته ورسېدل او نومبر په لومړیو کې د اجنډاوو د طرحو تبادله رامنځ ته شوه چې تر هغې وروسته د دریو اونیو د رخصت او له خپلو اړوندو مشرتابه وو سره د سلا مشورې په موخه خبرې اترې ودرېدې، او ټاکل شوې وه چې د ۲۰۲۱ کال د جنوري پر ۶ نېټه بېرته پیل شي.

## دویم: ښځې او وسله واله جګړه


*, طالبانو پر افغان ملي امنيتي ځواکونو بريد وکړ او افغان ملي اردو د طالبانو په لور هاوانونه ګذار کړل. د هاوان يوه مرمۍ زما پر کور ولګېده [...] هاوان زما څلور کلن زوی وواژه او زه او زما لور يې ټپي کړل. [...] ما چېغې کړې. ګاونډيانو زما خاوند خبر کړ. هغه راغی او موږ يې روغتون ته يوړو. د هاوان پرچې زما په ورانه، پښې او سينې لګېدلې وې. د روغتون په لومړيو ورځو کې ما په سا اخيستلو کې ستونزه درلوده [...] که ريښتيا ووايم، که چېرې دوی ما ته له پيسو ډکه ټوله نړۍ را کړې، زما د زوی ځای نه شي نيولی.*

-- له طالبانو سره د ځمکنۍ نښتې پر مهال د افغان ملي اردو د هاوان ښځينه قرباني
د ۲۰۲۰ کال د جون پر ۲۹ نېټه له قرباني سره د يوناما تيليفوني مرکه

په ۲۰۲۰ کال کې د وژنې، ژوبلې او جنسي تاوتريخوالي په ګډون، ښځې د وسله والې جګړې له امله په مختلفو لارو چارو په سخت ډول زيانمنې شوې. ښځې دغه راز د وسله والې جګړې د هغو پراخو اغيزو متحملې شوې کومو چې د خوځښت د ازادۍ، پوهنې، روغتيا او عدالت ته د لاس رسي په ګډون په پراخه کچه د بشري حقوقو او له دې حق څخه د برخمن کېدو په منفي ډول اغيزمن کړې چې د جنسيت يا جنډر پر بنسټ ور سره تبعيض ترسره نه شي. په ۲۰۲۰ کال کې د ښځو تلفات[32] د ټولو تلفاتو ۱۳ سلنه وړانډې کوي چې د ښځو ۱۱۴۶ تلفات (۳۹۰ مړې او ۷۵۶ ټپيانې) کېږي او د ۲۰۱۹ کال په پرتله پنځه سلنه عمومي کموالی په ډاګه کوي.[33] له کوم وخت راهيسې چې يوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سيستماتيک ډول مستندول پيل کړي، ۲۰۲۰ کال په يوه واحد کې د ښځو د وژنې تر ټولو لوړ شمېر په ډاګه کړ، ځرنګه چې په ۲۰۲۰ کال کې د وژل شويو ښځو شمېر ۱۳ سلنه لوړ شو، دغه وژنې په عمده ډول د هدفي وژنو او د غير انتحاري تعبيه شويو چاودېدونکو توکو له امله رامنځ ته شوې، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله د ښځو د ژوبلو شمېر ۱۲ سلنه راکم شوی.

دولت ضد عناصرو په ۲۰۲۰ کال کې د ښځو د ټولو تلفاتو نيمه يې هغه اړولوې، چې د ښځو د ۵۶۹ تلفات (۱۹۴ مړې او ۳۷۵ ټپيانې) تشکيلوي. طالبان د ۳۴ سلنې، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډله د نهه سلنې او نا معلوم دولت ضد عناصر د شپږ سلنې تلفاتو مسوول ګڼل کېږي.[34] په ۲۰۲۰ کال کې، يوناما دولت ضد عناصرو ته ۱۴ سلنه کم د ښځو تلفات منسوب کړي، چې په عمده ډول د ځانمرګو بريدونو له امله د ښځو په تلفاتو کې د کموالي په پايله کې رامنځ ته شوي.[35]


د ښځو تلفات - وژل شوي او ټپيان شوي
د جنوري له ۱ څخه د ډسمبر تر ۳۱ پورې ۲۰۰۹-۲۰۲۰




---

[32] د ښځو تلفات هغو ښځينه لويانو ته راجع کېږي چې عمرونه يې تر ۱۸ کلنۍ لوړ وي. د هغو ښځينه تلفاتو لپاره چې عمرونه يې تر ۱۸ کلنۍ کم وي د ماشومان او وسله والې جګړې ځېرکۍ وګورئ.
[33] په ۲۰۱۹ کال کې، يوناما د ښځو ۱۲۰۲ تلفات (۳۴۵ مړې او ۸۵۷ ټپيانې) مستند کړي.
[34] په ۲۰۲۰ کال کې، يوناما د ښځو ۳۹۰ تلفات (۱۳۶ مړې او ۲۵۴ ټپيانې) طالبانو، د ښځو ۱۰۵ تلفات (۲۹ مړې او ۷۶ ټپيانې) د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې او د ښځو ۷۴ تلفات (۲۹ مړې او ۴۵ ټپيانې) نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.
[35] په ۲۰۱۹ کال کې، يوناما د ښځو ۶۵۸ تلفات (۱۴۸ مړې او ۵۱۰ ټپيانې) دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

## د ښځو د تلفاتو څلور مخکښ لاملونه
د جنوري له ۱ څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې ۲۰۲۰ کال




په ۲۰۲۰ کال کې، دولت پلوه ځواکونه د ښځو د ۳۹۱ تلفاتو (۱۴۰ مړي او ۲۵۱ ټپیانې) مسؤول وو، چې د ښځو د ټولو تلفاتو۳۴ سلنه وړاندې کوي. یوناما د ښځو ۳۱ سلنه تلفات افغان ملی امنیتي او دفاعی ځواکونو په تېره بیا افغان ملی اردو ته منسوب کړي.[36] نړیوال نظامي ځواکونه، دولت پلوه وسله والې ډلې، او نامعلوم یا ګډ دولت پلوه ځواکونه هر یو د ښځو یوه سلنه تلفاتو مسوول وو.[37] په داسې حال کې چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله په ۲۰۲۰ کال کې نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب شوي د ښځو تلفات راکم شوي، افغان ملي اردو د ښځو د تلفاتو د اندېښنې وړ ۴۳ سلنه زیاتوالی[38] مسوولہ وه، چې په عمده ډول د ۲۰۱۹ کال په پرتله د افغان هوایي ځواک له خوا د ښځو په تلفاتو کې د ۱۴۰ سلنه زیاتوالي له امله رامنځ ته شوي.[39]

د ښځو پاتې ۱۶ سلنه تلفات د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ د ډزو د تبادلې، د پولې په اوږدو کې توپونو د ډزو، او له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي.[40]

---

[36]په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ښځو ۳۵۷ تلفات (۱۱۹ مړي او ۲۳۸ ټپیانې) د افغانستان ملی امنیتي ځواکونو ته منسوب کړي. افغان ملی اردو د ۳۰۰ ملکي تلفاتو (۱۰۳ مړه او ۱۹۷ ټپیان) مسوولہ وه.

[37] په ۲۰۲۰ کې، یوناما د ښځو ۱۴ تلفات (۱۲ مړي او دوه ټپیانې) نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب کړي، د ښځو اوو تلفات (دوه مړي او پنځه ټپیانې) دولت پلوه وسلوالو ډلو او ۱۳ تلفات (اوو مړي او شپږ ټپیانې) ناپیژانده یا ګډو دولت پلو وسلوالو ځواکونو منسوب کړي.

[38] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما افغان ملي اردو ته د ښځو ۲۱۰ تلفات (۷۳ مړي او ۱۳۷ ټپیانې) او نړیوالو نظامي ځواکونو ته د ښځو ۸۷ تلفات (۵۶ مړي او ۳۱ ټپیانې) منسوب کړي.

[39]په ۲۰۱۹ کال کې د ښځو د ۴۲ تلفاتو (۱۷ مړي او ۲۵ ټپیانې) په پرتله یوناما په ۲۰۲۰ کال کې د افغان هوایي ځواک د بریدونو له امله د ښځو ۱۰۱ تلفات (۴۳ مړي او ۵۸ ټپیانې) مستند کړي.

[40] په ۲۰۲ کال کې، یوناما د ښځو ۱۴۹ تلفات (۴۷ مړي او ۱۰۲ ټپیانې) د دولت پلوه ځواکونو او دولت عناصرو ترمنځ د ډزو تبادلې؛ د ښځو ۲۴ تلفات (شپږ مړي او ۱۸ ټپیانې) پاکستاني نظامي ځواکونو؛ او د ښځو ۱۳ تلفات (درې مړي او ۱۰ ټپیانې) له جګړې څخه پاتې شونو چاودېدونکو توکو اړوند نا معلومو فعالینو ته منسوب کړي.




*افغان مېرمنو د سپتمبر پر ۲۱ نېټه په هرات ښار کې د سولې لپاره خپلې هيلې په ډاګه کړې، په داسې حال کې چې دوي د سپتمبر پر ۱۲ مه نېټه، د افغانستان د سولې مذاکرات د پيل په ملاتړ لاريون وکړ. انځور EPA-EFE/جليل رضوی*

ځمکنۍ نښتې لا اوس هم د ښځو د تلفاتو مخکښ لامل ګڼل کېږي، چې د ښځو د مرګ ژوبلې نږدې نيمه يې هغه يې اړولې. په ۲۰۲۰ کال کې دځمکنيو نښتو له کبله د ښځو تلفات د ۲۰۱۹ کال په پرتله په ورته کچه پاتې شوي دي.[41] ښځې په ځانګړې توګه د توپونو د ويشتلو، هاوانونو، او راکيټونو د کاروني په ګډون د کومو له امله چې د ښځو د تلفاتو يو په درېيمه برخه رامنځ ته شوې، دځمکنيو نښتو پر مهال دغير مستقيم ډزو له کبله زيانمنې شوي.[42]

انتحاري او غير انتحاري تعبيه شوي چاودېدونکو توکو د ښځو د ۲۳ تلفاتو مسوول ګڼل کېږي او په ۲۰۱۹ کال[43] کې د ثبت شوي شمېر په پرتله د دغو تاکتيکونو له امله د ښځو تلفات ۴۰ سلنه راکم شوي.[44] د طالبانو له خوا د تعبيه شويو چاودېدونکو توکو د فشاري ماينونو له امله د ښځو د تلفاتو شمېر ۵۹ سلنه لوړ شوی، کوم چې د ځانګړې انديښنې وړ ګڼل کېږي.[45]

د ښځو د تلفاتو درېيم مخکښ لامل هدفي وژنې وې چې شمېر يې د ۲۰۱۹ کال په پرتله درې برابره لوړ شوی او د ښځو د ټولو تلفاتو ۱۵ سلنه جوړوي.[46] د پېښې په دې نوعيت کې په کابل کې د مې پر ۱۲ مه نېټه د نا معلومو دولت ضد عناصرو له خوا پر يوه زېږنتون ډزې په کومو کې چې ۱۹ ښځې ووژل شوې او ۱۲ نورې ټپيانې شوې، او د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې له خوا د مسوليت منل شوي د نومبر پر ۲ مه نېټه د کابل پر پوهنتون بريد شامل دي په کوم کې چې ۱۰ ښځې ووژل شوې او ۲۰ نورې ټپيانې شوې. سربېره پر دې، د دولت

---

[41] په ۲۰۲۰ کال کې، يوناما د ځمکنيو نښتو په مهال د ښځو ۵۵۵ تلفات (۱۵۶ مړې او ۳۹۹ ټپيانې) مستند کړي. په ۲۰۱۹ کال کې، يوناما د ځمکنۍ نښتو له امله د ۵۲۴ تلفات (۱۴۲ مړې او ۳۸۲ ټپيانې) مستند کړي و.

[42] په ۲۰۲۰ کال کې، يوناما د ځمکنيو نښتو پرمهال د غير مستقيمو ډزو له امله د ښځو ۴۲۰ تلفات (۱۱۵ مړې او ۳۰۵ ټپيانې) مستند کړي.

[43] په ۲۰۱۹ کال کې، يوناما د انتحاري او غير انتحاري تعبيه شويو چاودېدونکو توکو له امله د ښځو ۴۳۲ تلفات (۷۴ مړې او ۳۵۸ ټپيانې) مستند کړي.

[44] په ۲۰۲۰ کال کې، يوناما د انتحاري او غير انتحاري تعبيه شويو چاودېدونکو توکو له امله د ښځو ۲۶۰ تلفات (۸۱ مړې او ۱۷۹ ټپيانې) مستند کړي.

[45] يوناما ، د طالبانو له خوا د تعبيه شويو چاودېدونکو توکو د فشاري ماينونو له امله په ۲۰۱۹ کال کې د ښځو د ۶۸ تلفاتو په پرتله په ۲۰۲۰ کال کې د ښځو ۱۰۸ تلفات (۵۷ مړې او ۵۱ ټپيانې) مستند کړي

[46] يوناما د هدفي وژنو له امله په ۲۰۱۹ کال کې د ښځو د ۴۶ تلفاتو (۲۷ مړې او ۱۹ ټپيانې) په پرتله په ۲۰۲۰ کال کې د ښځو ۱۷۰ (۸۵ مړې او ۸۵ ټپيانې) مستن کړي. په دغو شمېرو کې دواړه هغه ښځې چې په مستقيم ډول په نښه شوي او نورې هغه شاملې دي چې د نورو افرادو په نښه کولو پر مهال په تصادفي ډول اغېزمنې شوي.

ضد عناصرو په تېره بیا د طالبانو له خوا ښځې، د ملکي وضعیت لرونکو یا د افغان ملي امنیتي ځواکونو د غړو ښځینه پولیس افسرانو په ګډون، له افغان دولت سره د کار کولو یا د هغه د ملاتړ له امله وژل شوي.

په ۲۰۲۰ کال کې د ښځو مړینه ۱۳ سلنه لوړه شوې، په ځانګړي ډول د هدفي وژنو او د غیر انتحاري ځای په ځای شویو چاودېدونکو توکو له امله.

یوناما همدارنګه د طالبانو له خوا د موازي عدلي جوړښتونو د پرېکړو د عملي کولو په پلمه د ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډکو سزاګانو لاس پورې کولو پېښو مستندول جاري ساتلي. دغه ډول پېښې ډېر ی وختونه د انګېرل شویو اخلاقي یا جنډر نورمونو لکه له ودګني ژوند څخه بهر اړیکي څخه د سرغړونو ته په غبرګون کې رامنځ ته شوي. د مثال په ډول، طالبانو د افغانستان په شمال کې یوه ۲۸ کلنه ښځه د خپلو درېو ماشومانو مخ ته له ودګني ژوند څخه بهر اړیکو په تور په ډزو ووژله. په یوه بله قضیه کې د یوه شمالي ولایت په یوه ولسوالۍ کې د طالبانو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر رییس دوه شل کلنې ښځې له کور څخه له محرم پرته د وتلو له امله په یوه بازار کې په کېبل ووهلې. له دغو ښځو یوه هغه یې د روغتیايي خدمتونو د ترلاسه کولو په موخه پر لار وه.

په ۲۰۲۰ کال کې ښځې همدارنګه د شخړې اړوند جنسي تاوتریخوالی سره مخ شوي. یوناما د شخړی ښکېلو غاړو له خوا پر ښځو د جنسي تېري څلور قضیې تایید کړي چې ټولې هغه یې طالبانو ته منسوب شوي.[47] یوناما د جګړې اړوند د جنسي تاوتریخوالي د نورو پېښو په اړه معلومات ترلاسه کړي کوم چې د نا امنیو او د قربانیانو د ساتنې د اندیښنو له امله تایید کېدای نه شي.[48] طالبانو په ډاګه کړې چې هغوي د دغو پېښو څېړنه کوي او زیاته یې کړه چې د دطالبانو په "لیکو کې د دغه ډول نا اسلامي کړنو د مرتکبینو" لپاره ځای نشته.[49]

دا شمېرې ښايي په افغانستان کې د جګړې اړوند جنسي تاوتریخوالي ریښتنې کچه منعکس نه کړي. ژور محافظ کار د جندر نورمونه، پیغور او پر قرباني د متمرکزو خدمتونو نشتون له احتمالي کمې راپور ورکونې سره مرسته کړې. دغو جرمونو ته د رسیدګۍ په پار عدالت ته د ښځو لاس رسي هم کمزوری دی، چې عدلي سکتور د زیات شمېر هغو افغان مېرمنو لپاره چې له تاوتریخوالي سره مخ شوي یوازې محدود جبران او رسیدګي برابروي.[50]

په لا پراخ ډول، جګړه ښځې زیانمنې کوي او په لړ د قیاس وړ ساحو کې له یې شمېرو حقونو څخه د هغوي پر برخمن کېدو اغېز کوي. د مثال په ډول، جګړه او ملي نا امنۍ په سخت ډول د ښځو د خوځښت ازادي محدودوي کوم چې په خپل وار پوهنې، روغتیا، او کاري مارکېټ ته د هغوي لا وار د مخه محدود شوی لاس رسي کمزوری کوي. د نر واکۍ نورمونه د وضعیت ناوړه کوونکي فکټورونه ګڼل کېږي. څرنګه چې نارینه په عنعنوي ډول د کورنۍ ګټیالي ګڼل کېږي، کله چې نارینه مړه یا ټپي شي، د ښځو ټولنیز-اقتصادي پایښت ښايي په سخت ډول له ګواښ سره مخ شي. په داخلي ډول بېځایه شوې ښځې او ښېرته راستنېدونکې ډېر ی وختونه له ځانګړوي زیانمنتوبونو او خطرونو مخ کېږي.[51]

---

[47] یوناما دغه راز پر نجونو د جنسي تېري پېښې تایید کړي، د دغه راپور ماشومان او وسله واله جګړه څپرکې، فرعي ج څپرکی د ماشومانو په ضد د جنسي تاوتریخوالي برخه وګورئ.

[48] د لا زیاتو معلوماتو لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې، *د جګړې اړوند جنسي تاوتریخوالي* S/2020/487 راپور ۳ جون ۲۰۲۰ وګورئ.

[49] د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر پر ۲۵ نېټه یوناما ته د طالبانو لیک، د بشري حقونو له څانګې سره په دوسیه کې شتون لري.

[50] د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرد دفتر، د ښځو او نجونو په ضد د تاوتریخوالي جرمونو ته د عدالت په لټه کې راپور (دسمبر ۲۰۲۰) او د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ د ادارې د بشري اړتیاوو بیا کتنه (دسمبر ۲۰۲۰) وګورئ.

[51] د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ د ادارې له خوا د افغانستان د بشري اړتیاوو بیا کتنه (دسمبر ۲۰۲۰) وګورئ.

## درېیم. ماشومان او وسله واله جګړه


*"د ماشومانو ژړا او غال مغال و. هغوي چغې وهلې چې "هیله کوو له موږ سره مرسته وکړئ."بیا مې ولېدل چې زما زوي او څلور نور ماشومان ټپیان دي. دوي ټول په یوه بد حالت کې وو. ما خپل زوي را واخیست. ټول بدن یې په وینو لت پت و. اوبه مې راواخیستې او د هغه ټپونه مې پریمنځل. د چاودنې له امله د هغه خیټه، زړه او سږي ژوبل شوي وو. موږ غوښتل چې هغه روغتون ته ولېږدوو، خو هغه څو شیبې وروسته خپل ژوند له لاسه ورکړ. هغه چې کله مړ کیده، هغه زما په لور مستقیم زما سترګو ته کتل، خو خبرې یې نه شوې کولای ."*

-- د هغه هلک پلار چې له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله ووژل شو

د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پر ۱۴ نېټه د قرباني له پلار سره د یوناما تیلفوني مرکه

په افغانستان کې جګړه لا اوس هم د ماشومانو ژوند اخلي، او دا هیواد د ماشومانو لپاره د نړۍ یو تر ټولو مرګونی ځای ګڼل کېږي. ماشومان د ځمکنیو نښتو د وژنې او ژوبلې، غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو، ناچاوده توکو/له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو او ځمکنیو ماینونو، هوایي بریدونو او تښتونو په ګډون، د اوږد مهالي او د زیات زیان له خطر سره مخ دي. ماشومان دغه راز د جګړې د ښکېلو خواوو له لوري د بچه بازۍ په ګډون په جګړه ییزو او ملاتړ په نقشونو کې له ګمارنې او کارونې، جنسي استثمار او تاو تریخوالي سره مخ شوي دي. سربېره پردې، ماشومانو تعلیم او روغتیا پاملرنې ته لاسرسی نه لري ځکه چې مستقیمو بریدونو او جګړو ښوونځیو، روغتونونو او د هغوي اړوند کارمندانو د ضمني/تصادفي زیان لامل شوي. دواړه دولت پلوه ځواکونه او د دولت ضد عناصر د ماشومانو او وسله والو جګړو په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د کلني راپور په ضمیمه کې د ماشومانو پر وړاندې د جدي سرغړونو لپاره درج او لیست شوي.[52]


په ۲۰۲۰ کال کې، ماشومان د ۲۰۱۹ کال د سلنې په څیر د ټولو ملکي تلفاتو ۳۰ سلنه جوړوي. د ۲۰۲۰ کال د جنوري د او دسمبر د ۳۱ ترمنځ، یوناما د ماشومانو ۲۶۱۹ تلفات (۷۶۰ مړه او ۱۸۵۹ ټپیان)، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۱۷ سلنه کموالی په ډاګه کوي.[53] نجونې د ماشومانو د تلفاتو ۳۲ سلنه او هلکان یې ۶۸ سلنه جوړوي.




[52] طالبان د استخدام او کارولو، وژلو او معیوب کولو، پر ښوونځیو او / یا روغتونونو د بریدونو او اختطافونو لپاره لست شوي دي؛ داعش د استخدام، کارونې، وژلو او ژوبلولو لپاره درج شوي دي. او افغان ملي پولیس او سیمه ییز پولیس د استخدام او کارونې لپاره لست شوي دي.
[53] په ۲۰۱۹ کې، یوناما د ماشومانو ۳۱۵۱ تلفات (۸۷۵ مړه او ۲۲۷۶ ټپیان) مستندې کړي.

## د ماشومانو د تلفاتو څلور مخکښ لاملونه

د جنورۍ له ۱ څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې ۲۰۲۰




د ۲۰۱۹ کال په پرتله د حکومت ضد عناصرو ته د ماشومانو په منسوب تلفاتو ۲۸ سلنه کموالی سره سره، د دې ډلو له خوا د ماشومانو د اړول شویو تلفاتو شمېر لا اوس هم د اندېښنې وړ دی.[54] په ۲۰۲۰ کې، دولت ضد عناصرو د ماشومانو د تلفاتو ۴۲ سلنه هغه اړولي چې د ماشومانو ۱۰۹۸ تلفات (۲۸۱ مړه او ۸۱۷ ټپیان) کېږي. طالبان د ۳۶ سلنه، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډله د دوه سلنې او نا معلوم دولت ضد عناصر د څلور سلنې مسوول وو.[55]

په ۲۰۲۰ کال کې، دولت پلوه ځواکونو د ماشومانو د ټولو تلفاتو ۳۷ سلنه – د ماشومانو ۹۶۲ تلفات (۳۳۷ مړه او ۶۲۵ ټپیان) اړولي، چې د تېر کال په پرتله اووه سلنه کموالی په ډاګه کوي.[56] افغان ملي امنیتي ځواکونو د ماشومانو د ټولو تلفاتو ۳۲ سلنه اړولي چې په تعقیب یې نړیوال نظامي ځواکونه (دوه سلنه) او دولت پلوه وسله والې ډلې ته (یوسلنه) تلفات منسوب کړي .[57] سربېره پر دې یوناما نامعلومو یا ګډو دولت پلوه ځواکونو ته د ماشومانو دوه سلنه تلفات منسوب کړي.[58]

د ماشومانو پاتې ۲۱ سلنه تلفات د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ د ډزو د تبادلې، له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي چې نه شي کېدای د جګړې کوم مشخص لوري ته منسوب کړای شي.[59]

---

[54] په ۲۰۱۹ کې، یوناما د دولت ضد عناصرو ته ۱۵۳۵ ملکي تلفات (۳۲۱ مړه او ۱۲۱۴ ټپیان) منسوب کړي.
[55] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ماشومانو ۹۴۰ تلفات (۲۶۲ مړه او ۶۷۸ ټپیان) طالبانو، د ماشومانو ۴۳ تلفات (شپږ مړه او ۳۷ ټپیان) د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې او د ماشومانو ۱۱۵ تلفات (۱۳ مړه او ۱۰۲) نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.
[56] په ۲۰۱۹ کې، یوناما ۱۰۳۳ ملکي تلفات (۴۰۹ مړه او ۶۲۴ ټپیان) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.
[57] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ماشومانو ۸۴۹ تلفات (۲۷۹ مړه او ۵۷۰ ټپیان) افغان ملي امنیتي ځواکونو، د ماشومانو ۴۶ تلفات (۳۶ مړه او ۱۰ ټپیان) نړیوالو نظامي ځواکونو، او د ماشومانو ۲۳ تلفات (نهه مړه او ۱۴ ټپیان) دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب کړي.
[58] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ماشومانو ۴۴ تلفات (۱۳ مړه او ۳۱ ټپیان) نا معلومو یا ګډو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.
[59] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ د ډزو د تبادلې په پایله کې د ماشومانو ۴۰۴ تلفات (۱۰۰ مړه او ۳۰۴ ټپیان)؛ د نا پېژاند لوري له خوا له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو له امله د ماشومانو ۱۰۸ تلفات (۳۱ مړه او ۷۷ ټپیان)؛ او د پاکستاني نظامي ځواکونو له امله د ماشومانو ۴۷ تلفات (۱۱ مړه او ۳۶ ټپیان) مستند کړي.

ماشومان لا اوس هم په نامتناسب ډول د جګړې له پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله کړېږي چې د دغو خطرناکو وسیلو څخه د ټولو ملکي تلفاتو ۸۰ سلنه جوړوي.

په ۲۰۲۰ کال کې د ماشومانو د تلفاتو مخکښ لامل لا اوس هم د دولت پلوه ځواکونو او طالبانو ترمنځ ځمکنۍ نښتې ګڼل کېږي، کومو چې د ماشومانو د ټولو تلفاتو ۴۶ سلنه اړولې. دغو ځمکنیو نښتو د ماشومانو ټولټال ۱۱۹۵ تلفات (۳۰۴ مړه او ۸۹۱ ټپیان) رامنځ ته کړي چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله دوه سلنه کموالي ورانديې کوي.[60] زیاتره دغه تلفات د غیر مستقیمو ډزو په پایله کې پیښ شوي.[61]

د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو بریدونه په ۲۰۲۰ کال کې د ماشومانو د تلفاتو دویم مخکښ لامل و چې د ماشومانو ۵۱۷ تلفات (۱۵۰ مړه او ۳۶۷ ټپیان) جوړوي او د تېر کال په پرتله ۱۰ سلنه کموالی په ډاګه کوي.[62]

په ۲۰۲۰ کال کې د ماشومانو د تلفاتو دریم مخکښ لامل له جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي ګڼل کېږي. په ۲۰۲۰ کال کې یوناما له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله د ماشومانو ۳۱۴ تلفات (۸۴ مړه او ۲۳۰ ټپیان) مستند کړي. په داسې حال کې چې دا د ۲۰۱۹ کال په پرتله د تلفاتو په شمېر کې ۲۲ سلنه کموالی ورانديې کوي، ماشومان لا اوس هم په نا متناسب ډول له جګړو څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله کړېږي او د دغو خطرناکو وسیلو له امله د ټولو ملکي تلفاتو ۸۰ سلنه جوړوي.[63] ماشومان په مکرر ډول له جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي توکي پیدا کوي او پر هغوي د لوبتوکو یا د وسپنې د ټوټو فکر کوي، له هغوي سره د لوبو کولو یا د هغوي د پلورلو هڅه کوي تر هغې چې وچوي، ځانونه هم او نور هم ژوبل یا وژني. هغه ماشومان چې له جګړې څخه د چاودېدونکو توکو له پېښو ژوندي پاتې دي د پښو یا سترګو له لاسه ورکولو، نورو جدي ټپونو او رواني ترما له امله د هغوي د ژوند پر کیفیت له دوامدار زیانمن حالت سره ژوند کوي.

د افغان هوايي ځواک او د نړیوالو نظامي ځواکونو هوايي بریدونه د ماشومانو د مرګ ژوبلې څلورم مخکښ لامل و چې د ماشومانو د ۲۹۹ تلفاتو (۱۴۶ مړه او ۱۵۳ ټپیان) لامل شوي او د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۱۲ سلنه کموالی په ډاګه کوي.[64] د ماشومانو ټولټال ۲۳۸ تلفات (۱۰۳ مړه او ۱۳۵ ټپیان) د افغان هوايي ځواک هوايي بریدونو ته منسوب شوي. د نړیوالو نظامي ځواکونو هوايي بریدونه د ماشومانو د ۴۴ تلفاتو (۳۶ مړه او اته ټپیان) لامل شوي، چې ۸۹ سلنه هغه یې د ۲۰۲۰ کال په جنوري او فبروري میاشت کې رامنځ ته شوي.[65] له هوايي بریدونو له امله د ماشومانو پاتې تلفات نا معلومو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي.

یوناما دغه راز د ۵۵ ماشومانو د تښتونې ۱۹ پېښې تایید کړي، چې ۱۸ هغه یې طالبانو ته او یوه هغه یې دولت پلوه وسله والې ډلې ته منسوب شوې. د مثال په ډول د اکتوبر پر ۸ مه نېټه، د فراه ولایت په لش جوین ولسوالۍ کې طالبانو یو هلک او د هغه دوی خوېندې داسې مهال وتښتول او یوه نا معلوم ځای ته یې یوړل کله چې هغوي د خپل ناروغ پلار د پوښتنې لپاره پر لار وو. یوه ورځ وروسته د هغوي مړه جسدونه پیدا شول. د جولای پر ۶ مه نېټه په سرپل ولایت کې، طالبانو یو ځوان سړی او یوه امیندواره نجلۍ د نامشروع اړیکو د درلودو په تور وتښتول. امیندواره جلې په عین ورځ بېرته خوشې شوه؛ خو په بله ورځ د خپلې کورنۍ د غړو له خوا شکنجه او ووژل شوه، هغوي داسې باور درلود چې هغې د ټولې کورنۍ لپاره شرم او پیغور راوړی.

**د ماشومانو د ساتنې په تړاو د پالیسي او احتساب طرحې**

د ۲۰۲۰ کال د نومبر پر ۲۴ مه نېټه، د کورنیو چارو وزارت د کم عمره استخدام او کاروونې د مخنیوي لپاره د افغان دولت له عمل پلان سره سم خپله د ماشومانو د ساتنې پالیسي او د ماشومانو د مرګ ژوبلې او جنسي تاوتریخوالي په اړه ضمیمې خپرې کړې. یوناما د دغې پالیسي د طرحې پر مهال د کورنیو چارو د وزارت لپاره تخنیکي لارښوونې او ملاتړ برابر کړ. نوموړې پالیسي د بچه بازۍ په ګډون له ګمارنې او کاروونې او جنسي تاوتریخوالي څخه د ماشومانو د ژغورنې په اړه احکام رانغاړي.

یوناما د لوګر ولایت په ښوونځیو کې د هلکانو د جنسي تېري د تورونو کوم چې د ۲۰۱۹ کال په وروستیو کې افشا شول، د چټکې، خپلواکې او بې پرې څېړنې لپاره خپلې د مدافعې هڅې جاري ساتلې. د مدافعې هڅو د لړۍ په پایله کې، لوي څارنوالۍ یوه کمېټه تاسیس کړه او هغې ته یې د دغو تورونو د څېړنې دنده وسپارله. یوناما د ماشومانو د دوستانه تګلارو په اړه له کمېټې سره خپل ملاتړ او تخنیکي سلا مشورې او لارښوونې

---

[60] په ۲۰۱۹ کال کې یوناما د ځمکنیو نښتو له امله د ماشومانو ۱۲۱۵ تلفات (۲۷۱ مړه او ۹۴۴ ټپیان) مستند کړي.

[61] په ۲۰۲۰ کال کې د ځمکنیو نښتو پر مهال د غیر مستقیمو ډزو د کاروونې له مله د ماشومانو ۹۱۴ تلفات (۲۲۳ مړه او ۶۹۱ ټپیان) مستند کړي.

[62] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله د ماشومانو ۵۷۵ تلفات (۱۴۷ مړه او ۴۲۸ ټپیان) مستند کړي.

[63] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله د ماشومانو ۴۰۳ تلفات (۱۱۳ مړه او ۲۹۰ ټپیان) مستند کړي.

[64] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د هوايي بریدونو له امله د ماشومانو ۳۴۱ تلفات (۲۱۱ مړه او ۱۳۰ ټپیان) مستند کړي.

[65] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه بیا د فبروري تر ۲۹ پورې، یوناما د نړیوالو نظامي ځواکونو هوايي بریدونو ته د ماشومانو ۳۹ تلفات (۳۲ مړه او ۷ ټپیان) منسوب کړي.

جاري ساتلي او د دې لپاره يې مدافعه کړې چې د نوموړې کمېټې ماموريت پراخ کړي څو نور ولايتونه هم تر پوښښ لاندې ونيسي. تر دې دمه، کمېټې ۲۱ شکمن کسان په ګوته کړي او له هغوي يې يو شمېر نيولي. ځينې محاکمه شوي مرتکبين د هغوي د جرمونو[66] لپاره د ۵-۲۲ کلونو د بند پر سزا محکوم شوي (هيڅ يو مرتکب له پوهنې يا د جګړې له ښکېلو خواوو سره تړاو نه درلود). په داسې حال کې چې د کوويډ-۱۹ وبا د ښوونځيو د تړلو او پر خوځښت د محدوديتونو د رامنځ ته کولو لامل شوې، د کمېټې چارې يې سوکه کړې او لوي څارنوالۍ خپلې څېړنې جاري ساتلې.

**په ګيلان ولسوالۍ کې دچاودنې له امله د ماشومانو تلفات، ۱۸دسمبر ۲۰۲۰**

د ۲۰۲۰ کال د دسمبر پر ۱۸ مه د ماسپخين شا و خوا ۱:۳۰ بجې د غزني ولايت، ګيلان ولسوالۍ ، د اغو جان په سيمه کې يوې ريکشا ته خيرمه چاودنه وشوه. په چاودنه کې يو ۱۸ کلن سړی او ۱۱ ماشومان (شپږ هلکان او پنځه نجونې) ووژل شول، چې عمرونه يې له پنځه کلنۍ نجلۍ څخه نيولې تر يوه ۱۶ کلن ماشوم پورې وو. يوناما د يوه لورونکي چې د رکشا چلوونکی و او ۱۱ ماشومانو (شپږ نجونې او پنځه هلکان) چې د ټولو عمرونه د شپږ او ۱۱ کلونو ترمېنځ وو، تېپونه ثبت کړي. د چاودنې څخه سمدلاسه وروسته، د پېښو په اړه دوه بيانونه خپاره شول. سيمه ايزو سرچېنو ويلي چې ريکشا د يوه هټۍ وال له خوا چې اوسېدونکو ته د توکو پلورلو او پېرودلو لپاره شاوخوا کلي ته سفر کول.

تر چاودنې سمدلاسه وروسته، د پېښو په اړه دوه بيانونه خپاره شول. سيمه ييزو سرچېنو په ډاګه کړه چې ريکشا د يوه هټۍ وال له خوا چلول کېده چې له خلکو د توکو د پېر او پلور په پار به يې شاوخوا کليو ته سفر کاوه. د راپورونو له مخې ماشومان هټۍ وال ته له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو سره راغلي وو چې غوښتل پر هغه يې د وسپنې د ټوټې په توګه وپلوري. د راپورونو له مخې هټۍ وال د چاودېدونکو توکو پير رد کړل چې له امله يې د هغه او ماشومانو ترمنځ بحث او په تعقيب يې چاودنه رامنځ ته شوه. د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو په ډاګه کړې چې د ماشومانو تلفات پخپله د رکشا[67] د چاودنې له امله رامنځ ته شوې او دا چې رکشا د طالبانو هغه چاودېدونکي توکي ليږدول چې غوښتل يې دوي په نښه کړي. د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموريت د ماشومانو "بې توپيره وژنه" وغندله.[68]

د خپل وياند له لارې، طالبانو ويلي چې پېښه د ناچاوده توکو له امله رامنځته شوې، او خپله خواشيني او دا اخطاريه يې په ډاګه کړې چې له داسې وسيلو څخه لرې پاتې شئ.[69]

دا پېښه په ډاګه کوي چې د شخړې خواوې ماشومان له زيان څخه ژغورلی شي، او هغوي بايد په افغانستان کې د جګړې له زيان څخه وژغوري که هغه له جګړو څخه پاتې شوني چاودېدونکي توکي، تعبيه شوي چاودېدونکي توکي يا بل کوم ډول پېښه وي.

د شخړې خواوې بايد په بېړني ډول د ماشومانو د تلفاتو د مخنيوي لپاره ګامونه پورته کړي. په دې ګامونو کې ماين پاکۍ له هڅو سره د همکارۍ پياوړي کول او د ناچاوده پاتې شونو او چاودېدونکو توکو لپاره د لومړيتوب پر ساحو توافق کول او دغه راز پر پراخه ساحې د اغيز ښيندونکو چاودېدونکو توکو لکه د غير مستقيمو وسلو ، او د دولت ضد عناصرو لپاره، په ګڼ ميشتو سيمو کې د تعبيه شويو چاودېدونکو توکو د کاروني منع شامل دي. د طالبانو او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ترمنځ د هيله بښونکې سولې خبرو اترو د يوې برخې په توګه، دا خورا مهمه ده چې دا او نورو اقداماتو ته چې د ماشومانو په ګډون د ملکي وګړو ساتنه يقيني کړي، لومړيتوب ورکړل شي.

## الف. د جګړې د ښکېلو لورو له خوا د ماشومانو ګمارنه او کارونه

د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې طالبانو، د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو، او دولت پلوه وسله والو ډلو د ماشومانو ګمارنه جاري ساتلې. دولت ضد عناصرو د دواړو جګړې او خدمت لپاره ماشومان ګمارلي او کارولي دي. پداسې حال کې چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د ماشومانو ګمارنې او کارونې په مخنيوي کې عمومي پرمختګ کړی، د افغان ملي پوليسو له خوا د خدمت او جنسي موخو لپاره د ماشومانو کارول، او تر يوې ليږ اندازې افغان ملي اردو- سيمه ييزه اردو او افغان سيمه ييزو پوليسو[70] ماشومان د جګړيزو خدمتونو لپاره کارول، لا اوس هم يوه جدي اندېښنه ګڼل کېږي.

---

[66] دغه معلومات د لوي څارنوالۍ له خوا وړاندې شوي. يوناما لا تر اوسه په خپلواک ډول د نيول شويو اشخاصو په دغو قضيو د سزاګانو تفصيلات نه دي تاييد کړي.
[67] راتلونکې انټرنيټ پاڼه وګورئ:.https://twitter.com/TariqArian3/status/1339881527392481280?s=20
[68] راتلونکې انټرنيټ پاڼه وګورئ:.https://twitter.com/NATOscr/status/1340288198921101315?s=20
[69] راتلونکې انټرنيټ پاڼه وګورئ: .https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1339961361368006658?s=20
[70] وروسته له هغې چې د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر په ۳۰ مه د افغان سيمه ييزو پوليسو تمويل پای ته ورسيد، افغان سيمه ييز پوليس په رسمي ډول لغو شو چې ډېری غړي يې د ملي اردو - سيمه ييزې اردو يا افغان ملي پوليسو ته د ليږلو لپاره په پام کې نيول شوي وو.

د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ د ۱ او دسمبر د ۳۱ ترمنځ، یوناما د ۱۹۶ هلکانو ګمارنه او کارونه تایید کړې، چې ډیری قضیې یې د هیواد په شمال او شمال ختیځو سیمو کې پېښې شوي یوناما طالبانو ته د ۱۷۲ هلکانو، اته یې د افغان محلي پولیسو او حکومت پلوه وسله والو ډلو سره په ګډه، اوه یې حکومت پلوه وسله والې ډلې ته، پنځه یې د افغان ملي پولیسو ته، او څلور یې د افغان ملي اردو - سیمه ییزې اردو ته د ماشومانو ګمارنه او کارونه منسوب کړې ده. . د یادونې وړ ده چې د ماشومانو ګمارنې او کارونې قضیې په افغانستان کې د اړوندو حساسیتونو او د ماشومانو د خوندیتوب اندیښنو په پام کې نیولو سره په پراخه کچه نه راپور کېږي. یوناما له مختلفو سرچینو څخه د جګړې د ښکېلو لورو له خوا د سلګونو ماشومانو د ګمارنې او کارونې نا تایید شوي تورونه ترلاسه کړي، خو د پورته یاد شویو ننګونو او ساتنې د اندیښنو له امله دغه اداره تر دې دمه نه ده توانیدلې چې زیاتره دغه قضیې تایید کړي.

د هغو ماشومانو اړتیاوو ته د رسیدګۍ نا کافي میکانیزمونه موجود دي، څوک چې پخوا له وسله والو ډلو سره تړلي وو. له کافي تعقیب پرته دغه ماشومان د ګمارنې او کارونې په وړاندې لا زیات زیانمنېدونکی بلل کېږي.

له ګمارنې او کارونې ماشومانو ته د سخت زیان یو مثال د ۲۰۲۰ کال په فبرورۍ کې په شمال ختیځه سیمه کې پېښ شو، کله چې د طالبانو له خوا ګمارل شویو دریو ماشومانو چې د کوژدې په مراسمو کې د یوه هدف په وړاندې د ځان وژونکي برید هڅه وکړه. خپل هدف ته پر لار، له ماشومانو یو هغه یې په په ناڅاپي ډول خپل چاودېدونکي توکي وچول، چې خپل ځان یې وواژه او دوه نور یې ټپیان کړل.

د کورنیو چارو وزارت له خوا د افغانستان د ملي پولیسو د جلب او جذب مرکزونو کې د ماشوم د ساتنې واحدونو له لارې د کم عمره ګمارنې او کارولو د مخنیوي په برخه کې د پام وړ پرمختګ شوی. د دغو میکانیزمونو له لارې، په ۲۰۲۰ کال کې ۱۸۷ د کم عمر غوښتونکي (ټول هلکان) د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د نوم لیکنې څخه منع شوي وو. یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو، افغان ملي پولیسو او عموم ډول د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د ماشومانو په جګړه ییزه او ملاتړ په نقشونو کې د ماشومانو د ګمارنې او کارونې په اړه ناتایید شوي راپورونه ترلاسه کوي، لکه دا چې هلکان د جنرالانو لپاره د ساتونکو او د وسایطو د چلوونکو په توګه کار کوي او په پوستو کې کار کوي. په ځینو مواردو کې، د ادعاوو له مخې ماشومان همدارنګه د بچه بازۍ په ګډون د جنسي تاوتریخوالي سره مخ شوي وو.

د پولیسو په پوستو کې د ماشومانو دوامداره کارونې او د هغو ماشومانو د ساتنې، بیا یوځای کېدو او ملاتړ لپاره چې پخوا یې له وسله والو ځواکونو یا ډلو سره تړاو درلود د اقداماتو د نشتون په اړه لا اوس هم ننګونې پر خپل ځای پاتې دي. سربېره پردې، داسې بریښي چې د کوویډ-۱۹ وبا د استخدام او کارونې په وړاندې د ماشومانو زیانمنتوب زیات کړی. مختلفو غیر دولتي ادارو، نړېوالو سازمانونو، یوناما ته د ناروغۍ له امله په عمومي ډول د بیکارۍ او غربت زیاتوالی تایید کړی، کوم چې ښایي د ماشومانو په استخدام او کارونې کې له زیاتوالي سره تړاو ولري؛ ډیرۍ کوچنیان د خپلو کورنیو د ملاتړ لپاره د کار موندلو لپاره اړ ایستل شوي، او په دې توګه هڅه کوي چې د جګړې له ښکېلو لورو سره یوځای شي. یوناما پر حکومت غږ کوي چې د ۲۰۱۱ عمل پلان له مخې خپلې ژمنې په بشپړ ډول پلي کړي ترڅو په افغان ملي امنیتي ځواکونو کې د ماشومانو استخدام او کارونې پای ته ورسوي. یوناما یادونه کوي چې د وسله والو ځواکونو یا ډلو سره د ماشومانو اړتیاوو ته رسیدګۍ لپاره د غبرګون ناکافي میکانیزمونه شتون لري، چې پخوا له وسله والو ځواکونو یا ډلو سره تړلي وو، له توقیف څخه خوشې شوي، او هغه کسان چې د ګمارنې پروسې په جریان کې د پولیسو او وسله والو ځواکونو له خوا د هغوی د کم عمر له امله په ګوته او بېل شوي. د کافي او مناسب تعقیب پرته، دا ماشومان د نورې ګمارنې او کارولو په وړاندې زیانمندونکي دي. د ماشومانو پروړاندې د جدي سرغړونو مرتکبینو لپاره د حساب ورکونې نشتون، په ځانګړي ډول په جنسي تاوتریخوالي پورې اړوند، هم د اندیښنې وړ دی.

د ماشومانو د حقونو د ساتنې قانون (د ماشومانو قانون) د ۲۰۱۹ کال د مارچ په میاشت کې د تقنیني فرمان له لارې نافذ شو، د پارلمان له لارې د تصویب هڅې (دغه کار باید د ولسمشر د فرمان د ۳۰ ورځو په دننه کې ترسره شوی وای- د افغانستان د قانون سره سم) د ماشوم د تعریف پر سر اختلاف له امله کوم چې په متن کې د یوه داسې شخص په څیر معرفي شوی چا چې د ۱۸ کلنۍ عمر نه وي پوره کړی، نه دي بریالي شوي. د ماشوم قانون د پلي کولو لپاره د ۲۰۱۴ د لارې نقشه یو له لومړیتوبونو څخه جوړ شوی، کوم چې د ۲۰۱۱ ملي کاري پلان بشپړ پلي کولو لپاره د اقدامات په اړه تفصیلات وړاندې کوي خو په افغان ملي امنیتي ځواکونو کې د ماشومانو استخدام او کارونه پای ته ورسوي. د ۲۰۱۸ جزا قانون سره سم، د ماشومانو په قانون کې د بچه بازۍ او د ماشومانو استخدام او کارولو د مخنیوي احکام هم شامل دي. یوناما په حکومت غږ کوي چې په پارلمان کې د ماشوم قانون تصویب کړي او د ماشوم ګمارنې او کارونې د مسوولو افسرانو د قوماندې او ګمارنې لپاره مؤثر څېرونکي او انضباطي میکانیزمونه تاسیس کړي.

د افغان دولت له خوا د پاریس د اصولو له تایید سره سره، ماشومان لا اوس هم له وسله والو ډلو سره د ادعا شوي یا واقعي تړاو لپاره توقیف کېږي. یوناما له افغان دولت څخه غوښتنه کوي چې د وسله والو ډلو له خوا ګمارل شوي ماشومان د قرباني په توګه په پام کې ونیسي؛ د امنیتي او تروریزم اړوند جرمونو تورن ماشومانو په قضیو کې د واک غیر مرکزي کولو قواعد په پام کې ونیسئ ترڅو دوی خپلو کورنیو سره نږدې پاتې شي او د دوی اصلي سیمو ته نږدې محاکمه شي؛ او د دغه ډول جرمونو په تړاو د ملي او نړیوالو قضایي معیارونو سره سم د توقیف شویو ماشومانو د حقونو بشپړ خوندیتوب ډاډمن کړي.

## ب. د ماشومانو پر وړاندې د جګړې اړوند جنسي تاوتریخوالی

د ماشومانو پروړاندې جنسي تاو تریخوالي، د هغې د جدي طبیعت سربېره، په ندرت سره په افغانستان کې راپور کېږي او په نا کافي ډول ورته رسیدګي کېږي. په ۲۰۲۰ کال کې، هلکان او نجونې د جګړې د ښکېلو خواوو له لوري د جنسي تېري او بچه بازۍ[71] په ګډون په زړه بګنونکو کړنو کې له جنسي تاوتریخوالي سره مخ شوي.

د ۲۰۲۰ کال د جنوري د ۱ او دسمبر د ۳۱ ترمنځ، یوناما د نهو هلکانو او ینځو نجونو په وړاندې د جنسي تېري او جنسي تاوتریخوالي ۱۰ قضیې تایید کړې: درې قضیې د افغان ملي پولیسو له خوا، دوه د طالبانو له خوا، یوه د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا، یوه د افغان ملي اردو له خوا، یوه د افغان ملي اردو - سیمه ییزې اردو له خوا، یوه د ملکي کسانو له خوا، او یوه د دولت پلوه وسله والې ډلې له خوا. د یادونې وړ ده چې د ۱۰ تایید شویو پېښو څخه اوه  هغه يې د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا ترسره شوي. دغه ارقام د هغو ستونزو چې قربانیان او شاهدان يې په راپور ورکولو او شاهدانو په راپورونو کې او هغو ننګونو په پام کې نیولو سره چې یوناما ورسره د دقو قضیو په تاییدولو کې د سختو حساسیتونو او د قربانیانو او شاهدانو د خوندیتوب د اندېښنو له امله مخ ده، د ستونزې موجوده اندازه نه منعکسوي. په دې قضیو کې، د "چوپتیا کلتور" او پیغور شتون لري په کومو کې چې شرم د مرتکبینو پر ځای قربانیانو ته منسوب کېږي. قربانیان د ګناه او تحقیر د احساس له امله نه شي کولی د هغه زیان په اړه راپور ورکړي چې دوي يې متحمل شوي؛ زیات شمېر يې له دې امله ګرم ګڼل کېږي چې جنسي تېری پرې شوی، او ډېری وخت د خپلو د ټولنو له خوا مسترد شوي- یا حتی ګواښل شوي - که چېرې دا تورونه روښانه شي.

د ماشومانو د استخدام او کارولو په څېر، یوناما د بچه بازۍ په ګډون د ماشومانو په وړاندې د جنسي تاوتریخوالي اضافي تورونه ترلاسه کوي. خو له دې سره سره یوناما د دې راپور تر خپرولو پورې د ساتنې د لاملونو له مخې د ډېری دغو تورونو د تاییدولو وړ نه وه. د جنسي تاوتریخوالي پورې د پراخو اندیښنو په څېر، په افغانستان کې د بچه بازۍ جرمې کېدو سره سره لا اوس هم پراخ معافیت په خپل ځای پاتې دی. د تورنو مرتکبینو څېړنې او عدلي تعقیب خورا کم ترسترګو کېږي او د دغو کړنو قربانیان له ټولنیز پیغور او د کورنۍ او/یا د ټولنې له تجرید سره مخ دي. لکه څنګه چې دا عمل د ۲۰۱۷ کال د جزا په تعدیل شوي قانون کې لا وار د مخه جرم ګڼل شوی، د دولت تمرکز باید د قانون پر پلي کولو، احتساب ته ودې ورکولو او د قرباني د ملاتړ پر خدمتونو متمرکز وي، د بچه بازۍ د قربانیانو لپاره د حقوقي او رواني ملاتړ په ګډون. د دغه هدف د ترلاسه کولو لپاره، د بچه بازۍ په اړه د یوه فاحش او جرمي کړنې په څېر نه د یوې کلتوري عمل هغه په توګه د عامه پوهاوي او درک لوړولو ته اړتیا ده. د دې ترلاسه کولو لپاره یوه لار د حساسې کمپاینونو او د افغان ملي امنیتي ځواکونو او همدارنګه څارنوالانو روزنه ده.

## ج. پر روغتیا د وسله والې نښتې اغېز

په افغانستان کې جګړه لا اوس هم اشخاص د ژوند ژغورنې طبي پاملرنې څخه بې برخې کوي، کوم چې د کووید-۱۹ وبا له امله پر روغتیا د اضافي فشار سره یوځای، لا وار د مخه تر فشار لاندې روغتیایي سیستم تر نور فشار لاندې راوستی.

د روغتیا نړیوال سازمان اټکل کړې چې په ۲۰۲۰ کې د جګړې د ښکېلو لورو له خوا د روغتیایي مرکزونو د تړل کېدو له امله تر ۳ ملیون پورې خلک له اړینو روغتیایي خدماتو څخه بې برخې پاتې شوي، زیاتره په خورا زیانمنېدونکو او د جګړې ځپل شویو سیمو کې. دا په افغانستان کې د کرونا ناروغۍ په شرایطو کې هم پېښ شوي چېرې چې د جګړه ځپلو سیمو اوسېدونکي خلک د ازمویني او د ژوند ژغورونکي درملنې د ترلاسه کولو لېږ امکانات لري. د روغتیايي کارمندانو د له لاسه ورکول او زیانمنې طبي زیربناوې به پر روغتیایي سیستم اوږد مهاله اغېز ېلري.

یوناما د ۲۰۲۰ کال د جنوری له لومړۍ د دسمبر تر ۳۱ مې نېټې پورې، ۹۰ داسې بریدونه تایید کړې چې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول يې اغیزمن کړي کوم چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۲۰ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي او د کووید-۱۹ وبا په زمینه کې د جدي اندېښنې وړ ګڼل کېږي.[72] په دې پېښو کې پر روغتیايي تاسیساتو او کارمندانو مستقیم بریدونه یا ګواښونه او هغه بې توپیر بریدونه شامل دي چې  روغتیايي مرکزونو او خوندي شویو پرسونلو ته د ناڅاپي زیان لامل شوي. ټولټال اته روغتیايي پرسونل وژل شوي، ۱۱ ټپیان شوي، او ۳۶ تښتول شوي. یوناما د ۹۰ پېښو له جملې ۷۳ هغه يې دولت ضد عناصرو، ۷۱ طالبانو، یوه د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې او یوه نامعلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي. یوناما نهه پېښې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي او پاتې اووه پېښې په ګډه حکومت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي. زیاتره دغه پیښې د هیواد په ختیځو (۲۲)، شمالي (۱۸)، او جنوب ختیځو (۱۴) سیمو کې رامنځ ته شو.[73]

---

[71] یوناما دغه راز د بچه بازۍ ټولې پیښې څاري، پرته له دې چې دا په پام کې ونیسي چې مرتکبین له وسله والې جګړې سره تړاو لري او که نه.

[72] په ۲۰۱۹ کال کې یوناما ۷۵ بریدونه چې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول يې اغیزمن کړي وو، تایید کړي.

[73] یوناما پر روغتیا د بریدونو ټولټال ۵۴ پیښې مستند کړي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د اووم څپرکی ب. ۲ د *دولت ضد عناصرو هغه بریدون چې په عمدي ډول ملکي وګړي په نښه کوي*، وګورئ.

په ۲۰۲۰ کې د جګړې د ښکېلو لورو له خوا د روغتيايي مرکزونو د تړل کېدو له امله، ډېر وختونه په جګړه ځپلو موقعيتونو کې په زياتو زيانمنېدونکو سيمو کې، تر ۳ ميليونو پورې خلک له اړينو روغتيايي خدمتونو څخه محروم شوي.

د طالبانو له خوا د کلينيکونو د اجباري تړلو، هدفي وژنو، تښتونو او د تعبيه شويو چاودېدونکو توکو د بريدونو په ګډون، پر روغتيا دوامداره ترسره شوي بريدونه چې په مستقيم ډول يې روغتيايي مرکزونه او خونديي شوي پرسونل په نښه کړي د زياتې اندېښنې وړ دي. يوناما ۴۲ دا ډول پېښې مستندې کړي چې لوړ شمېر يې په ختيځو (۱۲) او جنوب ختيځو (۱۰) سيمو کې رامنځته شوې. د مثال په توګه د جنوري پر ۲۱ نېټه په دايکندي ولايت کې، طالبانو د مېرمنو لپاره ځانګړي روغتيايي مرکز ته اور واچاوه او روغتيايي مرکز ته يې پر غځېدلې لار ماينونه ښخ کړل، ترڅو ښځې هغو خدمتونو ته له لاس رسي منع کړي چې د غير مسلمو له خوا تمويل شوي. د اپريل پر ۲۱ نېټه په ننګرهار ولايت کې، يوه درملتون له ګواښ وروسته بريد به پرې وشي که چېرې د پيسو په ورکولو موافقه ونه کړي، طالبانو په درملتون کې ريموټي بم ځای پر ځای کړ. د دغه بم چاودنې د يوه ماشوم او ډاکټر په ګډون اته ملکي وګړي ټپيان کړل. د دغې چاودنې په پايله کې، درملتون د زرګونو ډالرو په ارزښت درمل له لاسه ورکړل. د مۍ پر ۲۰ نېټه، طالبانو د خوست ولايت د عامې روغتيا د رياست د مرستيال پر موټر د ريموټ کنټرول ماين بريد وکړ، کوم چې د خوست ولايت اداري مرکز ته څېرمه وچاودېد. په چاودنه کې درې ملکي وګړي، د عامې روغتيا مرستيال او د هغه دوه ساتونکي ژوبل شول. په ورته ځای کې د طالبانو له خوا دويم ريموټي بم د افغان ملي پوليسو د دريو لومړيو مرسته کوونکو او يوه لاروي په ګډون د څلور ملکي وګړو د ټپي کېدو لامل شوی. له يوناما سره په خبرو کې، طالبانو ويلي چې د عامې روغتيا د ولايتي مرستيال په ګډون، ټول قربانيان، د اداري د غړو په توګه، مشروع هدفونه وو.[74]

له ۲۰۱۹ راهيسې تر دې کال پورې يو اندېښمنوونکی بهير په کوم کې چې طالبانو يو شمېر روغتيايي مرکزونه ګواښلي او طبي پرسونل يې تښتولي ترڅو دوی د مختلفو اقداماتو ترسره کولو کولو ته اړ کړي لکه له دوی سره همکاري، خپلو جنګياليو لپاره د روغتيايي پاملرنې جذبول، د درملو او تاسيساتو سپارل، د ځانګړې مالي ورکول، يا بل ځای کې د دوی د خدمتونو ليږدول. د فبرورۍ په ۹ نېټه د پکتيا په ولايت کې يوه غير حکومتي موسسه د طالبانو د بريد د ګواښ له امله په پنځو ولسواليو کې د خپلو ۳۳ کلينيکونو تړلو ته اړ شوه. دا ګواښ وروسته له هغه رامنځ ته شو کله چې غير دولتي سازمان د طالبانو دا غوښتنې رد کړې چې هغوی ته امبولانسونه، اکمالات او د کلينيک د کارمندانو په توګه د هغوی غړي وګماري.

طالبانو د کال په اوږدو کې د روغتيايي مرکزونو ګواښونو ته دوام ورکړی. د مثال په توګه، د اکتوبر په ۱۱ د بدخشان په ولايت کې، طالبانو په شپږو ولسواليو[75] کې ۱۷ روغتيايي مرکزونه وروسته له هغې په زور وتړل کله چې د ولايتي روغتيا رياست د طالبانو دا غوښتنه رد کړه چې مرکزونه په جراحانو او عمليات خونو سمبال کړي، او هغه طالب جنګياليو ته د خونديتوب تضمين ورکړي چې ممکن په مرکزونو کې درملنې د ترلاسه کولو په لټه کې شي.

يوناما يو شمېر نورې پېښې هم ثبت کړي چې د طالبانو، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې او نا معلومو دولت ضد عناصرو په ګډون، د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي، او په ګډه يې ۶۳ روغتيايي مرکزونو ته په تصادفي ډول زيان [76] او د طبي پرسونل پنځه تنه ته تلفات (يو مړ، څلور ټپيان) اړولی.

دولت پلوه ځواکونه د هغو نهو پېښو مسوول دي چې روغتيايي کارمندان او مرکزونه يې اغېزمن کړي، نهه پېښې منسوب شوی، چې د روغتيا پاملرنې پرسونل او تاسيساتو اغېزمند کړي ، چې درې يې مستقيم بريدونه يا ګواښونه وو چې په قصدي توګه روغتيايي پرسونل په نښه کړي، چې د دولت پلوه وسله والو ډلو (۲) او د افغانستان ملي سرحدي ځواک (۱) له خوا ترسره شوي. د اپريل په ۲۶ د ننګرهار په ولايت کې، ملي پوليسو وروسته له هغې هوايي ډزې وکړې او په روغتون کې يې ډاکټرانو وګواښل کله چې يې د هغوی د وژل شوي ملګري د جسد له منځلو څخه انکار وکړ. د جولای په ۱۰ مه د بدخشان په ولايت کې، يوې ځايي دولت پلوه وسله والې ډلې د يوه درملتون فارميسست وواهه او بيا په ډزو وويشت او هڅه يې وکړه چې د هغه له درملتون څخه درمل يوسي. د نومبر په ۱۵ مه نېټه د خوست په ولايت کې، د نامعلومو دلايلو له امله، يوې ځايي دولت پلوه وسله والې ډلې له يوه کلينيک څخه د غاښونو ډاکټر ايستلی او هغه يې وژلی.

شپږ نورې هغه پېښې چې د روغتيايي خدمتونو وړاندې کول يې اغېزمن کړي او يوناما دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړې، پنځه پېښو ته ناځايي زيان رسيدلی او په پايله کې يې دوه روغتيايي پرسونل تلف شوي (يو يې وژل شوی، يو ټپي شوی).

د بشرپالنې د نړيوال قانون له مخې، ناروغان او ټپيان بايد د دوی وضعيت ته په کتو اړينه طبي پاملرنه ترلاسه کړي، او د شخړې خواوې مکلفيت لري چې د ناوړه چلند په وړاندې د دوی د ساتنې لپاره ټول احتمالي اقدامات ترسره کړي. سربېره پردې، طبي پرسونل او تاسيسات (د

---

[74] د جولای ۲۱ مه، هغه ليک چې د طالبانو د خوا د يوناما بشرې څانګې ته استول شوی وو او په دوسيه کې ثبت دی.
[75] د بدخشان ولايت جرم، وردوج، تګاب، يمګان،ارغنچخواه، درايم ولسوالۍ.
[76] په هغو اسانتياوو کې چې زيانمن شوي، په يوه قضيه کې امبولانس هم شامل دی.

وسایطو لکه امبولانسونو په ګډون) چې په ځانګړي ډول د ناروغانو او ټپیانو په درملنه کې دخیل دي، له بریدونو څخه خوندي دي. د بشري حقونو د نړیوال قانون په پام کې نیولو سره، په افغانستان کې خلک هم د فزیکي او رواني روغتیا تر ټولو لوړ د لاسرسي وړ معیار حق لري، کوم چې په وسله والې جګړې کې هم د تطبیق وړ دي.

یوناما پر روغتیایي خدمتونو، مرکزونو او کارمندانو بریدونه په ځانګړي ډول د نړیوالې وبا په زمینه کې کومه چې د ملکي وګړو او جګړه ییزو ترمنځ توپیر نه کوي، او ټول افغانان په یوه ډول له خطر سره مخ کوي، غندي.

د کوویډ-۱۹ وبا له پیل راهیسې، یوناما په مکرر ډول د روغتیایي تاسیساتو او کارکړانو ساتنې حیاتي ارزښت په ډاګه کړی.[77] افغانستان لا وار د مخه خپلو وګړو ته د مناسبو روغتیایي خدمتونو په چمتو کولو کې له پام وړ خنډونو سره مخ دی، او نوموړې وبا یوازې دا ننګونې لا ډیرې کړې دي. یوناما پر روغتیایي خدماتو، تاسیساتو او پرسونلو دا ډول بریدونه په ځانګړي ډول د نړیوالې وبا په حالت کې چې د جنګي ډلو ترمنځ توپیر نه کوي بلکې ټول افغانان له خطر سره مخ کوي، په کلکه غندي.

یوناما د جګړې ښکېلو خواوو ته یو ځل بیا خپلې پخوانۍ سپارښتنې تکراروي، چې روغتیایي تاسیساتو او پرسونلو عمدي بریدونه سملاسي ودروي، په ګڼ میشتو سیمو کې د غیر مستقیمو وسلو کارول پای ته ورسوي، په ځانګړي توګه د روغتیایي مرکزونو شاوخوا سیمو کې، او د روغتیایي خدمتونو په وړاندې کولو کې د مستقیمې یا غیر مستقیمې مداخلې ټولې پېښې وڅېړي.

## د. پر پوهنې د وسله والې جګړې اغېز

ماشومان پرته له دې چې د دوي شرایط په پام کې ونیول شي د زده کړې نړیوال حق لري.[78] د افغانستان په څیر د جګړو په زونونو کې د ښوونکو، ښوونځیو او زده کونکو پروړاندې مستقیم بریدونه او ګواښونه، او همدارنګه بې توپیري بریدونه چې دوي ته د ناخاپي زیان لامل کېږي، دا ټول زده کړې ته د ماشومانو لاسرسي له خنډ سره مخ کوي. یوناما د هیواد په کچه پر پوهنې د وسله والې شخړې د جدي اغیزو په اړه سخته اندیښنه لري، په ځانګړي توګه د نجونو لپاره چې کله له تاوتریخوالې او ناامنۍ سره مخ وي، نو شاید له ښوونځي څخه لرې وساتل شي. دا حیاتي اهمیت لري چې په افغانستان کې ښوونځي د ماشومانو لپاره د زده کړې خوندي ځایونو په توګه وساتل شي. د کوویډ-۱۹ وبا په ټول هیواد کې د ښوونځیو د موقت تړل کېدو لامل شوي، چې په ۲۰۲۰ کې یې ماشومانو لپاره پوهنې لاسرسي لا زیات کمزوری کړی.

د ۲۰۲۰ کال د جنورې له ۱ څخه د دسمبر تر ۳۱ مې پورې، یوناما ۶۲ داسې پېښې تایید کړې چې پوهنې ته یې د ماشومانو لاسرسی اغېزمن کړی. په دې پېښو کې هغه بریدونه چې ښوونځي او مدرسې په نښه کوي یا یې په ناڅاپي ډول زیانمن کوي، د پوهنې د پرسونلو او زده کوونکو وژنه، ژوبله او تښتونه او د تعلیمي مرکزونو او کارمندانو په ضد ګواښونه شامل دي. د کال په اوږدو کې په داسې پېښو کې چې پوهنه یې اغېزمنه کړې، ټولټال د پوهنې دری کارمندان وژل شوي او پنځه نور ټپیان شوي، همدارنګه ۳۰ زده کونکي وژل شوي او ۵۳ نور یې ټپیان کړې. په دې موده کې د پوهنې پنځه کارمندان تښتول شوي. دا پېښې په ختیځو (۱۶)، شمال ختیځو (۱۴)، او شمالي سیمو کې ترټولو معمول وې. روان کې د ۲۰۱۹ کال په پرتله د پېښو په شمېر کې ۱۱ سلنه کموالی په ډاګه کوي.[79]

د دولت ضد عناصرو له خوا پر تعلیمي مرکزونو او کارمندانو د مستقیمو بریدونو دوام د ځانګړې اندېښنې وړ دي، کوم چې په ۲۰۲۰ کال کې ۲۲ پېښې جوړوي. د کال په اوږدو کې طالبانو د سوځونې، د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د بریدونو، ګواښونو، تښتونو، او د پرسونلو د هدفي وژنو په ګډون پر پوهنې ۱۷ مستقیم بریدونه ترسره کړي. د مثال په توګه، د جولای پر ۱۵ نېټه په تخار ولایت کې، طالبانو یوه ښوونځي ته اور ورته کړ، چې کتابتون او لابراتور په ګډون ټوله ودانۍ یې ویجاړه کړه. دغې عالي لیسې مخکې د ۱۰۰۰ هلکانو او نجونو لپاره د زده کړو فرصتونه برابرول. د اکتوبر په ۲۴ په بلخ ولایت کې، طالبانو د یوه ښوونځي ښوونکی چې د ماښام له لمانځه څخه کور ته پر لار و، په ډزو ووژه، د پوهنې له ریاست سره د دندې او د طالبانو په ضد د څرګندونو له امله. د جنورې له ۱ څخه د دسمبر تر ۳۱ مې پورې، طالبانو همدارنګه د افغان ملي امنیتي ځواکونو په وړاندې ۳۱ بریدونه ترسره کړي چې په پایله کې یې ۱۲ ښوونځي تړل شوي یا له ناڅاپي زیان سره مخ شوي او د ۱۸ زده کونکو د مرګ ژوبلې لامل شوي (یو مړ او ۱۷ ټپیان).

د کال په اوږدو کې د دولت ضد نورو عناصرو هم بریدونه ترسره کړي چې پر پوهنې ناوړه اغیزې شوي. د عراق او شام د اسلامي دولت خراسان ولایت ډله د دوه داسې بریدونو مسووله وه چې پوهنه یې اغېزمنه کړې؛ د اګست پر ۲۸ نېټه په ننګرهار ولایت کې، د عراق او شام د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې یو ریموټي ماین خښ او چاودنه ورکړه چې له ښوونځي څخه کور ته پر لار هغه ښوونکی په نښه کړ چا چې د نوموړې

---

[77] پر روغتیا د یوناما ځانګړی راپور (جون ۲۰۲۰)، د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې شپږ میاشتنی راپور (جولای ۲۰۲۰)، د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د دربیمې ربع وروستي معلومات (اکتوبر ۲۰۲۰)

[78] د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو د نړیوال کنوانسیون ۱۳ ماده، د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون ۲۸ ماده او د هغه ۱ شمېره عمومي تبصره (۲۰۰۱) CRC/GC/2001/1 وګورئ.

[79] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما ۷۰ داسې پېښې تایید کړې چې پوهنې ته یې د ماشومانو پر لاس رسي اغیز کړی.

ډلې په خلاف څرګندونې کولې. دواړه ښوونکی او زده کونکی ټپیان شوي دي. د ۲۰۲۰ کال په مارچ کې په کابل ښار کې د عراق او شام د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د ولسمشر غني د لوړې پر مراسمو راکیټونه ګذار کړل، چې یوه هغه یې دولتي ښوونځي زیانمن کړ. د حکومت ضد نورو نا معلومو عناصرو په ۲۰۲۰ کې د درې ځله ډزو، سوځونې او د یوه ځانمرګي برید په ګډون د پوهنې په وړاندې پنځه بریدونه ترسره کړي. دغو پېښو اته زده کونکي، دری د پوهنې کارمندان ټپیان کړي او اته ښوونځي یې زیانمن کړي.

یوناما په ۲۰۲۰ کال کې ۲۰ پېښې چې پوهنه یې اغېزمنه کړې، د دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړې، له دې ټولو په دوه هغو کې جګړو ته د نږدې موقعیت له امله ښوونځیو یا کارمندانو او زده کوونکو ضمني زیان شامل دی. د مثال په ډول د جون په ۲۷ د کابل په ولایت کې په یوه پېښه کې، افغان ملي اردو پر یوې مدرسه په داخل کې د طالبانو د شتون په شک چاپه واچوله. په داسې حال کې چې دا مهال هغه خالي وه، افغان ملي اردو د مدرسې ډیری درسي خونې زیانمنې کړې، چې شاوخوا ۳۰۰ هلکانو او نجونو ته د زدکړې زمینه برابروله. دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوې ۱۸ نورو پیښو ۱۷ زده کوونکو او یو کارمند ته مړینې، ۱۸ زده کونکو او یو کارمند ژوبله او ۱۸ مختلفو ښوونځیو ته زیان اړولی. د مثال په توګه، په تخار ولایت کې د اکتوبر په ۲۱، افغان ملي اردو د طالبانو په وړاندې هوایي برید وکړ، خو خپل ټاکل شوی هدف یې خطا کړ او په یوه ځایي مدرسه چې له زده کونکو څخه ډکه وه، ولګید. په دغه برید کې د ملا په ګډون نهه ماشومان او ۱۶ نور ټپیان شوي و، او مدرسه سخت زیانمنه شوه.[80]

پاتې درې پېښې چې په ۲۰۲۰ کال کې یې پوهنه اغیزمنه کړې د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ نښتو ته منسوب شوي چېرې چې د پېښې مشخص لوري نه شي پیژندل کېدای چې په ټولو تعلیمي مرکزونو او زده کوونکو ته تصادفي زیان شامل دی. سربېره پردې، د شخړې اړخونو د نظامي اهدافو لپاره د تعلیمي تاسیساتو کارولو ته دوام ورکړی، چې دغه کار ښوونځي او مدرسې د بریدونو او زیانونو د لوړ خطر سره مخ کوي لکه هغه چې پورته یې یادونه وشوه.

د یونیسف له معلوماتو سره سم، د ۲۰۲۰ کال د جنوري ۱ څخه تر ۳۱ دسمبر پورې، ټولټال ۲۵۸ ښوونځي د اغیزمن شویو هغو په څیر ثبت او تړل شوي، چې د ۱۲۲۶۷۹ ماشومانو (۸۳۹۸۴ هلکان او ۳۸۶۹۵ نجونې) تعلیم ته د لاسرسی مخه نیسي. د زیانمن شویو ۲۵۸ ښوونځیو له جملې، ۱۴۴ (٪۵۶) په جنوبي سیمه کې،۸۰ ښوونځي (٪۳۱) په شمالي سیمه کې، او پاتې ۳۴ ښوونځي (٪۱۳) په مرکزي او ختیځو سیمو کې موقعیت لري. د ښوونځي تړل کېدل په عمده ډول پوهنې ته د طالبانو ګواښونو یا عمومي نا امنۍ ته او دغه راز د نظامي موخو لپاره د ښوونځیو کارولو ته منسوب شوي، په ځانګړې توګه په جنوبي او شمالي سیمو کې چېرې چې ترټولو زیات شمېر ښوونځي اغیزمن شوي. د دسمبر په میاشت کې، یونیسف له طالبانو سره په هلمند، کندهار، ارزګان او فاریاب ولایتونو کې د کلیوالي سیمو او د شخړو ځایونو ته د ټولنې پر اساس تعلیم پراخولو لپاره تنظیم کړ. دا به شاوخوا ۴۰۰۰ ټولګیو ته د ټولنې پر بنسټ ماډل زده کړې چې هغه به د ۱۰۰۰۰۰ - ۱۴۰۰۰۰ ماشومانو د زده کړو زمینه برابره کړي.

نړیوال بشردوستانه قانون د وسله والې شخړې په حالاتو کې زده کړو ته لاسرسی خوندي کوي، او پر ښوونځیو بریدونه[81] د ماشومانو په وړاندې د شپږو جدي سرغړونو څخه یوه هغه جوړوي. یوناما د شخړې له ټولو ښکېلو غاړو څخه غوښتنه کوي چې زده کونکي، ښوونکي او ښوونځۍ د ملکي وګړو او شیانو په توګه وساتي، او د نظامي اهدافو لپاره د تعلیمي تاسیساتو له کارولو څخه ډډه وکړي. یوناما د افغانستان حکومت ته د بشر د حقونو د نړیوال قانون سره سم د خپلو مکلفیتونو یادونه کوي ترڅو د ماشومانو د زده کړو حق تضمین کړي او افغان ملي امنیتي ځواکونه د خوندي ښوونځیو اعلامیه باندې عمل کولو ته هڅوي.

[80] د دغې پېښې په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره د هوایي بریدونو برخه وګورئ.

[81] په سختو سرغړونو کې پر دواړو ښوونځیو او روغتونونو بریدونه شامل دي.

## خلورم. دولت ضد عناصر

***"زه د بامیان په مرکز کې د یوي ښوونځی [...] زده کوونکی یم. [...] شا و خوا ۱۶:۴۰ بجې وي، زه د بامیان په بازار کې د خپل کور په لور پلی روان وم. هر څه عادي و. ناڅاپي مې ۲۵ متره لرې د اور یوه غټه لمبه ولیده. [...] بیا مې د یوه موټر چاودنه ولیده. [...] ما زیات شمېر ملکي وګړي ولېدل چې پر ځمکه پراته وو او وینه ور څخه بهیده. زه بې هوښه شوم او په ځان پوهه نه شوم چې تر هغې وروسته په ما څه وشول. شا و خوا ۱۹:۰۰ بجې زه په روغتون کې ببرته په هوښ راغلم. [...] زما لاس او او پښې ټپي شوي. زه لا تر اوسه په بشپړ ډول نه یم رغېدلی . کله چې د هغې صحنې په اړه فکر کوم لا اوس هم په رواني ډول مغشوش او بې هوښه کېږم. ما زیاتره د شپې خپسکه نیسي او نه شم ویده کېدلای . زه یوه زده کوونکی یم، او اوس نه شم کولای خپلو زده کړو ته دوام ورکړم. [...] زه له یوې بې وزلې کورنۍ څخه یم او زما کورنۍ له بامیان څخه بهر زما د پرمختللې درملنې ورتیا نه لري. ډاکټرانو راته ویلي ترڅو چې په بشپړ ډول ښه شم، اوږد وخت نیسي. زه نه پوهېږم چې دا کار به څو میاشتې وخت ونیسي."***


-- ښځینه زده کوونکې او د نومبر پر ۲۴ د بامیان ولایت، بامیان په ښار کې د دولت ضد عناصرو د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د برید کوم چې ۱۸ ملکي وګړي ووژل او ۶۰ نور یې ټپي کړل، یوه قرباني.

له قرباني سره د یوناما ټیلفوني مرکه، ۲۲ دسمبر ۲۰۲۰

### الف. عمومي کتنه

په ۲۰۲۰ کال کې دولت ضد عناصر د زیاترو ملکي تلفاتو مسوول وو چې ۶۲ سلنه یې دغو ډلو ته منسوب شوي. د ۲۰۲۰ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د دولت ضد عناصرو ته ۵۴۵۹ ملکي تلفات (۱۸۸۵ مړه او ۳۵۷۴ ټپیان) منسوب کړي. دا د ۲۰۱۹ کال په پرتله دولت ضد عناصرو ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې په عمومي ډول ۱۵ سلنه کموالی په ډاګه کوي، د ملکیانو په ژوبله کې ۲۵ سلنه کموالی د وژل شویو ملکي وګړو په شمېر کې د ۱۳ سلنې زیاتوالی له خوا ببرته پوره کېږي.[82] د دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو هغو پېښو په شمېر کې چې د ملکي زیان لامل شوي، یو څه زیاتوالی رامنځ ته شوی.[83] ملکي وګړو ته تر ټولو زیات زیان په ښارونو او عامه سړکونو کې د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د بې توپیره کارونې او د ملکي وګړو د عمدي نښه کولو په ګډون د هدفي وژنو له امله رامنځته شوی.

په ۲۰۲۰ کال کې د دولت ضد عناصرو له خوا په ملکي مرګ ژوبله کې کموالي په عمده ډول د ۲۰۱۹ کال په پرتله د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي د ملکي تلفاتو د نشتون او د ځانمرګو بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې د زیات کموالي په پایله کې رامنځ ته شوی، چې د هدفي وژنو، د قرباني په وسیله فعالېدونکي فشاري ماینونو او غیر انتحاري موټر بمونو له امله د زیات شویو ملکي تلفاتو له خوا ببرته لوړ شوی.





[82] د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما ۶۴۴۸ ملکي تلفات (۱۶۶۹ مړه او ۴۷۷۹ ټپیان) دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

[83] په ۲۰۱۹ کال د ۱۴۳۹ دا ډولو پېښو په پرتله، په ۲۰۲۰ کال کې یوناما ۱۵۳۸ داسې پېښې مستند کړي په کومو کې چې دولت ضد عناصرو ملکي تلفات اړولي.

| په ۲۰۲۰ کال کې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ملکي تلفات | | |
|---|---|---|
| د دولت ضد عناصرو ډله | په ۲۰۲۰ کال کې ملکي تلفات | د ۲۰۱۹ کال په پرتله تغیر شوې سلنه |
| طالبان | ۳۹۶۰ ملکي تلفات (۱۴۷۰ مړه او ۲۴۹۰ ټپیان) | -۱۹ سلنه |
| د هغو پېښو په پایله کې رامنځ ته شوي ملکي تلفات چې مسوولیت یې طالبانو پر غاړه اخیستی | ۲۶۰ ملکي تلفات (۴۴ مړه او ۲۱۶ ټپیان) | -۸۵ سلنه |
| طالبانو ته منسوب د هغو پېښو په پایله کې رامنځ ته شوي ملکي تلفات چې مسوولیت یې نه دی اخیستل شوی | ۳۷۰۰ ملکي تلفات (۱۴۲۶ مړه او ۲۲۷۴ ټپیان) | + ۱۶ سلنه |
| د عراق او شام اسلامي دولت – خراسان ولایت | ۶۷۳ ملکي تلفات (۲۱۳ مړه او ۴۶۰ ټپیان) | -۴۵ سلنه |
| د هغو پېښو په پایله کې رامنځ ته شوي ملکي تلفات چې مسوولیت یې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې پر غاړه اخیستی | ۵۸۲ ملکي تلفات (۱۸۴ مړه او ۳۹۸ ټپیان) | -۲۶ سلنه |
| د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب د هغو پېښو په پایله کې رامنځ ته شوي ملکي تلفات چې مسوولیت یې نه دی اخیستل شوی | ۹۱ ملکي تلفات (۲۹ مړه او ۶۲ ټپیان) | -۷۹ سلنه |
| دولت ضد عناصرو منسوب شوي ملکي تلفات چېرې چې د کوم مشخص لوري له خوا مسوولیت نه وي اخیستل شوی او یوې مشخصې ډلې منسوبول نه شي معلومېدای. | ۸۲۶ ملکي تلفات (۲۰۲ مړه او ۶۲۴ ټپیان) | +۱۵۸ سلنه |

طالبانو په ۲۰۲۰ م کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۴۵ سلنه رامنځته کړې، همدارنګه د ۸ سلنې مسوولیت د عراق او شام داسلامي دولت – خراسان ولایت ډله په غاړه لري. یوناما ونشو کولای د دولت عناصرو له خوا پاتې ۹ سلنه اړول شوي ملکي تلفات طالبانو یا دعراق او شام د اسلامي دولت –خراسان ولایت ته منسوب کړي. د ۲۰۱۹ کال په پرتله په ۲۰۲۰ کال کې نا معلومو دولت عناصرو ته منسوب شوي ملکي تلفات دوه برابره زیات شوي.[84] دا جریان د هغو پېښو په شمېر کې له کموالي سره تړاو لري د کومو مسوولیت چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله په ۲۰۲۰ کال کې طالبانو یا د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې پر غاړه اخیستی.




[84] په ۲۰۲۰ کال کې یوناما دغه څلور پېښې چې څلور ملکي تلفات (درې مړه او یو ټپي) یې اړولي، تحریک طالبان پاکستان ته منسوب کړې.

هدفي وژنې، چې زیاتره د "ترور" په نامه هم پېژندل کېږي، په ۲۰۲۰ کال کې په ملکي تلفاتو کې له چټک زیاتوالي سره د زیاتېدونکې اندېښنې لامل شوي، او د پېښو د نوعیت له دې ډول څخه نږدې دوه پر دریمه برخه تلفات طالبانو ته منسوب شوي.[85] په زیاتره دغو په نښه شویو ملکیانو کې د رسنیو کارمندان، د بشري حقونو مدافعین او هغه وګړي شامل دي چې د دولت "جاسوسان" ګڼل کیدل. یوناما دغه راز د دې یادونه کوي چې په ۲۰۲۰ کال کې د ډېرى هدفي وژنو لپاره، هغې و نه کړای شول چې د جګړې یوې مشخصې ښکېلې خوا ته منسوبونه معلومه کړي. دا همدارنګه زیاتوي چې له دې امله چې یوناما زیاتره دغه پېښې د جګړې کوم لوري ته منسوب نه شوې کړای او دا چې دې له جګړې سره کوم تړاو رامنځ نه کړای شو، د دې احتمال شته چې دغه کار د دغه ډول هدفي وژنو د کمې راپور ورکونې لامل شوي وي.

یوناما همدارنګه له اندېښنې سره په اکتوبر، نومبر او دسمبر میاشتو کې، د سپتمبر پر ۱۲مه د افغانستان د سولې مذاکراتو له پیل څخه درې میاشتې وروسته، د دولت ضد عناصرو په ځانګړې ډول د طالبانو له خوا د ملکي وګړو د تلفاتو په شمېر کې زیاتوالى ملاحظه کړی.[86]

### ۱. طالبان


په ۲۰۲۰ کال کې، طالبانو د جګړې د ښکېلې هر بلې خوا په پرتله تر ټولو زیات ملکي تلفات اړولي. د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما طالبانو ته ۳۹۶۰ ملکي تلفات (۱۴۷۰ مړه او ۲۴۹۰ ټپیان) منسوب کړي. دا د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۱۹ سلنه کموالى وړاندې کوي. که څه هم کموالى یوازې د ملکیانو په مرګ ژوبله کې دی، څرنګه چې یوناما د ملکیانو په مړینه کې د اندېښنې وړ ۱۳ سلنه زیاتوالى مستند کړی.[87] سربېره پر دې، یوناما د هغو پېښو په شمېر کې ۱۴ سلنه زیاتوالى مستند کړی په کومو کې چې طالبانو ملکي تلفات اړولي.[88]

انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو طالبانو ته منسوب له نیمه یې زیات ملکي تلفات اړولي، چې غیر انتحاري یې د انتحاري په پرتله د پنځه برابر زیاتو ملکي تلفاتو لامل شوي.[89] یوناما د قرباني په وسیله د فشاري ماینونو او غیر انتحاري موټر بمونو له امله زیات ملکي تلفات مستند کړي کوم چې په ښارونو کې د طالبانو د ځانمرګو بریدونو له امله ملکیانو ته له رامنځ ته شوي کموالي سره په ټکر کې دی.[90]

د هاوانونو او راکټونو د کارولو په ګډون، ځمکنۍ نښتې د طالبانو له خوا د اړول شویو ملکي تلفاتو نږدې څلورمې برخې مسوول وي. یوناما د

**طالبانو ته منسوب شوي ملکي تلفات**

د جنوري ۱ څخه تر ۳۱ دسمبر ۲۰۲۰-۲۰۱۶ پورې




[85] په ۲۰۱۹ کې د ۷۴۷ ملکي تلفاتو (۴۴۸ مړه او ۲۹۹ ټپیان) په پرتله په ۲۰۲۰ کال کې یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د هدفي وژنو له امله په ملکي تلفاتو کې ۵۷ سلنه زیاتوالى مستند کړی چې ۱۱۷۰ ملکي تلفات (۶۴۶ مړه او ۵۲۴ ټپیان) اړولي. د دغو تلفاتو له جملې ۷۶۱ ملکي تلفات (۴۵۹ مړه او ۳۰۲ ټپیان) له هدفي وژنو له امله رامنځ ته شوي چې طالبانو ته منسوب شوي، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۲۲ زیاتوالى وړاندې کوي چېرې طالبانو ته منسوب هدفي وژنې د ۶۲۶ ملکي تلفاتو (۳۸۸ مړه او ۲۳۸ ټپیان) لامل شوي.

[86] د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر له ۱ د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما دولت ضد عناصرو ته ۱۹۶۲ ملکي تلفات (۵۹۰ مړه او ۱۳۷۲ ټپیان) منسوب کړي چې د ۲۰۱۹ کال په ورته موده کې د ۱۲۵۸ ملکي تلفاتو (۴۲۳ مړه او ۸۳۵ ټپیان) په پرتله ۴۵ سلنه زیاتوالى په ډاګه کوي. د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر له ۱ د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما طالبانو ته ۱۲۸۶ ملکي تلفات منسوب کړي چې د ۲۰۱۹ کال په ورته موده کې د ۱۰۰۴ ملکي تلفاتو (۳۴۱ مړه او ۶۶۳ ټپیان) په پرتله ۲۸ سلنه زیاتوالى وړاندې کوي.

[87] په ۲۰۱۹ کال کې یوناما طالبانو ته ۴۹۰۵ ملکي تلفات (۱۳۰۲ مړه او ۳۶۰۳ ټپیان) منسوب کړي.

[88] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د طالبانو په ۲۰۱۹ کال کې د ۱۲۲۲ په پرتله ۱۳۹۶ داسې پېښې مستند کړي چې ۱۳۹۶ ملکي تلفات یې رامنځ ته کړي.

[89] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله ۱۷۳۰ ملکي تلفات او د انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله ۳۲۱ ملکي تلفات (۳۳ مړه او ۲۸۸ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي.

[90] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د فشاري ماینونو له امله په ۲۰۱۹ کال د ۶۲۱ ملکي تلفاتو (۲۶۵ مړه او ۳۵۶ ټپیان) په پرتله ۸۷۲ ملکي تلفات (۴۸۴ مړه او ۳۸۸ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي. په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د غیر انتحاري موټر بمونو له امله په ۲۰۱۹ کال کې د ۹۶ ملکي تلفاتو (۱۱ مړه او ۸۵ ټپیان) په پرتله ۲۵۷ ملکي تلفات (۳۴ مړه او ۲۲۳ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي. په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځانمرګو بریدونو له امله په ۲۰۱۹ کال کې د ۱۴۹۹ ملکي تلفاتو (۱۶۵ مړه او ۱۳۳۴ ټپیان) په پرتله ۳۲۱ ملکي تلفات (۳۳ مړه او ۲۸۸ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي.

۲۰۱۹ کال په پرتله د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي وګړو شپږ سلنه زیاته وژنه او ۱۵ سلنه کمه مرګ ژوبله طالبانو ته منسوب کړې.[91] دغه کموالي په عمده ډول په ۲۰۲۰ کال کې د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي د نشتون له امله رامنځ ته شوی، سره له دې چې د ځمکنیو نښتو د دوامدارو لوړو شمېرو له امله چې د کال په اوږدو کې د ملکي تلفاتو لامل کېږي د لوړ شمېر له خوا په جزئي ډېرته زیات شوی.[92] د ۲۰۲۰ کال په جریان کې، ځمکني نښتې په ټول افغانستان کې د ملکي تلفاتو زیاتېدو لامل شوی، چې د می په میاشت کې د کندوز ښار او په اکتوبر کی په لښکرګاه ښار کې د ځمکنیو حملو څخه د ملکي تلفاتو ځینې مهمې پېښې ثبت شوې. د ۲۰۲۰ کال پر مهال، ځمکنیو نښتو په ټول افغانستان کې ملکي تلفات اړولي، چې تر ټولو لوړ شمېر یې په می میاشت کې پر کندز ښار او په اکتوبر میاشت کې پر لشکرګاه ښار د بریدونو پرمهال د ځمکنو نښتو له امله رامنځ ته شوي.

یوناما همدارنګه د طالبانو په هدفي وژنو[93] کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په شمېر کې ۲۲ سلنه زیاتوالی په کومو کې چې "تروررونه"[94] په عمدي ډول د ملکي وګړو په نښه کول شامل دي ، او د طالبانو له خوا د تښتونو پرمهال په رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو کې ۱۶۹ سلنه زیاتوالی ثبت کړی.[95]

### ۲. دعراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت

د ۲۰۲۰ کال د جنورې له لومړۍ نیټې څخه تر دسمبر ۳۱ پورې، یوناما ۳۴ پېښې چې ۶۷۳ ملکي تلفات (۲۱۳ مړه او ۴۶۰ ټپیان ) یې اړولي د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړي، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۴۵ سلنه کموالی او د ملکي تلفاتو تر ټولو ټیټ شمېر په ډاګه کوي له کوم وخت راهیسې چې یوناما دغې ډلې ته په ۲۰۱۵ کال کې منسوب کړې، کله چې په لومړي ځل په رسمي ډول په افغانستان کې راڅرګنده شوه.[96] دعراق او شام داسلامي دولت –خراسان ولایت په ۲۰۲۰ کال کې د تېر کې د ۱۲ سلنې په پرتله په افغانستان کې د ټولو ملکي تلفاتو اته سلنه رامنځته کړې. د نوموړې ډلې له خوا د ملکي تلفاتو ۹۵ سلنه د کابل او جلال آباد په ښارونو کې سترو تلفاتو لرونکو پېښو او د ننګرهار ولایت په کوز کونړ ولسوالۍ کې د ځانمرګي برید له امله رامنځته شوې.

دعراق او شام د اسلامي دولت –خراسان ولایت ډلې د پیښو د مختلفو ډولونو پر مهال ملکي تلفات اړولي، لکه په آزاده هوا کې د را ټولېدو په پر مهال په ودانیو کې د وړو وسلو ډزو کارول، همدارنګه د انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو او ځمکنیو نښتو پر مهال مثلا په کابل ښار د راکټونو ګذارول.

د جدي اندېښنې وړ خبره دا ده چې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب ۸۰ سلنه ملکي تلفات هغو بریدونو له امله رامنځ ته شوي چې په عمدي ډول یې ملکي وګړي په نښه کړي.[97] په دې کې په تعلیمي مرکزونو کې ملکي وګړي، شیعه مسلمان مذهبي لږکیې، چې ډېری یې هزاره توکم دي او د سیکانو مذهبي اقلیت شامل دي.

### ۳. نا معلوم دولت ضد عناصر

په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما په زیاتېدونکي ډول د ملکي تلفاتو پېښې ثبت کړې چې د دولت ضد عناصرو له خوا رامنځته شوي چې نه یې شوای کولای هغه طالبانو یا د عراق او شام د اسلامي دولت –خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړي. د ۲۰۲۰ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د دغه ډول پېښو څخه ۸۲۶ ملکي تلفات (۲۰۲ مړه او ۶۲۴ ټپیان)[98] مستندې کړې، چې په تېر کال کې دولت ضد

---

[91] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله په ۲۰۱۹ کال کې د ۱۰۵۹ ملکی تلفاتو (۲۴۱ مړه او ۸۱۸ ټپیان) په پرتله ۹۵۳ ملکي تلفات (۲۵۶ مړه او ۶۹۷ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي.

[92] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله چې ټاکنې یې په نښه کړې وې ۲۲۴ ملکي تلفات (۲۸ مړه او ۱۹۶ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي.

[93] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما طالبانو د منسوب هدفي وژنو له امله په ۲۰۱۹ کال کې د ۶۲۶ ملکي تلفاتو (۳۸۸ مړه او ۲۳۸ ټپیان) په پرتله ۷۶۱ ملکي تلفات (۴۵۹ مړه او ۳۰۲ ټپیان) مستند کړي.

[94] په ۲۰۲۰ کال کې، طالبانو ته د منسوب ۴۱۶ هدفي وژنو څخه، ۲۸۶ پیښو (۶۹ سلنه) په عمدي ډول ملکي وګړي په نښه کړي، چې د ۴۸۳ ملکي تلفاتو (۳۱۷ مړه او ۱۶۶ ټپیان) لامل شوي.

[95] په ۲۰۲۰ کال کې، د طالبانو تښتونې په ۲۰۱۹ کال کې د ۴۲ ملکي تلفاتو (۳۹ مړه او درې ټپیان) په پرتله د ۱۱۳ ملکي تلفاتو (۷۷ مړه او ۳۶ ټپیان) لامل شوي.

[96] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته ۱۲۳۳ ملکي تلفات (۳۰۹ مړه او ۹۱۴ ټپیان) منسوب کړي. په ۲۰۱۵ کال کې یوناما نوموړې ډلې ته ۸۲ ملکي تلفات (۳۹ مړه او ۴۳ ټپیان) منسوب کړي وو، ۲۰۱۵ لومړنی کال و چې یوناما نوموړې ډلې ته ملکي تلفات منسوب کړي وو.

[97] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د هغو بریدونو له امله چې په عمدي ډول یې ملکي وګړي په نښه کړي ۵۵۴ ملکي تلفات (۱۸۲ مړه او ۳۷۲ ټپیان) مستند کړي.

[98] په دې کې تحریک طالبان پاکستان ډلې ته منسوب څلور ملکي تلفات (درې مړه او یو ټپي) شامل دي.

یوناما نا معلومو دولت ضد عناصرو ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې ۱۵۸ سلنه زیاتوالی مستند کړی.

نا پيژندل شوی عناصرو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو شمېر په پرتله ۱۵۸ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[99] نا پيژاندو دولت ضد عناصرو ته منسوب د ملکي تلفاتو د پېښو ډیروالی د طالبانو او د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا د کم شمېرو هغو د مسولیت منلو سره هم مهالی دي.

نا معلومو دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو پېښو له درې څخه زیاته برخه (۷۸ سلنه) يې انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شوي چاودېدونکي توکي دي، د هغو پېښو په ګډون چې د ډيری ملکي تلفاتو لامل شوي، په ځانګړي توګه په ولایتي مرکزونو کې.[100] د مثال په توګه، د اکتوبر په ۱۸مه د غور ولایت په مرکز چغچران ښار[101] کې د سړک غاړې ماین په چاودنه کې چې د افغان ملي پولیسو د قوماندانۍ مخې رامنځ ته شوه، د ۱۸۸ ملکي تلفاتو (۱۵ مړه او ۱۷۳ ټپیان) او د شپږو ښوونځیو په ګډون عامه ملکیتونو او شتمنیو ته سخت زیان لامل شوه. په یوه بله بېلګه کې، د جولای په ۳۰ مه، د لوګر ولایت د پل علم ښار کې یوه جومات ته څېرمه یوه ځانمرګی برید ۸۱ ملکي تلفات (اته تنه مړه او ۷۳ ټپیان) واړول چې ډیری يې د لوی اختر د لمانځلو لپاره توکي پیرل.

پاتې ۲۵ سلنه ملکي تلفات چې د نامعلومو دولد ضد عناصرو له امله رامنځته شوی په کې په عمده ډول هدفي وژنې شاملې دي، لکه د مۍ د میاشي پر ۱۲ مه  د کابل ښار په ۱۳ مه امنيتي حوزه کې د یوه روغتون د زیږنتون پر ځانګې د پراخو ډزو برید. دغه برید د تاندو لنګو شویو میندو په ګدونې د ۴۶ ملکي تلفاتو (۲۳ مړه او ۲۳ ټپیان) لامل شو.[102]

## ب. د پېښې ډولونه چې ملکي وګړو ته د ډیر زیان لامل کېږي


### ۱. انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شوي چاودېدونکي توکي

په ۲۰۲۰ کال کې، انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو په ټول افغانستان کې ملکي وګړو ته د جدي زیان اړول جاري ساتلي. د دولت ضد عناصرو لپاره، دغه دوه ډوله پېښې په ګډه ملکي وګړو ته د زیان اړولو مخکښ لامل پاتې شوی. د ۲۰۲۰ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو څخه ۳۰۴۲ ملکي تلفات (۸۷۲ مړه او ۲۱۷۰ ټپیان) مستند کړي، چې د ټولو ملکي تلفاتو د شاوخوا یو پر دریمه برخه جوړوي.[103] دا له کوم وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو مستندول  پیل کړه، د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۳۰ سلنه کموالی، او د ګډو تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو تر ټولو ټیټ شمېر ګڼل کېږي.[104] دغه کموالي د انتحاري چاودېدونکو توکو له امله په ملکي تلفاتو کې د ۶۴ سلنه کمېدو له امله رامنځته شوي، په داسې حال کې چې د غیرې انتحاري تعبیه چاودېدونکو توکو له امله ملکي تلفات د تېر کال په څېر په ورته کچو پر خپل حال پاتې دي.[105]

یوناما د هغې طریقې په اړه اندېښمنه ده پر کومه چې د دولت ضد عناصرو له خوا د تعبیه شوي چاودېدونکو توکو بریدونه ترسره شوي. په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د بریدونو له امله ۷۶۹ ملکي تلفات (۱۸۲ مړه او ۵۸۷ ټپیان) مستند کړي چې ملکي وګړي یا ملکي شیان په بیا هغه ملکي وګړي د حکومت لپاره يې کار کاوه، په نښه کړي. د ملکي وګړو او ملکي شیانو عمدي په نښه کول د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونه ګڼل کېږي او ښايي جنګي جرمونه تشکیل کړي.

---

[99] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما نا معلومو دولت ضد عناصرو ته ۳۲۰ ملکي تلفات (۵۸ مړه او ۲۶۲ ټپیان) منسوب کړي.
[100] په ۲۰۲۰ کال کې، د انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله ۶۳۹ ملکي تلفات (۱۰۲ مړه او ۵۳۷ ټپیان) نا معلومو دولت ضد عناصرو منسوب کړي.
[101] همدارنګه د فیروز کوه په نامه هم یادېږي.
[102] د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د ملکي وګړو د ساتنې په د یوناما شپږ میاشتنی راپور (جولای ۲۰۲۰) او د کووید-۱۹ وبا پر مهال پر روغتیا د بریادونو په اړه د یوناما ځانګړی راپور (جون ۲۰۲۰) وګورئ.
[103] په دې شمېرو کې د تحریک طالبان پاکستان له خوا د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو له امله د دوه ملکي وګړو مړینه او د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا څلور ملکي تلفات (دوه مړه او دوه ټپیان) شامل دي.
[104] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله ۴۳۳۶ ملکي تلفات (۸۸۵ مړه او ۳۴۵۱ ټپیان) مستند کړي.
[105] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځانمرګو بریدونو له امله د ۲۰۱۹ کال د ۲۰۷۸ ملکي تلفاتو (۳۷۸ مړه او ۱۷۰۰ ټپیان) په پرتله ۷۴۶ ملکي تلفات (۱۴۵ مړه او ۶۰۱ ټپیان) مستند کړي. په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله د ۲۰۱۹ کال۲۲۵۸ ملکي تلفاتو (۵۰۷ مړه او ۱۷۵۱ ټپیان) په پرتله ۲۲۹۶ ملکي تلفات (۷۲۷ مړه او ۱۵۶۹ ټپیان) مستند کړي.




د غیرې انتحاري تعبیه شوي چاودېدونکو توکو له جملې، د فشاری ماینونو کارول د ملکي تلفاتو په شمېر کې د پام او اندېښنې وړ زیاتوالي لامل شوي. یوناما یو ځل بیا د خپلې غوښتنې یادونه کوي چې د دغو وسیلو کارول په سملاسي ډول ودروي، کومې لکه څرنګه چې په افغانستان کې

کارول شوي د قرباني په وسیله فعالېدونکې دي او ذاتي ډول بې توپیره دي او د پرسونل ضد ځمکنیو ماینونو په څیر کار کوي. د دغه ډول وسلو کارول د بشري حقونو او بشرپالنې له نړیوالو قوانینو څخه سرغړونې شمېرل کېږي.

سربېره پردې، د انتحاري چاودېدونکي توکي موټر بم ډیری وختونه په قوي چاودېدونکو توکو سمبال وي، چې پراخه ساحې اغیزمنه کوي. په ځانګړې توګه کله چې په ګڼ میشته سیمو کې وکارول شي، دا وسیلې ډیر ی وختونه ملکي وګړو ته خورا ډیر جسماني زیان رسوي، چې مرګ او حتی ډیری خلک ټپي کوي او پرچې یې بدن ته ننوځي. یوناما د داسې وسایلو څخه د ملکي وګړو پراخ زیان مستند کړی کله چې په عمدي ډول ملکي وګړو په نښه کولو لپاره کارول شوې وي، او دغه راز ملکي وګړو ته د دغو وسیلو د پام وړ زیان چې په ښکاره ډول د نظامي اهدافو په نښه کولو کې کارول شوې وي. څرنګه چې دغه وسیلې ډیری وختونه په عامه سړکونو کارول کېږي، په هغو سیمو کې چې په مکرر ډول د ملکیانو له خوا کارول شوې وي، د هدف په شاوخوا کې د امنیتي موانع او خنډونو د له منځه وړلو په پار د دوی چاودنې زیاتره د ملکي تلفات او د نږدې ودانیو په شمول ملکي ملکیتونو ته زیان لامل کېږي. په ۲۰۲۰م کال کې، یوناما د غیر انتحاري موټر بمونو څخه په ملکي تلفاتو کې اندېښمنوونکی زیاتوالي مستند کړی. په عین موده کې، نوموړې اداري د انتحاري چاودېدونکو توکو له امله چه ورته اغیزې یې درلودې، د ملکي تلفاتو په شمېر کې کموالی ثبت کړی.

یوناما پر دولت ضد عناصرو غږ کوي چې په ګڼ میشتو سیمو کې د هغو چاودېدونکو توکو کارول ودروي چې پر پراخې ساحې اغیزې کوي او هغوی ته د دې یادونه کوي چې د تعبیه شوي چاودېدونکو توکو بې توپیره او نامتناسبه کارونه د بشري حقونو او بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې شمېرل کېږي او بنایي جنګي جرمونه تشکیل کړي.

**لومړی. ځانمرګی بریدونه**

***"زه او زما نور زده کوونکي د [تعلیمي] مرکز د پرېښودو په حال کې وو. پر خپل موټر سایکل د سپرېدو په حال کې، ما یو ځوان سړی [...] ولید چې د تلاشۍ لپاره په لومړي چیک پوینټ کې د امنیتي ساتونکي له خوا درول شوی و. زه چې څنګه له هغوی څخه تېر شوم [...] ما ناڅاپه په هغه ځای کې د یوې سترې چاودنې غږ واورېده چیرې چې امنیتي ساتونکي او درول شوی سړی ولاړ وو [...]. دوړې او تور لوګي تر ما ګرد چاپېر راتاو شول. تر هغې وروسته مې د مرستې لپاره سورې ناري واورېدې. زیات شمېر زده کوونکو له هغې سیمې د باندې غورځول شوي وو. [...] زما بدن او مخ [...] هم څو ځایه ټپي شوی وو، زما دوه ټولګیوال هم وژل شوي وو [...] تر پېښې وروسته، زه نه غواړم نور هیڅ درس ووایم، ځکه اوس هیڅ شي په سم ډول نه شم یادولی [...] د دې پېښې عاملین باید د عدالت منګولو ته وسپارل شوي. زه له دولت څخه غوښتنه کوم چې د دغې پېښې په اړه زموږ او د هغو خلکو له کورنیو سره معلومات شریک کړي، چا چې خپل ژوند له لاسه ورکړی."***

*-- د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر پر ۲۴ نېټه د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا د مسولیت منل شوي ځانمرګي برید کوم چې ۴۲ ملکي وګړي ووژل او ۷۹ نور ټپي کړل، ښځینه زده کوونکې او قرباني*

له قرباني سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۲ دسمبر ۲۰۲۰



*د سمنګان ولایت په ایبک ښار کې د ۲۰۲۰ کال د جولای پر ۱۳ نېټه د ملي امنیت پر ریاست تر برید وروسته صحنه. دغه برید یو ملکي سړی ووژه او ۹۰ نور ملکیان (۶۳ سړي، ۱۰ هلکان، نهه ښځې او اته نجونې. طالبانو د برید مسوولیت پر غاړه اخیستی. انځور، کاوه بشارت*

د دولت ضد عناصرو له خوا د ډله ییزو بریدونو[106] په ګډون ځانمرګي هغه یې په ۲۰۲۰ کال کې د ۷۴۶ ملکي تلفاتو (۱۴۵ مړه او ۶۰۱ ټپیان) لامل شوي، چې د تېر کال په پرتله ۶۴ سلنه کموالی په ډاګه کوي.[107] په ۲۰۲۰ کال کې، ځانمرګو بریدونو د ټولو ملکي تلفاتو اته نیمې سلنه جوړوله، د ۲۰۱۹م کال په پرتله ۱۲ سلنه ټیټ دي، چیرې چې ۲۰ سلنه تلفات رامنځته کړي وو.

طالبانو د ځانمرګي بریدونو له امله ۴۳ سلنه ملکي تلفات اړولي. په داسې حال کې چې دا د ۲۰۱۹ کال په پرتله د تلفاتو په شمېر کې ۷۹ سلنه کموالی ګڼل کېږي، یوناما د دې یادونه کوي چې په ۲۰۰۹ کال کې له کوم وخت راهیسې یې چې په سیستماتیک ډول مستندول پیل کړې، ۲۰۱۹ هغه کال و چې طالبانو د ځانمرګو بریدونو له امله د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمېر اړولي.[108] د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې په ۲۰۲۰ کال د ځانمرګي بریدونو له امله ۳۸ سلنه ملکي تلفات اړولي، چې دا د ۲۰۱۹ کال په پرتله د تلفاتو په شمېر کې ۳۷ سلنه کموالی ګڼل کېږي.[109] د ځانمرګي بریدونوڅخه پاتې نور ملکي تلفات نامعلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي.[110]

د مثال په توګه، د جولای پر ۱۳ مه نېټه د سمنګان ولایت په ایبک ښار کې د ملي امنیت ریاست پر مرکزي دفتر یوه ډله ییز برید یو ملکي کس ووژه او ۹۰ نور یې ټپیان کړل. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ولایتي ودانۍ په ګډون یې ډیری نږدې ودانۍ د هغه موټر بم د چاودنې له امله زیانمنې شوې چې د ملي امنیت ودانۍ ته د ننوتلو لپاره کارول شوي و. طالبانو د دغه برید مسولیت پر غاړه اخیستې ده. د اکتوبر په ۳ مه نېټه، د موټر

[106] هغه عمدي او همغږی شوی برید دی په کوم کې چې ځانمرګې وسیله، له یوه څخه زیات بریدګر او له یوه څخه زیاتې وسیلې شاملې وي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د اصطلاح ګانو برخه وګورئ.

[107] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ځانمرګو بریدونو له امله ۲۰۷۸ ملکي تلفات (۳۷۸ مړه او ۱۷۰۰ ټپیان) مستند کړي.

[108] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځانمرګو بریدونو له امله د ۲۰۱۹ کال د ۱۴۹۹ ملکي تلفاتو (۱۶۵ مړه او ۱۳۳۴ ټپیان) په پرتله ۳۲۱ ملکي تلفات (۳۳ مړه او ۲۸۸ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي.

[109] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځانمرګو بریدونو له امله د ۲۰۱۹ کال د ۴۵۵ ملکي تلفاتو (۱۸۳مړه او۲۷۲ ټپیان) په پرتله ۲۸۶ ملکي تلفات (۹۴ مړه او ۱۹۲ ټپیان) د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړي.

[110] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځانمرګو بریدونو له امله نا معلومو دولت ضد عناصرو ته ۱۳۹ ملکي تلفات (۱۸ مړه او ۱۲۱ ټپیان) منسوب کړي.

بم یوه طالب ځانمرګي بریدګر د ننګرهار ولایت د شینوارو ولسوالۍ اداري مرکز کې د ملي امنیت ریاست دفتر په نښه کړ. دغې چاودنې ۱۹ تنه ملکي وګړي (نهه هلکان، نهه سړي او یوه ښځه) ووژل او ۵۱ نور (۲۸ سړي، ۱۶ هلکان، شپږ نجونې او یوه ښځه) یې ټپیان کړل.

یوناما د طالبانو له خوا د غیر انتحاري چاودېدونکو توکو د کارونې له امله د ریکارډ تر کچې د ملکي تلفاتو لوړ شمېر مستند کړی.

د نومبر پر ۲۹ نېټه، یوه طالب ځانمرګي بریدګر د موټر بم په وسیله د زابل د ولایتي شورا رییس په نښه کړ. د دغه برید په پایله کې دریو ملکیان (دوه هلکان او یو سړی) ووژل شول او ۳۳ نور (۱۴ هلکان، ۱۱ سړي، څلور نجونې او څلور ښځې) ټپیان شول.

یوناما د ۱۳ ځانمرګو بریدونو چې ملکي تلفات یې اړولي مسولیت طالبانو ته منسوب کړی، چې د څلورو مسولیت یې طالبانو منلی. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د ټولو دریو هغو پېښو مسولیت پر غاړه اخیستی چې یوناما ورته په ۲۰۲۰ کال کې منسوب کړې.

**دویم: غیر انتحاري تعبیه شوي چاودېدونکي توکي[111]**

***"موږ ټول خوشحال وو، خبرې موکولې او خندل مو چې ناڅاپه موټر پر چاودېدونکي وسیلې ور برابر شو. دغې چاودنې زموږ کورنۍ ویجاړه کړه. په دې پېښه کې ما خپل زوی، وراره او خپل ورور له لاسه ورکړل. زما مېرمن، زما لور او زه سخت ټپي شو. موږ ټول په وینو لت پت و. زموږ د خپلوانو د بدن غړي په هر لوري پاشل شوی وو. زه خدای ته دعا کوم چې دغه صحنه آن زموږ دښمن ته هم ور و نه ښيي."***

-- د طالبانو د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د فشاري ماین نارینه قرباني

له قرباني سره د یوناما مرکه، ۳۱ اګست ۲۰۲۰

د ۲۰۲۰ م کال په اوږدو کې، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د کارولو له امله ۲۲۹۶ ملکي تلفات (۷۲۷ مړه او ۱۵۶۹ ټپیان) مستند کړي. د دې پېښو له امله د وژل شوي ملکي وګړو شمېر ۴۳ سلنه لوړه شوې، پداسې حال کې چې له امله یې د ټپي شویو ملکیانو په شمېر کې ۱۰ کموالی راغلی.[112] په پر له پسې ډول د دویم کال لپاره، غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د ځانمرګو بریدونو په پرتله ډېر ملکي تلفات اړولي. یوناما د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله ۷۵ سلنه ملکي تلفات طالبانو، دریو سلنه د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې او ۲۲ سلنه نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.[113]

له کوم وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک ډول مستندول پیل کړي، په۲۰۲۰ کال کې، یوناما د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمېر – ۱۷۳۰ ملکي تلفات (۶۲۸ مړه او ۱۱۰۲ ټپیان) مستند کړي. دا د ۲۰۱۹ کال په پرتله د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله طالبانو ته منسوب په دغه ډول ملکي تلفاتو کې نهه سلنه زیاتوالی او د ملکي وګړو د ژوبلو په شمېر کې ۴۳ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.[114]

یوناما د ۲۰۱۹ کال په پرتله د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر انتحاري موټر بم له امله د دریو برابره ملکي تلفاتو د زیاتېدو په اړه په ځانګړي ډول اندېښمنه ده.[115] موټر بمونه ډېرۍ وختونه له چاودېدونکو توکو څخه ډک شوي وي چې قوي چاودونې رامنځ ته کوي او پر پراخې ساحې اغیز ښیندي، چې تر هدف ها خوا زیات شمېر ملکي تلفات رامنځ ته کوي، په تېره بیا کله چې په ګڼ میشتو سیمو کې کارول کېږي. د مثال په ډول د اکتوبر پر ۵ مې نېټه، طالبانو د لغمان ولایت په مهترلام ښار کې د والی کاروان د موټر بم په وسیله په نښه کړ. د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د چاودنې له امله اته ملکي وګړي ووژل شول او ۵۳ نور(۲۳ سړي، ۱۳ هلکان، نهه ښځې او اته نجونې) ټپیان شول. د چاودنې له امله شا و خوا ودانۍ هم زیانمنې شوې. د نومبر پر ۸ مې د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ ایز بازار سیمه کې، د موټر بم چاودنې اته ملکي وګړي ووژل

[111] د لا زیاتو معلوماتو لپاره د اصطلاح ګانو برخه وګورئ. دغه څېرکی د هغو تعبیه شویو چاودېدونکو توکو خلاف چې د هدفي وژنو په ترسره کولو کې کارول شوي، د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو هغو تکتیکونو ته رسیدګي کوي چې عمومي اهداف یې په نښه کړي، چې لومړي هغه یې په جلا ډول د "هدفي وژنو" په شمېرو کې شامل شوي.
[112] په ۲۰۱۹ کال، یوناما د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله ۲۲۵۸ ملکي تلفات (۵۰۷ مړه او ۱۷۵۱ ټپیان) مستند کړي.
[113] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله ۱۷۳۰ ملکي تلفات طالبانو، ۶۰ ملکي تلفات (۱۱ مړه او ۴۹ ټپیان) د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې، ۵۰۲ ملکي تلفات (۸۴ مړه او ۴۱۶ ټپیان) نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي. یوناما دولت پلوه وسله والو ډلو ته څلور ملکي تلفات (دوه مړه او دوه ټپیان) منسوب کړي.
[114] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله ۱۵۸۴ ملکي تلفات (۴۳۸ مړه او ۱۱۴۶ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي.
[115] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د موټر بمونو له امله د ۲۰۱۹ کال د ۱۳۰ ملکي تلفاتو (۱۵ مړه او ۱۱۵ ټپیان) په پرتله ۴۴۸ ملکي تلفات (۵۰ مړه او ۳۹۸ ټپیان) مستند کړي.



*د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د قربانیانو د جنازې/تدفین مراسم. د اکتوبر پر ۲۰ مي نېټه، یوه فشاري ماین هغه مهال ۱۱ ملکیان ووژل او نهه نورې ټپیان کړل چې اکثریت ښځې او ماشومان وو، کله چې په دوه جلا جلا پېښو د هغوي نقلیه وسیلې په میدان ښار کې د میدان ښار- بامیان پر لویه لار پر دغو وسیلو ور برابرې شوې. انځور/ جواد جلیلي*

او د ښځو او ماشومانو په ګډون ۲۵ نور يې ټپيان کړل. چاودېدونکي توکي په یوه لوی ټرک کې ځای پر ځای شوي وو چې د ملي پوليسو پوستې ته څېرمه د ګڼې ګوڼې ډک بازار په څلور لارې کې ولاړ و. طالبانو د دغه برید مسولیت پر غاړه اخیستی.

په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د فشاري ماینونو له امله ۸۷۸ ملکي تلفات (۴۸۸ مړه او ۳۹۰ ټپیان) مستند کړي. دا د دغو وسیلو له امله د ملکیانو په مړینه کې د ۷۷ سلنه اندېښمنوونکي زیاتوالی سره، د ۲۰۱۹ م کال په پرتله د دغو وسیلو له امله په ملکي تلفاتو کې ۳۵ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[116] د فشاری ماینونو له امله نږدې ۴۳ سلنه ملکي تلفات مېرمنې او ماشومان دي (مېرمنې۱۳ سلنه او ماشومان ۳۰ سلنه)، چې دغه سلنه د هغوي د بې توپيره طبیعت ښکارندوی ده.[117]

یوناما د فشاری ماینونو د دوامدارې بې توپيره کارونې په اړه اندېښمنه ده چې نږدې ټوله هغه په ځانګړې ډول په طالبانو پورې منحصر شوي چې په ټول افغانستان کې يې د فشاری ماینونو کارونه جاري ساتلې او تر دریو کلونو کموالي وروسته په ۲۰۲۰ کې د زیات شمېر ملکي تلفاتو لامل شوي.

د فشاری ماینونو له امله ډېری ملکي تلفات داسې مهال رامنځته شوي کله چې دوی په عامه سړکونو کې ځای پرځای شوي وو، چېرې چې د ملکي موټرونو د تېرېدو په مهال چې پر سړک يې په منظم ډول تګ راتګ کاوه د فعالېدو په پایله کې چاودنه کړې. د مثال په ډول د جون پر ۳ مي نېټه، د کندهار ولایت په ارغستان ولسوالۍ کې یوه فشاري ماین وروسته له هغې ۱۱ ملکي وګړي ووژل او څلور نور يې ټپیان کړل چې پر موټر يې فشاري ماین چاودنه وکړه. طالبانو یوناما ته خبر ورکړ، چې په نوموړې پېښې کې ۱۱ سرې وژل شوي او مسؤل اشخاص يې سم د طالبانو د "نظامي محکمې" له خوا له شرعي قانون سره سم مجازات شوي.[118] د اکتوبر پر ۱۴ د هرات ولایت په کشک کهنه ولسوالۍ کې، د طالبانو له خوا د ځای پر ځای شوي فشاری ماین چاودنې لا امله یو ملکي موټر چې ډک و او نوي کور ته يې ناوې لیږدوله، ویجاړ کړ. د چاودنې په پایله کې درې ښځې او پنځه نجونې ووژل شوې، او څلور ښځې، درې نجونې، درې هلکان او یو سړی ټپیان شول. د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر پر ۲۰ مي نېټه په میدان وردګو کې د میدان ښار - بامیان پر لویه لار پر یوه بس فشاري ماین وچاودېد. په بس کې له ۱۸ مسافرو څخه، نهه

---

[116] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د فشاري ماینونو له امله ۶۵۰ ملکي تلفات (۲۷۵ مړه او ۳۷۵ ټپیان) مستند کړي.

[117] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د فشاري ماینونو له امله د ښځو ۱۰۸ تلفات (۵۷ مړې او ۵۱ ټپیانې) او د ماشومانو ۲۶۷ تلفات (۱۲۱ مړه او ۱۴۶ ټپیان) مستند کړي.

[118] یوناما ته د طالبانو د ۲۱ جولای ۲۰۲۰ نېټې لیک، د یوناما د بشري حقونو له څانګې سره په دوسیه کې موجود دی.

د فشاري ماینونو له امله د ملکیانو مړینه ۷۷ سلنه لوړه شوې؛ د دغو وسیلو له امله ۴۳ سلنه ملکي تلفات ښځې او ماشومان دي، کوم چې د دغو توکو بې توپیره ماهیت په ډاګه کوي.

ووژل شول او نهه نور ټپیان شول. سرېره پردې، د لومړۍ پېښې شاوخوا یو ساعت وروسته، د قربانیانو دوه خپلوان داسې مهال ووژل شول، کله چې د مرستې په پار د چاودنې سیمې ته پر لار وو، د پخوانۍ پېښې څخه ۱۰۰ متره لرې د هغوی موټر پر بل فشاری ماین ور برابر شو.

یوناما د داسې پېښو مستند کولو ته دوام ورکړی په کومو کې چې فشاري ماینونه د یوه ماشوم د وزن په اندازه په شمول، د یوه کس د وزن له له امله رامنځته شوي، د دې په تاییدولو سره چې فشاري ماینونه د پرسونل ضد ماینونو په څېر کارول شوي. د مثال په ډول د مۍ پر ۲۹ مې نېټه د غور ولایت په چغچران ولسوالۍ کې، یو ۱۳ کلن ماشوم داسې مهال ووژل شو او یو بل ۱۵ کلن ماشوم ټپي شو کله چې یو هلک د طالبانو له خوا پر لویه لار پر خښ شوي فشاری ماین ور برابر شول. هلکانو د پېښې په وخت کې خپل څاروي څرول چې فشاری ماین د دوی درې غواوې هم وژلي. د جون پر ۹ مې نېټه د غور ولایت په دولینه ولسوالۍ کې، یو ۱۳ کلن ماشوم مړ او درې هلکان چې عمرونه یې د ۹ او ۱۵ کلنۍ پورې وو، د طالبانو د فشاری ماین په واسطه ټپیان شول. ماشومانو خپل پسونه څارول کله چې یو هلک پر فشاری ماین ور برابر شو. د ۲۰۲۰ کال د اګست په لومړۍ نېټه د ارزګان ولایت په ترینکوټ ولسوالۍ کې، یو ۱۲ کلن ماشوم هغه مهال ووژل شو او یو ۱۰ کلن ماشوم ټپي شو کله چې کور ته پر لار د طالبانو له خوا ځای پر ځای شوي فشاري ماین ور برابر شول. له دې دا په ډاګه کېږي چې فشاری ماین د طبیعت له مخې تر کوم حده بې توپیره دي، څرنګه چې هغه د قرباني په واسطه فعال او چاودنه کوي، هغه د یوه ځانګړي نظامي هدف په لوري نه شي سوق کېدای، او د ملکیانو او جنګیالیو ترمنځ د توپیر کولو توان نه لري.

یوناما همدارنګه ټینګار کوي چې د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د فشاري ماینونو له خوا ملکي وګړو ته د رامنځ ته شوي خطر د مخنیوي او کمولو لپاره په هیڅ اندازه احتیاطي تدابیر بسنه نه کوي. د مثال په ډول د جون پر ۲۳ مې نېټه د جوزجان ولایت په مرادیان ولسوالۍ کې د طالبانو له خوا د سړک پر غاړې د ځای پر ځای شوي فشاري ماین د چاودنې له امله یوه ریکشا کې د یوې کورنۍ شپږ ملکي وګړي ووژل شول (د یوې ښځې، دوه سړیو، او درې ماشومانو په ګډون). طالبانو په ډاګه کړې چې دغه سړک له تېرو دوه کلونو راهیسې د عامه ترافیکو پر مخ تړل شوی او خلکو ته خبر ورکړل شوی و؛ او د سړک د تړلېدو او پر دواړو خواوو د خطر نښې ایښودل شوې وې.[119]

یوناما پر طالبانو او نورو دولت ضد عناصرو غږ کوي چې سمدلاسه دې د فشاري ماینونو کارول ودروي او د بشړپاله ماین پاکانو د هڅو ملاتړ وکړي ترڅو د هغو وسیلو په پیدا کولو، تشخیصولو او شنډ کولو کې مرسته وکړي چې ښایي لا اوس هم فعال وي. په دې برخه کې، یوناما همدارنګه په ۱۹۹۸ کال کې د ملا محمد عمر د پخوانیو ژمنو، چیرې چې هغه د دغه ډول وسیلو کارول غندلي،[120] او دغه راز د دغو وسیلو د کارونې د مخنیوی په اړه د تېرو څو کلونو په اوږدو کې له یوناما سره د مباحثو چې لا اوس هم دوام لري، یادونه کوي.

[119] یوناما ته د طالبانو د ۲۱ جولای ۲۰۲۰ نېټې لیک، د یوناما د بشري حقونو له څانګې سره په دوسیه کې موجود دی.

[120] په ۱۹۹۸ کال کې، د پرسونل ضد ماینونو د کارونې د مخنیوي، زیرمه کولو او لیږد  او د هغوي د له منځه وړلو د کنوانسیون ("د ماینونو د بندیز تړون") تر تصویب یو کال وروسته، ملا عمر یوه اعلامیه خپره کړه چې د ځمکنیو ماینونو کارونه یې په کلکه وغندله، د ملکي وګړو په وړاندې یې د هغوي ویجاړونکی ځواک پیژنده، او د هغوي پر کارونه یې د بشپړ بندیز غوښتنه کوله او په ډاګه کوله یې چې هر څوک چې دغه ماینونو د شخصي، سیاسي یا د بل کوم هدف لپاره کاروي، له اسلامي شریعت سره به سم مجازات شي. دغه اعلامیې د ماینونو د بندیز له تړون سره خپل غښتلي ملاتړ په ډاګه کړ.

## د طالبانو له خوا په جنوبي سیمه کې د فشاري ماینونو د کارونې له امله ۴۱۶ ملکي تلفات

په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د افغانستان په ټولو سیمو کې د طالبانو له خوا د فشاري ماینونو له امله د ملکي تلفاتو مستندول جاري ساتلي، چې نږدې نیمايي (۴۸ سلنه) یې په جنوبي سیمه کې پیښېږي.[121] یوناما په ۲۰۲۰ کال کې په جنوبي سیمه کې د فشاري ماینونو ۱۱۶ پېښې مستند کړې چې ۴۱۶ ملکي تلفاتو (۲۴۳ مړه او ۱۷۳ ټپیان) اړولې، چې ډېری یې د کندهار او هلمند په والیتونو کې رامنځ ته شوې.[122]

***"کله چې ما د خپل پلار او ورور مړه جسدونه ولیدل، شاک شوم او لا تر اوسه مې په یاد دي. ما هیڅ باور نه شو کولای او د یو څو شیبو لپاره مې هیڅ حرکت نه شو کولای او نه مې شوای کولای چې له موټر څخه د ټپیانو په رایستلو کې مرسته وکړم. زه څکه د دغې صحنې شاهد وم، څکه چې د دغه موټر تر څنګ په فشاري ماین ور برابر شوی و، په یوه بل موټر کې سفر کاوه، [...] موږ هیڅ نه غواړو او یوازې به د هغو عزیزانو لپاره دعاوې کوو چې نور له موږ سره نشته. یقینا چې د ټولو افغانانو دایمي هیله ده چې په هیواد کې سوله ووېنې او د جګړې له ټولو خواوو غوښتنه کوم چې د ملکي وګړو وژنه او زیانمنونه ودروي."***

-- په جنوبي سیمه کې د طالبانو د فشاري ماین د قربانیانو یو زوی او ورور

د قربانیانو له خپلوانو سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۹ نومبر ۲۰۲۰

د لوي اختر تر اوربند څو ورځې وروسته،[123] د اګست له ۷ مې څخه تر ۹ مې پورې، یوناما د کندهار ولایت په ارغستان ولسوالۍ کې د فشاري ماینونو پېښې مستند کړې چې ۲۸ ملکي تلفات (۲۶ مړه او دوه ټپیان) یې اړولي. په دغو کې، د ۲۰۲۰ کال د اګست پر ۹ مې شا و خوا ۹:۳۰ بجې، د کندهار ولایت د ارغستان ولسوالۍ په امارت کلي کې، د طالبانو یوه فشارۍ ماین نهه ملکي وګړي ووژل او دوه نور یې ټپیان کړل چې له ارغستان څخه کندهار ښار ته روان و. همدارنګه، د اګست پر ۹ مې شا و خوا ۱۴:۰۰ د کندهار ولایت د ارغستان ولسوالۍ د تاج - شانا او ناري کلیو ترمنځ د طالبانو یوه فشاري ماین د دوو مېرمنو په ګډون اته ملکي وګړي ووژل. دوی په خامه سړک سفر کاوه کله چې د دوی موټر پر فشاري ماین ور برابر شو چې له امله یې چاودنه رامنځ ته شوه. د دې دواړو پېښو ټولو قربانیانو د ارغستان ولسوالۍ او کندهار ښار ترمنځ بدیل سړکونه کارول څکه چې طالبانو د ارغستان-کندهار لویه لار تړلې وه. طالبانو د فشار ماینونو د پنځو پېښو له جملې د څلورو هغو مسولیت رد کړی.[124]

یوناما د ۲۰۲۰ کال په اکتوبر میاشت کې هلمند ولایت پر لښکرګاه ښار د طالبانو د برید پرمهال یو لړ پېښې مستند کړې چیرې چې ملکي وګړي د فشاري ماینونو له امله ملکي وګړي وژل شوي او ټپیان شوي، د هغو په ګډون چې د جګړې له سیمې څخه د تښتې په حال کې وو.

د مثال په توګه، د ۲۰۲۰ کال داکتوبر پر ۱۰ د سهار پر ۸ بجو، د ګرشک بازار ته څیرمه د هلمند-کندهار پر لویه لار، په نهر السراج ولسوالۍ کې ، د ملکي وګړو یو بس چې له هرات څخه کندهار ته پر لار و د طالبانو له خوا ځای پر ځای شوي فشاري ماین چاودنه وکړه. د چاودنې په پایله کې، شپږ ملکي وګړي ووژل (یو سړی، یوه ښځه، دوه هلکان او دوه نجونې)، په داسې حال کې چې لس نور (دوه سړي، پنځه ښځې او درې هلکان) ټپیان شول. دوه ورځې وروسته، د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر پر ۱۲ نېټه ماسپښین مهال، د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ مرکز ته څیرمه د ملکي وګړو موټر چې ۱۵مسافر په کې سپاره د طالبانو له خوا ځای پر ځای شوي فشاري ماین ور برابر شو. د چاودنې له امله د اتو ماشومانو (څلور نجونې او څلور هلکان)، څلورو سړیو او دریو ښځو په ګډون ټول ملکي مسافر ووژل شول. د پېښې قربانیان د یوې کورنۍ غړي وو او دوی په خپله سیمه کې له جګړې څخه په تېښته په لښکرګاه کې د ژوندانه لپاره د یوه خوندي ځای د پیدا کولو په لټه روان وو.

فشاري ماینونه، لکه څرنګه چې په افغانستان کې کارول شوي، د قرباني په واسطه فعالېږي او دا چې هغه په ذاتي ډول یو بې توپیره اغیز لري، او د نا قانونه پرسونل ضد څمکنیو ماینونو په څیر کار کوي. یوناما پر طالبانو یو ځل بیا غږ کوي چې په چټک ډول د دغو وسیلو کارول ودروي.

[121] د افغانستان په جنوبي سیمه کې د هلمند، کندهار، نیمروز، اروزګان او زابل ولایتونه پراته دي.

[122] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د طالبانو د فشاري ماینونو له امله په کندهار ولایت کې ۱۶۱ ملکي تلفات (۱۰۱ مړه او ۶۰ ټپیان) او په هلمند ولایت کې ۱۳۹ ملکي تلفات (۸۷ مړه او ۵۲ ټپیان) مستند کړي.

[123] د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د لوي اختر اوربند د جولای له ۳۱ څخه د اګست تر ۲ مې پورې دوام وکړ.

[124] یوناما ته د طالبانو د ۲۵ اکتوبر ۲۰۲۰ نېټې لیک، د یوناما د بشري حقونو له څانګې سره په دوسیه کې موجود دی.



*دسمبر پر ۲۸ نېټه په کابل د چاودنې په سيمه کې يو ويجاړ شوی موټر. دغه برید د احصايې او معلوماتو د ملي اداري کارمندان په نښه کړي وو، چې يوه ملکي ښځه يې ووژله او ۱۳ نور يې ټپيان کړل (څلور ښځې او نهه سړي). د عراق او شام د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې د دغه بريد مسووليت پر غاړه واخيست. انځور هدایت الله حامد*

## دويم: هغه بريدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي او ملکي شيان په نښه کوي

***"طالبان زما د ورور کور ته ننوتل. هغوي بيا هغه له خپل کور څخه ۲۰ متره لرې يوړه او بيا يې په ډزو ووژه. زما د ورور يوازينۍ ستونزه دا وه چې پوليسو ته يې ډوډۍ ورکوله [...] زما ورور ډير يې وزله و. هغه به ډوډۍ اخيسته او بيا به يې پوليسو ته رسوله او په دې ډول به يې د خپلې کورنۍ لپاره روزي برابروله. هغه د خپلې کورنۍ يوازينۍ ګټيالی او پالونکی و."***

*-- د طالبانو د هدفي وژنې د قرباني ورور*

*د قرباني له ورور سره د يوناما تيليفوني مرکه، ۱ سپتمبر ۲۰۲۰*

په ۲۰۲۰ کال کې، يوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د داسې بريدونو مستندول جاري ساتلي، چې په عمدي ډول يې ملکي وګړي او ملکي شيان په نښه کړي، په ځانګړي ډول د افغان دولت د ملکي ادارې، قضايي ادارې، رسنيو، نا دولتي ادارو د روغتيايي او تعليمي ادارو کارمندانو په ګډون د ملکي وګړو په ضد د هدفي ډزو او د تعبيه شويو چاودېدونکو توکو د بريدونو له لارې. يوناما دغه راز د دولت ضد عناصرو له خوا د مدني ټولنې د فعالينو، ديني او مذهبي مشرانو، د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ملکي خپلوانو او د افغان دولت د ملاتړو کسانو په ضد د بريدونو مستندول جاري ساتلي. پر مذهبي لږکيو د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې له خوا د مسووليت منل شويو بريدونو دوام درلود، په تېره بيا هغو بريدونو چې شيعه مذهبه لږکي چې زياتره يې هزاره توکمه دي او سيک مذهبه لږکي يې په نښه کړي.

يوناما د جګړې ښکېلو غاړو ته د دې يادونه کوي چې په عمدي ډول د ملکي وګړو او ملکي شيانو په نښه کول د بشرپالنې له نړيوال قانون څخه څرګنده سرغړونه ده او ښايي جنګي جرمونه و بلل شي. سربېره پر دې، کله چې د يوه ځانګړي ملکي توکم يا ټولنې په وړاندې د سيستماتيک بريد د يوې برخې يا پراخې برخې په ډول ترسره شي، لکه د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې هغه دوامدار بريدونه چې مذهبي لږکي په نښه کوي، دا ډول بريدونه ښايي دغه راز د بشريت په ضد جرمونه تشکيل کړي.

## افغانستان : د دولت ضد وسلوالو لخوا په ملکي وګړو قصدي بریدونه
۱ جنوری څخه ۳۱ دسمبر ۲۰۲۰



۷۶۴ وژل شوي
۱۱۴۲ ټپیان

۱۹ پیښې چې هلته د عبادت ځایونه او خلک په نښه شوي

۵۴ پیښې چې پکې روغتیایی مرکزونه په نښه شوي

۲۹ پیښو کې د قضایه قوې غړې په نښه شوي

۲۲ پیښو کې د مدني ټولنو فعالین په نښه شوي

۲۱ پیښو کې غیر دولتي سازمانونه په نښه شوي

۱۵ پیښو کې ژورنالستان او د رسنیو کار کونکي په نښه شوي

۲۵ پیښو کې معارف هدف ګرځول شوی

۳۹ پیښو کې د زیربناء تاسیسات په نښه شوي

یوناما د جګړې پر ټولو ښکېلو غاړو غږ کوي چې د بشرپالنې له نړیوال قانون سره سم اساس د ملکي شخص تعریف ومني او هغوی له بریدونو تر هغې خوندي کړي، څو یې چې په جګړه کې په مستقیم ډول برخه نه وي اخیستې. د دې تعریف له مخې ټول هغه کسان ملکي وګړي ګڼل کېږي چې جنګیالي نه دي، چې په دې کې هغه کسان شامل دي چې په دولتي ملکي منصبونو کې کار کوي لکه د قضايي ادارو غړي، او د جنګیالیو د کورنیو غړي مشروع اهداف نه ګڼل کېږي. په دې کې د خپلواکې مدني ټولنې غړي او د بشري حقونو مدافعین لکه د بشري حقونو خپلواک کمیسیون هم شاملېږي.[125]

د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ میاشتې له ۱ نېټې د ډیسیمبر میاشتې تر ۳۱ نېټې، یوناما مستنده کړه چې په هرو دریو ملکي تلفاتو کې یوه یې د دولت ضد عناصرو له خوا د هغه برید په پایله کې رامنځ ته شوي چې په ځانګړې ډول یې ملکي وګړي یا ملکي شیان په نښه کړي، چې د دغه ډول بریدونو له امله ۱۹۰۶ ملکي تلفات (۷۶۴ مړه او ۱۱۴۲ ټپیان) جوړوي.[126] دا د هغو بریدونو له امله چې په عمدي ډول یې ملکي وګړي یا ملکي شیان په نښه کړي په ملکي تلفاتو کې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۳۳ سلنه کموالی په ډاګه کوي.[127] پر ملکي وګړو د عمدي بریدونو له امله په تلفاتو کې د کموالي عمده لاملونه په دې ډول دي: په ۲۰۲۰ کال کې د طالبانو د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي نشتون کوم چې د ۲۰۱۹ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې رامنځ ته شوی؛ د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا په هغو بریدونو کې کموالی چې ملکي تلفات رامنځ ته کوي (چې دغو بریدونو په عمده ډول ملکي وګړي او ملکي شیان په نښه کړي)؛ او د طالبانو له خوا کم شمېر ځانمرګي بریدونه کوم چې په عمدي ډول ملکي وګړي او ملکي شیان په نښه کوي.

یوناما د هغو بریدونو چې په عمدي ډول یې ملکي وګړي په نښه کړي نږدې نیمه یې تلفات طالبانو او ۲۹ سلنه د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړي.[128] سربېره پر دې، یوناما د هغو بریدونو له امله چې ملکي وګړي او ملکي شیان یې په نښه کړي او

[125] په ۲۰۲۰ کال کې طالبانو په منظم ډول د خپلو بریدونو په تړاو د اعلامیو خپرول جاري ساتلي او په ډاګه کوله به یې چې دوی ملکیان نه په نښه کوي. د مثال په ډول راتلونکې اعلامیه وګورئ: https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1347023574423515137/photo/1 . خو له دې سره سره یوناما هر کال داسې پېښې مستند کړې چېرې چې طالبانو د هغو افرادو د عمدي په نښه کولو مسوولیت اخیستی خوک چې د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې ملکیان ګڼل کېږي، چې خپل دغه ډول بریدونه د دې په څرګندولو توجیه کوي چې په نښه شوي افراد ملکیان نه وو.

[126] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما همدارنګه د هغو بریدونو له امله چې په عمدي ډول یې ملکي وګړي په نښه کړي ۱۰۹ ملکي تلفات (۴۸ مړه او ۶۱ ټپیان) دولت پلوه وسله والو ډلو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب کړي.

[127] په ۲۰۱۹ کال کې یوناما د عمدي بریدونو له امله چې ملکیان یې په نښه کړي ۲۸۳۳ ملکي تلفات (۸۱۸ مړه او ۲۰۱۵ ټپیان) مستند کړي.

[128] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د هغو بریدونو له امله چې په عمدي ډول یې ملکیان په نښه کړي ۹۳۸ تلفات (۴۴۵ مړه او ۴۹۳ ټپیان) طالبانو، ۵۵۴ ملکي تلفات (۱۸۲ مړه او ۳۷۲ ټپیان) د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړي.

**هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي او ملکي شیان په نښه کوي د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه سختې سرغړونې دي او ښايي جنګي جرمونه وګڼل شي.**

مسوولیت یې کوم لوري پر غاړه نه دی اخیستي او هغې نه شوای کولی چې هغه طالبانو یا سلنه د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړي او په دې ترتیب نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي، د ملکي تلفاتو په شمېر کې ۸۴ سلنه زیاتوالی مستند کړي.[129] دغه کار د طالبانو او د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا د مسوولیت په نه منلو کې له کموالي سره تړاو لري.

یوناما په ژور ډول د هغو بریدونو په اړه اندېښمنه ده چې روغتیايي کارمندان او روغتونونه یې په نښه کړي. دغه بریدونه په ځانګړي ډول د کوویډ-۱۹ وبا پرمهال زیان رسوونکي دي چېرې چې افغانستان د خپلو محدودو روغتیايي منابعو په درلودلو سره کوم چې د ټول نفوس لپار لپاره د طبي خدمتونو لپاره خورا اړین دي. یوناما د هدفي وژنو، د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د کارونې، ګواښونو او تهدیدونې په ګډون چې د روغتیايي مرکزونو د تړل کېدو لامل شوي، دغه ډول ۵۴ پېښې مستندې کړې چې د ۷۷ ملکي تلفاتو (۳۴ مړه او ۴۳ ټپیان) لامل شوي. د مثال په ډول، د جولای پر ۱۹ نېټه، د لغمان ولایت په علیشنګ ولسوالۍ کې، د یوې نا دولتي ادارې چې روغتیايي خدمتونه وړاندې کوي پر یوه امبولانس چې له دولت ولسوالۍ څخه یې د مهترلام ولایتي روغتون ته ناروغ لېږدوه، ډزې وکړې. د دغې پېښې په پایله کې، په امبولانس کې د ننه یوه پنځه کلنه ښځینه ناروغه ووژل شوه او یوه ښځه ژوبله شوه. د مۍ پر ۱۶ نېټه د خوست په مرکز کې، تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د عامې روغتیا د ریاست د مرستیال موټر په نښه کړ، چې مرستیال او د هغه ساتونکی یې ټپیان کړل. کله چې پولیس د مرستې لپاره سیمې ته راغلل، د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو بله پېښه رامنځ ته شوه چې درې پولیس او یو بل ملکي سړی یې ټپیان کړل.[130]

په ۲۰۲۰ کال کې، ۲۹ داسې پېښې مستند کړي کومو چې په افغانستان د قضايي قوې غړي لکه قاضیان او نور ملکیان چې د محکمو او عامه څارنوالیو لپاره کار کوي، په نښه کړي چې د ۴۴ ملکي تلفاتو (۲۷ مړه او ۱۷ ټپیان) لامل شوي. د مثال په ډول د جون پر ۲۲ نېټه په کابل ښار کې، پر موټر سایکل سپرو وسله والو کسانو پر هغه کرولا ډولې موټر ډزې وکړې چې د بګرام توقیف ځای د قضايي او عدلي مرکزي کارمندان یې لېږدول. د دغو ډزو په پایله کې، د موټر ټوله ۵ واړه سپرلۍ ووژل شوه. د دولت ضد عناصرو هیڅ یوه لوري د دغه برید مسوولیت پر غاړه وانخیست. د ۲۰۲۰ کال د مۍ پر ۱۰ نېټه په یوه بله پېښه کې په کندهار ښار کې، پر موټر سایکل سپرو دوه طالبانو پر یوه څارنوال ډزې وکړې او هغه یې ژوبل کړ. طالبانو د دغه برید مسوولیت پر غاړه واخیست او په ډاګه یې کړه چې هغوي څارنوال د دوښمن په کرښو کې د هغه د منصب له امله ملکي نه ګڼي.[131]

په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا ۲۲ داسې بریدونه مستند کړي چې د مدني ټولنې فعالین، او د بشري حقونو مدافعین یې په نښه کړي چې له امله یې ۱۸ ملکي وګړي وژل شوي، اووه ټپي شوي او ۱۳ تښتول شوي. یوناما د سپتمبر پر ۱۲ نېټه د افغانستان د سولې د مذاکراتو له پیل راهیسې په دغه ډول پېښو کې د سخت زیاتوالي او د بشري حقونو پر مدافعینو د ناوړه اغیز په اړه په ځانګړي ډول اندېښمنه ده.[132] د جون پر ۲۷ نېټه په کابل ښار کې په یوه قضیه کې، تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون دوه کارمندان فاطمه "نتاشه" خلیل، د ډونر د اړیکو افسره، او جاوید فولاد، د کمیسیون موټر چلوونکی ووژل. هیڅ یوې ډلې د برید مسوولیت پر غاړه وانخیست.[133] دولت د ژوندانه د حق د ساتلو اصلي مسوول دی او د هغه د خوندي کولو لپاره باید ګامونه پورته کړي، له ټولنې سره د تعامل په ګډون تر څو ګواښونه په ګوته کړي او د اخطار د نښو نښانو په اړه ګامونه پورته کړي. دولت باید همدارنګه د پېښو بشپړې څېړنې

[129] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د هغو بریدونو له امله چې په عمدي ډول یې ملکیان په نښه کړي په ۲۰۱۹ کال کې د ۲۲۵ ملکي تلفاتو (۴۵ مړه او ۱۸۰ ټپیان) په پرتله، ۴۱۳ ملکي تلفات (۱۳۶ مړه او ۲۷۷ ټپیان) نامعلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي. په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما همدارنګه د دغه ډول بریدونو له امله یوه ملکي مړینه د پاکستان تحریک طالبان ډلې ته منسوب کړې.

[130] د لا زیاتو معلوماتو لپاره دریيم څپرکی، د. پر روغتیا د وسله واله جګړې اغیز، وګورئ.

[131] د ۲۰۲۰ کال د جولای پر ۲۱، یوناما ته د طالبانو لیک، له یوناما سره په دوسیه کې موجود دی.

[132] د ۲۰۲۱ کال د فبروري پر ۱۵ نېټه، یوناما په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالیستانو، او د رسنیو د کارمندانو د وژنې په اړه یو راپور خپور کړ، کوم چې هغه پېښې هم تر پوښښ لاندې نیسي چې د ملکي وګړو د ساتنې په چوکاټ کې نه واقع کېږي، چې د یوناما د ناتوانۍ له امله له جګړې سره د هغوي تړاو نه شوای معلومیدای.

[133] د لا زیاتو معلوماتو لپاره د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې د ۲۰۲۰ کال شپږ میاشتنی راپور وګورئ.



*د نومبر پر ۲ نېټه په کابل کې د کابل پوهنتون د پر محصلينو د وسله والو کسانو تر بېزو وروسته د يوې لوست خونې حال. د عراق او شام د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې د برید مسوولیت پر غاړه اخيستی. انځور رحمت ګل.*

ترسره کړي. په دې برخه کې، د مدني ټولنې د مدافعې په تعقیب، يوناما د دې واقعيت هرکلي کوي چې دولت د ۲۰۲۰ کال د دسمبر پر ۱ نېټه د بشري حقونو د مدافعينو د ساتنې لپاره يو ګډ کميسيون تاسيس کړ.[134]

يوناما پر ژورناليستانو او رسنيو کارمندانو د جګړې اړوند ۱۵ بريدونه مستند کړي چې شپږ يې وژلي او اته نور يې ټپي، او د دې لامل شوي چې افغانستان د ژورناليزم د چارو د مخ ته وړلو لپاره د نړۍ يو تر ټولو خطرناک هیواد وګڼل شي. يوناما د سپتمبر پر ۱۲ نېټه د افغانستان د سولې د مذاکراتو له پيل راهيسې په دغه ډول پېښو کې د سخت زياتوالي اړوند په ځانګړي ډول اندېښمنه ده، کومو چې په ټول افغانستان کې پر ژورنالیستانو ناوړه اغيزې درلودې.[135]د مثال په ډول د نومبر پر ۱۲ نېټه د هلمند ولايت په لښکرګاه ښار کې، د الياس داعي په نامه خبريال د هغه په موټر په نښل شويو چاودېدونکو توکو په چاودنه کې ووژل شو. درې نور ملکي وګړي چې په عين موټر کې سپاره وو، ووژل شول. هيڅ يوې ډلې د دغې پېښې مسووليت نه دی اخيستی. د دسمبر پر ۱۰ نېټه د ننګرهار ولايت په جلال اباد ښار کې، په رکشا کې سپرو دوه وسله والو د ملاله ميوند په نامه يوه خبرياله او د هغې موټر چلوونکی داسې مهال ووژل کله چې خپل دفتر ته پر لار وو. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې د دغې پېښې مسووليت پر غاړه واخيست.

يوناما د جګړې اړوند ۲۱ داسې پېښې مستند کړي چې د ماين پاکانو په ګډون يې د نادولتي اداره کارمندان په نښه کړي او د اوو ملکي تلفاتو (شپږ مړه او يو ټپي) لامل شوي. په دې کې د ۴۲ ملکيانو د تښتونې ۱۶ پېښې هم شاملې دي. د مثال په ډول د اګست پر ۶ نېټه د مزار – حيراتان پر لويه لار د بلخ ولايت په شورتپه ولسوالۍ کې، طالبانو د ماين پاکانو يو کاروان ودراوه. يوه موټر چلونکي د تېښتې هڅه وکړه خو طالبانو پرې ډزې وکړې او پر پښه يې ټپي کړ. طالبانو بل موټر چلوونکي وتښتاوه او د ماين پاکۍ د موسسې موټر يې له ځان سره يوړ. تښتول شوی شخص له کوم زيان پرته د اګست پر ۱۲ نېټه بېرته خوشې شو.

يوناما همدارنګه د دولت ضد عناصرو له خوا ترسره شوي ۲۵ بريدونه مستند کړي چې تعليمي مرکزونه، اړوند کارمندان يې په نښه کړي، يا يې په عمدي ډول هغه ملکيان په نښه کړي چې په تعليمي مرکزونو کې وو. دغه بريدونه د ۱۹۴ ملکي تلفاتو (۶۳ مړه او ۱۳۱ ټپيان) لامل شوي. د دوه اونيو په موده کې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولايت ډلې د دوه بريدونو مسووليت پر غاړه واخيست چې په کابل کې يې تعليمي مرکزونه په نښه کړي وو. د اکتوبر پر ۲۴ نېټه په کابل کې په لومړي بريد کې، د نوموړې ډلې يوه ځانمرګي بريدګر د کانکور امادګۍ

---

[134] راتلونکې ويب پاڼه وګورئ: https://aop.gov.af/en/news_details/705

[135] د ۲۰۲۱ کال د فبروري پر ۱۵ نېټه، يوناما په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعينو، ژورناليستانو، او د رسنيو د کارمندانو د وژنې په اړه يو راپور خپور کړ، کوم چې هغه پېښې هم تر پوښښ لاندې نيسي چې د ملکي وګړو د ساتنې په چوکاټ کې نه واقع کېږي، چې د يوناما د ناتوانۍ له امله له جګړې سره د هغوی تړاو نه شوای معلومیدای.

یوه تعلیمي مرکز ته ځیرمه په ځان پوري تړلي چاودېدونکي توکي وچول، چې له امله یې ۴۰ ملکیان ووژل شول او ۷۹ نور یې ټپیان شول، چې زیاتره یې د تعلیمي مرکز هزاره توکمه زده کوونکي وو. بیا د نومبر پر ۲ نېټه د نوموړې ډلې وسله وال په کابل کې د کابل پوهنتون ته داخل شول او په ډزو او لاسي بمونو یې ۱۹ ملکیان ووژل او ۵۲ نور یې ټپي کړل. سربېره پر دې، په سلګونو محصلین د پوهنتون له محوطې څخه د دې ویرې له امله چې هدف ګرځېدلي، وتښتېدل. د دسمبر پر ۳۱ نېټه، د افغانستان د اسلامي جمهوریت سترې محکمې په ډاګه کړه چې دوی د کابل پر پوهنتون د برید طرح کوونکي او پلانونکی د مرګ په سزا محکوم کړی.[136] یوې ښځینه محصلې د دغې برید په اړه یوناما ته د لومړي لاس معلومات په دې ډول وړاندې کړل:

*"موږ په ټولګي کې ناست وو او د اسلامي ثقافت په زده کړه لګیا وو چې ناڅاپه یوه محصل چیغه کړه چې بریدګر په دهلېز کې دي. ما ټکان وخوړ [....]. نه پوهېدم چې څه وکړم. خو دومره پوه شوم چې ځینې ټولګیوال مې کړکۍ ماتوي او ځان له دوهم پوړ څخه لاندې غورځوي. زه په دې پوه شوم چې بریدګر ډېر را ته نږدې شوي [....] نو ما هم همداسې وکړل. کله چې پر ځمکه ولګېدم، په پښو او ملا کې مې د سخت درد احساس وکړ او نږدې وو چې ضعف وکړم. خو په دې پوه شوم چې بریدګر لا وار د مخه په ټولګي کې دي او پر موږ ډزې کوي. [...] د سیمي هڅۍ والو او نږدې اوسېدونکیو د دیوال پر سر د اغزن سیمې په پرې کولو او له دیوال څخه په اوښتلو کې له موږ سره مرسته وکړه [...] زما کورنۍ زه یوه شخصي روغتون ته یوړم او هلته درې ورځې تر درملنه لاندې وم [...] زه زما په ملا او پښو کې د درد له امله لا تر اوسه نه شم ګرځېدای. اوس مې هم په یاد دي چې بریدګرو زما پر ټولګیوالو ډزې کولې او هغوی به پر ځمکه لوېدل."[137]*

د ۲۰۲۰ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما ۱۹ داسې پېښې مستند کړې په کومو کې چې د دولت ضد عناصرو له خوا خلک او عبادتځایونو په نښه شوي او ۱۱۵ ملکي تلفات (۶۰ مړه او ۵۵ ټپیان) یې رامنځ ته کړي. د مثال په ډول د مۍ پر ۱۹ نېټه د پروان ولایت په چاریکارو ښار کې د روژه ماتي پرمهال وسله والو د خواجه خیل پر جومات برید وکړ. دغه برید د ۱۱ ملکي سړیو د وژل کېدو او د شپږو نورو (څلور سړي او دوه هلکان) د ټپي کېدو لامل شو. هیڅ یوې ډلې د برید مسوولیت پر غاړه وانخیست.

په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د دولت ضد عناصرو ۳۹ عمدي بریدونه مستند کړي چې عامه ودانۍ لکه کورونه، ښوونځي، ملکي زیربناوې لکه سړکونه، پلونه، مخابراتي پایې او د برېښنا پایې یې په نښه کړي. د مثال په ډول د جنوري پر ۵ نېټه د جوزجان ولایت په درزاب ولسوالۍ کې طالبانو د یوې مخابراتي شبکې پایې ته اور ورته کړ. د فبروري پر ۱۰ نېټه د بادغیس ولایت په مقر ولسوالۍ کې د چاودېدونکو توکو په وسیله د برېښنا پایه ویجاړه کړه، چې له امله یې د دوه اونیو لپاره اوسېدونکي له برېښنا بې برخې وو. یوناما دغه راز په کونړ ولایت کې د ۲۰۲۰ کال د جنوري او مارچ میاشتو ترمنځ موده کې، شپږ پېښې مستند کړي چې طالبانو په کې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې اړوند جنګیالو کورونو ته اور اچولي.

یوناما همدارنګه په ۲۰۲۰ کال کې ۷۲ داسې بریدونه مستند کړي په کومو کې چې دولت ضد عناصرو په عمدي ډول د دولت د ملکي ادارو کارمندان یا ودانۍ په نښه کړي. دغه بریدونه د ۴۷۸ ملکي تلفاتو (۱۱۹ مړه او ۳۵۹ ټپیان) لامل شوي، چې د تېر کال په پرتله د دولت د ملکي چاراوکو د مرګ ژوبلې په شمېر کې د اندېښنې وړ ۲۵ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. د مثال په ډول د دسمبر پر ۲۰ نېټه په کابل ښار کې، یوه ځانمرګي موټر بم د ولسي جرګې د یوه غړي د موټرو کاروان په نښه کړ، چې ۱۰ ملکي وګړي یې ووژل او د ولسي جرګې د غړي په ګډون یې ۴۴ نور ټپیان کړل.

**پر مذهبي لږکیو د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې بریدونه**

یوناما په ۲۰۲۰ کال کې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا پر مذهبي لږکیو د بریدونو په اړه سخته اندېښنمنه ده. یوناما د نوموړې ډلې له خوا دغه ډول بریدونه د ۲۰۱۶ کال راهیسې مستند کړي.[138]

په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما لس پېښې چې د ۳۰۸ ملکي تلفاتو (۱۱۲ مړه او ۱۹۶ ټپیان) رامنځ ته کړي او شیعه مذهبه لږکي یې په نښه کړي چې زیاتره یې هزاره توکمه دي، مستند کړي. یوناما همدارنګه هغه بریدونه مستنده کړي چې سیک مذهبه او صوفي مذهبه مذهبي لږکي یې په نښه کړي. د مثال په ډول د ۲۰۲۰ کال د مارچ پر ۶ نېټه، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د راکېټونو د ویشتلو د سپکو وسلو په مټ ۳۳ تنه ملکي کسان ووژل او ۷۹ تنه نور یې ټپیان کړل. برید کوونکیو د شیعه مسلمان مذهبي لږکې او هزاره توکم یوه ستره غونډه هغه مهال تر برید لاندې ونیوله چې د حزب وحدت سیاسي ګوند د پخوانی مشر عبدالعلی مزاری د مړینې په یاد غونډه کې را ټول شوي وو. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د دغې برید مسوولیت پر غاړه واخیست. د مارچ میاشتې پر ۲۵ نېټه په کابل ښار کې بریدګر له

[136] راتلونکې انټرنېټ پاڼه وګورئ: https://fb.watch/2NbTZJXmWb/

[137] له قرباني سره د یوناما ټیلفوني مرکه، ۲ دسمبر ۲۰۲۰.

[138] د لا زیاتو معلوماتو لپاره د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې د ۲۰۱۷ کال د کلني راپور ۴۱-۴۲ مخونه (۲۰۱۸ فبرور)؛ او همدارنګه پر عبادت ځایونو، مذهبي مشرانو او عبادت کوونکو د بریدونو په اړه د یوناما ځانګړی راپور (نومبر ۲۰۱۷) وګورئ.

سپکو وسلو او لاسي بمونو سره د سیکانو یوه عبادت ځای ته ور ننوتل چیرې چې د ښځو، نارینه وو او ماشومانو په ګډون یو زیات شمېر سیکان د خپلو ډله ییزو مذهبي مراسمو په لمانځلو بوخت وو. بریدګرو ۲۶ ملکي وګړي ووژل او ۱۱ نور يې ټپيان کړل. په بله ورځ د می میاشتې پر ۲۶ نېټه، د سیکانو د مړیو د سوځولو مراسمو ته څیرمه چې د تېر برید د قربانیانو لپاره چمتو شوي وو ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي وچاودېدل چې یو ملکي وګړی يې ټپي کړ. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د دوارو پېښو مسوولیت په غاړه واخیست. د دسمبر میاشتې پر ۳ نېټه د ننګرهار ولایت په جلال آباد ښار کې یو صوفي (تصوف) منتقد د نوموړې ډلې له خوا د خپلو مذهبي عقاېدو لپاره ووژل شو.

هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي په نښه کوي د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونه ګڼل کېږي او ښايي جنګي جرمونه وګڼل شي.[139] سربېره پر دې، کله چې د یوه ځانګړي ملکي توکم یا ټولنې په وړاندې د سیستماتیک برید د یوې برخې یا پراخې برخې په ډول ترسره شي، دا ډول کړنې ښايي دغه راز د بشریت په ضد جرمونه تشکیل کړي.[140]په ځانګړي ډول کله چې د تشخیص وړ ډلې لکه شیعه مذهبه لړکیو د مذهبي یا نورو پېژند شویو لاملونو په اساس ترسره شي، دغه دغه ډول بریدونه ښايي همدارنګه د ظلم او ځور جرمونه تشکیل کړي.[141]

پر مذهبي لږکیو بریدونه د افرادو پر دې حقونو چې خپل افکار، نظريې او عقاید څرګند کړي او په ازاد ډول او له ویرې پرته په عبادت ځایونو، یاد غونډو، تعلیمي او ټولنیزو غونډو په ګډون، خپل کلتوري او مذهبي عنعنات ترسره کړي، ناوړه اغېز کوي.

یوناما ځل بیا دولت ته بیا د هغه مکلفیت یادونه کوي، چې د مذهبي مراسمو د لمانځلو پر مهال د مذهبي او قومي لږکیو په ګډون، د ټولو لږکیو امنیت او خوندیتوب یقیني کړي. دولت همدارنګه باید د ټولو اشخاصو، په ځانګړي ډول د لږکیو، حق خوندي کړي، څو وکولی شي د تعالیمو، کړنو، عبادت، او نمانځنو له لارې په سوله ییز ډول د خپل دین یا عقیدې د لمانځلو لپاره سره راټول شي. دولت همدارنګه مکلف دی څو یقیني کړي د قومي، نژادي یا مذهبي کرکې خپرول، چې تبعیض، دوښمني یا تاوتریخوالی راپاروي نه یوازې دا چې د قانون له خوا منع شوی، بلکې قانون يې هم انفاذ شوی.[142]

## د ۲۰۲۰ کال په وروستیو میاشتو نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو پېښې او هدفي وژنې

په ۲۰۲۰ کال کې یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا چاودېدونکو توکو په پېښو او هدفي وژنو کې زیاتوالی مستند کړي چې مسوولیت يې د کوم لوري له خوا نه دی اخیستل شوی او نه شي کېدای چې طالبانو یا د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب شي، او طالبانو په یو شمېر دغه ډول پېښو کې له لاس لرلو انکار کړی. یوناما د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر میاشتې په ۱۲ د د افغانستان د سولې مذاکراتو له پیلېدو وروسته چې د کال تر پایه يې دوام درلود، د دغه ډول پېښو له کبله د ملکیانو په مرګ ژوبله کې ځانګړی زیاتوالی مستند کړی.[143]

د اکتوبر پر ۱۸ نېټه، د غور ولایت په چغچران[144] ښار کې له چاودېدونکو توکو ډک یو موټر بم د افغان ملي پولیسو قوماندانۍ ته څېرمه چاودنه وکړه چې ۱۵ ملکي وګړي يې ووژل او ۱۷۳ نور (۱۲۵ سړي، ۳۳ هلکان، نهه نجونې او شپږ ښځې) يې ټپيان کړل، چې په ۲۰۲۰

[139] دریمه مشترکه ماده، ۲ الحاقي پروتوکول، ۴ (۲) او ۱۳ (۲) مادې، د روم د اساسامې ۸ (۲) (c) او ۸ (۲) (e) (i) مادې، د ICRC عرفي نړیوال بشردوستانه قانون د مطالعاتو ۱، ۶، ۸۹، ۱۵ قواعد.

[140] د مثال په ډول، د بشریت په وړاندې په جرمونو کې لکه څنګه چې د روم اساسنامې په ۷ ماده کې تعریف شوي، د نورو شیانو تر څنګ د وژنې کړنې شاملې دي، کله چې د پراخې کچې د یوې برخې په څېر یا په سیستماتیک برید کې هر ولسي وګړي په نښه شوی وي، د برید په اړه د پوهې سره سره.

[141] د بېلګې په توګه د سیاسي او مدني حقوقو د نړیوال کنوانسیون (۱۹۶۶) ۱۸ او ۲۷ مادې او همدارنګه په ۲۷ ماده د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د کمېټې د عمومی تبصره ۲۳ ګڼه وګورئ.

[142] د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال کنوانسیون، ۲۰ ماده.

[143] د اکتوبر له ۱ نه د ډیسیمبر د ۳۱ پورې، یوناما نامعلومو دولت ضد عناصرو ته ۳۹۳ ملکي تلفات(۷۴ مړه او ۳۱۹ ټپیان) ته منسوب کړي چې نا معلومو دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو ټولو تلفاتو ۴۸ سلنه جوړوي. د افغانستان د سولې مذاکراتو تر پیل وروسته د بشري حقونو پر مدافعینو، ژورنالیستانو د بریدونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره د یوناما ځانګړی راپور وګورئ، چې د ۲۰۲۱ کال د فبروري پر ۱۵ نېټه خپور شو.

[144] همدارنګه د فیروز کوه ښار په نامه هم پېژندل کېږي.



د اکتوبر پر ۱۸ نېټه، د غور ولایت په چغچران ښار کې له چاودېدونکو توکو ډک یو موټر بم د افغان ملي پولیسو قوماندانۍ ته څېرمه چاودنه وکړه چې ۱۵ ملکي وګړي یې ووژل او ۱۷۳ نور (۱۲۵ سړي، ۳۳ هلکان، نهه نجونې او شپږ ښځې) یې ټپیان کړل، چې په ۲۰۲۰ کال کې یوازینۍ هغه پېښه ګڼل کېږي چې تر ټولو ډېر ملکي تلفات یې اړولي. هیڅ ډلې د دغه برید مسوولیت پر غاړه نه دی اخیستی.
انځور: منصور خسرو

کال کې یوازینۍ هغه پېښه ګڼل کېږي چې تر ټولو ډېر ملکي تلفات یې اړولي. د ۲۰۲۰ کال د نومبر پر ۲۴ نېټه شا و خوا ۱۶:۴۰ د بامیان ښار په مرکز کې دوه ریموټي بمونه د بامیان د بازار په ساحه کې په دوو مختلفو موقعیتونو کې د دوه دقیقو په توپیر په پر له پسې ډول وچاودېدل چې ۱۸ ملکیان (۱ نجلۍ، ۱ هلک او ۱۶ سړي) ووژل او ۶۰ نور (۱ نجلۍ، ۱ هلک، ۵ ښځې او ۵۳ سړي) یې ټپیان کړل.[145] طالبانو د خپلې ټویټر پاڼې له لارې په دغې پېښې کې لاس لرل رد کړي.[146] د دسمبر پر ۲۰ نېټه، یو ځانمرګي موټر بم د ښاغلي خان محمد د ولسي جرګې غړي او سوداګر چاودنه وکړه. په دغې پېښه کې ۱۰ ملکیان (۱ نجلۍ، ۲ هلکان، ۴ سړي، ۳ نارینه چې عمرونه یې نامعلوم دي) ووژل شوي او د ښاغلي خان محمد په ګډون ۴۴ نور (۶ هلکان، ۴ نجونې، ۳ ښځې، ۳۱ سړي) ژوبل شول.

یوناما همدارنګه د ۲۰۲۰ کال په پای کې د پارلمان د غړو، د عدلي او قضايي اداروکارکوونکو، خبریالانو او نورو ملکي وګړیو په ترورونو او نورو هدفي بریدونو په شمېر کې اندېښمنوونکی زیاتوالی مستند کړی. د ځینو دغو پېښو په هکله یوناما د دغه راپور تر خپرولو پورې په دې و نه توانېده چې نوموړي پېښې طالبانو او یا د داعش د خراسان څانګې ته منسوبې کړي، او په دې ترتیب یې تلفات نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

د بېلګې په توګه یوه پېښه چې د دولت نا معلومو عناصرو ته منسوب شوې ده د ۲۰۲۰ کال د ډسېمبر میاشتې پر ۱۳ نېټه د ۰۸:۲۰ بجو شاوخوا د کابل ښار د اتمې ناحیې په کارتهٔ نو سیمې کې را منځ ته شوه چې نا پېژاندو وسله واله یو څارنوال داسې مهال په ډزو وواژه چې خپل دفتر ته پر لار و. په همدې ورځ د کابل ښار په ۱۶ ناحیه کې د پارلمان د یوه غړي په موټر پورې نښلول شوي چاودېدونکې توکي وچاودېدل چې په ترڅ کې یې دوه تنه ملکي وګړي ووژل شول او دوه نور ټپیان شول چې ټول د پارلمان د غړي همکاران او خپلوان وو. د ډسېمبر میاشتې پر ۲۱ نېټه د غزني ولایت په غزني ښار کې دوو موټر سایکل سپرو په غزني کې د خبریالانو د ټولنې مشر په داسې حال کې په ډزو وواژه چې د ماښام لمانځه لپاره جومات ته روان و. دواړو د افغان دولت د کورنیو چارو وزارت او د طالبانو ویاندیانو پېښه وغندله.[147]

[145] له کوم وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک ډول مستندونه پیل کړي، دغې پېښې تر ټولو زیات ملکي تلفات اړولي.
[146] راتلونکې انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1331301370725605379?s=20
[147] https://twitter.com/TariqArian3/status/1341028881101406210?s=20
https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1341060651830095878?s=20

یو شمېر نورې پېښې هم وې چې یوناما د هغې د معمول میتودولوژۍ له مخې په پېښه کې د کومې وسله والې ډلې د لاس لرلو په هکله کومې خاصې نتیجې ته د رسېدو وړ نه وه، او دغې پېښې په دې راپور کې نه دي شامل کړای شوي.

یوناما له هغو دولت ضد عناصرو چې د دغو بریدونو مسوول دي غوښتنه کوي چې د ملکي وګړو په نښه کول ودروي او د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو بې توپیره کارونه پای ته ورسوي او هغوي ته د دې یادونه کوي چې دغه دواړو د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې دي او ښایي په جنګي جرمونو کې وشمېرل شي.

همدارنګه یوناما له افغان دولت څخه بیا غوښتنه کوي چې د دا ډول پېښو په وړاندې د ملکي وګړو ساتنه بهتره کړي او د ملکي وګړو د تلفاتو د پېښو بشپړې څېړنې ترسره کړي.

### درېیم: د جګړې اړوند د ملکي وګړو تښتونې

دولت ضد عناصرو په ځانګړي ډول طالبانو، په ۲۰۲۰ کال کې د تېر کال په ورته کچه د ملکي وګړو تښتونې جاري ساتلي چې له ازادۍ څخه د ملکي وګړو د محرومیت او د هغوي د مرګ ژوبلې لامل شوي. په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د جګړې اړوند ۱۰۸۶ تښتونې مستند کړي چې ۹۹ سلنه یې طالبانو ته منسوب کړي.[148] د دغو تښتونو له امله رامنځ ته شوی زیات جسمي زیان د ځانګړې اندېښنې وړ دی، چې د ۱۱۳ ملکي تلفاتو (۷۷ مړه او ۳۶ ټپیان) لامل شوي، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله د تښتونو له امله تلفات دوه برابره لوړ شوي.[149] په ۲۰۲۰ کال کې، په تښتول شویو ملکیانو کې د نادولتي ادارو پرسونل، ماین پاکان، روغتیایي کارمندان او هغه ملکیان شامل دي چې د افغان دولت لپاره کار کوي، زیاتره کله چې هغوي په عامه سړکونو سفر کاوه او د طالبانو د چک پواینټونو له خوا درول شوي. د مثال په ډول د ۲۰۲۰ کال د سپټمبر پر ۵ نېټه، د ولسوالۍ یو قاضي او د هغه مامور د طالبانو له خوا د خوست ولایت، تنیو ولسوالۍ په دیر مالیکا سیمه کې هغه مهال وتښتول شول کله چې هغه د ولسوالۍ اداري مرکز ته پر لار وو. هغوي د افغان ملي امنیتي ځواکونو د عملیاتو په ترڅ کې راخوشې کړای شول. د قاضي ښه د پېښې له امله ټپي شوې وه. طالبانو د دغې پېښې مسوولیت پر غاړه اخیستی.[150]

ځینې ملکیان د دې له امله تښتول شوي وو چې د مشخصو کړنو لپاره مجازات یا د هغوي له ترسره کولو منع شي لکه د طالبانو پر ضد د مهمو لاریونو ترسره کول، چې دغه کار د ملکي وګړو د بیان پر آزادۍ د محدودیتونو د رامنځ ته کولو لامل شوي. د بېلګې په توګه، د مې د میاشتې په ۱۷ نېټه د فاریاب ولایت په شیرین تګاب ولسوالۍ کې د دیني عالمانو او قومي مشرانو په ګډون ۱۱ ملکي نارینه هغه مهال د طالبانو له خوا وتښتول شول کله چې هغوي د ځایي طالبانو په ضد یې په یوه سوله ییز لاریون کې ګډون. ټول تښتول شوي کسان له څو ورځو وروسته را خوشې شول چې دوه یې د طالبانو د بد چلند له کبله ټپیان شوي وو.

طالبانو همدارنګه د ادارو ملکي کارکوونکي په دې موخه تښتولي چې نومورې ادارې تر خپل اثر لاندې راولي تر څو نومورې ادارې د دوی غوښتنې او شرطونه ومني. د مثال په ډول، د جولای میاشتې پر ۱۷ نېټه طالبانو د ننګرهار ولایت په حصارک ولسوالۍ کې د یوې غیر دولتي روغتیایي ادارې درې تنه کارکوونکي وتښتول. طالبانو په ډاګه کړه چې دوي د نومورې روغتیایي ادارې کارکوونکي له دې کبله بندیان کړي چې له نومورې ادارې سره یې یو لړ ستونزې درلودې.[151] د جولای په میاشت کې طالبان دوه ځله په بامیان کې د یوه ساختماني شرکت ودانۍ ته ننوتل او یو ساتونکی او یو انجنیر یې په دې موخه و تښتولو څو شرکت طالبانو ته د مالیې ورکولو لپاره اړباسي. دواړه ځله تښتول شوي کسان له تښتولو یوه ورځ وروسته بېرته خوشې کړای شوي.

یوناما همدارنګه د وسله والو ډلو/عناصرو او جنایتکاره ګروپونو له خوا په سترو ښارونو لکه کابل کې په دوامداره توګه تښتونې ملاحظه کړي کومې چې کمې راپور کېږي. سره له دې چې یوناما د تښتونو هغه پېښې چې د جنګي ډلو له خوا نه وي تر سره شوې په دوامداره توګه نه مستند کوي خو بیا هم د ورته پېښو او د هغو تښتونو په هکله چې په هغو کې د غیر دولتي ادارو او ملګرو ملتونو کارکوونکي په نښه شوي وي مالومات تر لاسه کوي.

په مشخصو شرایطو په تېره بیا په هغو کې چې دریم ګړی لوری د یوه کار ترسره کولو ته یا له هغه منع ته اړ ایستل شي، د ملکي وګړیو تښتونه ښایي د برمته کولو شکل غوره کړي چې ښایي جنګي جنایت او د جنیوا د هوکړې د دریمې مشترکې مادې څخه سرغړونه و بلل شي. د بشري

---

[148] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ۱۰۷۷ ملکیانو تښتونې طالبانوته منسوب کړي، څلور ملکیان د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا او پنځه هغه د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا ترسره شوي.

[149] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ۱۰۰۶ ملکیانو له تښتونو څخه ۵۵ ملکي تلفات (۵۰ مړه او پنځه ټپیان) مستند کړي.

[150] یوناما ته د طالبانو د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر د ۲۵ نېټې مکتوب، د یوناما د بشري حقوقو له څانګې سره په دوسیه کې موجود دی.

[151] د یوناما د بشري حقوقو له څانګې سره د یوې قضیې په هکله د یوناما دفتر ته د طالبانو د ۲۰۲۰ زېږدیز کال د اکتوبر میاشتې د ۲۵ نېټې لیک

حقونو نړیوال قانون هم د دغو دلایلو له مخې تښتونې منع کوي او دا کړنې له آزادۍ څخه د خپل سري محرومیت سبب ګرځي. پر دې سربېره، د ملکي وګړیو د تګ راتګ ازادي او د ولایتونو او ښارونو تر منځ سوداګري د تښتونو او د هغوي د وېرې له کبله سخت زیانمن کېږي ځکه چې د تښتونې ډېری پېښې د لویو لارو او سړکونو په اوږدو کې د تګ راتګ په مهال پېښېږي او د تجارت په مهمو لارو بده اغېزه کوي او د هغو ملکي وګړو چې مشخصو ځایونو ته تګ راتګ کوي وېره خپروي.

## څلورم: ظالمانه، نا انساني او له سپکاوي ډکې سزاګانې او له ژوندانه څخه خپل سری محرومیت

د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ نېټې څخه د ډسیمبر تر ۳۱ نېټې پورې، یوناما د طالبانو د موازي عدلي جوړښت له خوا ظالمانه، نا انساني او له سپکاوي ډکو سزاګانو شپږ پېښې مستند کړې، لکه د اخلاقي یا د جنډر له نورمونو څخه سرغړونې لکه له ودګټي ژوند څخه بهر اړیکې. دغه سزاګانې د څلورو ملکي وګړو د وژنې او د دریو نورو د ژوبلې لامل شوي. په پېښو کې د دریو سړیو او یوې ښځې اعدام او د دوه ښځو او یوه سړي وهل ټکول شامل دي.

د بېلګې په توګه، د جنوري میاشتې په ۱۹ نېټه، د طالبانو له خوا له واده څخه بهر د ادعا شویو جنسي اړیکو په تور یوه مېرمن د خپلې مور د سترګو په وړاندې په لښتو او وسپنیزو کیبلونو تر وهلو او تربته کولو وروسته ووژل شوه، او د یوه نارینه ګوتې او پښې ماتې کړای شوې. د جون میاشتې په ۲۶ نېټه په فاریاب ولایت کې، دوه تنه نارینه د سلګونو خلکو چې ماشومان هم پکې وو په عام محضر کې د ادعا شویو جرمونو د سزا په ځیر اعدام کړای شول، چې د طالبانو د موازي عدلي جوړښت له "قضاوت" څخه رامنځ ته شوې وه. دا کار د طالبانو د موازي عدلي سیستم له خوا د عدالت د تطبیق په موخه د یوه جرم د سزا په توګه تر سره شول.[152]

هغه سزاګانې چې د دولت ضد عناصرو له خوا جاري کېږي، د افغانستان د قوانیو له مخې جنايي کړنې دي او له بشري حقوقو سرغړونې او پر هغوي تېری ګڼل کېږي. په دې سربېره، سختې سزاګانې لکه اعدامونه، د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه سرغړونه ده او ښايي جنګي جرمونه وګڼل شي.[153] په عام محضر کې اعدامونه یو غیر انسانی عمل دی او د هغو خلکو چې د اعدام سزا ور اورول کېږي او د هغو کسانو چې د دې عمل لېدنه کوي په خاص ډول د ماشومانو د روحی ناروغیو د زیاتېدو سبب ګرځي.[154] یوناما له دولت ضد عناصرو څخه په کلکه غوښتنه کوي چې ژر تر ژره د خلکو په وړاندې د ظالمانه، نا انساني، له سپکاوي ډک چلند او یا سزاګانو جاري کول ودروي.

## پنځم: له خطر سره د ملکي خلکو مخ کول: د نظامي موخو لپاره د ملکي کورنو او نورو جوړښتونو کارول او د خطرناکو او د تحریک کوونکو کړنو پیلول

د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې، یوناما په پر له پسې توګه داسې پېښې مستند کړې چې د دولت ضد عناصرو په تېره بیا طالبانو د ملکي وګړو ژوند له خطر سره مخ کړی. دا کار په خاص ډول په زوره د نظامي موخو لپاره د کورنو او نورو ملکي تاسیساتو د کارولو او له ملکي خلکو د مرستې غوښتل او د هغوي د تحریک او هڅولو په مټ هغوي د دولت پلوه ځواکونو د برید له خطر سره د مخ کولو له لارې رامنځ ته شوی.

یوناما د ملکي خلکو په منځ کې د طالبانو د پټېدلو زیات شمېر پېښې تایید کړې لکه د نظامي موخو لپاره د هستوګنیزو کورونو کارول. په مثالونو کې د طالبانو له خوا د کورونو د داسې موقعیتونو په ځیر کارول شامل دي له کوم ځایه هغوي عملیات تنظیم کړي او بریدونو پې ترسره کړې، او د داسې ځایونو په ځیر په کومو کې چې هغوي له دولت پلوه ځواکونو سره د نښتو پر مهال پناه اخیستې. د بېلګې په توګه د فبروری پر ۷ نېټه د بلخ ولایت په چهاربولک ولسوالۍ افغان امنیتي ځواکونو د هغو طالبانو په نښه کولو لپاره چې په ملکي میشت ځایونو کې پټ شوي وو د غیر مستقیمو وسلو له سیستمونو کار واخیست. د غیر مستقیمو وسلو مرمۍ پر یوه کور ولګېده چې له امله یې دوه نجونې، دوه هلکان او دوه نارینه ټپیان شول او کور یې زیانمن شو. د سپتمبر میاشتې پر ۲۶ نېټه د ارزګان ولایت په ګیزاب ولسوالۍ کې په یوه کور کې د دولتي ځواکونو د هاوان مرمۍ د پریوتو له امله یوه مېرمن سخته ټپي شوه. تر پېښې څو شیبې وړاندې، طالبان نوموړي کور ته په زور ور ننوتي وو. خلکو هڅه کوله چې خپل ارزښتمن توکي له ځان سره واخلي او وتښتي خو د هاوان ګولۍ ولګېده او پېښه یې را منځ ته کړه. د اکتوبر میاشتې پر ۱۹ نېټه د

[152] د دې پېښې په هکله نور مالومات د یوناما د ۲۰۲۰ کال په شپږ میاشتني راپور کې چې د ۲۰۲۰ کال د جولای په میاشت کې خپور شوی، شتون لري.

[153] د ۱۹۴۹ زېږدیز کال جنیوا د هوکړې دریمه ګډه ماده، د یوې قانوني محکمې د قضاوت او د حکم د ابلاغ څخه وړاندې چې د ټولو عدلي ضمانتونو د ورکړې وړتیا ولري او د مدني خلکو لخوا ضروري ګڼل شوي وي، د حکم صادرول او د اعدام سزا ترسره کول منع کوي، د روم اساسنامې ۸ (۲) (c) (iv) ماده.

[154] د جنیوا کنوانسیون د دریمې مشترکې (d) مادې او د همدارنګه د نړیوالې جنايي محکمې د ۱۹۸۸ کال د اساسنامې د ۸ (۲) (c) (iv) مادې په اساس د یوې قانوني محکمې د قضاوت او د حکم د ابلاغ څخه وړاندې چې د ټولو عدلي ضمانتونو د ورکړې وړتیا ولري او د مدني خلکو لخوا ضروري ګڼل شوي وي، د اعدام سزا ترسره کول په غیر نړیوالو جګړو کې جنګي جنایت بلل کېږي. پر دې سربېره د شکنجې او نا وړه او غیر انسانی او سپکوونکو کړنو او سزاګانو په هکله د ملګرو ملتونو راپور ورکوونکي د ملګروملتونو عمومي غونډې ته پخپل راپور کې څرګنده کړه چې په عام محضر کې اعدامونه د هغو خلکو چې د اعدام سزا ور اورول کېږي د روحی ناروغیو د زیاتېدو سبب ګرځي او ډېر ځله هغوی له "سپکاوي، له شرم او نفرت څخه ډک چلند " سره مخامخ کوي .(A/67/279, paras. 40 and 50)

بلخ ولایت په دولت آباد ولسوالۍ کې د طالبانو یوه ډله یوه کور ته ننوتل او د کور څښتن یې اړ ایست چې هغو ته خواړه چمتو کړي. یوه شېبه وروسته د افغان هوايي ځواک چورلکو د کور د ننه طالبانو په نښه کولو لپاره هوايي برید ترسره کړ چې د یوې ۴۵ کلنې مېرمنې د ژوبلېدو لامل شو.

طالبانو همدارنګه له ملکي خلکو سره مرسته کړې، هغوي یې پارولي یا یې اړ ایستلي څو په داسې کړنو کې برخه واخلي چې د هغوي ژوند په خطر کې اچوي. د بېلګې په توګه، د مۍ میاشتې پر ۱۱ نېټه طالبانو د بلخ ولایت په بلخ ولسوالۍ کې د ملکي خلکو یوه ډله اړ ایسته چې یو سړک وران کړي تر څو له دغې لارې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د تېرېدو مخه ونیسي. افغان هوايي ځواک د هوايي برید په ترسره کولو سره غبرګون وښود چې د ۲۲ ملکي تلفاتو (نهه مړه او ۱۳ ټپیان) لامل شو. شول. د اکتوبر میاشت په ۱۶ نېټه د هلمند ولایت په ناوه ولسوالۍ کې طالبانو کلي والو ته وویل چې د افغان امنیتي ځواکونو په یوه پرېښودل شوې هډه کې د ځان لپاره زرې وسپنې او نور ارزښتمن شیان وګوري. په دې ترځ کې افغان امنیتي ځواکونو پر نوموړي مرکز هاوان ګذار کړ چې په هډه کې پر موجودو ملکیانو ولګید او له امله یې دوه هلکان ووژل شول او اته نارینه ټپیان شول.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې دولت ضد عناصر دنده لري چې ملکي وګړي له خطر سره مخ نه کړي او دا ور په یادوي چې د بشرپالنې نړیوال قانون په قصدي ډول د نظامي اهدافو او ملکي وګړو یو ځای/ګډ واقع کول، په دې موخه چې نوموړي نظامي اهداف په نښه کولو مخه ونیسي، منع کوي.[155]

یوناما دولت پلوه ځواکونو ته د دې یادونه چې د جګړې د یوه لوري له خوا د بشرپالنې نړیوال قانون ته په درناوي کې پاتې راتلل (لکه نظامي اهدام او ملکي شي په یوه ځای کې واقع کول) د نړیوال قانون له مخې له خپلو مکلفیتونو څخه نه شي برائت/معاف کولی، د هغو مکلفیتونو په ګډون چې د ملکي وګړو د ساتنې لپاره ټولو احتیاطي تدابیر ترسره کړي، له جنګیالیو د ملکیانو توپیر وکړي او په برید کې د تفکیک او تناسب اصل ته درناوي کړي د دې په ګډون چې د په نښه شویو د ملکي وضعیت په اړه د استخباراتي معلوماتو د راغونډولو او د کارېدونکو وسیلو او طریقو د انتخابولو پرمهال. دا مکلفیتونه آن په هغو حالاتو کې هم له پامه نشي غورځول کېدای کله چې چې مقابل لوری د عامو خلکو تر منځ پټ وي.

---

[155] د ICRC د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون د مطالعې ۹۷ قاعده.

## پنځم: حکومت پلوه ځواکونه

***"زه لا اوس هم د هغو دردونو له امله له جسمي درد ځخه کړیږم کوم چې زموږ د کور پر انګړ د افغان ملي اردو د توپ مرمی د لګېدو له امله د زخمونو په پایله کې رامنځ ته شوی. زما کور ویجاړ شوي، کړکۍ یې ماتې شوي [...] د دې تر څنګ، موږ ډېر بې وزله یو ځو له دې سیمې وکوچیږو. [...] زما د کورنۍ ځیني غړي د پېښې له امله سخت ټپي شوي او جراحي عملیاتو ته اړتیا لري کوم چې دلته نه شي ترسره کېدای. [...] د مالي ستونزو له امله موږ نه شو کولی د درملنې لپاره پاکستان ته لاړ شو. زما د کورنۍ غړي او زه ډېر د نا امنۍ احساس کوو. [...] ښځې او ماشومان تل د سرپناه په لټه کې وي. "***

-- د ځمکنۍ نښتې پر مهال د افغان ملي اردو له خوا د غیر مستقیمې وسلې د کارونې قرباني

له قرباني سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۷ اګست ۲۰۲۰


### الف. عمومي کتنه

په ۲۰۲۰ کال کې دولت پلوه ځواکونه د ټولو ملکي تلفاتو د ۲۶ سلنه مسؤل وو. د ۲۰۲۰ کال د جنوري له لومړۍ نېټې ځخه د دسمبر تر ۳۱مې نېټې پورې، یوناما دولت پلوه ځواکونو ته ۲۲۳۱ ملکي تلفات (۸۴۱ مړه او ۱۳۹۰ ټپیان) منسوب کړي، په کومو کې چې افغان ملي امني ځواکونه، نړیوال نظامي ځواکونو او دولت پلوه وسله والې ډلې شامل دي. دا د ۲۰۱۹ کال په پرتله د ملکي تلفاتو په شمېر کې ۲۴ سلنه کموالی ښیي.[156] دولت پلوه ځواکونو ته منسوب نږدې نیمه یې ملکي مرګ ژوبله د غیر مستقیمو ډزو لکه د ځمکنیو نښتو پر مهال د توپ سرګولې او هاوانونه، چې نږدې یو پر درېیمه برخه یې د هوایي بریدونو له امله رامنځ ته شوي.[157]

د ۲۰۱۹ کال په پرتله دولت پلوه ځواکونو ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې کموالی په عمده ډول د ۲۰۲۰ کال د مارچ راهیسې او د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲۹ نېټه د تړون په تعقیب د نړیوالو نظامي ځواکونو د هوایي بریدونو له امله په ملکي مرګ ژوبله کې ناڅاپي کموالي ته د منسوب کېدو وړ دی. په ملکي تلفاتو کې دغه کموالي په جزئي ډول د افغان هوایي ځواک له خوا د هوایي بریدونو له امله د ملکي مرګ ژوبلې په شمېر کې د اندېښنې وړ ۱۱۷ زیاتوالي او د افغان ملي اردو له خوا د ځمکنیو نښتو پر مهال د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله د ملکي تلفاتو په شمېر کې د زیاتوالي له امله بېرته لوړ شوی.

**دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ملکی تلفات**


د جنوري ۱ څخه تر ۳۱ ډسمبر ۲۰۲۰-۲۰۱۶ پورې




[156] په ۲۰۱۹ کال کې یوناما ۲۹۴۰ ملکي تلفات (۱۴۷۸ مړه او ۱۴۶۲ ټپیان) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.

[157] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځمکنو نښتو پر مهال د دولت پلوه ځواکونو له خوا د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله ۱۰۸۵ ملکی تلفات (۲۹۹ مړه او ۷۸۶ ټپیان) او د دولت پلوه ځواکونو د هوايي بردیونو له امله ۶۹۳ ملکی تلفات (۳۴۱ مړه او ۳۵۲ ټپیان) مستند کړي.

**په وسله واله جګړه کې د ښکېلو ډلو لخوا د وخت په اساس ملکي تلفات**
**دولت پلوه ځواکونه**
د جنوري ۱ څخه تر ۳۱ دسمبر ۲۰۲۰ پورې




یوناما دغه راز د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ترسره شویو چاڼیزو عملیاتو له امله په ملکي تلفاتو کې ۹۴ کموالی مستند کړی، چې په عمده ډول د ملي امنیت ریاست ځانګړو ځواکونو، د خوست ژغورنې ځواک او په پکتیکا کې د "شاهین ځواکونو" ته منسوب عملیاتو په پایله کې د کم شمېر ملکي تلفاتو له امله رامنځ ته شوي.[158]

په ۲۰۲۰ کال کې افغان ملي امنیتي ځواکونه د ټولو ملکي تلفاتو د ۲۲ سلنې مسوول وو او د هرو ۱۰ ملکي تلفاتو له اتو زیات هغه یې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي؛ چې د دوی له جملې افغان ملي اردو زیاتره ملکي تلفات اړولي.[159]نړیوالو نظامي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو په ۲۰۲۰ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو یوه یوه سلنه اړولي.[160] پاتې ملکي تلفات د نا معلوم یا ګډو دولت پلوه ځواکونو له خوا رامنځ ته شوي.[161]

په ۲۰۲۰ کال کې، د دولت پلوه ځواکونو له خوا رامنځته شوي ډېری تلفات د افغانستان په شمال او شمال ختیځو سیمو کې پېښ شوي، کوم چې په کډه دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو له نیمايي زیاته برخه ورانډې کوي.[162] بلخ، فاریاب، کندز هلمند او بغلان هغه پنځه ولایتونه وو چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا په کې زیاتره ملکي تلفات رامنځته شوي، او دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ټولو ملکي تلفاتو نیمه برخه جوړوي.[163]

---

[158] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د دولت پلوه ځواکونود چاڼیزو عملیاتو له امله په ۲۰۱۹ کال کې د ۳۶۰ ملکي تلفاتو (۲۷۸ مړه او ۸۲ ټپیان) په پرتله ۲۱ ملکي تلفات (۱۹ مړه او دوه ټپیان) مستند کړي.

[159] افغان ملي اردو ته د یوناما د ملکي تلفاتو په منسوب شویو شمېر کې د افغان هوايي ځواک له خوا ترسره شوي هوايي بریدونه شامل دي. سره له دې چې د دې یادونه کوي چې په ساختاري ډول هغوي جدا ګڼل کېږي، او له پخوانیو راپورونو سره په سمون کې هغه د "افغان وسله وال ځواک" په څیر ګڼل کېږي، یوناما لا اوس هم هغه افغان ملي اردو ته راجع کوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره درېیم ضمیمه وګورئ. د جنوري له ۱ څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما ۱۹۰۶ ملکي تلفات (۶۷۴ مړه او ۱۲۳۲ ټپیان) افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب کړي کوم چې دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکی تلفاتو ۸۵ سلنه جوړوي. په ۲۰۲۰ کال کې، افغان ملي اردو ۱۵۴۷ ملکي تلفات (۵۴۷ مړه او ۱۰۰۰ ټپیان) اړولي، چې دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ټولو تلفاتو ۶۹ سلنه جوړوي.

[160] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما ۱۲۰ ملکي تلفات .۸۹ مړه او ۳۱ ټپیان) نړیوالو نظامي ځواکونو او ۱۰۷ ملکي تلفات (۵۰ مړه او ۵۷ ټپیان) دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب کړي.

[161] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما ۹۸ ملکي تلفات (۲۸ مړه او ۷۰ ټپیان) نا معلومو یا ګډو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.

[162] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما په شمالي سیمو کې دولت پلوه ځواکونو ته ۷۰۵ ملکي تلفات (۱۸۲ مړه او ۵۲۳ ټپیان) او شمال ختیځو سیمو کې ۵۲۴ ملکی تلفات (۲۲۳ مړه او ۳۰۱ ټپیان) منسوب کړي.

[163] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما په دغو پنځو ولایتونو کې دولت پلوه ځواکونو ته ۱۱۱۷ ملکي تلفات (۳۹۳ مړه او او ۷۲۴ ټپیان) منسوب کړي.


یوناما د متحده ایالاتو – او طالبانو ترمنځ د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲۹ نېټه د تړون تر لاسلیک په مخکې اونۍ کې په تاوتریخوالي کې د کموالي له امله د دولت پلوه ځواکونو له امله په ملکي تلفاتو کې کموالی ملاحظه کړی. یوناما په مارچ، اپریل، او مۍ میاشتو کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې زیاتوالی مستند کړی. د مارچ پر ۱۹ نېټه، د دفاع وزیر "فعال دفاعي" حالت[164] د افغان ملي اردو د ستنېدو اعلان وکړ. د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پر ۱۲ نېټه د افغانستان د سولې مذاکراتو د پیل په ملاحظه کولو سره، یوناما د سپتمر، اکتوبر او نومبر د دریو هغو میاشتو په څېر ثبتې کړې، کومو کې چې په ۲۰۲۰ کال کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمېر منسوب شوي.[165]

### ۱. افغان ملي امنیتي ځواکونه

د ۲۰۲۰ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱مې پورې، یوناما ۱۹۰۶ ملکي تلفات (۶۷۴ وژل شوي او ۱۲۳۲ ټپیان) افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب کړي، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله د ملکي وګړو د تلفاتو په شمېر کې ۱۳ سلنه زیاتوالی او د ۲۰۱۶ کال راهیسې هغوی ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو تر ټولو لوړه کچه په ډاګه کوي.

د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د مختلفو څانګو ترمنځ د ملکي وګړو د تلفاتو لاملونه مختلف وو. په ۲۰۲۰ کال کې افغان ملي اردو د تېر کال په پرتله ۴۲ سلنه زیات ملکي تلفات اړولي، چې په یوه واحد کال کې افغان ملي اردو ته د منسوب شویو تر ټولو زیات ملکي تلفات جوړوي، له کوم وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال په سیستماتیک ډول مستندونه پیل کړې.[166] د دې بر عکس، یوناما د تېر کال په پرتله افغان سیمه ییزو پولیسو، افغان ملي پولیسو او د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو په ګډون، د ملي امنیت ریاست لږ شمېر ملکي تلفات منسوب کړي.

د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا زیاتره ملکي تلفات د ځمکنیو نښتو پر مهال د قوې د کارولو له امله رامنځ ته شوي، په ځانګړي ډول د غیر مستقیمو وسلو لکه د توپ مرمۍ او هاوانونه د کارونې له لارې رامنځ ته شوي.[167] یوناما په ملکي تلفاتو کې ۱۵ سلنه زیاتوالی مستند کړی چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د ځمکنیو نښتو پر مهال رامنځ ته شوي.[168] ډېری وختونه افغان ملي اردو په مکرر ډول غیر مستقیمې وسلې په ګڼ میشتو هستوګنیز سیمو کې د دطالبانو د بریدونو په دفاع کې کارولې، چې په مکرر ډول یې بشپړې کورنۍ هغه مهال زیانمنې کړې




[164] د ۲۰۲۰ کال د مارچ پر ۱۹ نېټه د دفاع وزیر اسد الله خالد مطبوعاتي کنفرانس او-https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyre-ports/2020-10-30qr section3-security.pdf وګورئ.

[165] د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر له ۱ نېټې څخه د نومبر تر ۳۰ پورې، یوناما افغان ملي اردو ته ۱۵۴۷ ملکي تلفات (۲۳۷ مړه او ۴۲۵ ټپیان) منسوب کړي.

[166] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما افغان ملي اردو ته په ۲۰۱۹ کال کې د ۱۰۹۳ ملکي تلفاتو (۳۸۶ مړه او ۷۰۷ ټپیان) په پرتله ۱۵۴۷ ملکي تلفات منسوب کړي.

[167] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله ۱۲۲۴ ملکي تلفات (۳۵۹ مړه او ۸۶۵ ټپیان) افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب کړي، چې ۱۰۳۷ ملکي تلفات (۲۸۵ مړه او ۷۵۲ ټپیان) د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله رامنځ ته شوي.

[168] د ځمکنیو نښتو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره د ځمکنیو نښتو برخه وګورئ. د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ۱۰۴۹ ملکي تلفات (۳۱۰ مړه او ۷۹۳ ټپیان) منسوب کړي، چې ۸۹۹ ملکي تلفات (۲۵۱ مړه او ۶۴۸ ټپیان) یې د غیر مستقیمو وسلو له امله رامنځ ته شوي.

کله چې د توپ مرمۍ یا هاوانونه د هغوی پر کورونو لګېدلې. د دې په پایله کې، د افغان ملي اردو له خوا د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله د هرو ۱۰ ملکي تلفاتو اته هغه یې ښځې (۲۲ سلنه) او ماشومان (۴۸ سلنه) وو.[169]

**سپتمبر، اکتوبر او نومبر هغه درې میاشتې دي په کومو کې چې په ۲۰۲۰ کال کې افغان ملي امنیتي ځواکونو د ملکي تلفاتو لوړ شمېر منسوب شوي.**

ملکي وګړي د افغان هوايي ځواک له خوا د ترسره شویو هوايي بریدونو له امله زیانمن شوي، کومو چې د راپورونو له مخې خپل د پرواز ساعتونه زیات کړي، په ځرګنده د متحده ایالتونو او طالبانو ترمنځ د فبرورۍ د ۲۹ نېټې تر تړون لیک وروسته د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د هوايي ځواک د فعالیت د کمولو په غبرګون کې.[170] په ۲۰۲۰ کال کې، افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو نږدې څلورمه برخه د افغان د هوايي ځواک د بریدونو له امله رامنځ ته شوي. دا د ۲۰۱۹ کال [171]په پرتله له دوه برابره زیاتو ملکي تلفاتو مسوول ګڼل کېږي. د غیر مستقیمو وسلو کارونې ته ورته، د افغان هوايي ځواک پر پراخې ساحې اغېز ښېندونکو هوايي بریدونو زیات شمېره ملکیان په خپلو کورونو کې زیانمن کړي، چې د هوايي بریدونو له امله د ټولو ملکي تلفاتو د ماشومانو (۴۵ سلنه) او د ښځو (۱۹ سلنه) تلفات تشکیلوي.[172]

په ۲۰۲۰ کال کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د چاپېزو عملیاتو په پایله کې ملکي تلفات ۹۴ سلنه راکم شوي.[173] د ۲۰۱۹ کال برعکس، کله چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د چاپېزو عملیاتو (په تېره بیا د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو) له امله ملکي تلفات له هغه وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک ډول مستندونه پیل کړي، تر ټولو لوړ کچو ته ورسیدل، دغه ملکي تلفات د متحده ایالاتو – طالبانو ترمنځ د فبرورۍ د ۲۹ تر تړون وروسته نږدې پای ته ورسیدل. د ۲۰۲۰ کال پر مهال، داسې بریښي چې دغه ځواکونه د قوماندې له رسمي دولتي کړۍ څخه بهر وي او له بهرنیو فعالینو سره همغږي شوي.

| د افغان ملي امنیتي ځواکونو څانګې | په ۲۰۲۰ کې ملکي تلفات | د ۲۰۱۹ په پرتله د سلنې بدلون |
|---|---|---|
| **افغان ملي اردو (له افغان هوايي ځواک سره)** | ۱۵۴۷ ملکي تلفات (۵۴۷ مړه او ۱۰۰۰ ټپیان) | + ۴۲ سلنه |
| **افغان ملي اردو (له افغان هوايي ځواک پرته)** | ۱۰۲۱ ملکي تلفات (۳۱۳ مړه او ۷۰۸ ټپیان) | + ۱۹ سلنه |
| **افغان هوايي ځواک** | ۵۲۶ ملکي تلفات (۲۳۴ مړه او ۲۹۲ ټپیان) | + ۱۲۶ سلنه |
| **د ملي امنیت ریاست (د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو په ګډون)** | ۴۷ ملکي تلفات (۲۷ مړه او ۲۰ ټپیان) | - ۸۰ سلنه |
| **افغان ملي پولیس** | ۷۵ ملکي تلفات (۳۱ مړه او ۴۴ ټپیان) | - ۱۷ سلنه |
| **افغان سیمه ییز پولیس[174]** | ۲۴ ملکي تلفات (اوو مړه او ۱۷ ټپیان) | - ۳۳ سلنه |
| **افغان ملي امنیتي نور ځواکونه او ګډې منسوبونې** | ۲۱۳ ملکي تلفات (۶۲ مړه او ۱۵۱ ټپیان) | - ۹ سلنه |

[169] یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال د افغان ملي اردو له خوا د غیر مستقیمو وسلو له امله د ښځو ۱۸۹ تلفات (۵۷ مړه او ۱۳۲ ټپیان) او د ماشومانو ۴۰۶ تلفات (۱۱۹ مړه او ۲۸۷ ټپیان) مستند کړي.

[170] د متحده ایالاتو کنګریس ته د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړي سرمفتش درې میاشتنی راپور، ۳۰ اکتوبر، ۹۸ مخ.

[171] د لا زیاتو معلوماتو لپاره د هوايي بریدونو برخه وګورئ. د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ له ۱ د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د هوايي بریدونو له امله د ۲۰۱۹ کال د ۲۳۳ ملکي تلفاتو (۱۱۵ مړه او ۱۱۸ ټپیان) په پرتله ۵۲۶ ملکي تلفات (۲۳۴ مړه او ۲۹۲ ټپیان) افغان هوايي ځواک ته منسوب کړي.

[172] یوناما د افغان هوايي ځواک د هوايي بریدونو له امله د ماشومانو ۲۳۸ تلفات (۱۰۳ مړه او ۱۳۵ ټپیان) او د ښځو ۱۰۱ تلفات (۴۳ مړي او ۵۸ ټپیانې) مستند کړي.

[173] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د چاپېزو عملیاتو له امله په ۲۰۱۹ کال کې د ۲۴۱ ملکي تلفاتو (۱۷۹ مړه او ۶۲ ټپیان) په پرتله ۱۵ مړینې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب کړي.

[174] وروسته له هغې چې د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پر ۳۰ افغان سیمه ییزو پولیسو تمویل پای ته ورسید، نوموړي پولیس په رسمي ډول منحل شول او زیاتره غړي یې له افغان ملي اردو – سیمه ییزې اردو یا له افغان ملي پولیسو د یو ځای کېدو لپاره ونومول شول.

### ۲. نړیوال نظامي ځواکونه

په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما ۱۲۰ ملکي تلفات (۸۹ مړه او ۳۶ ټپیان) نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب کړي، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله د ملکي تلفاتو په شمېر کې ۸۵ سلنه کموالی ښيي.[175] له کوم وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو مستندونه پیل کړي، دا نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب شوی د ملکي تلفاتو تر ټولو ټیټ شمېر په ډاګه کوي.

د ۲۰۲۰ کال په جنورۍ او فبرورۍ میاشت کې، یوناما د ۲۰۱۹ کال د ورته مودې په پرتله د نړیوالو ځواکونو له لوري ملکي وګړو ته د اوښتي زیان ورته اندازې مستند کړي، او د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې د فبرورۍ تر ۲۲ نېټې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا په ۲۰۲۰ کال کې د رامنځ ته شویو ټولو ملکي تلفاتو ۸۷ سلنه جوړوي.[176] بیا د فبروري ۲۲-۲۸ "په تاوتریخوالي کې د کموالي اونۍ" په پیل سره چې د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲۹ یې د متحده ایالاتو – طالبانو ترمنځ د تړون لپاره لار هواره کړه، د نړیوالو نظامي ځواکونو د عملیاتو امله نږدې ټول ملکي تلفات پای ته ورسیدل. تر هغې وروسته، نړیوالو نظامي ځواکونو خپل هوایي عملیات د پام ور راکم کړل، چې د ۲۰۲۰ کال په پاتې میاشتو کې دغه ډول پېښو هیڅ ملکي تلفات نه دي رامنځ کړي. خو له د دې سره سره نړیوالو نظامي ځواکونو د ځینو هوایي عملیاتو دوام تایید کړی، او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو قوماندې په ډاګه کړې چې هغوی به "له تړون سره سم" به پر افغان ملي امنیتي ځواکونو د برید پرمهال د هغوی دفاع وکړي او د هغوي هوایي بریدونو په اړه یې اعلامیې خپرې کړي چې د ۲۰۲۰ تر فبروري وروسته ترسره شوي.[177]

#### دریېم. دولت پلوه وسله والې ډلې

په ۲۰۲۰ کال کې دولت پلوه وسله والې ډلې د ۱۰۷ ملکي تلفاتو (۵۰ مړه او ۵۷ ټپیان) لامل شوي، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله په ملکي تلفاتو کې ۴۲ سلنه کموالی ښيي.[178] دغه کموالی په عمده ډول د خوست ساتنې ځواک او په پکتیکا کې "شاهین ځواکونو" ته د منسوب شویو کم شمېر ملکي تلفاتو له امله رامنځ ته شوي. په ۲۰۲۰ کال کې، د دولت پلوه وسله والو ډلې له خوا رامنځ ته شوي له نیمه یې زیات ملکي تلفات د ځمکنیو نښتو له امله اوښتي.[179] . له دې سره سره، په ۲۰۲۰ کال کې د دغو ډلو له خوا د هدفي وژنو (۲۶ سلنه) او د ګواښونو او تهدیدونو (۱۰ سلنه) له امله د ملکي زیان مستندول جاري ساتلي، کوم څه چې د اندېښنې وړ ګڼل کېږي.[180]

په ۲۰۲۰ کال کې د خوست ساتنې ځواک ته منسوب د ملکي تلفاتو شمېر ۵۲ سلنه کم شوی دی، په داسې حال کې چې نورې ډلې ته منسوب شوې ټول ملکي تلفات د کال په وروستیو درې میاشتو کې پېښ شوي.[181] د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر او دسمبر میاشتو ترمنځ، یوناما د خوست ساتنې ځواک ته منسوب اته پېښې مستند کړي، چې په پایله کې یې ۱۲ ملکي وګړي وژل شوي، د چاپېزو عملیاتو او ځمکنیو نښتو پر مهال د هدفي وژنو په ګډون.

شاهین ځواکونو د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر په میاشت کې د پکتیکا ولایت په ارګون ولسوالۍ کې له طالبانو سره د ځمکنۍ نښتې پرمهال یو هلک ووژه. دا د ۲۰۱۹ کال په پرتله د دغو ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو په شمېر کې ۹۸ سلنه کموالی په ډاګه کوي.[182]

د تېر کال په خلاف، کله چې د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا ډېری ملکي تلفات په جنوب ختیځ سمیو کې د خوست ساتنې د ځواک او شاهین ځواکونو له خوا رامنځته شوي وو، په ۲۰۲۰ کال کې، د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ملکي تلفاتو ډېری برخه د هغو ځایي وسله والو ډلو له خوا رامنځ ته شوي چې د افغانستان په شمال ختیځ سیمو کې فعالې دي. دوی ډېری ملکي تلفات د ځمکنیو نښتو او هدفي وژنو

[175] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما ۷۸۸ ملکي تلفات (۵۵۹ مړه او ۲۲۹ ټپیان) نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب کړي.

[176] د ۲۰۲۰ کال د جنور له ۱ څخه د فبروري تر ۲۲ پورې، یوناما ۱۰۴ ملکي تلفات (۷۸ مړه او ۲۶ ټپیان) نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب کړي.

[177] د مثال په ډول راتلونکې ټویټر پاڼه وګورئ: https://twitter.com/USFOR_A/status/1246756745445285890?s=20 ، twitter.com/USFOR_A/status/1268848676249755648?s=20 او https://twitter.com/USFOR_A/status/1315602844809080832?s=20

[178] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما دولت پلوه وسله والو ډلو ۱۸۴ ملکي تلفات (۱۰۲ مړه او ۸۲ ټپیان) منسوب کړي.

[179] په ۲۰۲۰ کال کې یوناما د ځمکنیو نښتو له امله ۵۶ ملکي تلفات (۲۰ مړه او ۳۶ ټپیان) دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب کړي.

[180] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما دولت پلوه وسله والو ته د هدفي وژنو له امله ۲۸ ملکي تلفات (۲۲ مړه او شپږ ټپیان)او د ګواښونو او تهدیدونو د پېښو له امله د ۱۱ ملکیانو ژوبله منسوب کړي.

[181] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د خوست ساتنې ځواک ته ۲۵ ملکي مړینې منسوب کړي.

[182] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما شاهین ځواکونو ته ۶۲ ملکي تلفات (۵۸ مړه او څلور ټپیان) منسوب کړي.

له لارې اړولي.[183] د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۰ کال د مۍ پر ۲۴ نېټه، د لوی اختر د اوربند پرمهال، د تخار ولایت په کلفګان ولسوالۍ کې، دولت پلوه دوه ځایي وسله والو د قوماندانانو ترمنځ د شخړې له امله یو پر بل برید وکړ. د دواړو ډلو ترمنځ د ځمکنۍ نښتې په پایله کې، اته تنه ملکي وګړي ووژل شول او شپږ تنه نور ټپیان شول.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې دا د دولت لومړنی مسوولیت دی چې د ژوندانه، ازادۍ او امنیت د حقونو په ګډون، د افغان وګړو بشري حقونو ته درناوي وکړي. نو له همدې امله له حکومت څخه غوښتنه کوي چې دولت پلوه وسله والې ډلې چې د قوماندې له رسمي دولتي تسلسل/کړۍ څخه بهر فعالیت کوي، لکه د خوست ساتنې ځواک او شاهین ځواکونه د چاڼ د قوي کړندود او د عملیاتي طرز العملونو تر طبیق وروسته کوم چې د بشرپالنې او د بشري حقونو له نړیوالو قواینو سره په تطابق کې دي، نوموړې ډلې منحل یا یې په رسمي ډول د افغان ملي امنیتي ځواکونو په لیکو کې شاملې کړي. یوناما همدارنګه له دولت څخه غوښتنه کوي چې د احتساب د یقیني کولو په موخه دې د بشري حقونو د بشرپالنې د نړیوالو قوانیو د سرغړونو په ګډون د ملکي تلفاتو ټولې باوري ادعاوې وڅېړي.

## ب. د پېښو هغو ډول چې تر ټولو زیات ملکي تلفات یې اړولي

### ۱.هوايي بریدونه:

***"زما د واده ورځ وه زما خپلوانو واده ته د نورو خپلو خپلوانو د رابلنې لپاره چمتوالی نیوه. دوي زموږ په شخصي موټر کې روان وو، چې د افغان هوايي ځواک د الوتکې غږ یې تر غوږو شو. زما ورور موټر ودراوه او منډه یې کړه څو په یوه خونډي ځای کې پټ شي. سره له دې چې زما پلار ټینګار کاوه چې له هغه سره په موټر کې پاتې شي. په دې وخت هوايي برید پیل شو، زما ورور هماغه شیبه ووژل شو. مور د واده مراسمو لپاره ډیرې هیلې درلودې او هغه راته ویل چې هغه به زما د خوشحالۍ لپاره هر کار ترسره کړي، خو له بده مرغه، مور له یوې ډیرې خواشینوونکې پای سره مخ شو."***

-- د افغان هوايي ځواک په هوايي برید کې د وژل شوي سړي ورور
د قرباني له ورور سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱ جولای ۲۰۲۰

د ۲۰۲۰ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د دولت پلوه ځواکونو د هوايي بریدونو له امله ۶۹۳ ملکي تلفات مستند کړي چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۳۴ سلنه کموالی په ډاګه کوي.[184] په ۲۰۲۰ کال کې، هوايي بریدونه د ټولو ملکي تلفاتو تر اته سلنې پورې تشکیلوي، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله دوه سلنه کموالی ګڼل کېږي، چیرې چې په تېر کال کې هوايي بریدونو د ټولو ملکي تلفاتو ۱۰ سلنه جوړوله.

څرنګه چې افغان هوايي ځواک خپل هوايي عملیات زیات کړي او نړیوالو نظامي ځواکونو د فبروري پر ۲۹ د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ تړون وروسته خپل بریدونه کم کړي،[185] یوناما د جګړې د دغو دوه متحدو ډلو ترمنځ د ملکي تلفاتو له جریاناتو سره مبارزه مستند کړې.

د افغان هوايي ځواک د هوايي بریدونو له امله ملکي تلفات د ریکارډ تر کچې لوړو ته رسیدلي، چې د ۵۲۶ ملکي تلفاتو (۲۳۴ مړه او ۲۹۲ ټپیان) یې رامنځ ته کړي، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۱۲۶ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[186] دا له کوم وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک ډول مستندونه پیل کړي د افغان هوايي ځواک د بریدونو له امله د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمېر ګڼل کېږي. په ۲۰۲۰ کال کې، د افغان هوايي ځواک هوايي بریدونو، د هوايي بریدونو له امله د ټولو ملکي تلفاتو ۷۶ سلنه جوړوله، په داسې حال کې چې د نړیوالو نظامي


---

[183] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د افغانستان په شمال ختیځو سیمو کې ۶۱ ملکي تلفات (۲۷ مړه او ۳۴ ټپیان) دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب کړي.

[184] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د هوايي بریدونو له امله ۱۰۴۹ ملکي تلفات (۷۰۲ مړه او ۳۴۷ ټپیان) مستند کړي.

[185] د هوايي ځواک د روزنې، سلا مشورې او مرستې قوماندې(TAAC-Air) په ډاګه کړي چې افغان هوايي ځواک د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د ملاتړ د کموالی له امله او زیاتې عملیاتي اړتیا له وجهې د خپلو پروازونو ساعتونه زیات کړي. د متحده ایالاتو کنګریس ته د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړي سرمفتش درېم میاشتنی راپور (۳۰ اکتوبر ۲۰۲۰) د امنیت فصل وګورئ چې راتلونکې انټر نیټ پاڼې څخه ترلاسه شوی: https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2020-10-30qr-section3-security.pdf

[186] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د افغان هوايي ځواک بریدونو ته ۲۳۳ ملکي تلفات (۱۱۵ مړه او ۱۱۸ ټپیان) منسوب کړي.




ځواکونو د هوايي بريدونو له امله د ټولو تلفاتو ۱۷ سلنه جوړوله. د هوايي بريدونو له امله پاتې ملکي تلفات نا معلومو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي.

د نړیوالو نظامي ځواکونو هوايي بريدونو ته منسوب ملکي تلفات د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۸۵ سلنه راپريوتي.[187] په ۲۰۲۰ کال کې، د نړیوالو نظامي ځواکونو د هوايي بريدونو له امله ۱۱۷ ملکي تلفات (۸۹ مړه او ۲۸ ټپيان) مستند کړي، چې له کوم وخت راهيسې چې يوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سيستماتيک ډول مستندونه پيل کړي، تر ټولو ټيټ شمېر ګڼل کېږي. يوناما نږدې ټول دغه ملکي تلفات د نړیوالو نظامي ځواکونو هغو هوايي بريدونو ته منسوب کړي چې د فبروري له ۱۷ نېټې څخه پخوا ترسره شوي.[188]

يوناما له اندېښنې سره د دې يادونه کوي چې د هوايي بريدونو له امله د ماشومانو او ښځو تلفات په ۲۰۱۹ کال کې د ۴۵ سلنې په پرتله په ۲۰۲۰ کال کې ۶۱ سلنه لوړ شوي.[189] ډېرى وختونه ولسي مرګ ژوبله هغه مهال رامنځ ته کېږي چې هوايي بريد په هستوګنيزه سيمه کې جنګيالي په نښه کړي، خو هغه پر هستوګنيزو ودانيو ولګېږي او بشپړه کورنۍ زيانمې کړي. د مثال په ډول د نومبر پر ۲۰ نېټه، د اروزګان ولايت په ګيزاب ولسوالۍ کې افغان هوايي ځواک په هغو کورنو کې طالبان په نښه کړل چېرې چې ملکي وګړي هم موجود وو، چې له امله يې شپږ ملکي وګړي (دوه نجونې، دوه ښځې او دوه سړي) ووژل شوي او خلور ماشومان ژوبل شول، د طالب جنګياليو تر منځ د ناتاييد شويو تلفاتو سره يو ځای. طالب جنګيالي دغو کورونو ته ننوتل او بيا يې له هغه ځايه افغان ملي امنيتي ځواکونه په نښه کړل. دغه پېښه د ۲۰۲۰ کال په اکتوبر او نومبر مياشتونو کې د طالبانو او افغان ملي امنيتي ځواکونو ترمنځ د اروزګان ولايت په ګيزاب ولسوالۍ کې د اوږدو جګړو پرمهال رامنځ ته شوې. د ۲۰۲۰ کال د بادغيس ولايت په آبکمري ولسوالۍ کې، افغان هوايي ځواک د يوه طالب جنګيالي پر کور هوايي بريد ترسره کړي، چې له امله يې ۱۶ ملکي تلفات (۱۳ مړه او درې ټپيان) چې ټولې ښځې او ماشومان وو، د شپږو ماشومانو په ګډون چې عمرونه يې له دوه تر درې کلنۍ پورې وو، رامنځ ته شول.

يوناما همدارنګه منې چې افغان هوايي ځواک د ملکي تلفاتو د مخنيوي لپاره تدابير ترسره کوي. افغان هوايي ځواک يوناما ته خبر ورکړی چې د ۲۰۲۰ کال د مارچ او د ۲۰۲۱ کال د فبروري ترمنځ،[190] د نږدې ۶۰۰۰ پلان شويو هوايي بريدونو له درېيمې برخې زيات هغه يې د ملکي وګړو يا عامه ملکتيونو د شتون، يا د هدف د موقعيت د بدلون له امله نه دي ترسره شوي. سربېره پر دې، افغان هوايي ځواک خبر ورکړی چې په ورته موده کې په ۳۴ قضيو کې د پرواز پر مهال د ملکيانو، جوماتونو، او عامه ملکيتونو د شتون له امله پلان شوي عمليات لغوه کړي.[191] له دې سره سره، په ۲۰۲۰ کال کې د افغان هوايي ځواک د بريدونو له امله د ملکي تلفاتو د شمېر د زياتوالي په رڼا کې، يوناما د ملکي وګړو د غوره ساتنې په پار د تاکتيکي لارښوونو، د جګړې د قواعدو او نورو طرز العملونو د طرح کولو او ښه کولو پر اهميت ټينګار کوي.

[187] په ۲۰۱۹ کال کې، يوناما د نړیوالو نظامي ځواکونو هوايي بريدونو ته ۷۵۷ ملکي تلفات (۵۴۶ مړه او ۲۱۱ ټپيان) منسوب کړي.
[188] د فبروري له ۱۷ نېټې څخه مخکې ۱۰۴ ملکي تلفات (۷۸ مړه او ۲۶ ټپيان) او تر دغې نېټې وروسته د ملکي وګړو ۱۱ مړينې او دوه ژوبلې مستند کړې.
[189] په ۲۰۲۰ کال کې، يوناما د هوايي بريدونو له امله په ۲۰۱۹ کال کې د ښځو د ۱۳۵ تلفاتو (۷۶ مړې او ۵۹ ټپيانې) او د ماشومانو د ۳۴۱ تلفاتو (۲۱۱ مړه او ۱۳۰ ټپيان) په پرتله د ښځو ۱۲۱ تلفات (۵۸ مړې او ۶۳ ټپيانې) او د ماشومانو ۲۹۹ تلفات (۱۴۶ مړه او ۱۵۳ ټپيان) مستند کړي.
[190] د دې يادونه کېږي چې د دغې ډيټا يوه برخه، کومه چې نږدې ۱۱ مياشتې تر پوښښ لاندې نيسي، د دغه راپورد راپوروركوني له مودې څخه بهر ده.
[191] يوناما ته د افغان هوايي ځواک مکتوب، ۱۸ فبروري ۲۰۲۱.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د بشرپالنې نړیوال قانون د جګړې له ټولو ښکېلو خواوو غوښتنه کوي چې ملکي وګړو ژوند او ملکي شیانو ته د زیان ته د زیان او په هر حالت کې د هغوي د راکمولو لپاره ټول ممکنه احتیاطي تدابیر ترسره کړي.[192] په دې کې د دې مکلفیت شامل دی چې د ډینامیکو هدفي حالاتو په ګډون یوه ځانګړې برید په موقعیت کې د ملکي وګړو د شتون د موثرې ارزونې لپاره بسیا معلومات راغونډې کړي. دا په یوه سیمه کې د ملکیانو د ژوند د نمونو او هغو لارو چارو د ارزونې له لارې ترسره کېدای شي په کومو چې ځانګړې جوړښتونه کارول شوي، او همدارنګه د ټولو هغو هوایي بریدونو د بشپړې، شفافې، هدفي، باوري کتنې له لارې چې ملکي تلفات یې اړولي، ترڅو د موجوده احتیاطي تدابیرو اغېزمنتوب وارزول شي.[193]

د جګړې ښکېلې خواوې مکلفې دي د هوايي بریدونو په پلانولو او ترسره کولو کې د تناسب اصل ته درناوي وکړي، او هر هغه برید لغوه یا ځنډوي که چیرې څرګنده شي چې کېدای شي ملکي زیان واړوي کوم چې د انګېرل شوي نظامي ګټې څخه زیات وي.[194]

یوناما همدارنګه د جګړې ښکېلو خواوو ته د دې یادونه کوي که چیرې یوه خوا د بشرپالنې نړیوال قانون ته په درناوي/رعایت کې پاتې راځي، دغه کال مقابل لوري د هغوي د بشرپالنې د نړیوال قانون له مکلفیتونو څخه نه بریئ کوي.[195]د تناسب اصل پرته له دې چې په پام کې ونیول شي چې ایا هوایي بریدونه د پلان شویو، عمدي هدفي عملیاتو د یوې برخې په څیر یا دا چې هغه په سیمه کې د موجوده ځواکونو په ملاتړ ترسره شوي، د تطبیق وړ دی.

## د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر پر ۲۱ نېټه، د تخار ولایت په بهارک ولسوالۍ کې د افغانستان هوايي ځواک د هوايي برید له امله ملکي تلفات

د اکتوبر پر ۲۱ نېټه شا و خوا ۱۴:۳۰ بجې د تخار ولایت د بهارک ولسوالۍ د تالقانو ښار ته څېرمه، د هزاره قارلوق په کلي کې جومات ته نږدې یوه مدرسه چې د راپورنو له مخې طالبان په کې اوسیدل، د افغان هوایي ځواک برید په نښه کړه. یوناما د نهو ماشومانو (پنځه هلکان او څلور نجونې) چې عمرونه یې د پنځو او نهو کلونو ترمنځ وو وژنه او د ۱۶ ماشومانو (نهه نجونې او اوو هلکان)، د یوه ملکي سړي او د مدرسې د ملا په ګډون د ۱۷ نورو ملکي وګړو ژوبله مستند کړې. یوناما همدارنګه د اضافي ملکي تلفاتو، تر ۱۲ د وژل کېدو او ۱۸ نورو د ژوبل کېدو ګڼ شمېر راپورونه ترلاسه کړي، کوم چې هغې و نه کولی شول د دغه راپور تر لیکنې پورې تایید کړي. دغه هوايي برید همدارنګه درس خونې او د مدرسې او جومات نورې برخې زیانمنې کړې.

د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح په دې پېښه کې د ماشومان وژل کېدل رد کړل او په ډاګه یې کړه چې هوايي برید طالبان په نښه کړي. ښاغلي صالح همداراز وویل چې ددې غلط خبر خپرونکې هم نیول شوی دی. نوموړي دغه راز زیاته کړه چې "د دغو زهرجنو او جعلي خبرونو د خپرولو مسوول شخص زر تر زره نیول شوی [...]."[196] یوناما له دولت څخه غوښتنه کړې چې داسې شواهد وړاندې کړي چې دا او دې ته ورته څرګندونې کره کړي، او دا د څېړنو له ترسره کولو خبره ده. د دغه راپور تر لیکلو پورې، له یوناما سره دغه موندنې نه دي شریکې شوې.

---

[192] د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون د مطالعې ۱۵ قاعده، او د دویم الحاقي پروتوکول ۱۳ ماده وګورئ.
[193] د مثال په ډول، د پخواني یوګوسلاویا، کفرسکیک د قضیې په اړه د نړیوالې جنايي محکمې قضاوت، ۴۹، ۱۳۲، ۵۲۶ پاراګرافونه وګورئ.
[194] د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون د مطالعې ۱۴ قاعده.
[195] د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون د مطالعې ۱۴۰ قاعده.
[196] راتلونکې انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://www.facebook.com/AmrullahSaleh.Afg/posts/3341016672673215 https://twitter.com/AmrullahSaleh2/status/1319293261979086861?s=20



*یو افغان ماشوم چې د اکتوبر پر ۲۱ نېټه د افغان هوايي ځواک له خوا پر یوې ملرسې د هوايي برید په پایله کې ټپي شی، په یوه روغتون کې تر درملنې لاندې دی. انځور: EPA-EFE/STR*

یوناما پر افغان هوايي ځواک غږ کوي چې د جنګي الوتکو د کارونې په تړاو تاکتیکي لارښوونې، د جګړې قواعد او نور طرز العملونه طرح او بهتر کړي. دا همدارنګه افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې د هغوي د مسوولیت یادونه کوي چې له زیان څخه د ملکیانو د ساتنې لپاره ټول ممکنه احتیاطي ګامونه پورته کړي. دا مسوولیت د مخالف لوري له خوا د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه د سرغړونو له امله نه کمېږي.

یوناما معلومات تر لاسه کړي چې د تخار د والي ویاند د اعلامیې تر خپرولو وروسته چې په نوموړې پېښې کې یې د ملکي تلفاتو رامنځ ته کېدل تایید کړي و، هغه په خپل کور کې تر څارنې لاندې و او بیا وروسته له خپل منصب څخه ګوښه کړای شو.

یوناما پر ملکیانو د وسلې جګړې د اغیز په تړاو د معلوماتو او پرانستو مباحثو د ازاد جریان د ساتلو پر اهمیت ټینګار کوي؛ همدارنګه پر دې زور اچوي چې دولت باید د داسې اقداماتو له پورته کولو او اعلامیو ورکولو څخه ډډه وکړي کوم چې ښایي یا ښکاري د ملکي تلفاتو په اړه په پر مباحثو ناوړه اغیز کوي یا هغه زندۍ کوي، په تېره بیا د هغو کسانو لپاره چې دغه ډول پېښې راپور کوي، لکه د رسنیو او مدني ټولنې کارمندان؛ د بشري حقونو مدافعین؛ محرمې سرچینې او افشا کوونکې.

یوناما پر دولت او د جګړې پر نورو ښکېلو خواوو غږ کوي چې د ملکي تلفاتو د ادعاوو په اړه شفافې څېړنې ترسره کړي او پایلې یې له خلکو سره شریکې کړي.

### ۲. د صحرايي اعدامونو په ګډون، ملکي وګړو ته عمدي زیان

په ۲۰۲۰ کال کې یوناما د داسې پېښو مستندول جاري ساتلي په کومو کې چې افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو په عمدي ډول زیانمن کړي، د هغو پېښو په ګډون چې د صحرايي اعدامونو لامل شوي. د جنوري له ۱ څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما ۴۹ پېښې مستند کړي چې د ۸۰ ملکي تلفاتو (۴۶ مړه او ۳۴ ټپیان) لامل شوي. یوناما ۲۹ پېښې چې د ۴۲ ملکي تلفاتو (۲۳ مړه او ۱۹ ټپیان) لامل شوي افغان ملي امنیتي ځواکونو او ۲۰ پېښې چې ۳۸ ملکي تلفات (۲۳ مړه او ۱۵ ټپیان) دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب کړي.

د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ او وروستۍ ربعو کې، یوناما د ملي امنیت ریات او د خوست ساتنې ځواک ته د هغو پېښو منسوبول جاري ساتلي په کومو کې چې له دولت ضد عناصرو سره اړیکه لرونکي ملکیان په داسې حالاتو کې په عمدي ډول وژل شوي، په کومو کې چې هغوي کېدای

شوی په خوندي ډول توقیف شوی وای او د قانون نافذوونکو اړوندو چاروکو ته سپارل شوی وای. د مثال په ډول د جنوري پر ۱۵ نېټه د ننګرهار ولایت په خوګیاڼو ولسوالۍ، د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو صفر دوه قطعې د چاپېزو عملیاتو پر مهال دوه ناسکه ورونه په خپل کور په ډزو ووژل. کله چې نوموړي ځواکونه کور ته د ننه شول، هغوي ښځو او ماشومانو ته امر وکړ چې له کور څخه بهر کېني. دواړه ورونه په کور کې یوې خونې ته یوړل شول چیرې چې له هغوي پوښتنې ګرویګنې ترسره شوې او بیا وروسته په ډزو ووژل شول. د اکتوبر پر ۱۴ نېټه، د خوست په متونو ولسوالۍ کې د خوست ساتنې ځواک یوه هستوګنیز کور ته ننوتل او یو نارینه یې د کورنۍ د غړو په مخکې وواهه. تر هغې وروسته هغوي هغه له کوره وایسته او بیا یې وواژه.

د افغان ملي امنیتي ځواکونو یا دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ملکي وګړو په ضد د تاوتریخوالي د کاروني اړوند نورې پېښې تر لفظي شخړې وروسته رامنځ ته شوې. ډېری وختونه په دې کې د بډو له ورکړو د انکار یا د نا قانونه غوښتنو له ترسره کولو د انکار په تړاو مباحثې شاملې دي. د مثال په ډول د جون پر ۱۵ نېټه د غزني ولایت په مقر ولسوالۍ کې، د دولت پلوه یوې وسله والې ډلې له خوا څلور سړي او دوه ماشومان په یوه چیک پواینټ کې ووهل شول. شپږو ملکیانو په یوه ځایي کلینیک کې درملنه وکړه. د سپتمبر پر ۵ نېټه، د افغان ملي پولیسو یوه غړي چې د زابل ولایت په قلات ولسوالۍ کې په یوه امنیتي پوسته کې کار کوي، یو ملکي سړي له دې امله په ډزو وواژه چا چې له چیک پواینټ څخه د تېرېدو په بدل کې د پیسو له ورکړې انکار کړی و.

یوناما همداراز داسې قضیې ثبت کړي په کومو کې چې دولت پلوه وسله والو ځواکونو او افغان سیمه ییز پولیسو پر اوسېدونکو له دې امله برید کړی، ځکه هغوي د طالبانو پلویان یا په هغوي پورې اړوند وو یا هم د دولت پلوه مخالفې وسله والې ډلې غړي وو، یا هم د هغوي په باور د طالبانو ملاتړي وو. د فبروري پر ۴ نېټه د بدخشان ولایت په ارګو ولسوالۍ کې په یوه درملتون کې چاودنې د درملتون خاوند وواژه او یو بل ملکي شخص یې ټپي کړ. د یوې دولت پلوه وسله والې ډلې غړو دغه درملتون له دې امله په نښه کړ، ځکه د درملتون د خاوند له پلار سره یې شخړه لرله ځوک چې د دولت پلوه ځواکونو د یوې مخالفې ډلې قوماندان و. د مۍ پر درېیمه د بغلان ولایت په پلخمري ولسوالۍ کې افغان سیمه ییز پولیس یوه کور ته ددننه شول او یو سړی یې له دې امله واوژه ځکه چې طالبانو پر افغان سیمه ییزو پولیسو د برید ترسره کولو لپاره د هغه له کوره ګټه اخیستې وه.

یوناما یوځل بیا د دې یادونه کوي چې د جګړې د ښکېلو خواوو د هر لوري له خوا هر وخت او هر ځای د هغو اشخاصو وژنه چې په جګړو/دوښمنو کې فعاله برخه نه اخلي، د جنیوا کنوانسیونونو د درېیمې مشترکې مادې پر بنسټ منع دي او ښاي جنګي جرم وشمېرل شي. سربېره پر دې، آن که چیرې د جګړې ښکېلې خواوې د هغو اشخاصو چې د عملیاتو پرمهال په عمدي ډول وژل شوي وي، د ملکي وضعیت په اړه د یوناما له موندنو سره مخالف هم وي، یوناما پر دې ټینګار کوي چې د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې د یوه داسې شخص په ضد د ژوند تاوتریخوالي په ځانګړي ډول وژنه یا شکنجه چې له جګړې لویدلی، منع دی او جنګي جرم ګڼل کېږي. په دې کې هر هغه څوک شامل دی چې د مخالف لوري په واک کې وي یا هغه څوک چې په ښکاره ډول یې د تسلیمي اراده څرګنده کړې وي، په دې شرط چې هغه له کوم دښمنانه عمل لاس واخلي او د تېښتې هڅه ونه کړي.[197] د بېلګې په توګه په یوه داسې حالت کې چیرې چې افغان ملي امنیتي ځواکونه یا د دولت پلوه وسله والې ډلې هغه افراد توقیف او وژني چې نور ګواښ نه پېښوي، د دوي وژنه د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه سرغړونه ده، پرته له دې چې دا په پام کې ونیول شي چې هغوي ملکي وګړي دي یا نه او جنګي جرم ګڼل کېږي.

یوناما همدارنګه یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې د یوه کس ناقانونه وژنه د ژوندانه له حق څخه سرغړونه ګڼل کېږي. دولتونه باید د قانون د تنفیذ په عملیاتو او د وسله والې جګړې په ترڅ کې د ژوند له حق څخه د ادعا شویو سرغړونو په حالاتو کې د دوي استازو له خوا د وژونکي ځواک کارول وڅېړي.[198]

[197] د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون د مطالعې ۴۷ قاعده.

[198] د نا قانونه، خپل سرو، او صحرایي وژنو د موثرې خیړنې او مخنیوي په اړه د ملګرو ملتونو د اصولو ۹، ۱۰، او ۱۹ پاراګرافونه وګورئ کوم چې د اقتصادي او ټولنیزې شورا د ۶۵/۱۹۸۹ پرېکړه لیک له خوا د ۱۹۸۹ کال د مۍ پر ۲۴ نېټه تصویب شوي، وګورئ. دغه راز د غیر نړیوالې جګړې په تړاو د ملګرو ملتونو د امنیت شورا او عمومي اسامبلې پرېکړه لیکونه چې پر ټولو خواوو غږ کوي چې د بشري حقونو نړیوال قانون ته درناوی وکړي او د ژوندانه د حق په اړه د بشري حقونو د کمېټې ۳۶ شمېره عمومي تبصره CCPR/C/GC/36 وګورئ.

## شپږم: ځمکنۍ نښتې او له جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي توکي

### الف. ځمکنۍ نښتې: په ډزو کې ګیر ملکي وګړي


له ۲۰۱۶ کال راهیسې د لومړي ځل لپاره، ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو لومړی لامل شمېرل کېږي، چې په ۲۰۲۰ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو د ۳۶ سلنه لاملې دي. د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله ۳،۱۵۴ ملکي تلفات (۸۷۲ مړه او ۲،۲۸۲ ټپیان) مستند کړي.[199] په داسې حال کې چې د تېر کال[200] په پرتله د دغه ډول له امله د ملکي تلفاتو په شمېر کې یو لږ زیاتوالی په ډاګه کوي، د ځانګړې اندېښنې وړ موضوع د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو په شمېر کې ۱۴ سلنه زیاتوالی دی. سربېره پر دې، د ځمکنیو نښتو د هغو پېښو شمېر چې ملکي تلفات اړوي ۱۳ سلنه زیاتې شویدي.[201] د ځمکنیو نښتو له امله په ۲۰۲۰ کال د ټولو ملکي تلفاتو له نیمه یې زیاته برخه ښځې او ماشومان جوړوي.[202]

په ۲۰۲۰ کال کې دولت پلوه ځواکونو د ځمکنیو نښتو له امله ۴۲ سلنه ملکي تلفات – ۱،۳۲۸ ملکي تلفات (۳۸۹ مړه او ۹۳۹ ټپیان) اړولي، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله پنځه سلنه زیاتوالی ګڼل کېږي.[203] افغان ملي اردو له دغو تلفاتو څخه د ۷۰ سلنې هغو مسووله وه – او له اندېښنې سره د ځمکنیو نښتو له امله یې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۲۹ سلنه زیات ملکي تلفات اړولي.[204]

دولت ضد عناصر د ۱،۰۴۲ ملکي تلفاتو (۲۷۱ مړه او ۷۷۱ ټپیان) مسوول وو چې د ځمکنیو نښتو له امله د ټولو تلفاتو درېیمه برخه جوړوي او د ۲۰۱۹ کال[205] په پرتله ۱۵ سلنه کموالی ګڼل کېږي. چې دا د ۲۰۱۹ کال[206] په پرتله په عمده ډول د ځمکنیو نښتو له امله د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې د ۴۸ سلنه کموالي له امله رامنځته شوی. یوناما دغه راز د تېر کال

د ځمکنۍ نښتو څخه ملکي تلفات

د جنورۍ له ۱ څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې ۲۰۰۹-۲۰۲۰




[199] په دې کې د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله ۲،۰۲۹ ملکي تلفات (۵۰۸ مړه او ۱،۵۲۱ ټپیان)؛ د ځمکنیو نښتو پر مهال د ډزو له امله ۱،۰۰۲ ملکي تلفات .۳۴۷ مړه او ۶۵۵ ټپیان)؛ او د هغه پېښو له امله ۱۲۳ ملکي تلفات .۱۷ مړه او ۱۰۶ ټپیان) شامل دي په کومو کې چې دواړو مستقیمو ډزو ملکي تلفات اړولي یا یوناما د دې وړ نه وه څو معلومه کړي چې ایا ملکي تلفات د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله که د ډزو له امله رامنځ ته شوي.

[200] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله ۳،۰۶۱ ملکي تلفات (۷۶۶ مړه او ۲،۲۹۵ ټپیان) مستند کړي.

[201] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما په ۲۰۱۹ کال کې د ۱،۱۱۰ په پرتله ۱،۲۵۱ د ځمکنیو نښتو پېښې مستند کړي چې د ملکي تلفاتو لامل شوي.

[202] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله د ښځو ۵۵۵ تلفات (۱۵۶ مړې او ۳۹۹ ټپیانې) او د ماشومانو ۱۱۹۵ تلفات (۳۰۴ مړه ۸۹۱ ټپیان) مستند کړي.

[203] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله ۱،۲۶۳ ملکي تلفات (۳۶۶ مړه او ۸۹۷ ټپیان) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.

[204] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله په ۲۰۱۹ کال کې د ۷۴۰ ملکي تلفاتو (۲۱۱ مړه او ۵۲۹ ټپیان) په پرتله، ۹۵۵ ملکي تلفات (۲۸۵ مړه او ۶۷۰ ټپیان) افغان ملي اردو ته منسوب کړي.

[205] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله ۱،۲۲۹ ملکي تلفات (۲۶۱ مړه او ۹۶۸ ټپیان) دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

[206] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله په ۲۰۱۹ کال کې د ۱۶۰ ملکي تلفاتو (۱۸ مړه او ۱۴۲ ټپیان) په پرتله، ۸۳ ملکي تلفات (۱۴ مړه او ۶۹ ټپیان) د عراق او شام د اسلامي – دولت خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړي.

په پرتله په ۲۰۲۰ کال کې ۱۰ سلنه کم ملکي تلفات طالبانو ته منسوب کړي.[207] دا په عمده ډول په ۲۰۲۰ کال کې د ټاکنو اړوند د ځمکنیو نښتو د پېښو د نشتون له امله رامنځته شوي، څرنګه چې دغو پېښو د ۲۰۱۹ کال په سپتمبر کې د ولسمشریزو ټاکنو پرمهال زیات شمېر ملکي تلفات اړولي وو.[208]

په ۲۰۲۰ کال کې ښځې او ماشومان د ځمکنیو نښتو له امله د ټولو ملکي تلفاتو له نیمه یې زیاته برخه جوړوي.

پاتې ۷۸۴ ملکي تلفات (۲۱۲ مړه او ۵۷۲ ټپیان) د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ د ډزو تبادلې په وخت په کومو کې چې یوناما و نشول کولی چې یوه مشخص لوري[209] ته ملکي تلفات منسوب کړي او د پولې په اوږدو کې پېښو چې پاکستاني نظامي ځواکونو ته منسوب دي، منسوب شوي.[210]

په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د هیواد په مختلفو برخو پر ملکي وګړو د ځمکنیو نښتو په اغیز کې د پام وړ توپیرونه مستند کړي: ۱۶ ولایتونه د ۲۰۱۹ کال په پرتله د ځمکنیو نښتو له امله د زیاتو ملکي تلفاتو سره مخ وو؛ په داسې حال کې چې په ۱۶ نورو کې بیا په تلفاتو کې کموالی ثبت شوی.[211] د ځمکنیو نښتو له امله تر ټولو زیات ملکي تلفات په شمالي، شمال ختیځو او جنوبي سیمو کې رامنځته شوي.[212] د ځمکنیو نښتو له امله د لوړ شمېر ملکي تلفاتو درلودونکي اوو ولایتونه – فاریاب، بلخ، کندز، غزني، هلمند، کندهار او بغلان – په ګډه د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو تر نیمه یې زیاته برخه جوړوي.[213]

### 1 . غیر مستقیمې ډزې: د توپ مرمۍ، هاوانونه او راکیټونه

***"دغې زړه بګنونکې پېښې زموږ ژوند ویجاړ کړ او موږ هیڅکله فکر نه و کړی چې دغه ډول پېښه به رامنځته شي. ما خپله ځوانه لور له لاسه ورکړه، او زما مېرمن او له خسرخیلو یو شخص چې له ما سره اوسیده، معیوب شول. زما کور زیانمن شوی او زه اوس مالي ستونزې لرم، ځکه ما چې څه لرل هغه مې د خپلې مېرمن پر درملنې ولګول، له بده مرغه ځوک چې لا اوس هم له معیوبیت څخه کړېږي [...] زما په فکر تر دې هیڅ څه ناوړه نشي کېدای."***

-- د افغان ملي امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ د ځمکنۍ نښتې نارینه قرباني

له قرباني سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۵ می ۲۰۲۰

په ۲۰۲۰ کال کې، د توپ د مرمیو، هاوانونو او راکیټونو د کارونې په ګډون غیر مستقیمو وسلو استعمال د ځمکنیو نښتو پر مهال د زیاترو ملکي تلفاتو (۶۴ سلنه) اړول جاري ساتلي. د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله ۲،۰۲۹ ملکي تلفات (۵۰۸ مړه او ۱،۵۲۱ ټپیان) مستند کړي. په داسې حال کې چې له دغه ډول وسلو له امله د ۲۰۱۹ کال په پرتله د وژل شوي ملکیانو شمېر پنځه سلنه لوړ شوی، له بلې خوا د دغو وسلو له امله د ملکیانو ژوبله نهه سلنه کمه شوې.[214] ښځې او ماشومان د غیر مستقیمو وسلو له امله د هرو دریو ملکي تلفاتو دوه جوړوي.[215] ډېرى وختونه ملکیان هغه مهال زیانمن شوي کله چې د توپ مرمیو، هاوانونو یا راکیټونو د هغوی کورونه زیانمن یا ویجاړ کړي.

---

[207] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله په ۲۰۱۹ کال کې د ۱۰۵۹ ملکي تلفاتو (۲۴۱ مړه او ۸۱۸ ټپیان) په پرتله، ۹۵۳ ملکي تلفات (۲۵۶ مړه او ۶۹۷ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي.

[208] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ټاکنو اړوند ځمکنیو نښتو له امله ۲۲۴ ملکي تلفات (۲۸ مړه او ۱۹۶ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي.

[209] یوناما د جګړې د ښکېلو خواوو ترمنځ د ډزو تبادلې ته، چې مشخص لوري یې ندی معلوم کړای شوی، ۶۳۰ ملکي تلفات (۱۸۴ مړه او ۴۴۶ ټپیان) منسوب کړي.

[210] په ۲۰۲۰ کال کې یوناما د ځمکنیو نښتو له امله ۱۵۴ ملکي تلفات (۲۸ مړه او ۱۲۶ ټپیان) د پاکستاني نظامي ځواکونو له خوا د پولې په اوږدو کې ډزو ته منسوب کړي.

[211] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما په بدخشان، بادغیس، بلخ، دایکندي، غزني، غور، جوزجان، کندهار، کاپیسا، خوست، لوګر، ننګرهار، نیمروز، پکتیکا، ارزګان، او میدان وردګو ولایتونو کې د ځمکنیو نښتو له امله په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی مستند کړی.

[212] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله په شمالي سیمه کې ۸۷۳ ملکي تلفات (۲۰۸ مړه او ۶۶۵ ټپیان)، په شمال ختیځه سیمه کې ۵۲۲ ملکي تلفات (۱۷۹ مړه او ۳۴۳ ټپیان) او جنوبي سیمه کې ۵۱۶ ملکي تلفات (۱۵۵ مړه او ۳۶۱ ټپیان) مستند کړي.


[213] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله په فاریاب کې ۳۷۶ ملکي تلفات (۶۹ مړه او ۳۰۷ ټپیان)، په بلخ کې ۳۴۹ ملکي تلفات (۱۰۵ مړه او ۲۴۴ ټپیان)، په کندز کې ۲۱۸ ملکي تلفات (۸۶ مړه او ۱۳۲ ټپیان)، په غزني کې ۱۹۵ ملکي تلفات (۵۹ مړه او ۱۳۶ ټپیان)، په هلمند کې ۱۸۷ ملکي تلفات (۸۱ مړه او ۱۰۶ ټپیان)، په کندهار کې ۱۵۳ ملکي تلفات (۲۴ مړه او ۱۲۸ ټپیان) او په بغلان کې ۱۳۴ ملکي تلفات (۳۸ مړه او ۹۶ ټپیان) مستند کړي.

[214] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله ۲،۱۵۵ ملکي تلفات (۴۸۶ مړه او ۱،۶۶۹ ټپیان) مستند کړي.

[215] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله د ښځو ۴۲۰ تلفات (۱۱۵ مړه او ۳۰۵ ټپیان) او د ماشومانو ۹۱۴ تلفات (۲۲۳ مړه او ۶۹۱ مړه) مستند کړي.

## د ځمکنی نښتو په مهال د غیر مستقیمو وسلو د کارولو له امله ملکي تلفات

د جنورې ۱ څخه تر ۳۱ ډسمبر ۲۰۲۰-۲۰۱۶ پورې




د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، دولت پلوه ځواکونو د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله ۱،۰۸۵ ملکي تلفات (۲۹۹ مړه او ۷۸۶ ټپیان) اړولي. دا په ۲۰۱۹ کال کې د ملکي تلفاتو شمېر ته ورته دي او د دغه ډول وسلو له امله د ټولو ملکي تلفاتو ۵۳ سلنه جوړوي.[216] د غیر مستقیمو وسلو له امله زیاتره ملکي تلفات افغان ملي اردو ته منسوب شوي، کومه چې د ۸۵۴ ملکي تلفاتو (۲۴۷ مړه او ۶۰۷ ټپیان) مسوولهګڼل کېږي. دا د ۲۰۱۹ کال[217] په پرتله د دغه ډول وسله له امله افغان ملي اردو ته منسوب د ملکي تلفاتو په شمېر کې ۲۷ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.

د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر مستقیمو وسلو کارونې ۵۷۳ ملکي تلفات (۱۰۱ مړه او ۴۷۲ ټپیان) اړولي چې د دغه ډول وسلو له امله د ملکي تلفاتو ۲۸ سلنه او د ۲۰۱۹ کال په پرتله د ملکي تلفاتو په شمېر کې ۲۹ کموالي وړاندې کوي.[218] یوناما د غیر مستقیمو وسلو له امله ۴۹۰ ملکي تلفات (۸۷ مړه او ۴۰۳ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله د ملکي تلفاتو په شمېر کې ۲۶ سلنه کموالي ګڼل کېږي، چې په عمده ډول په ۲۰۲۰ کال کې د ټاکنو اړوند ملکي تلفاتو کې د کموالي له امله رامنځته شوی.[219]

د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله پاتې ۱۸ سلنه ملکي تلفات یا خو د جګړې یوې واحدې خوا ته ( ۱۷ سلنه ) ندي منسوب شوي یا د پولې هغې غاړې د توپونو د ګذارولو له امله (له دوه سلنې کم) رامنځته شوي.[220]

د مثال په ډول، د جون د ۲۹ نېټې پر سهار د هلمند ولایت په سنګین ولسوالۍ کې افغان ملي اردو هاوانونه ګذار کړل کوم چې پر بازار ولګېدل او د شپږو وژل شویو ماشومانو او ۱۱ نورو د ژوبلې په ګډون لږ تر لږه د ۵۰ ملکي تلفاتو (۱۹ مړه او ۳۱ ټپیان) لامل شول. د سپتمبر پر ۷ نېټه، غرمه مهال د پکتیا ولایت په اریوب ځاځیو ولسوالۍ کې د طالبانو له خوا ګذار شوې غیر مستقیمه مرمۍ پر یوې مدرسې ولګیده، چې د افغان ملي پولیسو چیک پواینټ ته څېرمه د ۵۰-۱۰۰ مترۍ کې یې موقعیت درلود. د چاودنې پرچو ۱۵ ماشومان چې عمرونه یې له شپږ تر ۱۴ کلنۍ پورې وو او له مدرسې څخه کور ته پر لار وو، ټپیان کړل. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې دغه راز پر کابل ښار د راکټونو ګذارولو د څلورو پېښو مسوولیت اخیستی، چې ټولټال د ۸۳ ملکي تلفاتو (۱۴ مړه او ۶۹ ټپیان) او د روغتیايي مرکزونو او ښوونځیو په ګډون عامه ملکیت ته د زیان لامل شوي.[221]

---

[216] په ۲۰۱۹ کال کې یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله ۱،۰۶۱ ملکي تلفات (۲۸۳ مړه او ۷۷۸ ټپیان) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.

[217] په ۲۰۱۹ کال کې یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال د افغان ملي اردو له خوا د غیر مستقیمو وسلو کارونې ته ۶۷۰ ملکي تلفات (۱۸۳ مړه او ۴۸۷ ټپیان) منسوب کړي.

[218] په ۲۰۱۹ کال کې یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر مستقیمو وسلو کارونې ته ۸۰۶ ملکي تلفات (۱۴۴ مړه او ۶۶۲ ټپیان) منسوب کړي.

[219] په ۲۰۱۹ کال کې یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال د طالبانو له خوا د غیر مستقیمو وسلو کارونې ته ۶۵۸ ملکي تلفات (۱۲۸ مړه او ۲۴۳ ټپیان) منسوب کړي.

[220] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله ۳۳۹ ملکي تلفات (۹۶ مړه او ۲۴۳ ټپیان) مستند کړي کوم چې نشي کېدای د جګړې یوه مشخص لوري ته منسوب شي. په ۲۰۲۰ کال کې یوناما همدارنګه د پاکستان د نظامي ځواکونو له خوا د پولې په اوږدو کې د توپونو د ګذارولو ته ۳۲ ملکي تلفات (۱۲ مړه او ۲۰ ټپیان) منسوب کړي.

[221] د مسوولیت منلو ادعاوې له یوناما سره د ملکي وګړو د ساتنې په ډیټابېس کې موجودې دي.

د ځمکنیو نښتو پر مهال د غیر مستقیمو ډزو له امله له هر دریو څخه دوه ملکي تلفات ښځې او ماشومان دي.

یوناما په دې اړه اندېښمنده چې ډېری ملکي تلفات په ګڼ میشتو سیمو کې د توپونو د مرمیو، هاوانونو، او راکیټونو د کاروني په پایله کې رامنځته شوي. د وسلو ماهیت ته په کتو دغه ډول کارونه په لوړه کچه ملکي زیان رانغاړي، کومې چې د هدف د څرګندېدو د مستقیمې کرښې پرته ګذارېږي، په ځانګړي ډول دقیق هدف نه ولي او پر پراخې سیمې اغیزې ښیندلی شي.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې دواړه دولت پلوه ځواکونه او دولت ضد عناصر باید په ګڼ میشتو سیمو کې د غیر مستقیمو وسلو د کاروني د بندولو په پار لاربښووني صادرې او تطبیق کړي. یوناما دغه راز د جګړې ښکېلو خواوو ته د دې یادونه کوي چې د بشرپالني د نړیوال قانون له مخې دوي مکلف دي چې د ملکي وګړو او جنګیالیو او د نظامي اهدافو او ملکي شیانو ترمنځ څرګند توپیر وکړي، او باید د جګړې پر مهال د داسې وسیلو او کړنلارو له کاروني ډډه وکړي چې بې توپیره اغیزې لري.

یوناما یو ځل بیا پر دې ټینګار کوي چې د جګړې د یوه لوري له خوا د بشرپالنې د نړیوال قانون په رعایت کې پاتې راتلل لکه د نظامي موخو لپاره د کورونو او ملکي شیانو کارول، د نړیوال قانون له مخې د تفکیک، احتیاط او تناسب د اصولو په ګډون د مقابل لوري مکلفیتونه نه کموي،.

یوناما دغه راز د دې خبرداری ورکوي چې د ځمکنیو نښتو پر مهال د غیر مستقیمو وسلو کارونه پر ملکي وګړو اوږد مهاله پایېدونکې اغیزې لرلی شي آن که جګړې پای ته رسیدلې هم وي، او دا په بالقوه ډول په هغو وسلو سیمې ککړه وي کومې چې نه وي چاودېدلې یا د جګړې پر مهال پریښودل شوې وي. له جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکې توکي د ماشومانو لپاره په ځانګړي ډول زیانمنونکې دي، دا هغه ثابت شوی حقیقت دی چې یوناما هر کال د دغو ناچاوده وسیلو له امله د ماشومانو په سلګونو تلفات مستندوي.

### ۲: د ځمکنۍ نښتو پرمهال د ډزو له امله ملکي تلفات

***"د دغې جګړې پر مهال یوه مرمۍ زما د میړه پر سینه ولګېده او هغه یې وواژه. هغه یو مهربان خاوند او خواري کښ پلار و چا چې ټول ژوند زموږ لپاره د ښه ژوند پر برابرولو مصرف کړ [...] د هغه مړینه زما د ژوند تر ټولو سخته او تیاره ورځ وه ځکه د ژوند ملګري او ګران له لاسه ورکول هیڅ د زغم وړ ندي. زه د هغه له لاسه ورکولو لپاره د خپل خپګان او خواشینۍ د ښکاره کولو لپاره هیڅ توري نه لرم. زه اوس یوازې د خپلو دوه ماشومانو لپاره ژوند کوم که نه ما به د هغه قاتلینو ترمنځ ځان وژلی و."***

-- یوه مېرمن چې خاوند یې د ځمکنۍ نښتې پرمهال د دولت پلوه وسله والې ډلې د ډزو له امله ووژل شو

د قرباني له مېرمن سره د یوناما تیلفوني مرکه

په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو پرمهال د ډزو له امله د ۲۰۱۹ په پرتله[222] په ملکي تلفاتو کې ۳۰ سلنه زیاتوالی مستند کړی، چې د ۱،۰۰۲ ملکي تلفاتو (۳۴۷ مړه او ۶۵۵ ټپیان) لامل شوي.

یوناما همدارنګه د هغو پېښو په شمېر کې چې ملکي تلفات یې اړولي ۴۱ سلنه زیاتوالی مستند کړي.[223] ډېری وختونه ملکیان هغه مهال وژل شوي یا ژوبل شوي کله چې هغوي د طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ترمنځ د ځمکنیو نښتو موقعیت ته نږدې وو.

د غیر مستقیمو ډزو د جریاناتو برعکس، د دولت پلوه ځواکونو په پرتله دولت ضد عناصرو د ځمکنیو نښتو پرمهال د ډزو له امله زیات ملکي تلفات اړولي. دولت ضد عناصر د دغو ډزو له امله د اوښتو تلفاتو د ۴۶۹ ملکي تلفاتو (۱۷۰ مړه او ۲۹۹ ټپیان) مسوول دي، چې د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۱۶ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[224] په ۲۰۲۰ کال کې یوناما د ځمکنیو نښتو پرمهال د ډزو له امله ۲۴۲ ملکي تلفات ۸۹ مړه او ۱۵۳ ټپیان دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي، چې د تېر کال په پرتله ۳۴ سلنه زیات تلفات ګڼل کېږي.[225] د ډزو له امله رامنځته شوي پاتې نور ملکي تلفات یا د جګړې کوم مشخص لوري[226] ته ندي منسوب کړای شوي یا د پولې هغې غاړې د پېښو له امله اوښتي.[227]

[222] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو پرمهال د ډزو له امله ۷۶۸ ملکي تلفات (۲۳۷ مړه او ۵۳۱ ټپیان) مستند کړي.

[223] په ۲۰۲۰ کال کې، د ځمکنیو نښتو پرمهال د ډزو ۶۶۲ پېښې مستند کړې د کومو شمېر چې په ۲۰۱۹ کال کې ۴۶۹ دغه ډول هغه وې.

[224] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو پرمهال د ډزو له امله ۴۰۶ ملکي تلفات (۱۱۲ مړه او ۲۹۴ ټپیان) دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

[225] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو پرمهال د ډزو له امله ۱۸۱ ملکي تلفات (۷۰ مړه او ۱۱۱ ټپیان) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.


[226] په ۲۰۲۰ کال کې، د ځمکنیو نښتو پرمهال د ښکېلو ډلو ترمنځ د ډزو تبادلې له امله ۲۸۸ ملکي تلفات (۸۷ مړه او ۲۰۱ ټپیان) مستند کړي کوم چې یې یوې ځانګړې لوري ته نشوای منسوبولی.

[227] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما درې ملکي تلفات (یو مړ او دوه ټپیان) د پاکستاني نظامي ځواکونو له خوا د پولې په اوږدو کې ډزو ته منسوب کړي.

د دغه ډول پېښو زیاتره ملکي قربانیان په خپلو ورځنیو چارو بوخت وو، پر عامه لویو لارو یې سفر کاوه یا په خپلو کورونو کې وو. د مثال په ډول د ۲۰۲۰ کال د جون پر ۱۳ نېټه غرمه مهال، د تخار ولایت په بهارک ولسوالۍ کې طالبانو د افغان ملي اردو پر کاروان برید وکړ. د دواړو لورو ترمنځ د دړزو پر مهال دوه ملکي نارینه داسې مهال ووژل شول چې په خپلو کروندو کې یې کار کاوه. پر دې سربېره، یوه نجلۍ په خپل کور کې د هوايي مرمۍ له امله ټپي او یو هلک چې خپل کور ته څېرمه پلې روان وو ټپي شو.

د ځمکني نښتو پر مهال د دړزو له امله ملکي تلفات

د جنوري ۱ څخه تر ۳۱ دسمبر ۲۰۲۰-۲۰۱۶ پورې




### ۳: د پولې هغې غاړې پېښې

د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د پاکستان له خوا د پولې په اوږدو کې ۱۹ پېښې مستندې کړې،[228] چې په افغانستان کې یې ولسي وګړي اغېزمن کړي او د ۱۵۶ ملکي تلفاتو (۲۸ مړه او ۱۲۸ ټپیان) لامل شوې. پاکستان ادعا کوي چې په زیاترو د پولې د هغې غاړې پېښو کې د پاکستان له لورې پر افغانستان دړزې اوتوپونه ندي ګذار شوي.[229]

په داسې حال کې چې د پاکستان له خوا د افغانستان پر خاوره د توپونو ویشتلو زیاتره پېښې چې د یوناما له خوا مستندې شوې په کونړ ولایت کې رامنځته شوې، د پولې په اوږدو کې د پېښو له امله زیاتره ملکي تلفات د جولای پر ۳۰ نېټه په کندهار ولایت کې د چمن-سپین بولدک پر پوله په یوه پېښه کې رامنځته شوې. یوناما د افغانستان په خاوره کې د ۱۵ ملکیانو وژنه او د ۱۰۴ نورو ژوبله مستند کړه کله چې لاریون پر تاوتریخوالي واوښت. یوناما وکولی شول یوازې د افغانستان په خاوره کې ملکي تلفات تایید کړي. پاکستان تور پورې کوي چې د پېښې له امله د پاکستان په خاوره کې هم ملکي زیان رامنځته شوی، کوم چې یوناما تایید نشو کړای. دواړه پاکستان نظامي ځواکونو او افغان ځواکونو یوناما ته دا تایید کړې چې دوی د پېښې پرمهال سپکې وسلې کارولې. دواړو په ډاګه کړې چې دوی یوازې یو پر بل ډزې کړې او د دې وړ نه وو څو معلومه کړي چې د جګړې پر مهال د هغوی خپله ښکېلتیا د ملکي تلفاتو لامل شوې.

یوناما د افغان او پاکستان دولتونو له خوا د تاوتریخوالي د مخنیوي چې ښایي د ملکي زیان لامل شي او د هغه د زیاتوالي د محدودولو لپاره ترسره شوي ګامونه چې د همکارۍ او اړیکو د لابښه والي په خاطر ترسره کړي ملاحظه کړیدي.

[228] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما مستند کړې چې د پولې په اوږدو کې د ۱۹ پېښو څخه ۱۷ هغه یې د پاکستان له خوا د افغانستان پر خاوره د دړزو یاتوپونو ویشتلو په پایله کې رامنځ ته شوي چې د ۱۵۴ ملکي تلفاتو (۲۸ مړه او ۱۲۶ ټپیان) لامل شوي. د پورتنیو پېښو له جملې دوه پېښې د افغانستان په ختیځ کونړ ولایت کې د پولې په سیمه کې د ځمکنیو ماینونو له امله رامنځ ته شوي، چې د دوه شپونکیو د پښو د ژوبلې لامل شوي. د پاکستان له معلوماتو سره سم، ټول پاکستاني ځمکني ماینونه په شمار دي او هیڅ یو یې د پاکستان د نظامي ځواکونو له خوا د پاکستان له خاورې د باندې ندی کارول شوي، نه هم کوم سامان یا ډلې ته ورکړل شوي.

[229] پاکستان یوناما ته په ډاګه کړې چې هغو د پولې په اوږدو کې د ۱۹ پېښو څېړنه ترسره کړې. د دغو څېړنو له پایلو سره سم، د پاکستان په وینا په ۱۷ پېښو کې یې د پاکستان له لوري مرمۍ ندي ګذار شوي، او په دوه پېښو کې مرمۍ ګذار شوي خو پاکستان یې له امله کوم ملکي تلفات ندي تایید کړې.

## ب. له جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي توکي


***"زما ۷ کلن وراره یو ناچاوده لاسي بم پیدا کړی و او کله چې یې له هغه سره لوبې کولې، چاودنه رامنځته شوه. دغه لاسي بم د طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ترمنځ د وسله نښتو څخه پاتې شوی و. هغه او د هغه دوه ملګري د لاسي بم د پرچو له امله ژوبل شول [...] ځنې پرچې یې پر لاس، مخ او خېټه لګېدلې وې. ډاکټرانو عملیات کړ او ځینې پرچې یې ځینې راویستې. د یو څو ورځو لپاره په روغتون کې بستر و [...] تر دغې پېښې وروسته زما وراره ډېر حساس او مضطرب شوی. [...] هغه یو ماشوم دی او نشي کولی په سم ډول خپل درد بیان کړي. کله چې هغه لوبې کوي [...] په خېټه کې د درد احساس کوي. [...] د دغې پېښې په اړه له موږ سره هیڅ اړیکه نده نیولې."***

-- د جګړې د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله د ټپي شوي ماشوم تره

له قرباني سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۳۰ جون ۲۰۲۰

په افغانستان کې د اوسني او پخوانیو شخړو پر مهال جګړې د دغه هیواد ولسي وګړو په تېره بیا ماشومانو ته د زیان اړول جاري ساتلي، چې هغوی له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو یا ناچاودو توکو له امله وژل کېږي او د ژوند اغېزمنونکو ټپونو څخه کړېږي، همدارنګه له جګړې څخه پاتې شونو چاودېدونکو توکو برخې ته رجوع وکړئ. د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله ۳۹۴ ملکي تلفات (۱۰۳ مړه او ۲۹۱ ټپیان) مستند کړي، چې په تېر کال کې د ثبت شویو تلفاتو د شمېر په پرتله ۲۴ سلنه کموالی په ډاګه کوي.[230] په ۲۰۲۰ کال کې له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله دوه پر دریمه برخه ملکي تلفات د جګړې ښکېلو خواوو زیاتره طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوي.[231]


له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله له هرو ۱۰ ملکي تلفاتو اته هغه یې ماشومان جوړوي، چې د ماشومانو ۳۱۴ تلفات (۸۴ مړه او ۲۳۰ ټپیان) کېږي. له جګړې څخه د چاودېدونکو توکو له د ماشومانو نا متناسب زیان له شمېرو ها خوا تېرېږي، چې د هغوی د ژوند پر کیفیت له اوږد مهاله اغېز لکه جسمي معلولیت، د سترګو لید له لاسه ورکول او عاطفي او رواني ټراما سره لاس او ګرېوان وي،




[230] په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله ۵۲۰ ملکي تلفات (۱۴۹ مړه او ۳۷۱ ټپیان) مستند کړي.
[231] په ۲۰۲۰ کال کې، یوناما دولت ضد عناصرو یا دولت پلوه وسله والو ځواکونو ته ۲۵۳ ملکي تلفات (۶۵ مړه او ۱۸۸ ټپیان) منسوب کړي.

## د جګړې څخه د پاتې شوي ناچاوده توکو له امله ملکي تلفات

۱ جنوری څخه ۳۱ دسمبر ۲۰۲۰




ماشومان له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو سره د لوبو کولو یا د اوسپنې ټوټو په څیر د هغوی راغونډولو پرمهال چې د کباړ په دوکان پې وپلوري زیانمن کېږي. د مثال په ډول د جون پر ۱۸ نېټه د تخار ولایت، د اشکامش ولسوالۍ په شهر کهنه کې د یوې مدرسې په بڼ کې له جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي وسیلې ۱۴ ماشومانو ته تلفات (۷ هلکان مړه او ۷ پې ټپیان ) واړول. چاودنه هغه مهال رامنځته شوه کله چې څلورو ماشومانو د مدرسې په بڼ کې د راکیټ یوه سر ګولوله پیدا کړه او له هغې سره یې لوبې کول پیل کړل. د دغه پېښې مسوول لوری نا معلوم پاتې دی. د جولای پر ۱۰ نېټه د زابل ولایت په قلات ولسوالۍ کې له جګړې څخه پاتې شونو چاودېدونکو توکو درې هلکان ووژل او یو هلک او یو سړی یې ټپیان کړل. ماشومانو دغه ناچاوده توکي پیدا کړي وو او هغه یې ځایي مارکیټ ته د اوسپنې ټوټو په څیر د پلور لپاره وړي وو. سرچینو په ډاګه کړې چې دغه ناچاوده توکي له وروستۍ جګړې څخه پاتې شوي وو، چې یا طالبانو او یا هم افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوبوي.

یوناما یو ځل بیا ماشومانو او د هغوی میندو پلرونو ته د ماینونو د خطر په اړه د پوهنې او روزنې اهمیت ډېر ټینګار کوي، څو له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو د خطر په اړه پوهاوی لوړ شي. د اوربندونو یا د جګړې د پای ته رسېدو په ګډون، له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د توقف لپاره لا زیاتو اقداماتو ته اړتیا ده. یوناما دغه راز د فبروري په پای کې د "تاوتریخوالي د کمښت اونۍ" او د اخترونو د اوربندونو په اوږدو کې له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو پېښې مستندې کړې.[232]

یوناما د جګړې ښکېلو خواوو ته د هغوی د دې مکلفیت یادونه کوي چې له جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي توکي نښاني، پاک، لرې یا خنثې کړي او د هغوی له خطرونو او اغېزو څخه د ملکي وګړو د ساتنې لپاره ټول ممکنه احتیاطي تدابیر ترسره کړي.

یوناما د دې یادونه کوي چې د راپور ورکولو په موده کې د مروجو وسلو په اړه د کنوانسیون په اړه افغانستان د تعهدات د یوې برخې په څیر د "پنځم پروتوکول د تطبیق په پار د میکانیزم" د وړاندیز طرح د ملي امنیت د شورا د دفتر له خوا تر بیا کتنې لاندې وه. یوناما ټولو اړوندو هغو ښو چې د پنځم پروتوکول د تطبیق لپاره د ټول ممکنه ملاتړ برابرول جاري وساتي او د دې یادونه کوي چې نړیوال ځواکونه د روزنې، مرستې او سلا مشورو د مسوولیتونو له مخې د دې مسوولیت لري څو د دې په ډاډمنولو کې مرسته وکړي چې دولت د پنځم پروتوکول مکلفیتونه رعایتوي. نړیوال نظامي ځواکونه دغه راز د هغو ناوچاودو توکو په اړه چې تر شا یې پرېښي، مسوولیت لري. یوناما همدارنګه له طالبانو غوښتنه کوي د کنوانسیون روحیې ته پابند پاتې شي او د هغوی تر ولکې لاندې سیمو ته د ماین پاکانو لاس رسی ډاډمن کړي.

---

[232] "په تاوتریخوالي کې د کمښت اونۍ" (۲۰۲۰ کال د فبروري له ۲۲ تر ۲۹ پورې)؛ د کوچني اختر د اوربند ( ۲۰۲۰ کال د مۍ له ۲۴ تر ۲۶ پورې) او د لوی اختر د اوربند (د جولای له ۳۱ د اګست تر ۲ پورې) پر مهال، یوناما له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو ۱۵ داسې پېښې مستند کړې چې ۲۸ ملکي تلفات (۴ مړه او ۲۴ ټپیان) یې رامنځ ته کړي.

## پنځم. پر قربانیانو د جګړې پایښودونکې اغېزې او زیان ته د رسیدګۍ هڅې

په ۲۰۲۰ کال کې یوناما تر پېښې وروسته د مرکو د ترسره کولو له لارې د قربانیانو او د هغوي د کورنۍ د غړو233 پر بشري حقونو د وسله والې جګړې د پایښودونکې اغېز ته خپله ځارنه پراخه کړې.234 دغه مرکې او بیا وروسته د هغوي د ځرګندونو خپرول په دې موخه ترسره شوي چې په ټول هیواد کې د قربانیانو سیستماتیکه نمونه اخیستنه برابره شي.

د ځارنې او راپور ورکونې له پراخېدو سره، یوناما هڅه کوي د بشري تجربو د شریکولو له لارې د شخړو له امله د زیانمنو شویو خلکو غږونه اوچت کړي او پر مدني او سیاسي اغېزو هاخوا ټولنیز، کلتوري او اقتصادي حقونو ، فیزیکي بشپړتیا د حق په ګډون، د شخړې د دوامدارو اغېزو شاهد وي.

د دغو حقونو ساتنه آن د وسلوالې جګړې پرمهال هم مهمه ده او د جسمي او رواني روغتیا تر ټولو لوړ د تر لاسه کېدو وړ معیار حق؛ د پوهې حق؛ د خوړو، کالیو او کور حق؛ د کار او په ټولنیز او کلتوري ژوند کې د ګډون حق هم رانغاړي.[235] د یوناما له خوا ترسره شویو مرکو دغه راز دا په ډاګه کړه چې د جګړې  ښکېلې خواوې تر کومې اندازې اړول شوي زیان منلي او مسوولیت یې اخیستی او تر کوم حده د قرباني عدالت ته لاسرسي، سپیناوی او د خسارې جبران حقونو ته رسیدګي شوې. دغو مرکو دغه راز د قربانیانو او د هغوي د کورنیو پر اړتیاوو لکه مالي مرستې، ساتنې، طبي درملنې، رواني ملاتړ او همدارنګه د خپلو ځانونو او د افغانستان د راتلونکي لپاره د هغوي پر هیلو رڼا ښیندلې، کومې چې عدالت، معلوماتو ته لاس رسی، بخښنې، له نور زیان څخه مصونیت  او سوله رانغاړي.

کله چې مناسب وي، یوناما خپل د ښه نیت هڅو په ترسره کولو سره قربانیان د خدمتونو اړوند برابرونکو یا د قربانیانو د مرستې میکانیزمونو ته راجع کړي. دا همدارنګه له مرکو څخه راغونډ شوي معلومات د جګړې له  ښکېلو خواوو سره په خپله  عدالت غوښتنه  کې په دې موخه کارولي چې په هغو ساحو کې بدلون رامنځته کړي چیرې چې حقونه اغېزمن شوي او د خسارې جبران شتون و نلري.

### الف. په قربانیانو اغیز

په دې ساحه کې د یوناما پراخې  هلې ځلې د ۲۰۲۰ کال په جون کې پیل شوې. له جون څخه تر دسمبر پورې، یوناما د افغانستان په ټولو سیمو کې له مختلفو قربانیانو سره ۱۳۲ مرکې ترسره کړې. مرکې  د هغو پېښو د تعقیب په څېر ترسره شوي کومې چې لږ تر لږه تر مرکې یوه میاشت مخکې رامنځته شوي او ټولې پېښې د ۲۰۲۰ کال پرمهال پېښې شوې. د ۲۰۲۰ کال په جولای او اکتوبر کې په ترتیب سره یوناما د ۲۰۲۰ کال د ملکي وګړو د ساتنې په شپږ میاشتني او د دریېمې ربع په راپورونو کې تر دغه مهال د ترسره شویو مرکو د پایلو شریکول پیل کړې. څرنګه چې یوناما د دغو مرکو ترسره کول جاري ساتلي، د راغونډ شویو پراخو معلوماتو شننه یې هم پیل کړې چې د ۱۳۲ مرکو ټولګه هغه جریانونه په ډاګه کوي کوم چې د موضوع په اړه له پخوانۍ راپور ورکونې[236] سره په سمون کې دي.

یو د پام وړ مثبت جریان دا وه چې د مرکه شویو قربانیانو لپاره روغتیایي پاملرنې ته لاس رسی معمول و: هغه قربانیان چې جسمي ټپونه یې درلودل، ۹۴ سلنه هغو یې د خپلو ټپونو لپاره د طبي درملنې د ترلاسه کولو خبر ورکړی. له دې سره سره، ۸۲ سلنه ټپي شوي له اوږد مهاله درد یا جسمي معلولیت لکه د بدن د غړو له لاسه ورکول، د پرچو ټپونه، فلج یا د نیمګړتیاوو نورو شکلونو څخه کړېدلي. د مثال په ډول یوه خپلوان په جنوب ختیځه سیمه کې د ځمکنۍ نښتې پرمهال د هوایي ډزو له امله د خپلې خور ټپونه داسې تشریح کړل:

> *"هغه امیندواره ده او روانه میاشت به خپل ماشوم وزیږوي. په بدن کې یې لا اوس هم ځینې پرچې شتون لري. د ډاکټرانو له معلوماتو سره سم هغه به د ماشوم تر زیږولو وروسته عملیات شي څو له بدن څخه یې دغه پرچې لرې کړای شي."[237]*

[233] د دغه راپور په موخه، د "قرباني" اصطلاح د مستقیم قرباني نږدې کورنۍ یا متعلقین هم رانغاړي. یوناما هغه ملکي قربانیان ځاري څوک چې د جګړې له امله ټپي شوي یا د هغو ملکیانو د کورنۍ نږدې غړي دي څوک چې په وسله واله جګړه کې وژل شوي. د ملکي وګړو مرګ ژوبله ښايي یا نه ښايي چې د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه د سرغړونې پایله وي.

[234] قربانیان د تعقیبي پلټنو په څېر د یوناما د ملکیانو د منظمې ځارنې له لارې د تایید شویو غوره شویو پېښو تر یوې میاشتې وروسته مرکه شوي. هره مرکه د مرکه ورکونکي په رضایت ترسره شوې چې د هغوي د معلومات د یوې نا معلومې سرچینې په څېر د یوناما په راپورونو کې وکاروي او دغه کار د "ضرر نه رسولو" اصل او د صدمې د بیا پېښېدو د مخنیوي د احتیاطي تدابیرو په پام کې نیولو سره ترسره شوی.

[235] د مدني او سیاسي حقونو په اړه نړیوال کنوانسیون؛ د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال کنوانسیون ۱۱، ۱۲، ۱۳ او ۱۴ مادې وګورئ.

[236] د یوناما د ۲۰۲۰ کال د ملکي وګړو د ساتنې شپږ میاشتنی راپور (جولای ۲۰۲۰)، او د یوناما د ۲۰۲۰ کال د ملکي وګړو د ساتنې د دریېمې ربع راپور (اکتوبر ۲۰۲۰) وګورئ.

[237] د قرباني له خپلوان سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۳۱ اګست ۲۰۲۰.

# افغانستان : په قربانیانو د جګړې اغیز



**۸۲** سلنه د قربانیانو سره چې مرکه شوې ، اوږد مهاله یا دایمي معلول شوي

**۱۰۰** سلنه د مرکه شوو قربانیانو په خپل رواني احساساتو د منفي اغیز راپور ورکړی

**۸۷** سلنه د مرکه شوي قربانیانو ته مالي زیان اوښتی

**۱۵** سلنه مرکه شوي قربانیانو د کورونو پریښودو ته اړباسل شوي

**۶۴** سلنه د مرکه شوي قربانیانو په ټولنیز ژوند کې ګډون د قابلیت باندې منفي اغیز راپور ورکړی

یو سړی چې په شمالي سیمه کې د طالبانو د هدفي وژنې له هڅې ژوندی پاتې شوی، خو د مخ شکل یې ورخراب کړي، په ډاګه کړه:

> *" کله چې ما د برق له یوه شرکت سره کار کاوه، طالبانو زه په کلاشنکوف سره پر مخ وویشتم ... دوي هوډ درلود چې ما ووژني نو ځکه یې پر مخ وویشتم، خو زه مړ نشوم. خو له دې سره سره د پېښې د سختو ټپونو له امله، ما د خپلې ښي خوا سترګې ۸۰ سلنه لید او نږدې ۳۰ سلنه د اورېدو حس له لاسه ورکړي او زما د مخ شکل یې راخراب کړی . زه په دې اړه اندېښمن یم چې کېدای شي د خپلې سترګې پاتې لید هم له لاسه ورکړم. "* [238]

زیات شمېر قربانیان همدارنګه د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د فشاري ماینونو له امله له ناوړه ټپونو څخه کړېږي، لکه یوه هغه ښځه چې په مرکزي سیمه کې د فشاري ماین د چاودنې له امله معیوبه شوې:

> *"زما مخ، سر او مټې ټپي شوي. زما د ښېتی هډوکي او زما ښبه ماته شوي. زما غاښونه لویدلي. زه لا اوس هم پر کټ پراته یم. زه په سم ډول لا اوس هم نشم خوځیدلی.* [239]"

یوه بل سړي د خپل ورور زخمونه چې د افغان ملي اردو د هوایي برید له امله په ختیځه سیمه کې رامنځته شوي، داسې بیان کړل:

> *"د هغه د بدن په داخل کې د هغه ځیګر، ګرده، مثانه او کولمې د یوې پرچې له امله ټپي شوي. هغه عملیات شوي خو هغه لا تر اوسه نشي کولی وګرځي... زما ورور خپله ورتیا له لاسه ورکړې او له کار لویدلی. هغه د خپلې کورنۍ یوازینی ګټیالی و او هغه ۱۴ ماشومان لري."* [240]

ټولو ۱۳۲ مرکه شویو قربانیانو د پېښو له امله د عاطفي او رواني اضطراب پریشاني څخه د کړاو خبر ورکړی لکه د خوب ستونزې، د تمرکز بې ثباتي، د حافظې له لاسه ورکول، د پېښې مکرر یادونه، په ورځنیو چارو کې نه لیوالتیا، ټولنیز بیلتون، او داسې نور. یوه تره د خپل ۱۵ کلن وراره

[238] له قرباني سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۳۰ جون ۲۰۲۰.
[239] د قرباني له خپلوان سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۰ دسمبر ۲۰۲۰.
[240] د قرباني له ورور سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۲۶ اګست ۲۰۲۰.

څوک چې په ختیځه سیمه کې د پسونو د پیولو پرمهال د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو له امله خپله پښه له لاسه ورکړې، احساساتي ترواما داسې بیان کړه:

*"هغه معیوب شوی او نشي ګرځېدلی... هغه ځینې وختونه ژاړي او ناهیلی دی. هغه ځینې وختونه بهر وځي او د خپل کور مخ ته د شنې ونې لاندې یوازې خپل وخت تېروي... ما یې مور ته ویلي چې هغه یوازې پرېږدي... تر پېښې وروسته هغه ډېر کم خاندي... هغه اوس داسې فکر کوي چې ځمکنۍ ماینونه هر ځای خښ دي. هغه چې کله بهر بن ته وځي، ډېر احتیاط کوي او سترګې یې پر ځمکې خښې کړې وي."* [241]

یوه ځوان سړي خپل کشر ورور په جنوب ختیځه سیمه کې په یوه ځمکنۍ نښته کې له لاسه ورکړ:

*"زموږ کور اوس ډېر تش ښکاري... زما ورور له ما سره هره ورځ ښوونځي ته تلو خو هغه اوس نشته چې زما ملتیا وکړي. زموږ د سړک هره کوچنۍ او لوی ډبره زما په ژوند کې زما د ورور یو یاد لري... ښوونځي ته د تګ پرمهال مې تل په یاد وي. د سړک هره ډبره پر ما غږ کوي."* [242]

له دې حقیقت سره سره چې هیڅوک له عاطفي او رواني ترواما څخه تېښته نشي کولی، د مرکه شویو یوازې څلور سلنه قربانیانو رواني-ټولنیز خدمتونه ترلاسه کړي. زیاتره قربانیان په دې باور وو چې د هغوی په سیمه کې دغه ډول خدمتونو شتون نه درلود، فکر یې نه کاوه چې څه مرسته به وکړي، یا یې بې خبري څرګنده کړې چې څرنګه دغه ملاتړ ته لاس رسی پیدا کړي.

د پېښې له امله ډېری مرکه شوي قربانیان، ۸۷ سلنه، له مالي زیان سره مخ شوي. په زیاتره قضیو کې دا په کورنۍ کې د ګټیالي د مړینې یا کمزورۍ، یا د ځارویو، موټر، کورونو د زیان یا د طبي درملنې لکه د عملیاتو، درملو اویا دغو خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره د ترانسپورټ د لوړ قیمت له امله رامنځته شوي.

۸۴ سلنه مرکه شویو په ډاګه کړې چې د پېښې له امله د هغوی د خوندیتوب او امنیت حس په منفي ډول اغېزمن شوی. یوه مرکه ورکوونکي، هغه زنداني څوک چې په جلال اباد کې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې په ډله ییز برید کې سخت ټپي شوی، معموله نا امني داسې بیانوي:

*"تاسو د هیواد په هیڅ کونج کې خوندي نه یې، آن په زندان، روغتون، جومات، ښوونځي، پوهنتون او آن د خپل کور په داخل کې."* [243]

۱۵ سلنه قربانیان بل ځای کې ځای پر ځای کېدو ته اړ شوي، په داسې حال کې چې نورو بل ځای ته د تګ هیله څرګنده کړې، خو دغه کار د پیسو د نشتون یا د دې له امله نشي کولی څکه هغوي د تګ لپاره بل کوم ځای نلري. د مرکه شویو یو شمېر یې لا وار د مخه په تېر کې د تاوتریخوالي د بلې پېښې له امله په داخلي ډول بېځایه شوي او اوس له دې پرېکړې سره مخ وو چې آیا یو ځل بیا بېځایه شي. ځینې د ګواښونو له امله بېځایه شوي لکه یو سړی چا چې خپله مېرمن او ځوان زوی د طالبانو له خوا د خښ شوي فشاري ماین په چاودنه کې له لاسه ورکړي:

*"ما خپل غبرګون ته کړ او طالبانو ته مې وویل چې دوی د هغې پېښې له امله ملامت دي په کومه کې چې ما خپله کورنۍ له لاسه ورکړه. اوس هغوي ما ګواښي چې خپلې څرګندونې بدلې کړم او د هغې پېښې لپاره دولت ملامت کړم، خو زه به هیڅکله خپلې څرګندوې بدلې نکړم، آن ما د پېښې په اړه په ټولنیزو رسنیو کې هم لیکنه کړې او طالبان مې د پېښې مسوول ګڼلي. تر هغې پېښې وروسته ما باید خپل کور پرېښی وای... څکه طالبان زما په لټه کې دي."* [244]

په ورته ډول، یو دولتي کارمند چې په کابل کې د ترور له هڅې ژوندی پاتې شوی بیان کړه چې هغه څرنګه د اونۍ زیاتره شپې پخپل دفتر کې تېروي څو له کور څخه دفتر ته د تګ راتګ پرمهال د خطر مخه ونیسي.

له مرکه شویو ۶۲ هغو یې خبر ورکړی چې د هغوي د کورنۍ وضعیت اغېزمن شوی. کله چې ښځې او ماشومان د کورنۍ نارینه غړي له لاسه ورکوي، زیات هغه یې اړ کېږي چې د ملاتړ او ساتنې لپاره له خپلو خپلوانو سره لاړ شي. د ځینو لپاره، لکه په شمال ختیځ سیمه کې د یوې هغې ښځې په څیر چا چې په یوه هدفي وژنه کې خپل مېړه له لاسه ورکړی و، دغه ډول یو خوځښت د هغې د ژوند پر کیفیت منفي اغېز درلود:

*"مخکې له دې چې دا پېښه رامنځته شي ما له خپل مېړه او ماشومانو سره یو خپلواک ژوند درلود، خو تر پېښې وروسته زما لیور زموږ وسایل خپل کور ته ولېږدول او و یې ویل، که چیرې په خپل کور کې یوازې پاتې شي، ستا او ماشومانو ژوند دې په خطر کې دی، نو ما*

[241] د قرباني له تره سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۵ سپتمبر ۲۰۲۰.
[242] د قرباني له ورور سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۲ نومبر ۲۰۲۰.
[243] له قرباني سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۴ سپتمبر ۲۰۲۰.
[244] له قرباني سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۷ سپتمبر ۲۰۲۰.

*خپل کور پرېښود او د لیور کور ته لاړم. اوس زه باید هغه څه وکړم چې خسرخیل يې راته وايي."* [245]

۶۴ سلنه قربانیانو په ډاګه کړې چې پېښې د هغوي پر دې وړتیا اغیز کړی څو په ټولنیزو او کلتوري فعالیتونو کې ګډون وکړي، لکه جوماتونو ته د لمانځه لپاره تګ، د جنازې او ودونو په مراسمو کې ګډون او له خپلو خپلوانو سره وخت تېرول. په ختیځه سیمه کې یوه ځوان سړي هغه ټولنیز عواقب چې د هغه کورنۍ ورسره په یوه هدفي وژنه کې د هغه د پلار تر مرګ ورسته مخ ده، داسې بیان کړل:

*"تر دغې پېښې وروسته زه او زما خویندې وروڼه اوس یتیمان یو. مور اوس په ټولنیز ډول له خپلو خپلوانو د لیروالي احساس کوو ځکه چې زما پلار زموږ او د هغوي ترمنځ یو مهم تړاو و، تر هغوي موږ اوس زیات له نورو خپلوانو او د ټولنې له خلکو سره راکړه ورکړه کوو... زما د پلار تر وژنې وروسته زموږ ټولنیز وضعیت تر ډېره اغیزمن شوی. کله چې هغه ژوندی و، موږ له نورو خلکو سره په غوره ډول نښتي وو، لکه د واده په څېر په غونډو، د خپلوانو په ناستو او نورو ټولنیزو او کلتوري فعالیتونو کې د ګډون له لارې. د هغه تر وژنې وروسته موږ اوس تجرید شوي یو."* [246]

د هغه سړي ورور چې د طالبانو له خوا په جنوب ختیځه سیمه کې ووژل شو او بیا وروسته هغه هم ګواښل کېدو داسې په ډاګه کړه:

*"موږ د ودونو یا جنازې په مراسمو کې ګډون نشو کولی. زه نشم کولی د لمانځه لپاره جومات یا کار ته لاړ شم، ځکه د طالبانو د بریدونو وېره هر ځای خپره ده او زه له دې ډارېږم چې طالبان ما هر ځای پیدا کړي هغوي به ما ووژني. زه د خپلو ملګرو په کور کې پاتې کېږم او خپل کور ته نشم تلای چې خپله مور او د خپل ورور یتیم ماشومان وګورم."* [247]

د ټولنې په کچه، د دغو زړه بګنونکو پېښو پایلې قرباني او کورنۍ ته تر اوښتي زیان ډېرې اغېزې اوړي، چې ټولنه بالقوه رهبران لکه ډاکټران، قانون پوهان او نور ژمن ځوان خلک څوک چې خپل هیواد پر یوه غوره ځای د بدلولو لپاره هڅې کوي. د مثال په ډول یو پلار خپل زوي چې زده کړې یې کولې څو مدافع وکیل شي داسې مهال له لاسه ورکړل، کله چې د هغوي موټر په شمالي سیمه کې د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو پر فشاري ماین ور برابر شو:

*"زما زوی د حقوقو پوهنځي محصل و – موږ د خپل زوي لپاره ډېر خوبونه او هیلې درلودې ځکه هغه زموږ په کورنۍ کې یوازېنی کس و چې لوړې زده کړې یې درلودې... دا په افغانستان کې ورځني کار دی چې میندې او پلرونه خپل زامن او نږدې خپلوان له لاسه ورکوي یا د هغوي د مړینې شاهدان وي."* [248]

په شمال ختیځه سیمه کې د طالبانو د هدفي وژنې له امله یو بل غمجن پلار د خپل زوی چا چې د ډاکټر کېدو په پار زده کړې کولې، مړینه داسې بیان کړه:

*"هغه زما یوازېنی زوی و. په تېرو ۲۸ کلونو کې ما زیات زیار وایست خو هغه مې کار کولو ته پرېښود. هغه مې پرېښی و چې پر خپلو زده کړو تمرکز وکړي. هغه په څو میاشتو کې د طب له پوهنځي د فارغېدو په حال کې و او تر هغې وروسته یې غوښتل چې یوه دنده ولري څو له مالي پلوه له خپلې کورنۍ سره مرسته وکړي. له بده مرغه هغه ووژل شو او ما ټولې هیلې له لاسه ورکړې."* [249]

[245] د قرباني له میرمنې سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۲۷ اګست ۲۰۲۰.
[246] د قرباني له زوی سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۹ اګست ۲۰۲۰.
[247] د قرباني له ورور سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۰ دسمبر ۲۰۲۰.
[248] د قرباني له پلار سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۳۱ اګست ۲۰۲۰.
[249] د قرباني له پلار سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۶ دسمبر ۲۰۲۰.

## ب. د زیان د جبران هڅې

د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې، افغان دولت د مناسب ژوندانه معیار ته د افغانانو د حقونو د درناوي، ساتنې او برابروني لومړنی مسوولیت لرونکی ګڼل کېږي.[250] له دې سره سره، نا دولتي وسله والې ډلې لکه طالبان څوک چې د دولت په څېر چارې ترسره کوي او یو قلمرو تر خپلې ولکې لاندې لري باید بشري حقونو ته درناوي وکړي، کله چې د دوی کړنې د هغو افرادو پر بشري حقونو اغېز کوي چې د دوی تر فعال کنترول لاندې سیمه کې ژوند کوي. له دې سره سره چې دغه ډلې د بشري حقونو د نړیوالو میثاقونو غړې نه دي،[251] دوی په زیاتېدونکې ډول د بشري حقونو نړیوالو مشخصو مکلفیتونو ته ملتزم او پابند انګېرل کېږي.[252] پر دې سربېره، د قربانیانو مشخصو حقونو په رسیدګی کې د نا دولتي وسله والو ډلو د رول اهمیت پېژندل شوی.[253] په افغانستان کې فعالیت کوونکې د نادولتي وسله والو ډلو د بشري حقونو مسوولیتونه د افغانستان دا مکلفیت نه اغېزمن کوي چې د خپل قلمرو لاندې سیمو کې نړیوال بشري حقونه رعایت کړي. دولت د لازمي پاملرنې او ټولو موجوده تدابیرو ترسره کولو مکلفیت لري، څو په خپل قلمرو کې او د هغه له قضاوت سره مخ کیدونکې ټول وګړي د هغوی بشري حقونو څخه د برخمن کېدو ته د اوسنیو چارواکو او وسله ډلو په ګډون د نا دولتي فعالینو له خوا د رامنځته شویو ګواښونو په وړاندې خوندي کړي. افغانستان باید د بشري حقونو د سرغړونو او تېریو مرتکبین د احتساب منګولو ته وسپاري او د خسارې د موثر جبران د حق په ګډون د قربانیانو حقونه تضمین کړي. د وسله والې جګړې قربانیان د حقیقت،[254] عدالت،[255] د خسارې جبران[256] مشخص حقونه او د بیا نه پېښېدو تضمینونلري.[257]

[250] د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو په اړه د نړیوال کنوانسیون ۱۱ ماده وګورئ.

[251] په اوکراین د جګړې اړوند جنايي قضیو کې د عدالت په مدیریت کې د بشري حقونو په اړه د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر راپور اپریل ۲۰۱۴-۲۰۲۰ راپور ۴ پاراګراف په لاندنۍ انټرنيټي پته وګورئ: https://www.ohchr.org/Documents/Countries/UA/Ukraine-admin-justice-conflict-related-cases-en.pdf; دغه راز UNSOM د ۲۰۱۷ کال د جنوري له ۱ څخه د ۲۰۱۹ کال د دسمبر تر ۳۱ پورې د ملکي وګړو د ساتنې د راپور، د ۱ ضمیمې دویم مخ په راتلونکې انټرنيټي پته وګورئ: https://www.ohchr.org/Documents/Countries/SO/UNSOM_protection_of_civilians_2020.pdf; همدارنګه د بشي حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر، په اشغال شوي فلسطین په تېره بیا د غزې په تړاره کې د اسرائیلي ځواکونو وروستي بریدونه او تېرې څخه د بشري حقونو سرغړونې په اړه راپور- د بشري حقونو د شورا د ۷/۱ پرېکړه لیک A/HRC/8/17 د تطبیق په اړه د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر راپور، ۶ جون ۲۰۰۸، ۹ پاراګراف وګورئ، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر په وسله واله جګړه کې د بشري حقونو حقوقي نړیواله ساتنه، ۲۰۱۱ ۲۳۰۲۵ مخونه وګورئ.

[252] په مالي کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د راپور ۷A/HRC/22/33 جنوري ۲۰۱۲، ۱۸-۴۶ پاراګرافونه وګورئ. د ملګرو ملتونو عمومي منشي، په سریلنکا کې د احتساب په اړه د عمومي منشي د کارپوهانو د پلاوي راپور، ۳۱ مارچ ۲۰۱۱، ۱۸۸ پاراګراف. په لیبیا عربي جمهوریت کې د بشري حقونو له نړیوال قانون څخه د ادعا شویو تورونو د څېړنو په اړه د څېړنو د نړیوالو کمیسیون A/HRC/17/44 راپور، ۱ جون ۲۰۱۱؛ په سورېې عربي جمهوریت کې د بشري حقونو د وضعیت د څېړنو په اړه د څېړنو د نړیوالو کمیسیون A/HRC/19/69راپور، ۱۰۶ پاراګراف، په جنوبي سوډان کې د ملګرو ملتونو ماموریت، په جنوبي سوډان کې جګړه: د بشري حقونو راپور، ۸ می ۲۰۱۴، ۱۸ پاراګراف؛ د ۲۰۱۴ کال د غزې د جګړې په اړه د څېړنو د خپلواک کمیسیون د راپور A/HRC/29/CRP.4 مفصلې موندنې، ۴۵ پاراګراف وګورئ.

[253] د مثال په ډول، د بشر پالنې د نړیوال قانون د جدي سرغړونو د قربانیانو لپاره د جبران او تاوان د حق په اړه د ملګرو ملتونو اساسي اصول او لارښونې، د ملګرو ملتونو سندA/RES/60/147 ، ۲۱ مارچ ۲۰۰۶، ۱۵ اصل (چیرې چې "یو حقیقي شخص، حکمي شخص، یا بله کومه اداره د یو قرباني د خسارې د جبران مسوول وګڼل شي، دغه لوری باید قرباني ته د خسارې جبران ورکړي یا که چیرې دولت وار د مخه قرباني ته جبران برابر کړي وي، دولت یې تادیه کړي" (ټینګار شوی)؛ د دارفور په اړه د څار نړیوال کمیسیون، "د ۲۰۰۴ کال د سپتمبر ۱۸، د امنیت شورا د ۱۵۶۴ پرېکړه لیک له مخې د دارفور په اړه د څار د نړیوال کمیسیون راپور"، جنیوا، ۲۵ جنوري ۲۰۰۵، ۶۰۰-۵۹۰ پاراګرافون، پر راتلونکې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ ده: http://www.un.org/news/dh/sudan/com_inq_darfur.pdf(نوموړی کمیسیون منلې چې په دارفور کې د ترسره شوي جرمونو لپاره د جبران ورکولو مکلفیت د سوډان حکومت ته راجع کېږي او "د ټولو جرمونو لپاره چې ښايي مرتکب شوي وي، "ورته مکلفیت یاغیانو ته هم راجع کېږي.")

[254] د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۲ ماده، له اجباري ورکولو څخه د ټولو وګړو د ساتنې په اړه د نړیوال کنوانسیون ۲۴ ماده وګورئ. دغه راز د E/CN.4/2005/102/Add.1 ۵-۲ اصول وګورئ.

[255] د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۲ ماده، د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني، له سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع کنوانسیون ۴، ۵، ۷ مادې، له اجباري ورکولو څخه د ټولو وګړو د ساتنې په اړه د نړیوال کنوانسیون ۳، ۶، ۷ او ۱۱ مادې وګورئ. دغه راز د E/CN.4/2005/102/Add.1 ۱۹ اصل وګورئ.

[256] د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې ۸ ماده، د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۲ ماده، د توکمیز تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو د نړیوال کنوانسیون ۶ ماده، د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني، له سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع کنوانسیون ماده، له اجباري ورکولو څخه د ټولو وګړو د ساتنې په اړه د نړیوال کنوانسیون ۲۴ ماده، د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون ۳۹ ماده وګورئ. همدارنګه A/RES/60/147 وګورئ.

[257] د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۲ ماده، د شکنجې او نورو ظالمانه، نا انساني، له سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع کنوانسیون ۲ ماده، له اجباري ورکولو څخه د ټولو وګړو د ساتنې په اړه د نړیوال کنوانسیون ۲۳ ماده وګورئ. همدارنګه د لاګراند قضیه (جرمني د متحده ایالاتو په مقابل کې)، د ۲۰۰۱ کال د جون ۲۷ قضاوت، آی سي جی راپورونه ۲۰۰۱ وګورئ. E/CN.4/2005/102/Add.1 ۳۵ اصل وګورئ.

# افغانستان : په جګړه کې د ښکېلو ډلو لخوا قربانیانو ته د رسیدلي زیان د حل هڅې



۳۵ سلنه مرکه شوي قربانیانو په دې اړه معلومات تر لاسه کړی چې دوي ته او د دوي خپلوانو ته څه پېښ شوي

۱۲ سلنه مرکه شوي قربانیانو درسمي پلټونو د ترسره کېدلو خبر وو

۴۳ سلنه مرکه شوي قربانیانو ویلي چې یوناما UNAMA یواځینۍ اداره ده چې دوي‌سره یې د پېښې په اړه خبرې کړي

۱۱ سلنه د مرکه شوي قربانیانو په جګړه کې د ښکېلو ډلو لخوا د اعتراف کولو ویلي

۲۴ سلنه د مرکه شوي د قربانیانوسره مرسته تر لاسه کړې

څرنګه چې هیواد د افغانستان د سولې مذاکراتو په پیل سره یوه مهم پړاو ته داخلیږي، د جګړې د ښکېلو لورو لپاره دا خورا مهمه ده چې د تېر اوږد مهالي زیان ته رسیدګي وکړي څو راتلونکې ته هیله مندي پیدا شي. د یوناما له خوا ترسره شویو مرکو د قربانیانو، د هغوي د کورنیو او د هر ډول خسارې جبران ، بخښنې، پر زیان اعتراف، یا آن د جګړې د ښکېلو لورو له خوا د معلوماتو د برابرولو ترمنځ پریکون په ډاګه کړ.

یوازې ۳۵ سلنه مرکه شویو قربانیانو په دې اړه معلومات ترلاسه کړي چې هغوي او د هغوي نږدې خپلوانو ته څه ور پېښ شوي؛ چې له دوي زیاترو هغو یې د جګړې د ښکېلو لورو له خوا نه بلکې له خپلوانو، د ټولنې له غړو، روغتیايي کارمندانو، قومي مشرانو یا د رسنیو له سرچینو څخه معلومات ترلاسه کړي.

له هغو قربانیانو چې یوناما ورسره خبرې کړي یوازې ۱۲ سلنه یې د هر ډول رسمي څیړنو له ترسره کېدو خبر وو، په ۴۳ قضیو کې یوناما یوازینۍ هغه اداره وه چې له هغوي سره یې د هغه څه په اړه چې پېښ شوي اړیکه نیولې. په یوه مورد کې، یوې ښځې چې د هیواد په ختیځه سیمه کې د افغان ملي اردو او طالبانو ترمنځ د ځمکنۍ نښتې پرمهال پر بدن د یوې پرچې د لګېدو له امله معیوبه شوې په ډاګه کړه:

> *"هیڅا موږ ته رسېدنه ونه کړه چې له موږ سره په سخت حالت کې مرسته وکړي. نه طالبانو، نه دولت او نه هم افغان ملي اردو کوم اقدام ترسره کړ څو د زیان په اړه یوه شي یا موږ ته د اوښتي زیان جبران راکړي. تر اوسه له موږ سره هیچا د پېښې په اړه د خبرو کولو هڅه نده کړې."* [258]

په ورته ډول، د هیواد په لویدیځه سیمه کې د افغان ملي اردو او طالبانو ترمنځ د ځمکنۍ نښتې پرمهال یوه سړي چې پر کور یې د هاوان د لګېدو له امله زوې ووژل شو، داسې وویل:

> *"... موږ د دغې پېښې د مرتکب په اړه هیڅ معلومات نه لرو، نه هم چا د مسوولیت منلو په پار له موږ سره اړیکه نیولې. سربېره پر دې، هیچا د معلوماتو د برابرولو په پارکوم اقدام نه دی ترسره کړی."* [259]

یوازې ۲۷ سلنه قربانیانو ته د افغان ملي امنیتي ځواکونو، نړیوالو نظامي ځواکونو یا طالبانو له خوا رسېدنشوې. په ۳۳ سلنه قضیو کې نورو ادارو لکه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون، نا دولتي ادارو، یا دولتي ادارو له قربانیانو سره اړیکه نیولې.[260]

---

[258] له قرباني سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۷ اګست ۲۰۲۰.
[259] له قرباني سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۲۵ اکتوبر ۲۰۲۰.
[260] دا په دوه اړخیز ډول استثنايي ندي؛ په څینو قضیو کې د جګړې دواړو خواوو او نورو سرچینو قربانیانو ته د رسېدنې په پار اړیکه نیولې.

پر زیان تر یوې کمې کچې اعتراف شوی. له مرکه شویو قربانیانو یوازې ۱۱ سلنه هغو یې خبر ورکړی چې یوې خوا پر هغه زیان اعتراف کړی چې دوي یې اغیزمن کړي. په ځینې دغو قضیو کې دغه اعتراف په مثبته طریقه نه دی ترسره شوی، د مثال په ډول، د یوه برقي د هدفي وژنې په یوه هڅه کې، طالبانو قومي مشرانو ته پر دې اعتراف وکړ چې دوي د پېښې مسوول وو او اخطار ورکړ چې دغه کار به له نورو هغو سره هم ترسره شي څوک چې د طالبانو سیمو ته ننوځي څو د برق پر پایپو کار وکړي. په یوه بله قضیه کې، طالبانو په شمالي سیمه کې د فشاري ماین پر مسوولیت اعتراف وکړ چې یو سړی یې وواژه او د هغه زوی یې ټپي کړ کله چې د هغوی  خر پر ور برابر شو. له پېښې ژوندي وتلي زوی  داسې په ډاګه کړه:

*"موږ په حقیقت کې له خپل کلي وتښتېدو، څکه تر پېښې وروسته طالبانو موږ ملامتولو، له موږ یې پوښتنه کوله چې ولې زموږ خر پر ماین ختلی چې د چاودنې لامل شو. دوي وویل چې ماین یې د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره ځای پر ځای کړی و او د دغې پېښې له امله دوي و نه کولی شول چې هغوي په نښه کړي او د هغوي منابع بې ځایه لاړل. زما کورنۍ د کلي پرېښودو ته اړه شوه..."* [261]

قربانیانو همدارنګه د هغو قضیو په اړه خبر ورکړی په کومو کې چې افغان ملي اردو پر زیان له اعتراف داسې غبرګونونه ورکړي چې تاوتریخوالی (د وژل شویو جنګیالیو شمېر په ډاګه کولو سره) نسبي کوي د مثال په ډول کله چې په لویدیځه سیمه کې یوه پلار د افغان ملي اردو د هاوان له امله د خپلې لور د مړینې په اړه له افغان ملي اردو سره اړیکه ونیوله، داسې په ډاګه کړه:

*"افغان ملي اردو وویل څرنګه چې طالبان زما د کور په شا و خوا کې پټ شوي وو او له هغه ځایه یې له ملي اردو سره جګړه کوله، افغان ملي اردو اړ شوه چې هاوانونه ګذار کړي. دوي همدارنګه زیاته کړه چې هغه شپه یوازې زما لور نده وژل شوې، ملي اردو هم په هغې شپې یو شمېر سرتېري له لاسه ورکړي."* [262]

څرنګه چې له مرکو  څرګنده شوه ، یو مسوول لوري چې پر اوښتي زیان اعتراف کوي تل د کورنۍ یا قرباني له خوا انګېرل شوې بخښنه نه رانغاړي. یوازې په پنځه سلنه قضیو کې، قرباني یا خپلوانو د مسوول لوري له خوا بخښنه یا غمرازي ترلاسه کړې. د قربانیانو له معلوماتو سره سم په دغو قضیو کې له هغوي سره د نړیوالو نظامي ځواکونو، طالبانو، افغان ملي اردو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا غمرازي ښودل شوې. له دې سره سره، د ځینو لپاره لکه څرنګه چې په شمال ختیځ کې د دولت پلوه وسله والې ډلې له خوا د یوه سړي مېرمن په ډزو ووژل شوه، بخښنه کافي نه وه:

*"هو، مرتکب... زما له ورور او اوښې سره د بخښنې غوښتنې په پار اړیکه نیولې خو زما خپلوانو بخښنه نده منلې او قوماندان ته یې ویلي چې دوي دغه کار نشي کولی او دا چې د هغه بخښنه به د هغوي ګران ېرته راژوندی نه کړای شي."* [263]

نا مسوولو خواوو له قربانیانو او هغوي له کورنیو سره ډېری وختونه په هغو پېښو کې چې بل لوري یا نا معلوم لوری یې مسوول وي، خپله غمرازي څرګنده کړې. د مثال په ډول، وروسته له هغې چې په شمال ختیځه سیمه کې یو شمېر ماشومانو د ناوچوده توکو له امله ټپیان شول، د هغوي پلار په ډاګه کړه چې د طالبانو د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د شکایاتو اورېدو کمیسون څرنګه تر پېښې وروسته له هغوي سره اړیکه ټینګه کړه:

*"کله چې زه کور ته راغلم، د طالبانو یادو مسولینو راته له ۱۰ ځلو زیات زنګ وواهه چې له ما سره یې خواخوږي څرګندوله. هغه راته وویل چې هغه پیسې نلري څو له ما سره په مالي ډول مرسته وکړي، خو هغه یو څوک راولیږه څو زما ماشومانو ته وینه هدیه کړي. خو د دولتي چاروا کو لخوا هیڅ وا نه اوریدل."* [264]

مختلفو دولتي چارواکو او د افغان ملي امنیتي ځواکونو فعالینو ډېری وختونه د هغو پېښو له قربانیانو سره غمرازي ښکاره کوي چې د دولت ضد عناصرو له خوا رامنځته شوي وي، لکه څرنګه چې په ختیځه سیمه کې د طالبانو د موټر بم په برید کې  ، په کومه کې چې یوه سړي  د خپلې کورنۍ څلور غړي له لاسه ورکړل:

*"د پارلمان یو شمېر غړو، د ولایتي شورا غړو، د ولسمشر د دفتر غړو، والي، ولسوال، د افغان ملي امنیتي ځواکونو قوماندانانو او د کابینې غړو له ما سره ولیدل یا یې را سره تیلفوني اړیکه ونیوله څو خپله غمرازي راسره څرګنده کړي."* [265]

---

[261] له قرباني سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۲۶ اګست ۲۰۲۰.

[262] د قرباني له پلار سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۲۵ نومبر ۲۰۲۰.

[263] د قرباني له میرمن سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۲۶ اکتوبر ۲۰۲۰.

[264] د قربانیانو له پلار سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۲ جولای ۲۰۲۰.

[265] د قرباني له خپلوان سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۴ نومبر ۲۰۲۰.

**۱. د قرباني *سره* مرسته**

د یوناما له خوا د مرکه شوي قربانیانو ۲۴سلنه یې ډول ډول مرستې د خوړو، تادیې او یا هم د جنس په شکل له مختلفو منابعو څخه ترلاسه کړي. ترلاسه شوې مرستې مختلفو میکانیزمونو ته د قربانیانو د غوښتونلیکونو د وړاندې کولو او د هغو سازمانونو له امله وړاندې شوي کوم چې قربانیانو او د هغوي کورنیو ته په مثبت ډول مرستې وړاندې کوي. د قربانیانو د مرستو په سرچینو کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له خوا تادیات، د افغان دولت ۹۰ کوډ څخه تادیات، د ناټو RS/USFOR-A له خوا د بلا عوضه مرستو تادیات، او د USAID له خوا د ملکي خلکو لپاره د شخړو کمولو د مرستو (COMAC) پروژې او د سره صلیب د نړیوالې کمېټې، او همدارنګه کارګمارونکې، نادولتي سازمانونه او د ځايي ټولنو مرستې شاملې دي.

د قربانیانو له خوا د مرستې لپاره وړاندې شوي غوښتنلیکونو په تړاو، له مرکه شویو هغو ۳۲ سلنه (۴۲ کسانو ) دا څرګنده کړې، چې هغوي د قرباني د مرستو یو ډول نه یو ډول ته غوښتنلیک وړاندې کړی؛ له دې سره سره، د دوي له جملې یوازې اتو هغو یې د خپلې مرګې پرمهال هر څه ترلاسه کړي، چې دا کار د ملکي زیان د پېښې تر پېښېدو لږ تر لږه ۳۰ ورځې وروسته ترسره شوی. د دغو اتو له جملې، دوه یې لا اوس هم د یوې برخې تادیې/مرستې د ترلاسه کولو په تمه وو، یوه یې بشپړه اندازه نه وه ترلاسه کړې، او دوه نورو یې له هغو سرچینو مرستې ترلاسه کړې وې، کومو ته چې دوي غوښتنلیکونه نه وو وړاندې کړي.

د مرکه شویو قربانیانو پاتې ۶۸ سلنه له دې امله د مرستې لپاره هیڅ غوښتنلیک نه وو ورکړی ځکه چې باور یې درلود هغوي به یې ترلاسه نه کړي، یا د دغه ډول مرستې له شتون څخه خبر نه وو، یا آن که خبر هم وو، د غوښتنلیک د وړاندې کولو په پروسه نه پوهیدل. نور هغه یې، لکه په سویلي سیمه کې د هغه سړي په څیر چې پلار او ورور یې د فشاري ماین په پېښه کې له لاسه ورکړي، د دولتي میکانیزمونو په اړه یې شک درلود:

*"مونږ د مرستې د ترلاسه کولو په پار د عریضې د وړاندې کولو هڅه نه کوو او نه هم د خسارې د جبران لپاره له کوم لوري سره د اړیکې نیولو لیوالتیا لرو. مونږ ګورو چې هیڅوک جبران نه ترلاسه کوي او غوښتنه یې هسې د وخت ضایع ده."* [266]

په ورته ډول، یوه بل سړي چې په جنوبي سیمه کې یې د فشاري ماین د چاودنې په پېښه کې خپل د تره زوي له لاسه ورکړی په ډاګه کړه چې د دوي کورنۍ پر سیستم باندې د باور د نشتون له امله د خسارې د جبران په لټه که نشول:

*"ځکه چې زمونږ کورنۍ پوهېږي چې د پیسو(نقدي مرستې) لپاره دا ډول ادعا به مخکې لاړه نشي. لاملونه یې اداري فساد، د نفوذ لرونکو اشخاصو نه صلاحیت او ملاتړ او د قربانیانو لپاره د ریښتینې اندیښنې نشتوالې دي."* [267]

دلته قربانیانو ته د مرستو په برابرولو کې د یو شمېر ننګونو په اړه بحث وشو او همدارنګه هغو راپورونو ته هم اشاره وشوه چې څرنګه قربانیان او د هغوي خپلوان په ۲۰۲۰ کال کې په افغانستان کې مرستې ته د لاسرسي د هڅې پرمهال له پام وړ ننګونو او ځنډونو سره مخ شوي. د قربانیانو له خوا په ډاګه شوې په اصلي ننګونو کې د دولت دوه میکانیزمونو ته لاسرسی شامل و، چې د COMAC اداره، نا دولتي سازمانونو، د ملګرو ملتونو ادارو، او د بشري مرستو نړیواله ټولنه د تشو د ډکولو لپاره پرې اېښي. د مالي ملاتړ لپاره د قربانیانو اړتیاوې پراخې او بېړنۍ دي. یوناما پر افغان دولت غږ کوي چې له قربانیانو سره د مرستې په اړه له ۹۰ کوډ څخه د تادیاتو په تړاو د نوې پالیسي تطبیق ته لومړیتوب ورکړي ترڅو د قربانیانو له خوا جمع شوي غوښتنلیکونه تصفیه کړي او د اداري جبران داسې پلانونه او ترتیبات رامنځته کړي څو دغو قربانیانو ته د خسارې جبران برابر کړي.

[266] د قربانیانو له خپلوان سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۹ نومبر ۲۰۲۰.

[267] د قربانیانو له تره زوي سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۲۴ نومبر ۲۰۲۰.

## د افغان دولت اړوند د قرباني د مرستې میکانیزمونه

د یوناما له خوا مرکه شوي هغه قربانیان چې د راتلونکو څلورو چینلونو له لارې یې زیاتره د قرباني مرسته[268] ترلاسه کړې یا یې ورته غوښتنلیک وړاندې کړی.[269]

۱: د افغان دولت د بیړنۍ مرستې ۹۰-کوډ'' تادیات:

پخوا د ۹۹-کوډ په نوم پېژندل شوی، اوس ۹۱-کوډ دی، دا د یو ځل تادیات د ولسمشر له خوا کنټرول شوي اختیاري بودیجې څخه راځي او قربانیانو ته په راتلونکو دوه طریقو ورکول کېږي. ۱) ددولتي پلاوي له خوا، معمولا د لوړې کچې قربانیانو؛ یاهم د ۲) د قربانیانو تایید شویو غوښتنلیکونو له لارې. کله چې د دوي غوښتنلیک تایید شي قربانیان د شهیدانو او معلولینو وزارت ته هم راجع کېږي (لاندې وګورئ) څو معلومه شي چې ایا هغوي د اوږدمهاله ساتنې تادیاتو مستحق ګڼل کېږي.[270]

یوناما له اندېښنې سره ملاحظه کړې چې د هغو قربانیانو تادیات چا چې د مرستې لپاره غوښتنلیکونه وړاندې کړي وو د راپوروونو له مخې په ۲۰۲۰ کال کې تر ډېره په سیستم کې د تادیې د تایید جوړښت د نشتون امله ځنډیدلي وو، څرنګه چې د دغه صلاحیت تفویض له پخواني اجرائیه رییس عبد الله څخه په ۲۰۱۹ کال کې د ولسمشریزو ټاکنو ته تر نوماند کېدو او په ۲۰۲۰ کال کې د اجرائیه ریاست له منحل کېدو وروسته لرې شو. د ۲۰۲۰ کال په پای کې، د راپوروونو له مخې لږ تر لږه ۳۰۰۰ غوښتنلیکونه راغونډ شوي وو. راپوروونه همدارنګه په ډاګه کوي چې تمویل کم دي، ځکه د اختیاري بودجې زیاته برخه د طبیعي پېښو او د کوویډ-۱۹ (کرونا) وبا په څېر بېړنیو حالاتو ته د رسیدګۍ لپاره اخیستل شوې.[271]

د ملي امنیت د شورا دفتر په ډاګه کړه چې د ولسمشر اداري چارو دفتر په عقرب، قوس او جدي میاشتو کې (د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر له پای د ۲۰۲۱ کال د جنوري تر پاي پورې) د وژل شویو قربانیانو د کورنۍ له ۱۱۴ غړو او له ۲۸۴ ټپي شویو لپاره یې مالي مرستې برابرې کړې، په داسې حال کې د قرباني د مرستې پر نوي طرز العمل کار کوي.[272] د راپوروونو له مخې په ۲۰۲۰ کال کې د دولتي هیئتانو له لارې چې د لوړې کچې پېښو وروسته رامنځته کېږي، قربانیانو ته مثبتو تادیاتو دوام درلوړ، سره له دې چې دغه ډول تادیات یو محدود شمېر قربانیانو ته رسیدلي.

یوناما له دولت څخه غوښتنه کوي چې د قرباني مرستې د ترلاسه کولو لپاره تر لاسه شوي غوښتنلیکونه تصفیه او اجرا کړي.

**د شهیدانو او معلولینو د وزارت تادیات**

په اصلي ډول په افغانستان کې د ټولو معلولینو لپاره د میاشتني تادیاتو د برابرولو د یوه داسې میکانیزم په څېر فعالیت کوي، د ۲۰۲۰ کال په سپتمبر کې، ولسمشر غني یوه حکم صادر کړ چې میکانیزم یوازې د "جګړې قربانیانو" ته د تادیاتو ویش ته بدلوي. په داسې حال کې چې د شهیدانو او معلولینو وزارت د مالي خدمتونو/ملاتړ د برابرولو دنده لري، اوس مهال بیړنۍ یا عاجله پاملرنه نه برابروي او د دغې تشې د پوره کولو لپاره د قربانیانو د ملاتړ لپاره د جګړې د اغېزې د راکمولو مرستې له پروژې سره په ګډه کار کوي.[273] هغه قربانیان چې نوموړې

[268] دغه ډول مرسته د خسارې له رسمي حقوقي جبران څخه توپیر لري، او د دې مرستو برابرونه د برابرونکې یا د کوم مشخص لوري د تقصیر رانغاړونکې نه ده.

[269] سره له دې چې دا د راپور ورکونې له مودې بهر دی، یوناما ملاحظه کړې چې یوناما د ۲۰۲۱ کال د فبروري پر ۷ اعلان کړه چې هغوي د قرباني د مرستې پروګرام پیلوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د ملکیانو د ساتنې لپاره د پالیسي ګانونو تدابیرو برخه وګورئ.

[270] د مرکه شویو افرادو د معلوماتو پر بنسټ، داسې بریښي چې د دغو تادیاتو تطبیق له یوه ولایته تر بل زیات توپیر کوي. ددغه میکانیزم په اړه د لا زیاتو مفصلو معلوماتو لپاره، ملکیان په جګړه کې راپور: نا منل شوی زیان – په افغانستان کې د قربانیانو د مرستو په ترلاسه کولو کې ستونزې، ۲۲ دسمبر ۲۰۲۰، ۹-۱۱ مخونه، په راتلونکې انټرنیټي پته وګورئ. https://civiliansinconflict.org/wp-content/uploads/2020/12/CIVIC_Afghanistan_Report_Draft4-1.pdf (hereinafter "CIVIC Report").

[271] د دغه پاراګراف معلومات د سیمه ییزو ارګانو د خپلواکې ادارې او د ملي امنیت شورا له لوړ پوړو چارواکو سره د ۲۰۲۰ کال په نومبر او دسمبر میاشتو کې د یوناما د ناستو په پایله کې ترلاسه شوي دي.

[272] یوناما ته د امنیت شورا د ۲۰۲۰ کال د د جنوري د ۲۱ نېټې په یوه مکتوب کې. سره له دې چې راپور ورکولو له مودې څخه بهر دی، د د ۲۰۲۱ کال د جنوري پر ۶ نېټه د ملي امنیت د شورا د دفتر له معلوماتو سره سم، د قرباني د مرستو د تادیاتو په پار یو نوی میکانیزم تصویب شوی، "د شهیدانو او ټپیانو د کورنیو لپاره د نغدې مرستې او بستو د چلند ضوابط". د راپوروونو له مخې تادیات د ۹۱ کوډ بودجې څخه شوي چې د وژل شویو خپلوانو ته ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ او د ټپي شویو ملکیانو ته ۵۰۰۰۰ ورکړل شوي. یوناما د چلند د ضوابطو د خپرولو غوښتنه کړې، کوم چې لا تر اوسه د دغه راپور تر خپرولو له خلکو سره ندی شریک شوی، څو مستحق په غوره ډول د د ولسمشر د اداري چارو د دفتر د قرباني د مرستو د ترلاسه کولو پر طرز العمل په غوره ډول وپوهېږي.

[273] په ډاګه شوي معلومات له COMAC ادارې سره د یوناما د ناستې په پایله کې ترلاسه شوي، ۲۵ نومبر ۲۰۲۰.

وزارت ته خپل غوښتنلیکونه وړاندې کوي د تادیاتو لپاره ۹۰ کوډ ته راجع کېږي، که چیرې مستحق وګڼل شي.[274] دغه میکانیزم د ۹۰ کوډ د تادیاتو په څیر په تطبیق کې له زیاتو ننګونو سره مخ دی.[275]

**د ملکیانو د ملاتړ لپاره د شخړې د راکمولو مرسته __ COMAC**

د ملکیانو د ملاتړ لپاره د شخړې د اغېزو راکمولو د مرستې پروګرام د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداری (USAID) له خوا تمویل او د یوه نا دولتي اداري له خوا په هرات، جلال اباد، کابل، کندهار، او مزار شریف پنځو حوزو کې تطبیق شوی، او د ولایتي کارمندانو له خوا چې د ولسوالۍ په کچې په دولتي ادراو کې ځای پر ځای شوي، د ګردیز، غزني ښار، فراه، غور، لښکرګاه، فاریاب او کندز ښار په ګډون. د ۲۰۱۸ کال له مارچ راهیسې، نوموړی پروګرام په فعال ډول وړ پیښې ځاري او د تایید پروسه ترسره کوي څو د وسله والې جګړې ثبت شوي قربانیان معلوم کړي چې د مرستې مستحق ګڼل کېږي. قربانیانو ته په ورکړل شوې مرسته کې د اړینو خوړو، د کورنۍ د حفظ الصحې توکي، او همدارنګه روغتیایي او معیشت مرستې شاملې دي، چې په اساسي ډول د ارجاع د مناسبو مرستو څخه جوړې شوي.[276] د نوموړي پروګرم اصلي همکار د افغان حکومت د شهیدانو او معلولینو وزارت دی.[277] د یوناما له خوا د قربانیانو له مرکو څخه راغونډ شوي معلوماتو په ډاګه کړه چې د قربانیانو سره د مرستې په پار د دولت د بلا عوضه تادیاتو د مرستې په پرتله د ملکیانو د ملاتړ لپاره د شخړې د اغېزو د راکمولو د مرستې پروګرام لا زیات د لاسرسي وړ او چټک و.

**د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا بلا عوضه تادیات**

دغه تادیاتو د متحده ایالاتو د ملي دفاع قانون له خوا یې تصریح شوې، د ملکیت د زیان، شخصي ژوبلې یا مړینې په صورت کې "دوستان ملکیانو"[278] ته ورکول کېږي د راتلونکو لورو له خوا د ځواک د کارونې په پېښه رامنځته شوي وي ۱) د متحده ایالاتو وسله وال ځواکونه؛ ۲) ایتلاف چې متحده ایالات په کې شامل وي؛ یا ۳) یو نظامي سازمان یا دغه ډول یو ایتلاف چې له متحده ایالاتو سره مرسته کوي. دغه ډول تادیات د با صلاحیت قوماندانانو له خوا "د غمرازۍ، خواخوږۍ یا د ښه نیت د څرګندولو د وسیلو په څیر" ترسره کېږي.[279] تادیات په جګړه کې د زیان، د غمرازۍ تادیاتو، د اتل تادیاتو په څیر ډلبندي شوي، چې وروستی هغه یې په ځانګړي ډول د هغو لپاره په پام کې نیول شوي څوک د متحده ایالاتو د ځواکونو د ملاتړ پرمهال زیانمن شوي. په معمول ډول، بلا عوضه تادیات د متحده ایالاتو د ځواکونو له خوا په فعال ډول ترسره شوي او اوس د قربانیانو لپاره یوه رسمي لار موجوده ده څو له اړوندو ادارو سره اړیکه ونیسي او د دغه ډول تادیه غوښتنه وکړي. په ۲۰۲۰ کال کې، په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو ملاحظه کړې چې دوي له افغان وګړو سره د دغه ډول تادیاتو په تړاو د کووید-۱۹ (کرونا) وبا او ایتلافي ځواکونو د کم حضور له امله یې همکاري محدوده کړه .[280]

**۲: پر قرباني متمرکز عدالت**

کله چې له قربانیانو څخه وپوښتل شول چې هغوي ته د زیان رسېدو وروسته تر ټولو مهم څه دي، د مرکه شویو ۸۰ سلنه خلکو په ډاګه کړه چې دوی مالي جبران ته اړتیا لري. لکه څنګه چې یې پورته یادونه وشوه د قربانیانو لویه برخه او د دوی کورنۍ د ګټیالي له لاسه ورکولو یا زخمي کېدو، د هغوي کورونو یا ملکیتونو د زیانمنېدو، او د خپلو عزیزانو لپاره د طبي پاملرنې د لګښت له امله په ډېر سخت مالي حالت کې وو. د مثال په توګه، یوه سړی چې ماشومان او مېرمن یې په لویدیزه سیمه کې د ملي اردو له خوا د هاوان د ګذارولو له امله ټپیان شوي، په ډاګه کړه:

---

[274] د دغه میکانیزم په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د CIVIC راپور وګورئ.

[275] د CIVIC راپور وګورئ.

[276] همدا ماخذ، ۲۰-۲۱ مخ؛ له COMAC سره د یوناما ناسته، ۲۵ نومبر ۲۰۲۰.

[277] له COMAC سره د یوناما ناسته، ۲۵ نومبر ۲۰۲۰.

[278] د دغې مرستې ترلاسه کوونکي باید "دوستانه" وي، او دا مرسته نه باید په نا مناسب ډول د مغرضانه موخو لپاره وکارول شي چې د متحده ایالاتو لپاره ګواښ پېښوي.

[279] د متحده ایالاتو د دفاع وزارت یاداښت: "د نظامي عملیاتو په پایله کې د دوست ملکیانو ته د مرګ ژوبلې لپاره د غمرازۍ یا خواخوږۍ په پاره موقت قواعد" ۲۲ جون ۲۰۲۰ په راتلونې انټرنیټي پته وګورئ: https://media.defense.gov/2020/Jun/23/2002320314/-1/-1/1/INTERIM-REGULATIONS-FOR-CONDOLENCE-OR-SYMPATHY-PAYMENTS-TO-FRIENDLY-CIVILIANS-FOR-INJURY-OR-LOSS-THAT-IS-INCIDENT-TO-MILITARY-OPERATIONS.PDF

[280] په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو یا غوڅ ملاتړ ماموریت د ۲۰۲۱ کال په جنوري کې یوناما ته په یوه مکتوب کې په ډاګه کړې: "په اوسني چاپیریال کې، د ایتلافي ځواکونو او افغان وګړو ترمنځ د دواړو د ایتلافي ځواکونو د کم حضور او د کووید-۱۹ (کرونا) وبا له امله د افغان وګړو او ایتلافي ځواکونو ترمنځ محدود مستقیم تعامل موجود دی. په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونه دا مني چې دغه کار د قربانیانو یا د هغوي د کورنۍ غړو ته دا لا زیات ستونزمن کوي چې د بلا عوضه تادیاتو غوښتنه وکړي. که چیرې قربانیان یا د هغوي د کورنۍ غړي د یوې نا دولتي اداري لکه د سره صلیب نړیواله کمېټې یا د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت سره کار کاوه، په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونه به د بلا عوضه تادیاتو غوښتنه په پام کې ونیسي."

*"کله چې پېښې رامنځته کېږي، ملکي وګړي خپل غږ نشي پورته کولی. که چیرې دولت د پېښې مسؤل وي، دولت باید د قربانیانو معاوضه او مالي ملاتړ وکړي." 281*

د مرکه شویو کسانو له خوا دویمه تر ټولو زیاته په ډاګه شوې اړتیا د عدالت وه؛ ۵۸ سلنه قربانیانو څرګنده کړه چې عدالت او احتساب د هغوي لپاره مهم دي. د مثال په ډول، د بامیان په ولایت کې د ریموټ کنټرول بم چاودنې د قرباني ورور په ډاګه کړه:

*"زما لپاره عدالت تر بل هر شي ډېر مهم دی، زه یوازې عدالت غواړم، هغه خلک چا چې غریب او عام خلک وژلي باید مجازات شي. دوي زیات شمېر بې ګناه خلک وژلي. دوي زیات شمېر کورنۍ ړنګې کړي." 282*

په سویلي سیمه کې یوه بل سړي، چې مېرمن او ماشومان يې د فشاري ماین په پېښه کې وژل شوي داسی وویل:

*"زه تر هر څه زیات عدالت غواړم... زه غواړم دا قضیه د ملګرو ملتونو په راپورونو کې خپره شي ترڅو نړۍ پوه شي چې طالبان په افغانستان کې د ملکي تلفاتو لپاره ملامت ګڼل کېږي او ډېری خلکو د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو په چاودنو کې خپل ژوند له لاسه ورکړی." 283*

ځینې يې آن پخپله د احتساب په لټه کې شوي، د هغه پلار په څیر چا چې په جنوب ختیځ کې د دولت پلوه وسله والې ډلې له خوا د تصادفي ډزو له امله خپل زوی له لاسه ورکړی، د ملي امنیت له ریاست سره د پېښې په تړاو د معلوماتو په پار اړیکه نیولې:

*"له پېښې راهیسې، زه د هر چارواکي دروازه ټکوم. خو هیڅوا دا نه منله چې دا پېښه د دولت پلوه وسله والو افرادو له خوا رامنځته شوې... زه چمتو یم چې هغوي [دولت پلوه وسله والې ډلې] وبخښم، خو دوي باید دا ومني او د بخښنې غوښتنې لپاره ما ته ځایي جرګه راولېږي. د ولسوالۍ د ملي امنیت مدیر وویل، سمه ده هغه به د دې مسلې د حل لپاره د ځایي جرګې د تنظیم لپاره یو څه وکړي... زه به مجرم ته په دې شرط بخښنه کوم که چیرې هغه دا اقرار وکړي چې داعمل يې په غلطۍ سره ترسره کړی." 284*

د قربانیانو شاو خوا ۴۱ سلنه هغو يې د ځان او نورو افغانانو لپاره د دا ډول پېښو د بیا تکرار د مخنیوي غوښتنه کوله. په ټوله کې، قربانیانو په خپل هیواد کې د سولې لپاره خپله هیله څرګنده کړه. د مثال په توګه په سویل ختیځه سیمه کې د هغه ځوان په څیر چې خپل ورور يې د فشاري ماین په چاودنه کې له لاسه ورکړی، داسی وویل:

*"موږ باور لرو چې هر تاوتریخوالی تاوتریخوالی رامنځته کوي، له همدې امله که چېرې مونږ له طالبانو غچ واخلو د غچ اخیستو لړۍ به دوام ومومي او موږ به و نه کولی شو چې په سوله کې ژوند وکړو. له همدې امله، یوازینی شي چې مونږ يې غواړو، سوله ده. موږ په دوحه کې پر دواړو خواوو غږکوو چې تاوتریخوالی ودروي او د اوربند او سولې په اړه یوې هوکړې ته ورسېږي ترڅو په راتلونکي کې د ورته پېښو مخه ونیول شي." 285*

ورته غوښتنې په جنوبي سیمه کې د یوه بل کس له خوا څرګندی شوي چا چې د فشاري ماین د چاودنی له امله خپل پلار او ورور له لاسه ورکړي او د کورنۍ نور غړي يې ټپیان شوي. نوموړی داسې وايي:

*"موږ هیله لرو چې په افغانستان کې روانه جګړه ژر پای ته ورسېږي ترڅو مونږ خپل بې ګناه افغانان او د کورنۍ غړي له لاسه ورنکړو. هره پېښه کونډه یا یتیمان زیږوي او زموږ د ټولنې اساسي جوړښت ویجاړوي. مونږ هیله لرو چې د افغانستان په جګړه کې ټولې دخیلې خواوې د جګړې د پای ته رسولو لپاره هر هڅه وکړي او پرېږدي چې افغانان په سوله او سوکالۍ کې ژوند وکړي." 286*

څرنګه چې پورته په ډاګه شوه، د جګړې قربانیان له مختلفو سرغړونو سره مخ شوي او په دې توګه د هغوي اړتیاوې او لومړیتوبونه د وخت په تېرېدو سره بدلون مومي. د خسارې مادي جبران شايي د جبران بڼه غوره کړي، لکه نغدي پیسې یاتقاعدي، او یا هم د خدمت بستې لکه پوهنه، روغتیا، میشت ځای، په لا زیات عام ډول زیربنا. د خسارې په سمبولیک جبران کې رسمي بخښنې، د هغوي د یاد ورځو رامنځته کول، د موزیمونو یاد ځایونو رامنځته کول یا د بیا رغونې داسې تدابیر چې د قربانیانو ښه نوم ترویج او بېرته پر ځای کوي، شامل دي. د جبران هغه پروګرامونه چې دا ډول پیچلې کړنلار يې خپله کړې په عام ډول د تحول رامنځته کوونکي انتقالي عدالت د اهدافو په ترلاسه کولو کې لکه د قربانیانو پیژندل او د تابعیت احساس ته په وده ورکولو کې بریالي بریښي. د جبران شکل کېدای شي مختلف وي د

[281] د قرباني له خپلوانو سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱ نومبر ۲۰۲۰.
[282] د قرباني له ورور سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۲۲ دسمبر ۲۰۲۰.
[283] د قرباني له خپلوانو سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۷ سپتمبر ۲۰۲۰.
[284] د قرباني له پلار سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۱۲ نومبر ۲۰۲۰.
[285] له قرباني سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۲۷ اکتوبر ۲۰۲۰.
[286] د قرباني له خپلوان سره د یوناما تیلفوني مرکه، ۹ نومبر ۲۰۲۰.

قرباني (او کورنۍ) مشخص وضعیت ته مواجه کېدای شي. دا کولی شي افراد همدارنګه ډلې، ټولنې آن سیمې په نښه کړي. د خسارې جبرانونه د بشري یا پراختیایي مرستو د طرح کولو مبنی جوړولی شي. د خسارې د جبران د پالیسي ګانو د طرحې او تطبیق په پروسو کې د قربانیانو ګډون خورا مهم ګڼل کېږي.

یوناما له افغان دولت څخه غوښتنه کوي چې له قربانیانو سره په نږدې سلا مشوره کې د قرباني مرسته لومړیتوب بندي کړي، او د سولې په خبرو اترو کې د قربانیانو حقونه، عدالت، او د خسارې د جبران په پام کې نیولو سره د قربانیانو حقونه په حقیقت سره پوره کړي. یوناما همدارنګه طالبان هڅوي چې د عرفي نړیوال قانون له مخې د قربانیانو اړوند خپل مکلفیتونه او اړول شوي زیان ته د رسیدګۍ مسوولیتونه په پام کې ونیسي. د سولې اوسنې خبرو نه یوازې د یوې برخې په توګه بلکې د هغې په شمول، د وسله والې جګړې له امله افغانانو ته د اوږدې مودې فزیکي، رواني، ټولنیز او کلتوري زیانونو ته باید رسیدګي وشي.

## شپږم: د احتساب د هڅو په ګډون له زیان څخه د ملکي وګړو د ساتنې پالیسي ګانې او تدابیر

### الف: کتنه

یوناما یو ځل بیا یادونه کوي چې په جګړه کې د ښکېلو ډلو لپاره له زیان څخه د ملکي وګړو د خوندیتوب تر ټولو غوره لار بشپړ اور بند دی. خو دا هم ربښتیا ده چې د جګړې د پای ته رسولو په موخه په سوله ییز ډول د جګړې پای ته رسول او سولې او پخلاینې په اړه ټول شموله هڅې دوام وکړي، کومې چې د تلپاتې سولې لپاره لازمې او اړینې ګڼل کېږي. په ورته وخت کې چې جګړه هم دوام کوي، یوناما دامنې چې افغان دولت، افغان امنیتي ځواکونو، نړیوال امنیتي ځواکونو او طالبانو د دوي د خپلو عملیاتو له امله له رامنځته شوي زیان څخه د ملکي وګړو د زیانمنېدو د مخنیوي لپاره مشخصې هڅې ترسره کړي، چې په لاندې ډول ځرګند شوي.[287] په عین وخت کې ملکیان لا اوس هم په لوړه کچه د جګړې له زیان څخه کړېږي. تر هغه وخته چې جګړه نوره نه وي، ښکېلې خواوې اړ دي چې د ملکي زیان د مخنیوي او کمولو په پار د تدابیرو په پام کې نیول جاري وساتي.

د هغو تدابیرو په لړ کې چې د ملکي وګړو زیان راکم او مخنیوي یې وکړي او د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه د سرغړونو ډډه وشي، نو یوناما د جګړې ښکېلو خواوو ته یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د ملکي تلفاتو د ادعاوو په تعقیب پلټنې ترسره کړي،[288] او کله چې د جنګي جرمونو د رامنځته کېدو ګمان وي، د احتساب د ډاډمنولو په موخه دې جنایي تحقیقات او که اړینه وي عدلي تعقیب ترسره شي.[289] یوناما تاکید کوي چې د بشري حقونو نړیوال قانون د قرباني حقیقت، عدالت او د جبران خسارې حق مسلم کړی، چې مسؤلیت لرونکې په تحقیقاتو مکلفوي چې حقیقت د عامو خلکو سره شریک کړي ترڅو راتلونکې کې د داسې سرغړونو د مخنیوي تدابیر ونیول شي.[290] دا اړینده چې په جګړه کې ښکېلې خواوې موثرې څېړنې ترسره کړي او په خپلو موندنو کې روڼتیا ولري او دا چې دوي پر ملکي وګړو د خپلو عملیاتو اغیز درک کوي، او آن په هغو شرایطو کې چیرې چې احتساب یې اړین نه وي، داسې مناسب ګامونه پورته کړي چې د بیا تکرار مخه یې ونیول شي.

یوناما په جګړه کې د ښکېلو ډلو له خوا د دوي د عملیاتو په پایله کې ملکي وګړو ته له زیان څخه د انکار او یا یې کم ښودل او د مقابل لور له خوا د ملکي تلفاتو منسوب ادعاګانو په تړاو د پارونکو ځرګندونو په اړه اندیښمنده؛ همدارنګه د دې یادونه کوي چې په موثر ډول د ملکي وګړو د تلفاتو د تورونو په تعقیب کې پاتې راتلل او په موندنو کې د روڼتیا نه شتون به په اوږد مهال کې خلک ناراض او تجرید کړي.

په ورته وخت کې یوناما د جګړې د ښکېلو ډلو له خوا د هغو موجوده پالیسي ګانو او میکانیزمونو په تړاو د هغوي هڅې جاري ساتلې چې خپلې هغه کړنې وګوري کومې چې ملکي وګړو ته د زیان اړولو لامل شوي.

دولت د ملکي تلفاتو د ثبتولو د همغږي کولو لپاره ګامونه پورته کړي او د نړیوالو نظامي ځواکونو له دوامدارې لارښوونې او روزنې سره د مختلفو امنیتي ادارو ترمنځ د یوې واحدې کمېټې په رامنځته کولو سره له دوي سره د شریک شویو ملکي تلفاتو ته د غبرګونونو پر ښه کولو کار کوي.

په ورته وخت کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د شکایاتو د اورېدو کمیسون په رهبری کې له بدلون راهیسې په لوړه کچه په ګډون او تعامل کې له ننګونو سره سره، طالبانو د پېښو په بیا کتنه کې ګډون جاري ساتلی او په منظم ډول په هغه ډیالوګ کې ګډون کوي چې موخه یې د ملکي زیان راکمول او مخنیوی وي.

یوناما له افغان دولت، افغان ملي امنیتي ځواکونو، نړیوال نظامي ځواکونو او طالبانو څخه غوښتنه کوي چې هر وخت د هغو پېښو چټکې، اغیزناکې او شفافې څېړنې ډاډمنې کړي په کومو کې چې ملکي تلفات او ملکي زیان رامنځته شوی وي . د پلټنو پایلې او د ملکي تلفاتو نور اړوند معلومات د ترلاسه شوو پایلو په تمرینونو کې شامل کړي، کوم چې ښایي په اړوندو پالیسي ګاونو او کړنو کې د بدلون لامل شي. یوناما د جګړې پر ښکېلو لورو غږ کوي چې له قربانیانو، د دوي له کورنیو او په پراخه کچه له خلکو سره موندنې شریکې کړي.

---

[287] یوناما له دې څخه ناخبره ده چې ګوندې د اسلامي دولت د خراسان ولایت څانګې د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمېدو په موخه کوم تدابیر نیولي وي.

[288] د جنیوا اکیډمي او نړیوال سره صلیب د بشر دوستانه قانون د سرغړونو د تحقیقاتو لارښود : قانون، پالیسي او ښه مشقونه ۲۰۱۹، پاراګراف. ۱۵۸.

[289] د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه د هغو سرغړونو چې جنګي جرمونه تشکیلوي، د څېړنو د مکلفیت په تړاو، د روم پر اساسنامې سربېره، د آی سي ار سي د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون څېړنې ۱۵۸ قاعده وګورئ. په داسې حال کې چې د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه د هغو سرغړونو، چې جنګي جرمونه نه تشکیلوي، د څېړنو مکلفیت په څرګنده ندی تصریح شوي، خو ویلی شو، چې کیدای شي د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون له مکلفیت څخه استنباط شي، څو د بشرپالنې نړیوال قانون ته درناوی یقیني شي. د آی سي ار سي د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون څېړنې ۱۳۹، ۱۴۴ قاعدې وګورئ. لومړی ضمیمه: حقوقي چوکاټ، د سرغړونو د تورونو د څېړلو لپاره د بشري حقونو د نړیوال قانون د مکلفیت په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ.

[290] د بشري حقونو له نړیوال قانون څخه د پراخو سرغړونو او د بشرپالنې د نړیوال قانون د جدې سرغړونو د قربانیانو لپاره د جبران او تاوان د حق په اړه د ملګرو ملتونو اساسي اصول او لارښوونې وګورئ، A/RES/60/147(۱۶ دسمبر ۲۰۰۵).

### ب: دولت او افغان ملي امنيتي ځواکونه

په ۲۰۲۰ کال کې د افغانستان حکومت د ملکي تلفاتو د مخنيوي او کموالي د ملي پالیسي ( چې په رسمي ډول د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر کې تصویب شوې) د تطبیق په موخه ګامونه پورته کړي. د ۲۰۲۰ کال په مهال یوناما ملاحظه کړې، چې د ۱۹۸۰ کال د مشخصو دودیزو وسلو د کنوانسیون د ۵ پروتوکول د تطبیق د میکانیزم د طرحې (کومه چې د ۲۰۱۸ کال په فبرورۍ کې د اجرا وړ وګرځېده او په ۲۰۱۹ کال کې ورته چمتوالی پیل شو) تصویب د ملي امنیت په شورا کې ځنډېدلی. یوناما د ۲۰۲۰ کال د دسمبر په میاشت کې د بشري حقونو د مدافعینو د خوندیتوب په موخه د ګډ کمیسیون د جوړېدو هر کلي کوي، چې موخه یې په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو ښه خوندیتوب دی.

یوناما د ملي امنیت شورا په رهبرۍ د ملکي تلفاتو د کره تورونو د ثبت او له تېرو پېښو څخه د ترلاسه شوو لوستونو او معلوماتو د همغږۍ د هڅو د دولتي سستم په تړاو د مثبت پرمختګ قدرداني کوي. په دغو پرمختګونو کې د یوې کاري کمېټې تاسیس چې دنده یې د یوه داسې میکانیزم رامنځته کول دي چې د معلوماتو د شریکولو، همغږۍ مسوول وی، او د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو پېښو ته ځواب ویل شامل دي. د ملي امنیت شورا په رهبرۍ دغه کاري ګروپ، چې د افغان دولت د امنیتي ادارو، همدارنګه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون، د سره صلیب نړیوالې کمېټې، په وسلواله جګړه کې د ملکیانو لپاره د مرکز او یوناما استازي شامل دي، خپله لومړنۍ ناسته د ۲۰۲۰ کال د دسمبر په میاشت کې ترسره کړه.

د ملي امنیت شورا په ډاګه کړې چې د ۲۰۲۰ کال په پای کې، د ملکي تلفاتو د مخنیوي په پار د دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت د ننه ۹۹ ټیمونه تشکیل شوي. په ورته وخت کې، د ملي امنیت شورا تایید کړې چې د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې د والیانو په ولایتي دفترونو کې مشخصو واحدونو ته دنده سپارلې چې په کره ډول د ملکي تلفاتو په اړه راپور ورکړي.[291]

د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې دولتي چارواکو د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کموالي په اړه عامه اعلامیې ترسره کړي او د ملکي تلفاتو څېړنې زیاتره وخت د ټولنې لاریونونو او د رسنیو د پاملرنې ته په غبرګون کې ترسره شوي.

یوناما تاییدوي چې ځینې وختونه دولت په ملي یا ولایتي کچه د هغو پېښو د څېړنو لپاره چې ملکي تلفات په کې رامنځته شوي پلاوي ګمارلي او یا یې د کابل څخه هیئت استولی چې د ولایتي مسؤلینو سره په دغه ډول څېړنو کې مرسته وکړي. ډېری وختونه دغه څېړنې قربانیانو پر هغه اوښتي زیان متمرکزې وي کوم چې د رسنیو د پام وړ پاملرنه راجذب کړې او ښکاري چې قربانیانو او د هغوی کورنیو سره پر مادي او بشري مرستو یې تمرکز درلود. یوناما افغان دولت او افغان ملي امنیتي ځواکونه هڅوي چې د لوړې کچې پېښو ورا هڅوا د څېړنو وسعت پراخ او ځواکمن کړي او د جمهوري ریاست د ۹۰ کوډونو له مخې د قربانیانو د مرستې ځنډېدلې غوښتنلیکونه حل او تصفیه کړي.[292]

یوناما له دولت څخه غوښتنه کوي چې د دغو څېړنو پایلې علني کړي. د لوړې کچې پېښو د څېړنو پایلې لا تر اوسه له یوناما سره ندي شریکې شوي چې یا خو د محرمو اسنادو په څېر ډلبندي شوي یا تر څېړنو لاندې ګڼل شوي، لکه په تخار کې د اکتوبر پر ۲۲ هوایي برید. په دغې قضیه کې د ملکي تلفاتو شونتیا د ولسمشر د لومړي مرستیال امر الله صالح له خوا رد شوه[293] چا چې بیا وروسته د تحقیقاتو د پایلو د شریکولو ژمنه وکړه. د دغه راپور تر خپرېدو پورې، یوناما د حکومت د موندنو په اړه نور اضافي رسمي معلومات ندي ترلاسه کړي. یوناما همدارنګه اندیښمنده چې د ولسمشر مرستیال امر الله صالح د ټولنیزو رسنیو له لارې ګواښ وکړ که څوک وواېي چې په دې پېښه کې ماشومان وژل شوي "نو قانوني چلند به ورسره وشي" [294] او ملاحظه کړې یې ده چې د دغې څرګندونو په تړاو یو دولتي مامور نیول شوی او بیا وروسته له دندې ګوښه شوی. یوناما اندیښمنده چې دغه ډول څرګندونې د ملکي تلفاتو او په ځانګړي ډول د افغان ملي امنیتي ځواکونو په تړاو پر مباحثو ناوړه اغیز کوي. رسنۍ، د مدني ټولنې سازمانونه؛ د بشري حقونو مدافعین؛ محرمې سرچینې او افشا کوونکي د ملکي زیان باوري تورونه ته د پاملرنې په جذبولو او په دې ترتیب سره د ټولنې په خبرولو کې مهم رول لوبوي. یوناما افغان دولت هڅوي چې په واضح ډول خپل نظریات څرګند کړي او له څرګند شویو نظریو سره د اختلاف په حالاتو کې شواهد برابر کړي، څو د مباحثو د خپککولو پر ځای هغه بډایه کړي.

---

[291] یوناما ته د ملي امنیت د شورا د دفتر د ۲۰۲۱ کال د جنوري د ۲۱ نېټې مکتوب.

[292] د لازیاتو معلوماتو لپاره د پر قربانیانو د وسله والې جګړې د پاېښونکو اغېزو او د زیان د رسیدګۍ د هڅو برخه وګورئ.

[293] https://www.facebook.com/AmrullahSaleh.Afg/posts/3341016672673215
https://twitter.com/AmrullahSaleh2/status/1319293261979086861?s=20

[294] https://www.facebook.com/AmrullahSaleh.Afg/posts/3341016672673215
https://twitter.com/AmrullahSaleh2/status/1319293261979086861?s=20



*نومبر پر ۳ نېټه، د ملي امنيت د شورا دفتر د افغان ملي امنيتي ځواکونو، ناټو-د غوڅ ملاتړ ماموريت، يوناما او هغو ادارو له استازو سره د ملکي تلفاتو د مخنيوي او کموالي د بورډ ناسته ترسره کړه، څوک چې د ملکي وګړو د ساتنې په برخه کې فعاليت کوي. انځور/ د ملي امنيت د شورا دفتر*

يوناما له افغان ملي امنيتي ځواکونو او د ملي امنيت له شورا سره د هغو پېښو په اړه معلومات شريک کړي چې ملکي تلفات يې اړولي. د بشري حقونو د خپلو ځايي ټيمونو له لارې، يوناما په ځايي، ولايتي او ولسوالۍ په کچه له افغان ملی امنيتي ځواکونو سره د ملکي تلفاتو د پېښو او تمايلاتو په اړه ډيالوګ جاري ساتلي. يوناما د منظم تعامل هرکلی کوي او افغان ملي امنيتي ځواکونه هڅوي چې د ملي امنيت له شورا او يوناما سره د معلوماتو د شريکولو خپلې هڅې غښتلې کړي. يوناما د ملي امنيت په شورا کې د سولې او ملکي وګړو د ساتنې د رياست له لارې د ملکي تلفاتو د مخنيوي د زيات تمرکز او پاملرنې هرکلی کوي، د پورته ياد شويو هڅو په ګډون څو د معلوماتو د شريکولو هڅې پياوړي او همغږې کړي او امنيتي ځواکونه د ملکي تلفاتو پېښو ته ځواب و وايي.

په ۲۰۲۰ کال کې د کورنيو چارو وزارت د يوناما له خوا د ۳۳ شريک شويو پېښو څخه ۱۱ هغو ته ځواب ويلی، چې دا په ګوته کوي چې د افغان ملي پوليسو له خوا څلور ملکي تلفات (درې مړه او يو ټپي) اوښتي. يوناما د ۲۰۲۰ کال تر اګست وروسته د کورنيو چارو وزارت له خوا کوم ځواب نه دی ترلاسه کړی. افغان سيمه ييزو پوليسو ۱۷ هغو پېښو ته ځواب نه دی ورکړی چې د يوناما له خوا ورسره په ۲۰۲۰ کال کې شريکې شوي او ملکي تلفات يې اړولي.[295]

په ۲۰۲۰ کال کې د ملي امنيت رياست ۳۲ ټولو هغو پېښو ته ځواب ويلی چې د يوناما له خوا ورسره شريکې شوي او موندلې يې ده چې دوي په پنځو پېښو کې نهه ملکي تلفات (پنځه مړه او څلور ټپيان) اړولي. په پاتې ۲۷ پېښو کې دا پايله ترلاسه شوه چې هيڅ ملکي تلفات ندي رامنځته شوي، يا د افغان ملي امنيتي ځواکونو نورې ادارې مسوولې وې، يا يې مسووله خوا نشوه تاييدولی.

د دې برعکس په ۲۰۲۰ کال کې د دفاع وزارت د يوناما له خوا شريک شويو هيڅ پېښې ته ځواب نه دی ورکړی.[296]

يوناما د بشرپالنې د ملکي تلفاتو د مخنيوي او راکمولو په ګډون د نړيوال قانون په تړاو د افغان ملي امنيتي ځواکونو په روزنه، سلا مشوره او

[295] يوناما ملاحظه کړې وروسته له هغې چې د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پر ۳۰ افغان سيمه ييزو پوليسو تمويل پای ته ورسيد، نوموړي پوليس په رسمي ډول منحل شول او زياتره غړي يې له افغان ملي اردو – سيمه ييزې اردو يا له افغان ملي پوليسو د يو ځای کېدو لپاره ونومول شول. دغه مهال د کورنيو چارو په وزارت کې د افغان سيمه ييزو پوليسو معينيت هم منحل شو.
[296] يوناما د امنيت شورا لخوا افغان ملي اردو ته منسوب د يوې پېښې د څېړنې پايلې تر لاسه کړې.

مرسته کې د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموريت دوامداره حمايت ستايي. د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموريت له معلوماتو سره سم افغان ملي امنيتي ځواکونو په راتلونکو ډګرونو کې پرمختګ کړی: د ملکي تلفاتو په اړه راپور ورکول او د معلوماتو راغونډول؛ د دولت او افغان ملي امنيتي ځواکونو د چارواکو تر منځ د ملکي تلفاتو د مخنيوي او کموالي په اړه پوهاوی؛ د پېښې وروسته پيغام رسول او له قرباني سره مرسته؛ د ملکي تلفاتو ارزونې او څېړنې. د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموريت د ملکي تلفاتو د مخنيوي او کمښت بورډ (CAMB) په تنظيم کې مرسته کړې.[297] د افغان امنيتي ځواکونو کې د هوايي ځواک د ظرفيت او وړتيا په زياتېدو سره، د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموريت په فعال ډول د دوي د هدف نيونې په روزنه کې دخيل دي، ملکي وګړو ته د بالقوه ګواښ ارزونې او د عملياتو د پلانونو په پړاو کې د برید د متناسبو انتخابونو د وسيلو د انتخابونو د غوره کولو په ګډون. افغان هوايي ځواک يوناما ته خبر ورکړی چې د حمل له ۱ (۲۰ مارچ ۲۰۲۰) څخه د دلوې تر ۲۹ (۱۷ فبروري ۲۰۲۱) پورې له ۵،۳۴۴ چمتو شويو پروازونو څخه ۱،۸۸۱ هغه يې له ترسره کېدو مخکې د ملکي وګړو يا عامه ملکيتونو د شتون له امله، يا د هدف د موقعيت د بدلون له امله لغوه شوي. سربېره پر دې، افغان هوايي ځواک خبر ورکړی چې په ۳۴ قضيو کې د پرواز پر مهال د ملکيانو، جوماتونو، او عامه ملکيتونو د شتون له امله يې پلان شوي عمليات لغوه کړي.[298]

په ۲۰۲۰ کال کې د افغانستان د ملي امنيت شورا او د ناټو غوڅ ملاتړ ماموريت د کورنيو چارو وزارت، د دفاع وزارت او ملي امنيت د عمومي رياست په ګډون، افغان دولت د ماشومانو د ساتنې د پاليسي پر طرح کولو کار پيل کړ. يوناما او په وسله واله جګړه کې د ماشومانو د څارنې او راپور ورکونې د هيوادني کاري ځواک نورو غړو د دې پاليسي په اړه خپل نظرونه ورکړل چې د دې راپور د خپرېدو تر وخت پورې د يوې طرحې په بڼه پاتې دي.

د ۲۰۲ کال د نومبر پر ۲۴ نېټه، د کورنيو چارو وزارت د افغان دولت د کم عمره ماشومانو د استخدام او ګټه اخيستنې د مخنيوي او د ماشومانو په ضد د مرګ ژوبلې او جنسي تاوتريخوالي د ضميمې لپاره د افغان دولت د عمل پلان سره سم د ماشومانو د ساتنې پاليسي په رسمي ډول خپره کړه. يوناما د پاليسي د طرحه کولو پرمهال د کورنيو چارو وزارت ته تخنيکي لارښوونې او ملاتړ برابر کړي. نوموړې پاليسۍ د بچه بازۍ په ګډون د ګمارنې، کارونې او جنسي تېري څخه د ماشومانو د ساتنې په تړاو احکام رانغاړي.

## ج. نړيوال وسله وال ځواکونه:

د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې يوناما په افغانستان کې د متحده اياالتو له ځواکونو/د ناټو د پريکنده ملاتړ له ماموريت سره خپلې اړيکې جاري ساتلي دي چې په منظم ډول يې د ملکي مرګ ژوبلې د پېښو او جرياناتو په اړه بحث کړی. په ۲۰۱۹ کال[299] کې پيل دغه لړۍ اوس هم دوام لري، په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ځواکونو/د ناټو د پريکنده ملاتړ ماموريت د ملکي تلفاتو د کمښت ډلې (CCMT) د ملکي تلفاتو د راپورونو له ترلاسه کولو وروسته په لومړنيو له ۲۴څخه تر ۷۲ ساعتونو پورې د ملکي تلفاتو څېړنه تر سره کړې ده. نوموړې ډلې په ډاګه کړې چې کله هم د مرګ ژوبلې د پخوانيو پېښو د تورونو په اړه تازه او نوي معلومات ترلاسه کړي، هغه د نويو پېښو په څېر ګڼي او په اړه يې ورته بيا کتنه تر سره کوي. کله چې لومړنۍ څېړنه باوري وګڼل شي نو په همدې موخه د ملکي تلفاتو د ريښتينولۍ څېړنه پيل کوي چې دغه ډول ارزونه د اوو ورځو په دننه کې بشپړيږي. د ملکي تلفاتو د کموالي ټيم (CCMT) په ډاګه کړې چې دغه موده د اړتيا په مهال غځول شوې ده. په افغانستان کې د متحده ايالاتو ځواکونو دغه راز يادونه کړې چې دوي د دې وړتيا لري چې هره شببه د خپلو ۶-۱۵ نظامي اصولو يا د هوايي ځواک د قومندان په لارښونه اداري څېړنې ترسره کړي.[300]

يوناما د ملکي تلفاتو د کموالي د ټيم (CCMT) له خوا په ټوليزو رسنيو کې د ملکي تلفاتو د تورونو د څېړاوي د سيستماتيکې کتنې چې په ۲۰۱۹ کال کې پيل شوې ده هرکلی کوي. يوناما په افغانستان کې د متحده ايالاتو ځواکونو/ناټو د پريکنده ملاتړ ماموريت د غښتلو پلټنو ترسره کولو د اهميت يادونه کوي او هغوی هڅوي چې د افغانو امنيتي ځواکونو له ليکو ور ها خوا له نورو بشري منابعو سره هم خپلې اړيکې پراخې کړي ځکه چې ډيری پېښې په داسې ځايونو کې رامنځ ته کيږي چې د افغان دولت تر ولکې لاندې نه وي. يوناما يو ځل بيا د دې احتياط يادونه کوي چې د عملياتو په ترسره کولو او د ملکي تلفاتو په شننه دواړو کې، د کافي انساني څېرکتيا او تاييد پرته يوازې پر ټکنالوژۍ اتکا د ملکي وګړو د غير ارادي زيان د اړولو چانسونه زياتوي.

سره له دې چې نړيوالو نظامي ځواکونو د ۲۰۲۰ کال د مارچ راهيسې په افغانستان کې خپل عمليات ډېر راکم کړي، چې له امله يې دوي ته په منسوب شويو ملکي تلفاتو کې د پام وړ کموالی راغلی. خو يوناما نړۍ وال ځواکونه هڅوي چې د ملکي تلفاتو د پخوانيو تورنو په ګډون د ملکي تلفاتو د ريښتونو تورونو بيا کتنې ته ادامه ورکړي، او همدارنګه د ملکي تلفاتو په هکله ترلاسه شوي معلومات په سيستماتيک ډول له پخوا

---

[297] په ۲۰۲۰ کال کې د ملکي تلفاتو د مخنيوي او کمښت بورد (CAMB) يوه ناسته د ۲۰۲۰ کال د نومبر پر ۳ ترسره شوه.

[298] د ۲۰۲۱ کال د فبروري پر ۱۸ نېټه د يوناما له خوا د افغان هوايي ځواک ترلاسه شوی بريښناليک.

[299] د لا زياتو معلوماتو لپاره په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۹ کال کلنی راپور (فبروري ۲۰۲۰) وګورئ.

[300] د ۲۰۲۰ کال د جنورې پر ۲۵ نېټه يوناما ته د CCMT ډلې بريښناليک، له يوناما سره په دوسيه کې موجود دی؛ او د متحده ايالاتو د دفاع وزارت، په افغانستان کې د امنيت د ټيکاو غښتلي کول (جون ۲۰۲۰)، ۲۰ مخ.

نه د تر لاسه شویو تجربو په توګه، په تیره بیا د هدف نیونې د تړونونو او د زیان د پراخو شکلونو په پېژندلو کې د مرستندوی په توګه وکاروي. سره له دې چې د ځواکونو کچه راکمه شوې خو لا تر اوسه هم د افغان ملي امنیتي ځواکونو په ملاتړ عملیات دوام لري، یوناما د امریکا د متحده ایالاتو دولت او ناټو هڅوي چې د روزنې، سلا مشورې او قوماندې (TAACs) په ګډون هغې ډلې ته چې د ملکي مرګ ژوبلې د ارزونې لپاره ځانګړې شوې ده د اړتیا وړ منابع په پام کې ونسيي تر څو په سیمه ییزه کچه له امنیتي مقاماتو څخه د مالوماتو را ټولول او د هغوی ارزول ډاډمن شي. پر دې سربېره د افغان ملي امنیتي ځواکونو روزنه او ملاتړ لا نور ډېر مهم شوی، ځکه چې نړیوال ځواکونه کم شوي او د ممنوع برید لستونه ورسپارل شوي، د دې په ډاډمنولو کې مرسته کوي چې افغان ځواکونه اړین وسایل په واک کې ولري چې د بشرپالنې له نړیوال قانون سره د پالیسي ګانو او تاکتیکي لاربښودونو تطابق یقیني کوي.

په ۲۰۲۰ کال کې په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو/ناټو د پریکنده ملاتړ ماموریت خبر ورکړ چې د ۱۵۹ هغو پېښو په اړه یې څېړنې کړي په کومو کې چې نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب د ملکي تلفاتو ادعا شوې. له دغو څخه ۱۰۹ پېښې په ۷۲ ساعتونو په د ننه کې د ایتلافي ځواکونو د نه شکیلتیا له امله رد او یا هم د ناسمو ادعاګانو په توګه پېژندل شوې. په داسې حال کې چې ۵۰ پېښې د " ریښتونو" پېښو په توګه پېژندل شوې. د ارزول شویو ریښتونو پېښو له ډلې څخه، په اوو پېښو کې ملکي تلفات تایید شول چې د پریکنده ملاتړ ماموریت یا په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو ته منسوب شوې وې چې په هغو کې ۲۵ ملکي تلفات ((۲۰ مړه او پینځه ټپیان) رامنځ ته شوي چې په ۲۰۱۹ کال کې د تایید شویو ۱۸۹ ملکي تلفاتو (۱۱۱ مړو او ۷۸ ټپیانو) په پرتله د پام وړ کموالی په ډاګه کوي.[301] په ۲۰۱۹ کال کې د ۱۴ څېړنو په پرتله په ۲۰۲۰ کال کې، په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو د ۶-۱۵ نظامي اصولو له مخې ، له CCMT سره د شریکو شویو ملکي تلفاتو د تورونو شپږ ژورې څېړنې ترسره کړې.[302] په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو/ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت په ۲۰۲۰ کال کې د هغو قضیو لپاره چې ملکي تلفات په کې تایید شوي د نقدي مرستو شمیر نه دی خپور کړی. پر ځای یې د دې یادونه کړې چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د نقدي مرستو شمېر نیسي او بیا دغه معلومات د ملکي تلفاتو په اړه په خپل کلنی راپور کې خپروي، او په ډاګه کړې یې ده چې معلومات به تر خپریدو وروسته شریک کړای شي.

د ملکي تلفاتو په شمېرو کې توپیر چې نړیوالو نظامي ځواکونو منلي او هغه چې په دې راپور کې مستند شوي په معیارونو او میتودولوژي ګانو کې د توپیرونو د شتون پر بنسټ توضیح کیدای شي، د امریکایي ځواکونو د ملکي شخص تعریف چې د یوناما پام یې ځان ته را اړولی د بشرپالنې له نړیوال قانون سره په سمون کې نه دی.[303]

یوناما د افغان حکومت د امنیتي سکتور په کچه د پالیسي د جوړولو د روان کار په ګډون چې د مسودې په شکل کې پاتې دی د کورنیو چارو وزارت لپاره د ماشومانو د ژغورنې د تګ لارې په چمتو کولو کې (چې د ۲۰۲۰ کال په نومبر کې خپره شوې) له حکومت سره د پریکنده ملاتړ ماموریت له خوا د ماشومانو د خوندیتوب د ارشد مشاور رول تاییدوي.
یوناما دغه راز د ناټو د غړو هیوادونو له خوا په افغانستان کې د باور وړ جنګي جنایتونو د تورونو د څېړنو د ترسره کولو په موخه د اقداماتو یادونه کوي، په تیره بیا د ناټو په رهبرۍ د ایساف د مرستندویه ماموریت چې په ځینې پېښو کې د ملي جنایي تحقیقاتو لامل شوي او یا د ملي نظامي ځواکونو د اصلاحاتو په موخه د سپارښتنو لامل شوی. د بېلګې په ډول وروستۍ څېړنې د استرالیایي دفاعي ځواکونو د سرمفتش او د نیوزلینډ د دولت له خوا ترسره شوي.[304]

### د. طالبان

یوناما د طالبانو د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د شکایتونو د اورېدو د کمیسون له خوا د لوړ شمیر ملکي تلفاتو او د ماشومانو د کارونې، ګمارنې او جنسي تاوتریخوالي د حساسو قضیو د مخنیوي او تحقیقاتو او احتساب په کارونو کې د پرمختګ یادونه کوي.

طالبان د ملکي تلفاتو د مخنیوي او شکایتونو د اوریدلو خپل کمیسون "د ملکي تلفاتو د مخنیوي د یوې داسې فعالې ادارې په څیر توصیفوي [...] چې د ملکي تلفاتو هره یوه پېښه په بشپړ ډول څیړي او د هغې د بیا ځل پېښیدو مخنیوی کوي."[305] د نوموړي کمیسون د ۲۰۱۹ کال د اپریل ۲۸ نېټې د عملیاتي معیاري طرز العملونو غونډې چې موخه یې د دغه کمیسیون د کارونو ښه والي وه، له عالمانو، شیخانو، مفتیانو او مسلکي افرادو سره سلا مشورو په ۲۰۲۰ کال کې هم دوام درلود. لکه چې په عملیاتي معیاري طرز العملونو کې یې تشکیل روښانه شوي، کمیسون له رئیس، دوه مرستیالانو، ولایتي دفترونو، له یو شمیر ریاستونو او کمیټو لکه "د څېړنو او تایید ریاست" او د "عامه پوهاوي او ټولنې

[301] د لا زیاتو معلوماتو لپاره د ملکي وګړو د ژغورنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۹ کال راپور وګورئ.

[302] د متحده ایالاتو د ۶-۱۵ نظامي اصولو د پروسې له لارې د ملکي تلفاتو عمومي شمېر له یوناما سره نه دی شریک شوی.

[303] د زیاتو معلوماتو لپاره د راپور په پیل کې د میتودولوژي برخه وګورئ ، همدا رنګه د نشه يي توکیو پر پروسس ځایونو د هوايي بریدونو په اړه ځانګړی راپور وګورئ (اکتوبر ۲۰۱۹) چې په دې ادرس د لاس رسي وړ دی، https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

[304] د بېلګې په ډول د استرالیا د دفاعي ځواکونو سر مفتش د افغانستان د تحقیقاتو په اړه وګورئ (/https://afghanistaninquiry.defence.gov.au)
او د نیوزیلیند د حکومت لخوا د عملیاتو په اړه https://operationburnham.inquiry.govt.nz/

[305] د جهاد غږ، د ۲۰۱۹ کال د لومړیو شپږ میاشتو د ملکي تلفاتو راپور ( ۳۰ جولای ۲۰۱۹)

سره د اړیکو له ریاست" څخه جوړ شوی دی.[306]

یوناما د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې د آی.سی.آر.سي په ګډون د بشرپالنې د نړیوال قانون د تطبیق په اړه د روزنې په ګډون د طالبانو د سیاسي کمیسیون او د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتو له کمیسیون سره د معلوماتو د تبادلې په ګډون خپل کار جاري ساتلی او په افغانستان کې د ملکي وګړو د ژغورنې په اړه د پراخې کچې د بشري حقونو خبري اتري جاري ساتلې. په دې کې د کرونا (کوویډ-۱۹) وبا پرمهال د انلاین ناستو دایریدل هم شامل دي.

یوناما د طالبانو د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتو له کمیسون سره په خاصه توګه په کاري ساحه کې دوامداره همکاري مني. که څه هم نوموړي کمیسیون په ۲۰۲۰ کال کې په خپل مشرتابه کې بدلون راووست خو بیا یې هم د یوناما له خوا شریک شویو قضیو ته په لیکلې او منظمه بڼه ځوابونه ورکول. دغه ډول همکاري د یوناما په راپور کې د کارول شویو معلوماتو په کره والي کې مثبته مرسته کړې. یوناما په اندېښنې سره یادونه کوي چې د دغه راپور تر خپریدو پورې له مکررو هڅو سره سره د کمیسیون له نوي ټاکل شوي مشر سره چې د ۲۰۲۰ کال په سپتمبر کې ټاکل شوی وو د ناستې په ترسره کولو نه ده توانیدلې.

یوناما د کمیسیون له خوا د ملکي تلفاتو تر پېښندو وروسته په څو پېښو کې د څېړنو هڅې تاییدوي چې طالبانو یا په ناستو کې یا د یوناما له خوا د شریک شویو پېښو په اړه په لیکلي ډول ځواب ویلو کې پر هغو ملکي تلفاتو اعتراف کړی چې د دوی د عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي. یوناما له اندېښنې سره سره د دې یادونه کوي چې د ملکي تلفاتو په اړه د طالبانو د ۲۰۲۰ کال راپور په دې کې پاتې راغلی چې یادې پېښې او د هغوی څېړنې، او همدارنګه د احتساب ترسره شوي اقدامات خپاره کړي. پر ځای یې ټول ملکي تلفات د جګړې نورو خواوو ته منسوب کړي.[307]
یوناما له نوموړي کمیسیون څخه په کلکه غوښتنه کوي چې د ملکي تلفاتو په مخنیوي کې لا زیات فعال رول ولوبوي او نظامي کمیسیون ته د تېرو تجروبو په رڼا کې روزنه ورکړي.[308]
یوناما له طالبانو څخه داړ غواړي چې د دوي لارښوونې او اوامر د بشرپالنې له نړیوال قانون سره په مطابقت کې دي؛ هغه لارښوونې تطبیق کړي په کومو کې چې په خپلو غړو د ملکي تلفاتو د مخنیوي امر کوي؛ ټول هغه کسان د احتساب منګولو ته وسپاري چې د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه سرغړونه کوي، د هغو په ګډون چې بې تفکیکه بریدونه کوي او داسې نور بریدونه ترسره کوي چې په هغو کې په قصدي ډول ملکي وګړي او ملکي اهداف په نښه شوي وي ؛ او د "ملکي شخص" هغه تعریف تطبیق کړي کوم چې د بشرپالنې له نړیوال قانون سره سمون ولري.

[306] د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتو کمیسون لپاره عملیاتي معیاري طرز العملونه (۲۰۱۹)، د یوناما په فایل کې ده، ۱ ماده، د دغو عملیاتي معیاري طرز العملونو په اړه د تفصیلاتو او شننې په پار د یوناما د ۲۰۱۹ کال د ملکي وګړو د ژغورنې کلنی راپور وګورئ.
[307] پر خپله انټرنیټ پاڼه، "طالبانو د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتو کمیسیون له خوا د ۲۰۲۰ کال د ملکي تلفاتو راپور خپور کړ" ( ۳۱ دسمبر ۲۰۲۰) له لاندې انټرنیټي پتې څخه تر لاسه شوی http://alemarahenglish.net/?p=41127

308 که څه هم د راپور ورکولو له مودې بهر رامنځ ته شوی، یوناما د طالبانو له خوا د ۲۰۲۱ کال د فبروري پر ۷ نېټه د قرباني د مرستې میکانیزم رامنځ ته کېدل تاییدوي. یوناما پلان لري چې دا میکانیزم او د هغه تطبیق په راتلونکو راپورونو کې تر کتنې لاندې ونیسي.

## لومړۍ ضمیمه: حقوقي چوکاټ

د دغه راپور لپاره په کارول شوی حقوقي چوکاټ کې د بشري حقونو نړیوال قانون، د بشرپالنې نړیوال قانون، نړیوال جنایي قانون او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا اړوند پرېکړه لیکونه شامل دي.

### د وسله والې جګړې د ښکېلو خواوو حقوقي مسئولیتونه:

د یوناما د درېځ له مخې په افغانستان کې وسله واله جګړه د افغان دولت په ملاتړ د وسله والو ځواکونو (د نړیوالو نظامي ځواکونو په ملاتړ د افغان ملي امنیتي ځواکونو) او مختلفو نا دولتي مخالفو وسله والو ډلو ترمنځ او دغه راز د نادولتي وسله والو مخالفو ډلو تر منځ یوه غیر نړیواله وسله واله جګړه ده. د افغان دولت اړوند ځواکونه او نړیوال نظامي ځواکونو په ګډه په دې راپور او افغانستان کې د" دولت پلوه ځواکونو" په نوم یادېږي، په داسې حال کې چې نا دولتي مخالفې وسله والې ډلې په دې راپور او افغانستان کې د "دولت ضد عناصرو" په نوم یادېږي. (د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو د تعریف لپاره د اصطلاحاتو برخه وګورئ).

د وسله والې جګړې ټولې ښکېلې خواوې- افغان وسله وال ځواکونه، نړیوال نظامي ځواکونه او غیر دولتي وسله والې ډلې- تر نړیوال قانون لاندې د ملکي وګړو د ساتنې څرګند مکلفیتونه لري.

د امنیت شورا ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پرېکړه لیک څرګنده کړې، چې دا د ټولو دولتونو لپاره خورا مهمه ده څو د ښځو او نجونو د ملاتړ په موخه د بشرپالنې د نړیوال قانون او د بشري حقونو د نړیوال قانون اړوند نورمونه په بشپړ ډول تطبیق کړي، او د وسله والې جګړې پر مهال د جنډر پر بنسټ له تاوتریخوالي څخه د هغوي د ساتلو په موخه ځانګړي اقدامات ترسره کړي.[309]

### (۱) د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې مکلفیتونه:

د یوې غیر نړۍ والې جګړې لپاره، د جینوا د کنوانسیونونو ۳ مشترکې مادې حد اقل معیارونه رامنځته کړي چې د جګړې ښکېلې غاړې چې په هغو کې دولتي او غیر دولتي دواړه لوري شاملېږي باید د هغو معیارونو درناوی وکړي. سربېره پر دې، چې په کوم ځای کې د تطبیق وړ وي، د ۱۹۷۷ کال د دویم الحاقي پروتوکول چې افغانستان یې هم غړیتوب لري، احکام د اصلي حقوقي چوکاټ یوه برخه جوړوي.[310] ټول هغه هیوادونه چې په افغانستان کې د نړیوالو پوځي ځواکونو په چوکاټ کې ونډه لري د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسیونونو لاسلیک کوونکي دي. حال دا چې د سرتېرو ورکوونکي ټول هیوادونه د ۱۹۷۷ کال د دویم الحاقي پرتوکول لاسلیک کوونکي نه دي، خو بیا هم دغه هیوادونه د بشر پالنې د نړیوال عرفي قانون د اړوندو مقرراتو په اساس چې پر غیر نړیوالې وسله والې جګړې د پلي کېدو وړ دي، په رعایت کولو مکلف دي.[311] هغه عرفي قواعد چې د دولتونو او وسله والو مخالفو ډلو ترمنځ وسله والې جګړې تنظیموي، د جګړې پر ټولو ښکېلو خواوو ،که هغه دولت یا مخالفه وسله واله ډله وي، د تطبیق وړ دي.

دریمه مشترکه ماده په څرګند ډول د ملکي وګړو په ګډون د هغو خلکو په تړاو چې په شخړو کې فعاله برخه نه اخلي، هر وخت او په هر ځای کې د قتل،[312] اندامونو پرې کولو، ظالمانه چلند او شکنجې، یرغمل نیولو، او دغه راز په شخصي وقار د تېري، او غیر قانوني (صحرایي) اعدامونو[313] په ګډون، په ښکاره توګه د ژوند او شخص په ضد تاوتریخوالی منع کوي.

---

[309] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا اړوند پرېکړه لیکونه S/RES/1325 (2000) . See also S/RES/1820 (2008) , S/RES/1888 (2009) , S/RES/1889 (2009) , S/RES/1960 (2010) , S/RES/2106 (2013) , S/RES/2122 (2013) , and S/RES/2242 (2015) .

[310] افغانستان د ۲۰۰۹ کال د نومبر پر ۱۰ نېټه د ۱۹۷۷ کال دویم الحاقي پروتوکول لاسلیک کړی. دا پروتوکول د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په ۲۴ نېټه نافذ شو.

[311] د امریکا متحده ایالاتو دویم الحاقي پروتوکول لاسلیک کړی خو تایید کړی یې نه دی. له دې سره سره، متحده ایالات د نړیوال عرفي قانون د نورمونو له خوا د هغو احکامو رعایت کولو ته پابند دی چې په دویم الحاقي پروتوکول کې منعکس شوي

[312] یوناما د ملکي وګړو مرګ ژوبله د روانې وسله والې جګړې له بېلابېلو تاکتیکونو سره په تړاو کې ثبتوي، دبېلګې په توګه، هدفي وژنې، ځانمرګي او ډله یېز بریدونه، ځای پرځای شوي چاودېدونکي توکي او نور. په دې ډول، یوناما هغه کړنې هم ثبتوي، چې د روم د اساسنامې او/یا د نړیوال عرفي قانون له مخې جنګي جرمونه پېژندل شوي لکه د روم د اساسنامې د ۸ (c) (i) مادې پر اساس د قتل جنګي جرم او دغه راز د نښتو/جګړو د ترسره کولو پرمهال د ملکي کسانو رامنځ ته شوې مرګ ژوبله ، چې ښايي د بشرپالنې نړیوال قانون نقض نه کړي. یوناما په جګړه پورې تړلې ملکي مرګ ژوبله له هغو پېښو څخه بیلوي چې د داخلي جنايي حملو څخه را منځ ته کېږي، لکه د یو شخص لهخوا د قتل او یا حملې تر سره کول، چې د وسله والې جګړې له شرایطو څخه بهر وي. هغه پېښې چې په وسله واله جګړه پورې تړاو و نه لري، په دې راپور کې نه دي شاملې.

[313] د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ مې د ژنیو د کنوانسیونونو دریمه مشترکه ماده د غیر نړیوال ماهیت د شخړو پر مهال د تطبیق وړ ده. د وسله والې جګړې په صورت کې چې نړیوال خصوصیات و نه لري او د کنوانسیونونو د لوړ پوړو غړو دولتونو په قلمرو کې واقع کېږي، د جګړې هر طرف به لږ تر لږه د لاندې احکامو په پلې کولو مکلف

د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې، د جګړې ښکېلې خواوې مکلفې دي چې د نظامي عملیاتو د پلانولو پر مهال د لاندنیو کلیدي اصولو درناوی وکړي:

- تفکیک: ملکي ټولنې او همدارنکه انفرادي ملکي کسان نه باید د برید هدف وي او د شخړې ټولې خواوې باید هر وخت د ملکیانو او جنګیالیو تر منځ توپیر وکړي. دغه اصل د جګړې له ښکېلو خواوو غوښتنه کوي، چې له یوې خوا د ملکي وګړو او ملکي اهدافو او له بلې خوا د جنګیالیو او پوځي اهدافو ترمنځ توپیر وکړي، چې بریدونه یوازې پر نظامي اهدافو ترسره کېدای شي. د دې لپاره چې یو ځای یا ودانۍ پوځي هدف وګڼل شي، باید دغه دوه ګډ معیارونه/شرطونه پوره کړي: (۱) "ماهیت، موقعیت او د کارونې هدف، چې له یوه نظامي عمل سره موثره مرسته کوي" او (۲) "د وخت په حاکمو شرایطو کې د موخې ټوله یا جزئي ویجاړونه، نیونه یا خنثی کول، یوه قطعي پوځي ګټه رامنځته کوي."[314]
- تناسب: "هر هغه برید منع دی، چې ښایي د ملکي وګړو د مړینې، ټپي کېدنې، د ملکي شتمنۍ د ضمني زیان یا د دغو دواړو د داسې اتفاقي زیان لامل شي، چې له هغې حقیقي او مخامخ نظامي بریا څخه یې اندازه زیاته وي، د کومې چې تمه کېدای شي.[315]
- په بریدونو کې احتیاط: ”[...] ملکي کسان باید د نظامي عملیاتو څخه د را ولاړو شویو خطرونو په وړاندې له ټولیز خوندیتوب څخه برخمن وي.“[316] د نظامي عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې، باید د ملکي ټولنو، ملکی کسانو او ملکي شتمنۍ د ژغورلو په موخه پر له پسې پاملرنه وشي" او باید ټول اړین احتیاطي تدبیرونه چې موخه یې په هر ډول پېښه کې د ملکي کسانو د ژوند، د ملکي کسانو د ټپي کېدو او د ملکي کسانو او د ملکي شتمنۍ د ضمني زیان څخه مخنیوي او کمول وي، ونیول شي.[317]

## (۲) د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې مکلفیتونه:

د بشري حقونو نړیوال قانون په سوله او د وسله والې جګړې پر مهال، د بشر پالنې د نړیوال قانون سره ګډه او بېل بېل ډول د پلي کېدو وړ دي. له همدې کبله دولتونه باید د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې په خپل قلمرو کې دننه یا د هغوی له عدلي تعقیب سره مخ کېدونکو افرادو په تړاو خپلو مکلفیتونو ته درناوی وکړي. سربېره پر دې، هغه نا دولتي خواوې چې د قلمرو موثر کنترول لري او یوه دولت ته ورته چارې ترسره کوي، باید د بشري حقونو نورمونو ته درناوی وکړي.

### افغان دولت:

افغانستان د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون په ګډون، د بشري حقونو د ګڼ شمېر نړیوالو معاهدو/تړونونو[318] غړی دی، کوم چې حکومت پر دې مکلفوي څو د خپل قلمرو په دننه او یا د هیواد تر واکمنۍ لاندې سیمو په دننه کې د ټولو کسانو اساسي بشري حقونه خوندي کړي.

وي: (۱) هغه کسان، د وسله والو ځواکونو په شمول چې وسلې یې په ځمکه ایښې او یا هغه کسان چې ناروغ، ټپي او توقیف شوي وي، د هر ډول توپیر/تبعیض په پام کې نیولو پرته لکه نژاد، رنګ، مذهب، عقیدې، جنسیت، زېږون یا شتمنې، چې په شخړو کې فعاله ونډه نه اخلی د هغوي سره باید په ټولو حالتونو کې انساني چلند وشي. د دغه کار په موخه، د پورته یادو شویو کسانو په حواله ټول په هر وخت او هر ځای کې راتلونکي عملونه منع دي: (الف) د ژوند او شخص په وړاندې تاوتریخوالی، په ځانګړی توګه د قتل ټول ډولونو، د اندامونو پرېکول، ظالمانه چلند او شکنجه؛ (ب) یرغمل نیول؛ (ج) په شخصي وقار باندې تېری، په ځانګړې توګه له سپکاوي ډک او ناوړه چلند؛ (د)، د یوې منظمې تشکیل شوي محکمې چې د ټولو قضايي ضمانتونو د ترسره کولو وړتیا و لري او د متمدنو خلکو لخوا د لازم الاجرا په حیث پېژندل شوي، د مخکنۍ قضاوت او حکم پرته د حکمونو صادرول او د اعدامونو ترسره کول.

[314] الحاقي دویم پروتوکول، ۱۳(۲) ماده د نړیوال سره صلیب د کمېټې له خوا پر نړیوال عرفي قانون څېړنه ۱ قاعده. همدا راز د نړیوال سره صلیب د کمېټې له خوا پر نړیوال عرفي قانون څېړنه ۱ - ۲۴ قواعدوګورئ

[315] د نړیوال سره صلیب د کمېټې لهخوا پر نړیوال عرفي قانون څېړنه ۱۴ قاعده.

[316] الحاقي دویم پروتوکول، ۱۳(۱) ماده د نړیوال سره صلیب د کمېټې له خوا پر نړیوال عرفي قانون څېړنه ۱۵ قاعده.

[317] د نړیوال سره صلیب د کمېټې له خوا پر نړیوال عرفي قانون څېړنه ۲۱-۱۵ قواعد.

[318] افغانستان د بشري حقونو لاندني میثاقونه او کنوانسیونونه لاسلیک کړی دي: د مدني او سیاسي حقونو په اړه نړیوال کنوانسیون، د اقتصادي، ټولنېزو او کلتوري حقونو په اړه نړیوال کنوانسیون، د نژادي تبعیض د ټولو بڼو د مخنیوي په اړه نړیوال کنوانسیون، د ښځو په وړاندې د توپیر د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسیون، د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني، ناوړه چلند او سزا د منعې کنوانسیون، د ماشوم د حقونو په اړه کنوانسیون، د ماشومانو د سوداګرۍ، فحاشۍ ته د ماشومانو د اړ ایستلو، او له هغوی نه د بربنډو انځورونو او فلمونو د اخیستلو په اړه د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون الحاقي پروتوکول، په وسله واله شخړه کې د ماشومانو د ښکېلتیا په هکله د ماشوم د حقونو په اړه د کنوانسیون الحاقي پروتوکول او د معلولیت لرونکیو کسانو د حقونو په هکله کنوانسیون. د تصویب د نېټو لپاره له راتلونکې انټرنېټ پاڼې څخه لیدنه وکړئ: ,http://tbinternet.ohchr.org/_layouts/TreatyBodyExternal/Treaty.aspx?CountryID=1&Lang=EN. په وروستي ځل د ۲۰۲۰ کال د جنوري په ۲۳ نېټه کتل شوی.

د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې، هیوادونه باید د خپلو منسوبینو[319] لخوا په تېره بیا د هغو ارګانونو لخوا چې د قانون پر انفاذ بوخت دي، د مرګوني ځواک کارول وڅېړي. دا دنده د احتمالي نه رعایتولو د مسئولیت سره یو ځای د ژوند د حق د ساتنې له مکلفیت څخه سرچینه اخلي.[320] د دې لپاره چې د دولت څېړنې اغیزمنې وي، هغه باید تر ممکنه حده چټکې، بشپړې، بې طرفه، خپلواکې[321] او د عامه پلټنې لپاره پرانیستې وي.[322] د څېړنو په موخه د دولت مکلفیت د قانون د اجراء په ټولو زمینو کې د هغو زمینو په ګډون چې د وسله والو شخړو پر مهال را ولاړېږي، د تطبیق وړ دي.[323]

## نړیوال نظامي ځواکونه:

هغه نړیوال نظامي ځواکونو چې په افغانستان کې فعالیت ترسره کوي، هم د بشري حقونو مشخص مکلفیتونه لري، چې تر قلمرو بهر د تطبیق وړ دي. د مثال په ډول، دولتونه باید د خپل ځواک یا بر حاله کنترول په دننه کې د ټولو کسانو د ژوند حق ته درناوي وکړي او دا ډاډمنه کړي چې هغوی له شکنجې یا ناوړه چلند څخه خوندي دي، آن که چیرې د هغوی په قلمرو کې د ننه هم واقع نه وي.[324] په دې کې هغه کسان شامل دي څوک چې د نړیوالو نظامي ځواکونو یا نورو نړیوالو فعالینو چې په افغانستان کې په نظامي عملیاتو کې فعالیت کوي، تر برحاله کنترول لاندې واقع دي.

## غیر دولتي وسله والې ډلې:

په داسې حال کې چې غیر دولتي خواوې د وسله والو ډلو په ګډون د بشري حقونو د نړیوالو تړونونو غړي نشی کېدای، خو د نړیوال عرفي قانون له مخې دوي له دې مستثنی ندی چې د بشري حقونو مکلفیتونو ته پابنده و نه اوسي. نادولتي خواوې په زیاته کچه انګېرل کېږي چې د مشخصو نړیوالو بشري حقونو د مکلفیتونو په درناوي مکلف دي، په تېره بیا د طالبانو په څېر هغه ډلې چې په عملي ډول ځینې سیمې تر خپلې ولکې لاندې لري.[325]

---

[319] د غیر قانوني، په خپل سر او نا قانونه اعدامونو د څېړنې او موثره مخنیوي په هکله د ملګرو ملتونو د اصولو ۹، ۱۰ او ۱۷ پاراګرافونو ته مراجعه وکړئ چې د اقتصادي او ټولنېزې شورا د ۶۵/۱۹۸۹ پرېکړه لیک په واسطه د ۱۹۸۹ کال د مۍ په ۲۴ تصویب شو، د غیری نړیوالې وسله والې شخړې په هکله د ملګرو ملتونو د امنیت شورا او د عمومي اسامبلې پرېکړه لیکونو ته هم مراجعه وکړئ چې د ټولو خواوو څخه د بشري حقونو د نړیوال قانون د درناوي غوښتنه کوي.

[320] د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری، عمومي تبصره ۳۱ (۲۰۰۴)، § 15؛ د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری، عمومي تبصره ۶(۱۹۸۲)§ 4 ; ECtHR, Kaya case, § 86; ECtHR, Ergi v. Turkey, Application No. 23818/94, Judgment of 28 July 1998, ECtHR, McCann case, § 169; §§ 82, 86; ECtHR, Isayeva v. Russia, Application No. 57950/00, Judgment of 24 February 2005, §§ 208-9, 224-5; IACiHR, Abella (La Tablada) case, § 244; IACiHR, Alejandre case, § 47; ACiHPR, Civil Liberties case, § 22.

[321] IACiHR, Abella (La Tablada) case, § 412; ECtHR, Özkan case, § 184; ECtHR, Orhan v. Turkey, Application No. 25656/94, Judgment of 18 June 2002, § 335; ECtHR, Isayeva et al. case, § 210-11; ECtHR, McCann case

[322] ECtHR, Hugh Jordan v. the United Kingdom, Application No. 24746/94, Judgment of 4 May 2001, § 109; ECtHR, Özkan case, § 187; ECtHR, Isayeva et al. case § 213; ECtHR, Isayeva case, § 214: په لاندې انټرنیټ پاڼه د بشري حقونو له نړیوال قانون او د بشر پالنې له نړیوال قانون څخه د جدي سرغړونو د قربانیانو لپاره د جبران او تاوان د حق په اړه اساسي اصولو او لارښودونو ته مراجعه وکړئ: http://www.ohchr.org/EN/ProfessionalInterest/Pages/RemedyAndReparation.aspx، په وروستي ځل د ۲۰۲۰ کال د جنوري پر ۲۷ نېټه کتل شوي.

[323] سی دروګ ته مراجعه وکړئ، د دښمنیو د ترسره کولو څخه د قانون د انفاذ توپیر ۵۷-۶۳ مخونه د کارپوهانو غونډه، د کیمیاوي اجنټانو بې واکه کول، د قانون انفاذ، بشري حقونه او د پالیسی لرلیدونه http://www. icrc. org/eng/assets/files/publications/icrc-002-4121.pdf; په وروستي ځل د ۲۰۲۰ کال د جنوري پر ۲۷ نېټه کتل شوي. نیلس میلزر "د دښمنیو د ترسره کولو او د قانون د انفاذ تر منځ تداخل او مفکوره یې توپیر" د پوځي عملیاتو په نړیوال قانون کتاب ګوتی(اکسفورډ: د اکسفورډ د پوهنتون مطبعه، ۲۰۱۰) ۴۴-۴۳ مخونه.

[324] د بشري حقونو کمېټه، ۳۱ شمېره عمومي تبصره (۲۰۰۴)، ۱۰ پاراګراف؛ د دیوال د جوړولو حقوقي پایلې، ۱۱۱ او ۱۱۳ پاراګرافونه؛CAT/C/USA/CO/2 ۱۴-۱۵ پاراګرافونه؛ CCPR/C/USA/CO/4۹ پاراګراف؛ CCPR/C/GBR/CO/6۱۴ پاراګراف.

[325] د ملګرو ملتونو د عمومي منشي راپور ته مراجعه وکړئ، په سریلانکا کې د حساب ورکونې په هکله د عمومي منشي د کارپوهانو د هیئت راپور، د ۲۰۱۱ کال د مارچ ۳۱، ۱۸۸ پاراګراف. همدارنګه د لیبیا په عربي جمهوریت کې د نړیوال بشري حقونو د ټولو ادعا شویو سرغړونو د څېړنې د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور ته مراجعه وکړئ- A/HRC/17/44, 1 June 2011؛ د سوریې په عربي جمهوریت کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور- A/HRC/19/69, para. 106; د جنوبي سودان په جمهوریت کې د ملګرو ملتونو ماموریت، په جنوبي سودان کې شخړه: د بشري حقونو راپور، ۲۰۱۴ کال د مۍ ۸، ۱۸ پاراګراف.

### (۳) د نړیوال جینايي قانون له مخې مسئولیتونه:

افغانستان د خپل قلمرو په دننه کې د نړیوالو جرمونو لکه د جنګي جنایتونو، د بشریت پر وړاندې د جرمونه او نسل وژنې د څېړلو او تعقیب لومړی مسئولیت لري.[326] افغانستان په ۲۰۰۳ کال کې د روم د اساسنامې د نړیوالې جینايي محکمې غړیتوب تر لاسه کړ. د دې په پایله کې، که چېرې افغانستان په خپل قلمرو کې تر یوه حده نشی کولی او یا نه غواړي د نړیوالو جرمونو په اړه خپل صلاحیت وکاروي، نړیواله جینايي محمکه ښايي د روم په اساسنامه کې تعریف شویو جرمونو په اړه چې د تورونو له مخې په افغانستان کې ترسره شوي، خپل صلاحیت وکاروي.[327]

د ۲۰۱۷ کال د نومبر پر ۲۰ نېټه، د نړیوالې جینايي محکمې څارنوال نوموړې محکمې ته د روم اساسنامې د ۱۵ مادې پر بنسټ یو غوښتنلیک وړاندې کړ، چې د محکمې تر واک لاندې د هغو جرمونو په اړه څیړنې ترسره کړي چې په افغانستان کې د وسله جګړې په مهال د طالبانو، افغان ځواکونو او متحده ایالاتو د فعالینو لخوا ترسره شوي.[328] دغه وضعیت د ۲۰۰۶ راهیسې د څارنوال د دفتر لخوا تر لومړنیو څېړنو لاندې و څو معلومه کړې هغه کړنې چې د ۲۰۰۳ کال د مۍ میاشت له لومړۍ نېټې را په دیخوا د افغان او بهرنیو هیوادونو د ځواکونو او دغه راز د دولت ضد ځواکونو لخوا ترسره شوي، ښايي جنګي جرمونه او د بشریت ضد جنایات وګڼل شي. په لومړنۍ څېړنه کې همدارنګه دا پلټل شوي چې په افغانستان کې په وسله والې جګړې پورې اړوند نور جرمونه او هغه چې د اساسنامې د نورو غړو هیوادونو په قلمرو کې د ۲۰۰۲ کال د جولای د لومړۍ نېټې راهیسې ترسره شوي.

محکمې ته د غوښتنی په مهال ، څارنوال استدلال کاوه چې داسې مناسب بنسټ موجود دی څو باور وشي چې د طالبانو او له هغوی سره ملې د حقاني شبکې لخوا د بشریت پر ضد جرمونه او جنګي جنایتونه ترسره شوي؛ دا چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو، په تېره بیا د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو او افغان ملي پولیسو لخوا جنګي جرمونه ترسره شوي؛ او دا چې د متحده ایالاتو د وسله والو ځواکونو د غړو لخوا د افغانستان په قلمرو کې، او د متحده ایالاتو د مرکزي استخباراتي ادارې د غړو لخوا په افغانستان کې په پټو توقیف ځایونو کې او د روم اساسنامې د غړو هیوادونو په قلمرو کې په خاص ډول د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو په موده کې جنګي جرمونه ترسره شوي.[329]

د ۲۰۱۹ کال د اپریل پر ۱۲ نېټه، د نړیوالې جینايي محکمې د محاکمې څخه وړاندې د اسنادو او مدارکو د بررسي هیئت د واک او د وړتیا د معیارونو د بشپړتیا له منلو سره ، د رایو په اتفاق د څارنوال د څېړنو د پرانیستلو غوښتنه رد کړه. قاضیانو پرېکړه وکړه چې څېړنه به "د عدالت د مصالحو/ګټو" لپاره موثره تمامه نشی، هغوی "په افغانستان او کلیدي دولتونو کې د اړوند سیاسي وضعیت"، پیچلي او ترینګلی سیاسي چاپیریال او د څېړنې د شونتیا او په وړاندې یې د ستونزو د را ولاړېدا له کبله چې ښايي د دولت د نه همکارۍ له کبله را منځ ته شي اندیښنې په ډاګه کولې. د ۲۰۱۹ کال د جون پر ۷مه نېټه، د څارنوال دفتر د دغې پرېکړې د استیناف لپاره غوښتنه درج کړه، کومې ته چې د محاکمې څخه وړاندې د اسنادو او مدارکو د بررسي هیئت لخوا د سپتمبر پر ۱۷مه اجازه ورکړل شوه. د استنیاف هیئت د ۲۰۱۹ کال د دسمبر پر ۴-۶ مه نېټه استماعیه جلسه ترسره کړه. د ۲۰۱۹ کال تر پای پورې، د دې په اړه باید پرېکړه شوې وای چې د محاکمې څخه وړاندې د اسنادو او مدارکو د بررسي هیئت حکم تایید یا مسترد کړي.

په غیر نړیواله وسله واله جګړه کې جنګي جرمونه د دریېمې مشترکې مادې او نورو قوانینو او دودونو څخه چې په وسله واله شخړه کې چې نړیوال خصوصیت و نلري د پلې کېدو وړ دي د جدي سرغړونو په څېر تعریف شوي. په جنګي جرمونو کې لاندې موارد شامل دي- د هغو کسانو په تړاو چې په نښتو کې برخه نه اخلي، د ژوند او شخص په وړاندې تاوتریخوالی، د قتل، د ملکي وګړو یا هغو کسانو په وړاندې د عمدي بریدونه چې په شخړو کې برخه نه اخلي.[330]

هغه هیوادونه چې ځواکونه یې د نړیوالو پوځي ځواکونو په ډله کې دي او په افغانستان کې د شخړې اړخ دي هم د ادعا شویو جرمونو د څېړنې او تعقیب مسئولیت لري، چې ښايي دا جرمونه په افغانستان کې د دوي د اتباعو لخوا ترسره شوي وي.[331]

---

[326] د نړیوالې جنايي محکمې د اساسنامې مقدمه او ۱، ۱۷ مادې؛ د ای سي ار سي (سره صلیب د نړیوالي کمېټې) د نړیوال عرفي قانون څېړنه ۱۵۸ قاعده وګورئ.

[327] د نړیوالې جینايي محکمې د اساسنامې ۱، ۱۲-۱۷ مادې.

[328] https://www.icc-cpi.int//Pages/item.aspx?name=171120-otp-stat-afgh وګورئ.

[329] https://www.icc-cpi.int//Pages/item.aspx?name=171120-otp-stat-afgh; https://www.icccpi.int/Pages/record.aspx?docNo=ICC-02/17-7-Red.

[330] د نړیوالې جینايي محکمې د اساسنامې ۸ ماده.

[331] پرته له دې چې دا په پام کې ونیول شي چې دولتونه د روم اساسنامې غړي دي او که نه، دوي ټول تر عرفي قانون لاندې مکلفیت لري چې د افغانستان په قلمرو کې د فعالیت په مهال د بشري حقونو د نړیوال قانون او بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې وڅېړي. د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون څېړنه، ۱۴۴، ۱۵۷ او ۱۵۸ قواعد وګورئ.

## دویمه ضمیمه: د جګړې اصلي خواوې

**دولت پلوه ځواکونه:**

دولت پلوه ځواکونه، افغان ملي امنیتي ځواکونه (افغان پوله ساتي ځواکونه، افغان سیمه ییز پولیس، افغان ملي اردو، افغان سیمه ییزه اردو، افغان ملي پولیس، د ملي امنیت ریاست)، دولت پلوه وسله والې ډلې، او نړیوال نظامي ځواکونه چې په هغو کې د ځانګړو عملیاتو ځواکونه او نورې بهرنۍ نمایندګۍ هم شاملې دي په بر کې نیسي خو تر همدغو ډلو پورې محدود ندي.

**افغان ملي امنیتي ځواکونه:**

افغان ملي امنیتي ځواکونه د دولت له ټولو امنیتي ځواکونو څخه، چې په هغو کې افغان ملي پوځ (او د هغه اړوند افغان هوایي ځواک او د افغان ملي پوځ سیمه ییز فرعي ځواک) افغان ځانګړي ځواکونه ، د ملي امنیت ریاست (د افغان دولت استخباراتي او امنیتي ځواکونه چې په پوځي عملیاتو کې برخه اخلي)، افغان سیمه ییزو پولیس، افغان ملي پولیس، د عامه نظم ملي ځواک او افغان سرحدي ځواک برخه لري تشکیل شوي دي.

د کورنیو چارو وزارت د مسؤلیت له مخې، افغان ملي پولیس د قانون د پلي کولو لومړنی ارګان دی، چې په ځینو حالاتو کې په جګړو کې هم برخه اخلي. افغان سیمه ییز پولیس په ۲۰۱۰ کال کې ایجاد شول چې د بغاوت ضد هڅو د یوې برخې په څېر په ټولنه کې پولیسي خدمتونه ترسره کړي. که څه هم دوي افغان ملي پولیسو او کورنیو چارو د وزارت ته راپور ورکوي خود جګړه ییزو دندو د ترسره کولو له امله، دوی (افغان سیمه ییز پولیس) د وسله والو ځواکونه بالفعل غړي ګڼل کېږي. د امنیتي سکتور له اصلاحاتو وروسته چې په ۲۰۱۷ کال کې د افغان امنیتي ځواکونو د لارې د نقشې تر نامه لاندې تر سره شول، پخواني افغان سرحدي پولیس او د عامه نظم ملي پولیس په ۲۰۱۸ کال کې له کورنیو چارو وزارت څخه دفاع وزارت ته ولیږدول شول. وروسته له هغې چې د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پر ۳۰ افغان سیمه ییزو پولیسو تمویل پای ته ورسید، نوموړي پولیس په رسمي ډول منحل شول او زیاتره غړي یې له افغان ملي اردو – سیمه ییزې اردو یا له افغان ملي پولیسو سره د یو ځای کېدو لپاره ونومول شول.

**نړیوال پوځي ځواکونه:**

د ۲۰۱۴ کال په دسمبر کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسؤلیت د لیږد وروسته، د ۲۰۱۵ کال د جنوري پر لومړۍ نېټه، د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) په افغانستان کې له ایساف څخه خپل ماموریت د غوڅ ملاتړ نا جګړه ییز ماموریت ته واړاوه. د ایساف په خلاف چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا اختیارات ورکړل شوي وو، د غوڅ ملاتړ د ماموریت لپاره حقوقي بنسټ د ځواکونو د تړون په اساس ورکړ شو چې په کابل کې د ۲۰۱۴ کال د دسمبر پر ۳۰ نېټه لاسلیک او د افغان پارلمان لخوا د ۲۰۱۴ کال د نومبر پر ۲۷ تصویب شو. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۱۸۹(۲۰۱۴) پرېکړه لیک د افغانستان د اسلامي جمهوریت او ناټو تر منځ د دوه اړخیز تړون چې موخه یې د غوڅ ملاتړ د ماموریت رامنځته کول وه، هرکلی کړی. د غوڅ ملاتړ ماموریت، په اصل کې یو غیر جګړه ییز ماموریت دی چې موخه یې افغانو امنیتي ځواکونو ته د روزنې، مرستو او مشورو ور کول دي.

تر ۲۰۱۹ کال پورې، د غوڅ ملاتړ ماموریت له شا و خوا ۱۶۰۰۰ ځواکونو څخه تشکیل شوی وو چې زیاتره یې له متحده ایالاتو څخه وو. متحده ایالاتو او طالبانو د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲۹ نېټه یو تړون لاسلیک کړ چې د ۱۴ میاشتو په د ننه کې د ځواکونو د مشروط وتلو او د بین الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره پلانونه لري. د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پر ۱۲ نېټه په دوحه د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو په استازیتوب د مذاکره کوونکو ټیمونو ترمنځ د خبرو اترو تر رسمي پیل وروسته، ناټو اعلان وکړ چې د هغوی متحدین به په افغانستان کې د خپلو سرتېریو شمېر د سولې پروسې د ملاتړ په موخه لیږ کړي، په داسې حال کې چې نورو هغو یې د افغان امنیتي ځواکونو او ادارو د روزنې او تمویل ژمنه وکړه. د ۲۰۲۰ کال تر نومبر پورې، د غوڅ ملاتړ د ماموریت ځواکونه د ناټو له ۳۶-۳۷ هیوادونو څخه له شاوخوا ۱۰۵۰۰ تنه سرتېرو څخه تشکیل دي چې د روزنې، مرستې او مشورې په پینځو سیمه ییزو قرارګاوو کې تنظیم شوي، چې متحده ایالات، جرمني، ایټالیا او ترکیه یې د یوې یوې مشري کوي، په مرکز کې (ترکیه)، په شمال کې (جرمني)، په ختیځ کې (متحده ایالات)، په جنوب کې (متحده ایالات) او په لویدیځ کې (ایټالیا).

د ۲۰۲۰ کال د نومبر په میاشت کې په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو ۴۵۰۰ سرتېري شتون لري چې د غوڅ ملاتړ ماموریت او د ازادۍ ساتنې د عملیاتو ملاتړ کوي. د ۲۰۲۰ کال د نومبر پر ۱۸ نېټه، متحده ایالاتو اعلان وکړه چې د ۲۰۲۱ کال د جنوري تر نیمایي پورې به د خپلو ځواکونو شمېر ۲۵۰۰ ته راکښته کړي. د متحده ایالاتو سرتېرې د افغانستان او د متحده ایالاتو د ۲۰۱۴ کال تر دوه اړخیز امنیتي تړون په اساس د ازادۍ د ساتونکیو عملیاتو په ماموریت بوخت دی چې له تروریزم سره د مبارزې پر عملیاتو تمرکز کوي. د غوڅ ملاتړ د ماموریت قوماندان همدارنګه د افغانستان لپاره د امریکایي ځواکونو د قوماندان په حیث دنده ترسره کوي خو د قوماندې د مراتبو سلسلې یې بېلې دي.

**دولت پلوه وسله والې ډلې:**
دولت پلوه وسله والې ډلې هغه نا دولتي تنظیم شوي وسله وال ځواکونه دي چې د وسله والو مخالفو ډلو سره په جګړه بوخت دی. دغه ډلې له دولتي ځواکونو سره توپیر لري او د افغانستان تر قوانینو لاندې کوم حقوقي بنسټ نه لري. په دغو ډلو کې د ملي پاځون خوځښتونه، سیمه ییزې دفاعی ډلې، د خوست ساتنې ځواک او په پکتیکا کې میشت ځواکونه شامل دي چې د افغانستان په سویل ختیځه سیمه کې یې د شاهین ځواکونو په نوم یادوي. د سرچینو په حواله، دغه ځواکونه، چې د ۹۰۴ قطعې په نوم هم یادیږي، د پکتیکا ولایت د ارګون د ولسوالۍ د شاهین اډې څخه د باندې فعالیت کوي او ښایې د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو سره اړیکه ولري. په هرصورت، د افغان ملی امنیتي ځواکونو او افغانستان حکومت غړي یا خو نه غواړي او یا نشی کولای د شاهین ځواکونو د قوماندې د جوړښت په اړه زیات معلومات ورکړي.

**دولت ضد عناصر:**
په دې ډله کې د طالبانو کسان او همدارنګه هغه نا دولتي منظمې وسله والې ډلې چې د دولت پلوه ځواکونو په وړاندې په جګړه کې مستقیمه برخه اخلي، چې په هغو کې د حقاني شبکه (چې د طالبانو تر امر لاندې فعالیت تر سره کوي او په براخه کچه د طالبانو لارښوونې او تګلارې په پام کې نیسي)، القاعده، د ازبکستان اسلامي تحریک، د اسلامي جهاد ډله، لشکر طیبه او جیش محمد او نورې هغه ډلې چې ځانونه د عراق او اشام د اسلامي دولت/داعش معرفي کوي او نورې ملیشې او وسله والې ډلې چې سیاسي، ایدیالوژیکي او اقتصادي اهداف تعقیبوي ، د هغو جینایي ډلو په ګډون چې د یوې ښکېلې ډلې په استازیتوب په جګړه کې مستقیم ګډون کوي شاملې دي.

**طالبان:**
په ۲۰۱۴ کال کې د ایساف ځواکونو په وتلو سره، که څه هم چې دولت پلوه ځواکونو د هوایي بریدونو په نتیجه کې طالبانو ته زیاتېدونکي تلفات واړول، طالبانو په تدریجي توګه په ساحه خپله ولکه زیاته کړه او په پیل کې یې د افغان ملي دفاعي او امنیتي پوستو په وړاندې د هدف نیولو د لوړې کچې بریدونه پیل کړل. طالبانو په ډېرو ولایتونو کې خپل اداري جوړښتونه تشکیل کړې. د دغې ډلې د مشر ملا عمر مړینه د ۲۰۱۵ کال په اګست کې خلکو ته معلومه شوه، چې د دغې ډلې ترمنځ یې داخلي اختلافات وزیږول. د ۲۰۱۶ په مۍ میاشت کې د ملا عمر د ځای ناستي ملا منصور تر وژنې او د ملا هیبت الله اخندزاده تر ټاکنې وروسته کړکیچونه او اختلافات په کمه کچه راڅرګند شول. د ۲۰۱۸ کال له وروستۍ نیمایې راهیسې، طالبان او د امریکا متحده ایالات د سیاسي حل په لټه په مستقیمو خبرو اترو بوخت شول، چې د ۲۰۲۰ کال د فبروري پر ۲۹ نېټه یوې هوکړې ته ورسېدل چې ځینې اطمینانونه یې هم پکې شامل وو چې طالبان به د دې اجازه نه ورکوي چې افغان خاوره د متحده ایالاتو او د هغې د متحدینو د ګواښلو لپاره و کارول شي، د متحده ایالاتو د ځواکونو مشروط وتلو لپاره پلانونه، د سولې د بین الافغاني مذاکراتو د پیل پلانونه چې په اجنډا کې به هر اړخیز او دایمي اوربند راونغاړي، شامل وو. د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پر ۱۲ نېټه، طالبانو په رسمي ډول د افغانستان اسلامي جمهوریت له استازي کوونکې ټیم سره خبرې اترې پیل کړې. لومړنۍ مباحثې د طرز العمل د قواعدو په اړه یوې موافقې ته پر رسېدو متمرکزې وې. د نومبر پر وروستیو کې د طرز العمل پر قواعدو تر موافقې او د دسمبر په لومړیو کې د اجنډاوو د طرحو تر شریکولو وروسته، خبرې اترې له خپلو مشرانو سره د سلا مشورو په موخه د درې اونیو لپاره ودریدې چې باید د ۲۰۲۱ کال په جنوري کې بېرته پیل شوې وای.

حقاني شبکې د طالبانو په نظامي عملیاتو کې زیات نفوذي رول تر لاسه کړی. د دغې ډلې مشرې اوس مهال د سراج الدین حقاني لخوا کېږي، څوک چې د طالبانو د مشر ملا هیبت الله اخندزاده د دریو مرستیالانو له جملې څخه یو دی. طالبانو ویلي چې د حقاني شبکه د طالبانو د غورځنګ تر سیورې لاندې فعالیت کوي او سراج الدین حقاني د طالبانو یو مرستیال مشر دی. د حقاني شبکې په تېرو وختونو کې بریدونه ترسره کړي، په داسې حال کې چې تر یوې اندازې پورې یې د عملیاتي خپلواکۍ کچه ساتلې. باور کېږي چې د حقاني شبکه پر دواړو دولت او نړیوالو اهدافو او د کابل پر ګڼ میشتو سیمو د بریدونو مسئوله ده. د ۲۰۱۷ کال راهیسې، یوناما هغه بریدونه چې باور کېږي د حقاني شبکې لخوا ترسره شوي طالبانو ته منسوب کړي، ځکه چې نور د ملکي تلفاتو د تایید او منسوبولو لپاره د هغوی د میتودولوژۍ په حواله په کره ډول د دوي ترمنځ تفکیک نشی کېدای. په یو شمېر قضیو کې، د حقاني شبکې سره د ضمني څرګند تړون په درلودلو سره، د حقاني شبکې لخوا د ترسره شویو بریدونه مسؤلیت د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې (داعش) منلی.

**د عراق او شام د اسلامي دولت (داعش) – د خراسان ولایت ډله:**
د عراق او شام اسلامي دولت (داعش)- خراسان ولایت ډله په رسمي ډول د ۲۰۱۵ کال په جنوري کې دطالبانو، د ازبکستان د اسلامي خوځښت او تحریک طالبان پاکستان له ډول څخه د بېلو شویو مخالفو ډلګیو او جنګیالو څخه جوړه شوه. د عراق او شام د اسلامي حکومت (داعش) د خراسان ولایت ډله چې معمولا د خپل اختصاري عربي نوم، داعش سره تړاو ورکول کېږي، نږدې ۲۵۰۰ جنګیالي لري چې د افغانستان په

ختیځو سیمو په ځانګړي ډول ننګرهار او کنړ ولایتونو کې فعالیت کوي.[332] د افغان ملي دفاعي امنیتي ځواکونو/نړیوالو پوځي ځواکونو د عملیاتو (د هوایي بریدونو په ګډون) ، د ځایي ملیشو د بسیجولو، او په جلا ډول د طالبانو د بریدونو لخوا د دغې ډلې د پراخېدو مخه ډب شوې. د افغانستان په شمال کې د جوزجان ولایت په جنوبي ولسوالیو کې د هغو وسله والو چې ځانونه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت معرفي کوي د ۲۰۱۸ کال په اګست کې د طالبانو د پر له پسې بریدونو له امله سیمې سقوط وکړ. طالبان او د داعش د خراسان ولایت ډله مختلف هویتونه لري او د سرچینو او خواړو پر سر سیالي کوي، داعش هڅه کوي چې خپل شتون پراخ کړي او چې کله هم سر راپورته کړي نو په منظم ډول د طالبانو د مقاوت سره مخ کېږي. تر ۲۰۲۰ کال پورې، نوموړې ډلې د هیواد په ختیځ کې پر زیاترو سیمو خپل کنترول له لاسه ورکړی او خپل پام یې کابل او د هیواد نورو ښارونو ته اړولی او هلته یې ستر بریدونه تر سره کړي.

**نور دولت ضد عناصر او وسله والې ډلې:**

د ۲۰۱۶ کال په سپتمبر کې، افغان دولت او حزب اسلامي چې د ګلبدین حکمتیار لخوا یې مشري کېږي، د سولې یو تړون لاسلیک کړ، چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د بندیزونو له لیست څخه ایستل، د بندیانو خوشې کول، د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له لیکو سره د جنګیالیو یو ځای کېدل،  د بېرته راستنېدونکو لپاره د ځمکې ورکړه او د حزب اسلامي لخوا د بغاوت د پای ته رسېدو هوکړه پکې شوې وه. حکمتیار د ۲۰۱۷ کال په مۍ کې کابل ته راستون شو. د حزب اسلامي په یو ځای کېدنه کې سوکه پرمختګ، په وسله واله جګړه کې د ځینو ډلو د دوامدار ګډون په اړه اندیښنې راولاړې کړي، که څه هم چې د حزب اسلامي ډېری غړي خوشبین دي چې د تړون ټولې مادې به په تدریج سره پلي شي. که څه هم چې په کوم ستر برید کې یې کوم غړي په لاس لرلو ندي تورن شوي خو د دوی پخواني فعالیتونو او وفادارۍ د دوی په وړاندې د نورو ډلو ځواب ته ښه رنګ ورکړي.

القاعده په افغانستان کې، په ځانګړي توګه په ختیځ، سویل ختیځ او سویلي سیمو کې، محدود شتون لري او په عمده ډول د موجوده حکومت ضد ډلو په ځانګړي توګه د طالبانو تر سیورې لاندې فعالیت کوي. اټکل کېږي چې په افغانسان کې، په تېره بیا په خوست، کنړ، نورستان پکتیا او زابل ولایتونو کې د القاعده کابو ۶۰۰-۴۰۰ جنګیالي شتون لري.[333] د دوي نقش ته په پرله پسې توګه اشاره شوې چې تمرکز یې د وسلو او چاودېدونکو توکو په شمول په روزنه،  او ارزونه دی، او ورته اشاره شوې چې د نورو جهادي ډلو سره د طالبانو د تحریک د اړیکو په اړه د طالبانو په داخلي خبرو اترو کې بوخت دي.

په افغانستان کې ګڼې نورې غیر دولتي وسله والې ډلې خپل فعالیت ته دوام ورکوي، د یو شمېر ملیشه یي عناصرو په شمول چې د سیاسي ګوندونو او د پخوانیو مجاهدینو د جهادي ډلو سره اړیکې لري او ښایي د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره په مخالفت کې یا د هغو په ملاتړ باندې فعالیت وکړي. دې ډول وسله والو ډلو ته په مکرر ډول د بشري حقونو د سرغړونو لپاره اشاره شوې چې په پر سله پسې توګه یې د یو بل په وړاندې، د طالبان او افغان ملي امنیتي ځواکونو په وړاندې جګړه کړې او د خپل کنټرول د سیمو د پراخولو هڅه یې کړې ده. په ځینو ولسوالیو کې، دغه ډول وسله والې ډلې خورا مهم وسله وال لوبغاړي تشکیلوي او د ځایي خلکو لخوا ورته داسې کتل کېږي چې د افغان ملي او امنیتي ځواکونو یا طالبانو په پرتله ډېر نفوذ لري.

[332] S/2020/53, ۵۳ پاراګراف.

[333] همدا ماخذ ۵۵ پارګراف.

## درېیمه ضمیمه: اصطلاحات [334]

**پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي:** پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي هغو چاودېدونکو توکو ته ویل کېږي چې د وسله والو جګړو په جریان کې نه وي کارول شوي او د یوي ښکېلې ډلې لخوا په ساحه کې پرېښودل شوي یا ښخ شوي وي او نور نو دغه توکي د دې ډلې له کنټرول څخه بهر وي. دغه پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي کېدای شي فعال فیوز ولري او د چاودلو لپاره چمتو وي.

**تښتونه:** یوناما یوائې د شخړې سره تړلي تښتونې مستندوي چیرې چې د شخړې یو طرف په زور او جبر یو ملکی شخص یا ملکیان د هغوې د ارادې پرته ونیسي او یا یې وساتي، د دې لپاره چې درېیم اړخ یا توقیف شوی شخص یا اشخاص د یوه کار په اجرا او یا د هغه پرېښودو ته اړ کړي. په دغو کې همدارنګه هغه تښتونې چې موخه یې د شخص یا اشخاصو وژل وي او هغه تښتونې چې د اشخاصو له لخوا ترسره کېږي او په نښتو کې مستقیمه بره اخلي، شاملې دي. په دې کې د شخړې د ښکېلې ډلې لخوا د ټاکنو په تړاو تښتونې شاملي دي.

**هوايي برید:** له الوتکې څخه ویشتونکي مهمات چې په هغو کې نږدې هوایي ملاتړ (د الوتکې لخوا برید) او نږدې جنګي برید چې د چورلکې په مرسته ترسره کېږي، همدارنګه په هوایي بریدونو کې هغه هوایي بریدونه هم شامل دي چې بې پیلوټه جنګي الوتکه یا ډرون یې تر سره کوي.

**افغان ملي امنیتي ځواکونه:** یوه ټولیزه اصطلاح ده، چې افغان سرحدي پولیس، افغان سیمه ییز پولیس، افغان ملي پوځ، افغان هوایي ځواک، افغان ملي پولیس، د عامه نظم افغان ملي ځواک، افغان ځانګړي ځواکونه، افغان سیمه ییز پوځ ( چې دې سیمه ییز  اردو همه ویل کېږي ) او د ملي امنیت اداره په کې شاملېږي.

**وسله وال ځواکونه:** یوناما افغان ملي پوځ او افغان هوایي ځواک ته د افغانستان د وسله والو ځواکونو په حیث ګوری. یوناما همدارنګه افغان محلي پولیسو، د ملي امنیت ریاست، د ترهګري ضد پولیسو، افغان سرحدي ځواک، د کورنیو چارو د وزارت د ملکي نظم افغان ملي ځواک، ځانګړو ځواکونو، (د افغان ملي پولیسو د چټک غبرګون ځواک په شمول) د هغو دندو پر اساس چې دوي یې پر مخ وړي د وسله والو ځواکونو برخه دي. یوناما په پام کې نه نیسي چې ملي پولیسو باید د افغانستان په وسله والو ځواکونو کې د پورته ذکر شویو ځانګړو ځواکونو پرته استثناء شي.

**افغان ملي سرحدي ځواک:** له دې وړاندې د افغان پوله ساتو پولیسو په نامه یادېدل. د افغان سرحدي پولیسو ډېری د ۲۰۱۷ کال په دسمبر کې د کورنیو چارو له وزارت څخه جلا او دفاع وزارت ته ولیږدول شوه، او بیا د افغان سرحدي پولیسو په نوم ونومول شو. دا ځواکونه د افغان ملي پوځ قول اردو ګانو ته ځواب ورکونکي دي.

**د عامه نظم ساتلو افغان ملي ځواک:** له دې وړاندې د عامه نظم د افغان ملي ځواک په نوم یادېدل. د عامه نظم د افغان ملي ځواک ډېری د ۲۰۱۸ کال په مارچ کې د کورنیو چارو له وزارت څخه جلا او دفاع وزارت ته ولیږدول شوه. دا ځواکونو د افغان ملي پوځ قول اردو ګانو ته ځواب ورکونکي دي.

**دولت ضد عناصر (AGEs):** په دې ډله کې د طالبانو او داعش او همدارنګه د نورو وسله والو ډلو غړي چې د وسله والو ډلو سره په جګړه کې ښکېل دي ټول یا د افغانستان د دولت او نړیوالو پوځي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه کې ښکېل دي. دویمه ضمیمه وګورئ: د نورو معلوماتو لپاره د شخړې مهم اړخونه.

**پرسونل ضد ماینونه:** یو ماین چې د یو کس د شتون، نږدې والي یا تماس له امله وچول شي او په نتیجه کې یې یو یا ډېر کسان ناتوانه، ټپي یا ووژل شي. د فشار په ذریعه فعالېدونکي تعبیه شوي چاودېدونکي توکي، کوم چې د قرباني شخص په ذریعه فعالېږي، په افغانستان کې د تعبیه شویو "پرسونل ضد ماینونو" په توګه ثبت شوي.

**وسله واله ډله:** نا دولتي تنظیم شوې وسله والې ډلې چې په شخړو کې ښکېلې وي او په څرګند ډول د دولت څخه بیلې وي چې د جوړښت پر اساس د ملیشو څخه نیولې تر یاغي جنايي مجریمو ډلو پوري رسېږي. دغه وسله والې ډلې د افغانستان د قوانینو لاندې حقوقي بنسټ نه لري. وسله والې ډلې د هیوادونو، د هیوادونو د ایتلافونو یا د دولتونو تر منځ د سازمانونو د رسمي پوځي چوکاټونو په دننه کې نه دي او د

[334] په دغې اصطلاح کې ځای شوي تعریفونه یوازې د دغه راپور د موخو لپاره دي.

هیواد(هیوادونو) تر کنټرول لاندې سیمې په کومو کې چې دوي فعالیت کوي،نه دي.[335] وسله واله ډلې کیداي شي د دولت د رسمي ولکې او کنټرول د سیمې نه د باندې وي خو کیداي شي چې د کوربه یا نورو هیوادونو مستقیم یا غیر مستقیم ملاتړ ولري. دغه تعریف عبارت له لاندې ډلو څخه دي خو یوازې تر دوي پورې محدودې نه دي: مخالفې یاغي ډلې، سیمه ییزې ملیشې (چې په کې توکمیزې، قومي یا په بل اساس) ، یاغیان، ترهګر، ګوریلا او نور مدني دفاعي ځواکونه او نیمه پوځې ډلې (چې په څرګند ډول د دولت په ولکه کې نه وي). ځینې وسله والې ډلې په داسې یوه طریقه باندې چې د حکومت سره په عمومي توګه همغږی دي، که څه هم چې د هغوي تر کنټرول لاندې نه او موږ ته د دولت پلوه وسله والو ډلو په حیث راجع کیږي، فعالیت کوي.

"دولت ضد عناصرو" ته چې په دې راپور کې تشریح شوی د نا دولتي وسله والو ډلو په حیث ګوري، خو د دولت په وړاندې د هغوي د وسله وال مخالفت پر اساس د هغوي توپیر کیږي.

***بچه بازي:*** بچه بازي یو ناوړه عمل دی چیرې چې هلکان د شتمنو او قدرتمندو نارینه وو لخوا د تفریح، په خاص ډول د نڅا او جنسي خواهشاتو لپاره کارول کیږي، دا کړنه د جزا په نوې قانون کې جرم شمېرل شوی کوم چې د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې نافذ شو.

**ملکیان:** د دې راپور د موخو په خاطر او د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې د توپیر د اصل د پلې کولو په هدف "ملکي وګړي" هغه افراد دي چې د پوځي/نیمه پوځي ځواکونو غړي نه وي یا په جنګ کې د یوې خوا په منظمو وسله والو ډلو کې غړیتوب و نلري او تر هغو چې په نښتو کې په مستقیم ډول برخه وا نه خلي د بریدونو څخه خوندي دي. د پولیسو د هغو غړو لپاره کوم چې دوامداره جګړه ییز فعالیتونه نلری، د ځان د ساتنې لپاره د ځواک کارول د ملکي وګړي په حیث د خوندیتوب د له منځه تلو په معنی نه ګڼل کیږي. یوناما په افغانستان کې هغو پولیسو ته د ملکي په سترګه ګوري څوک چې د قانون د انفاذ چارې پر مخ بیایي او څوک چې په مستقیم ډول په نښتو کې برخه نه اخلي او د یاغیتوب پر وړاندې په عملیاتو کې ښکېل نه وي.

**ملکي تلفات:** وژل شوي او ټپي شوي ملکي کسان. یوناما هغه ملکي تلفات کوم چې د شخړې سره د تړلي تاو تریخوالی او د جګړې څخه د پاته شونو چاودېدونکو توکو په نتیجه کې رامنځته کیږي مستندوي: یوناما هغه تلفات نه مستندوي چیرې چې ملکي (ملکیان) د مرګ ژوبلې په وخت کې په مستقیم ډول په نښتو کې برخه اخلي او نه د هغو کسانو مرګ ژوبله مستندوي څوک چې د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې خوندي دي او چا ته چې د ملکي کسانو په سترګه نه کتل کیږي، د بېلګې په توګه، د جګړې د ډګره څخه وتلي یا د وسله والو ځواکونو طبي او مذهبي کارکونکي.[336]

یوناما د هغو **ټپي شویو** ملکي کسانو په اړه چې د جسمي ټپي کېدو له امله په روغتیایي مرکزونو کې د طبي درملنې د ترلاسه کولو په موخه بستري کېدو او یا د روزل شویو طبي کارکوونکو لخوا د طبي مرستې د ترلاسه کولو په برخه کې مرستې ته اړتیا لري- ثبت کوي. د یوناما په ډېټابیسونو کې د ټپي کېدو شدت ندی ریکارډ شوی. په ټپونو کې ټکان او د پېښې غیر فزیکي اغیزې او پایلې، د بېلګې په توګه رواني ټروما یا ټکان، نه دي شامل.

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو په اړه کنوانسیون، کوم چې افغانستان په ۱۹۹۴ کې لاسلیک کړی، ماشوم د داسې یوه شخص په حیث تعریفوي چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي (۱۷ کلن ماشوم).

**ډله ییز برید:** یوناما ډله ییز برید د یوه قصدي او همغږي برید په حیث په کوم کې چې ځانمرګې وسیله (د بېلګې په توګه په ځان پورې تړلې ځای په شوي چاودېدونکي توکي یا په نقلیه وسیله کې ځای پر ځای شوې چاودېدونکي توکي) ، د یوه څخه زیات بریدګر او د یوې څخه زیاتې وسیلې (د بېلګې په توګه، په ځان پورې تړلي چاودېدونکي توکي او هاوانونه) شامل وي، تعریفوي. د یوه برید لپاره چې ډله ییز برید وشمېرل شي، باید درې واړه عنصرونه موجود وي.

**داعش:** د داعش کلمه د عراق او شام د اسلامي دولت (*al-Dawla al-Islamiya al-Iraq al-Sham*) مخفف او لنډیز دی. په افغانستان کې دغه کلمه معمولا د داعش خراسان ولایت ډلې ته کارول کیږي چې افغانستان هم په کې شامل دی.

---

[335] له وسله والو ډلو سره د ملګرو ملتونو د بشرپالنې مذاکرات: د اړوندو کارپوهانو لاسي کتاب، جیرارډ مک هو او منویل بیسلر، د بشري مرستو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو اداره، نیویارک، جنوري ۲۰۰۶.

[336] اي سي آر سي، د نړیوال بشردوستانه قانون لاندې په جګړو کې د مستقیم ګډون د مفهوم په اړه تفسیري لارښود، د ۲۰۰۹ کال جینوا.

**له جګړې څخه پاته شونې چاودېدونکي توکي:** له جګړې څخه چاودیدونکي پاتې شوني توکي ناچاودو توکو، پرېښودل شویو چاودېدونکو توکو ته راجع کېږي.

**چاودېدونکې وسلې:** چاودېدونکې وسلې د نړیوال قانون له مخې په وضاحت سره نه دي تعریف شوي. چاودېدونکې وسلې په عمومي صورت د یوې جعبې/ لولۍ څخه جوړې دي چې د لوړې کچې د چاودېدونکو موادو څخه ډکه وي چې ویجاړونکي اغېزې یې په عمومي توګه د چاودنې د موج له لارې او هغو ټوټو څخه را ولاړېږي چې د انفجار وروسته تولیدېږي. هاوانونه، د توپ ګولۍ،د الوتکو بمونه، راکټونه اود میزایلو جنګي سرګولولې، او ډېری ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي د دغې اصطلاح لاندې راځي. ځینې مشخصې چاودېدونکې وسلې کیدلای شي چې د **سپکو وسلو** په کټګورۍ کې (د بېلګې په توګه، د لاسي بمونو ګوزارونکې لانچرې چې د توپک د میل لاندې نصب کیږی او د اوږی د پاسه ګوزارونکی لانچری، د ټانک ضد میزایلونو وارونکي لاسي لانچرې او د راکټونو سیستمونه، د الوتکو ضد د میزایلو لاسي سیستمونه؛ او د ۱۰۰ ملی مترو څخه کم لوله ییز هاوانونه) راځي. ډېری چاودېدونکې وسلې، لکه د الوتکو بمونه، د راکټونو سیستمونه، د توپ ګولۍ او ستر هاوانونه د **درندو وسلو** په کټګوریو کې راځي.[337]

**ځمکنۍ نښتې:** په ځمکنیو جګړو کې دغې جګړې شاملې دي: د جګړې د ښکېلو خواوو تر منځ ځمکنۍ متحرک عملیات، د لیرې واټن څخه برید، د ډزو تبادله او وسله والې نښتې. په ځمکنیو نښتو کې د بریدونو او عملیاتو په وخت کې د سپکو او درندو وسلو، او یا د ساحوي وسلو سیستمونه لکه د هاوانونو راکټونو کارول هم شامل دي.

**په لاس جوړ ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي:** یو بم چې د دودیزې پوځي طریقې په خلاف په نورو طریقو جوړېږي او کارول کېږي. کېدای شي چاودېدوني توکي په څلورو کټګوریو تقسیم شي: د کنټرول له لارې فعالېدونکي چاودېدونکي توکي، د قرباني شخص په وسیله فعالېدونکي چاودېدونکي توکي، د ځانمرګي بم په شکل کې استعمال شوي چاودېدونکو توکو او ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي.

*د دستور له لارې فعالېدونکی ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي*- هغه رادیويي یا د لیرې واټن څخه کنټرول شوي چاودېدونکي توکي (ریموټ کنټرول بمونه، RC-IEDs) دي چې د لیرې واټن څخه کار کوي چې استفاده کوونکی کولای شي د وړاندې څخه ځای پر ځای شوي دغه توکي ته په یوه مناسب وخت کې چاودنه ورکړي او یو متحرک هدف په نږدې کېدو سره تر برید لاندې راولي.[338] په دغه ډله کې لاندني چاودېدونکي توکي شامل دي: د استفاده کوونکي په ذریعه فعالېدونکي چاودېدونکي توکي، لکه د سړک د غاړې بمونه او پر اشیاوو یا حیواناتو باندې ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي لکه موټر، بایسکل، موټر سایکلونه او مرکب. مقناطیسي- تعبیه شوي چاودېدنکي توکي د یوې مقناطیسي او یا نورو وسیلو په واسطه نښلول کېږي او دا د تماس له لارې فعالېدونکي چاودېدونکي توکي دی، په افغانستان کې د عادي رسولو د میتود له امله یوناما دا وسیلې په جلا ډول ثبت کوي، د بېلګې په توګه، د هدف وړ اشخاصو په نقلیه وسیلو کې ځای په ځای کول.

*د قرباني شخص په ذریعه فعالېدونکي تعبیه شوي چاودېدونکي توکي*- دغه چاودېدونکي توکي په هغه وخت کې فعاله کېږي چې کله یوه شخص او یا موټر د ده د پټاقې سویچ ته فشار ورکړي، دغه سویچ ممکن فشاري وي یا د فشار د خوشې کېدو سیستم وي او یا هم د کش کولو سیم یا د کوم بل سیستم په توګه وي چې په هر صورت کې د چاودنې سبب ګرځي.[339]

*نور چاودېدونکي توکي*- په دې کټګورۍ کې عام تاري بمونه او ساعتی بمونه (د ۲۰۰۹ څخه راهیسې، یوناما د دې چاودېدونکو توکو له امله ډېر کم شمېر پېښې ثبتې کړې دي)،[340] او هغه چاودېدونکي توکي په کې شامل دي چې د پټاقې یا سویچ ډول یې نه معلومېږی.

*په لاس جوړ ځای په ځای شوي ځان مرګي چاودېدونکي توکي (ځانمرګي/انتحاری بریدونه)* - د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو په هکله د معلوماتو برسېره، یوناما د ځانمرګو او ډله ییزو عملیاتو له امله د ملکی خلکو د مرګ ژوبلې پېښې ثبتې کړې دي. ځانمرګي ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي په عمومي توګه یا په ځان پورې تړلي ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي یا په نقلیه وسیله کې ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي وي. د دغو پېښو په ارقامو کې ځانمرګی برید هغو حالتونو ته راجع کېږي چیري چې ځانمرګی بریدګر د تعبیه شویو چاودېدونکو

[337] بوري ج او بریهم م "په کڼ میشتو سیمو کې د چاودېدونکو وسلو د کارولو څخه د ملکیانو د ساتنې تقویه کول: د سره صلیب نړیوال کمېټه په بیا کتنه کې د پالیسۍ او څېړنې د اجنډا جوړول، ۹۳ جلد، ۸۸۳ ګڼه.

[338] د سپکو وسلو سروې، د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو، ۱۰ څېړکی ساعتي بمونه، ۲۲۰- ۲۲۱ مخ. پر لاندې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: http://www.smallarmssurvey.org/publications/by-type/yearbook/small-arms-survey-2013.html

[339] همدا ماخذ.

[340] له ۲۰۰۹ کال راهیسې، یوناما د دغو نمونو په پایله کې کمې پېښې مستندې کړې.

توکو بار واسکټ یا کمربند اغوندي، په چاودېدونکو توکو د ډک موټر ځانمرګی بریدګر داسي تعریف شوی چې یو موټر چلوونکی یا د موټر په دننه کې مسافر په چاودېدونکو توکو بار موټر چوي.

**دځاي په ځای شویو چاودیدنکو توکو تحلیل او تشخیص:** د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو تحلیل د هغو معلوماتو او موادو د تشخیص، راټولولو، پروسس او معلوماتو خپرولو پروسه ده چې د ځاي پر ځاي شویو چاویدنکو توکو د پېښې له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي، د ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو ضد پروسیجرونه او میتودونه غښتلي او د دې لپاره چې د یاغیانو منابع کمزوري کړای شي او د دوي د عدلي تعقیب ملاتړ وشي. په دي کې د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو ساتنه، د مختلفو برخو تشخیصونه، تخنیکي، عدلي طب او بایومتریک ازمویني او تحلیل راځي چې د با صلاحیته متخصصو اسانتیاوو او مرکزونو د لورې تر سره کېږي. د چاودیدونکو توکو تحلیل او تشخیص چاودیدونکو توکو پر ضد د اغېزمنو او دوامداره اقداماتو یوه اساسي برخه ده.

**پېښې:** هغه دي چې په وسله والو جګړو کې ملکی وګړو ته تلفات اړوي، ملکیان تښتول کېږي، یا ملکي شتمنۍ زیانمني کېږي، او همدارنګه د وسله والې شخړې سره تړلي ګواښونه/تهدیدونه/ځورونې او د شخړې د ښکېلو ډلو لخوا د طبي او روغتیا پالنې د مرکزونو کارول.

**غیر مستقیمې وسلې:** د وسلو سیستمونه، د بېلګې په توګه توپخانه او د هاوانونو ګولۍ، هغه چې د وسلو او د هغه د هدف تر منځ د لېدو کرښې ته اړتیا نلری. د وسلو غیر مستقیمه کارونه د وسلو او د هغه د هدف تر منځ د لید د کرښې پرته د وسلې کارولو ته وای.

**نړیوال پوځي ځواکونه:** په "نړیوالو پوځي ځواکونو" کې ټول هغه بهرني عسکر شاملېږي کوم چې د ناټو د غوڅ ملاتړ د ماموریت یوه برخه جوړوي او همدارنګه په افغانستان کې د امریکې د متحده ایالاتو ځواکونه، کوم چې د غوڅ ملاتړ په ماموریت کې د ګډون سربېره د ازادۍ او بریدونو په وړاندې چمتو د عملیاتو د یوې برخې په حیث د ترهګري ضد عملیاتو کې ښکېل دي. دغه اصطلاح همدا راز پر ځانګړو عملیاتي ځواکونو او نورو بهرنیو استخباراتي او امنیتي ځواکونو باندې هم د پلي کېدو وړ ده.

**ملا/امام:** په افغانستان کې، د امام اصطلاح د داسې یوه مذهبي شخص لپاره کارول کېږي چې په اسلامي دودونو او فقه کې یې زده کړې ترلاسه کړې وي یا روزل شوی وي.

**ناټو:** شمالي اتالنتیک تړون سازمان. د ناټو غړي د غوڅ ملاتړ د ماموریت د سرتېرو ورکونکو اصلي هیوادونه دي (غوڅ ملاتړ ماموریت او دویمه ضمیمه وګورۍ) د جزیاتو لپاره د شخړې اصلي اړخونه.

**NDS:** د ملي امنیت ریاست یا د افغانستان دولتي استخباراتي اداره.

**غیر انتحاري تعبیه شوي چاودیونکي توکي:** د ځانمرګو تعبیه شویو چاودېدونکو توکو پرته، د بېلګې په توګه، هغه چې د فشاري آلې، مقناطیسي او د ریموټ کنترول په واسطه د ماشه لرونکو چاودیدونکو توکو په واسطه رامنځته کېږي،هر ډول چاودیدونکې چاودېدونکي توکي دي.

**OHCHR:** د بشري حقوقو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر.

**د ازادۍ عملیاتو ساتونکی ماموریت- Operation Freedom’s Sentinel:** په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالتونو ځواکونه څوک چې د غوڅ ملاتړ ماموریت ملاتړ کوي او همدارنګه په افغانستان کې د افغانستان- او د متحده ایالتونو د ۲۰۱۴ کال د دوه اړخیزه امنیتي تړون پر اساس د ترهګري پر ضد عملیات پر مخ وړي. دویمه ضمیمه وګورئ: د جزیاتو لپاره د شخړې اصلي خواووي.

**دولت پلوه وسله والې ډلې:** د دولت پلوه وسله والو ډلو" اصطلاح یوه نا دولتي تنظیم شوی فعال ته چې په شخړه کې ښکېل وي او د دولتي ځواکونو،یاغیانو او جناېي ډلو څخه توپیر ولري، راجع کېږي. دولت پلوه وسله والې ډلې افغان سیمه ییز پولس کوم چې د کورنیو چارو د وزارت تر کنترول او قوماندې لاندې راځې نه احتوا کوي. دغه وسله والې ډلې د افغانستان د قانون لاندې کوم حقوقي بنسټ نه لري. وسله والې ډلې دا پوتانسیل لري چې د ځواک په کارولو سره وسلې وکاروي تر څو سیاسي، ایدیالوژیکي او اقتصادي موخې تر لاسه کړي، دا ډلې د هیوادونو، دولتی ایتلافونه او بین الحکومتي ادارو د رسمي پوځي جوړښتونو په دننه کې ځای نلري او د هیواد(هیوادونو) تر کنترول لاندې نه دي په کومو کې چې دوي فعالیت کوي. په ځینو مواردو کې، وسله والې ډلې د کوربه هیواد یا نورو هیوادونو څخه مستقیمې او غیر مستقیمې مرستې تر

لاسه کوي. په دې تعریف کې دا شامل دی، خو تر لاندې ډلو پورې محدود نه دي: د ملي پاڅون خوځښتونه،[341] محلي ملیشی (نژادي، قومي یا په بل عبارت) او ملکی دفاعي ځواکونه او نیمه پوځي ډلې(داسي ډلې په ښکاره د دولت تر کنټرول لاندې ندی) .

**دولت پلوه ځواکونه:** افغان دولتي ځواکونه او ټول هغه ځواکونه او ډلې دي چې په پوځي او نیمه پوځي عملیاتو یا د بغاوت ضد عملیاتو کې برخه اخلي او په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د افغانستان د دولت تر قوماندې او ادارې لاندې دي. د یوناما د ملکیانو د ساتنې د راپورونو د موخو لپاره، دولتي ځواکونه دولت پلوه وسله والې ډلې احتوا کوي. دویمه ضمیمه وګورئ: د جزیاتو لپاره د شخړې اصلي خواووي.

**د غوځ ملاتړ:** د ۲۰۱۵ کال د جنوری په ۱ نېټه، د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) په افغانستان کې خپل ماموریت د ایساف څخه د غوځ ملاتړ غیر جګړه ییز ماموریت ته واړاوه چې موخه یې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د روزنې، مرستې او مشورې برابرول دي. دویمه ضمیمه وګورئ: د جزیاتو لپاره د شخړې اصلي خواووي.

**د تلاشي/چاڼېز عملیات:** د تلاشي عملیات یو پوځي تاکتیک دی چې په افغانستان کې د دولت پلوه ځواکونو لخوا د هغو کسانو د نیولو یا وژلو لپاره کارول کېږي چې دوي فکر کوي د دولت ضد عناصرو اهداف دي، چې په ترڅ کې یې معمولا د شپې لخوا د تلاشي په موخه کورونو یا نورو ملکي جوړښتونه ته دننه کېږي چې معمولا د شپې لخوا ترسره کېږي او اکثرا د شپنیزو بریدونو به نامه یادېږي.

**سپکې وسلې:** هغه وسلې دي چې د انفرادي کارولو لپاره طرح شوي. په دې کې لاندې موارد راځي: د نورو شیانو تر څنګ، تومانچې، اتومات تومانچې، ټوپکونه او کارابین، فرعي ماشین ګنې، د حملې ټوپکونه او سپکې ماشین ګنې شاملي دي.[342]

**ځانمرګی برید (د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو ځانمرګی برید):** یوناما د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د ځانمرګي برید یا ځانمرګي بریدونو هغو ټولو ته کاروي څو هغه ټول بریدونه احتوا کړي په کومو کې مرتکیب د یوه تعبیه شویو چاودېدونکي توکي څخه کار اخیستی ،په تېره بیا په ځان پورې تړلې یا په موټر کې ځای پر ځای شوي ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي چې د چولو پر مهال د هغه یا هغې پر مړینه تمامه شي. پدې کې همدارنګه 'پیچلي بریدونه' هم شامل دي (پورته تعریف وګورئ).

**هدفي وژنې:** د دې راپور د موخو لپاره، هغه وژنې دي چې د یوه ځانګړي شخص په وړاندې څوک چې د مرتکب شخص په فزیکي بند کې نه دی،[343] د دولت پلوه ځواکونو یا دولت ضد عناصرو لخوا د قهریه قوې د قصدي کارولو په حیث تعریف شوې. په دې ډول پېښو معمولا له وړاندې قصد موجود وي. یوناما د ملکی کسانو د تلفاتو داسي قضې ثبت کړېدي کوم چې په نیغه د دا ډول بریدونو څخه رامنځته شوي او یا هم ورسره تړلي دي.

**تشکیل:** په دري کې د جوړښت په مانا ده چې د کارکوونکو د ګمارنې رسمي فهرست او د تجهیزاتو اختصاص ته چې د افغانستان د دولت لخوا د دولت د یوه ځانګړې نهاد، د امنیتي ځواکونو او ملکی حکومت دواړو لپاره تصویب شوې وي، راجع کېږي

**UNAMA:** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی.

---

[341] د یوناما د ملکي تلفاتو د ۲۰۱۴ کال کلنی راپور وګورئ. په لاندې پته د لاسرسي وړ ده:
https:// unama.unmissions.org/protection-of-civiliansreports.

[342] پخپل وخت او په باوري توګه د ناقانونه سپکو وسلو د تشخیص او څرک معلوملو لپاره د دولتونو د ځواکمنولو لپاره نړیواله مقرره ، چې د ۲۰۰۵ کال د دسمبر په ۸ نېټه د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا تصویب شوې،A/CONF.192/15 : په لاندني سایټ کې د لاسرسی وړ دی: http://www.un.org/events/smallarams2006/pdf/international_instrument.pdf

[343] که څه هم چې په زیاترو حالتونو کې چې هدفي وژنې د ژوند د حق څخه سرغړونه کوي،د وسله والې شخړې په استثنایي حالتونو کې، کیدای شي حقوقي بڼه ولري خو په دې شرط چې د بشر پالنې د نړیوال قانون د اړوندو مقرراتو او بشری حقونو درناوي شوي وي. د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې، د بشري حقونو د شورا ۱۴مه ناسته، د اجنډاء دریمه ماده،د غیر قانونی یا په خپل سر او نا قانونه اعدامونو په هکله د ځانګړي راپور ورکوونکی، فیلیپ آستون راپور ته مراجعه وکړئ. د هدفي وژنو په هکله تعدیل شوي څېړنه A/HRC/14/24/Add.6. 10 May 2010. په یوناما کې د دیټا بیس د ثبتولو په موخه، د هدفي وژنو په کټګوري کې د وژنو ځینې داسې قضیې هم شاملې دي چې قرباني شوی کس د لنډې مودې لپاره د وژنکو په حراست کې پاتې شوي خو دغه حراست د تښتونې له امله نه وو په دا معنی چې تشخیص شوي کس چې باید وژل شوي واي لومړي د مسلحو کسانو له خوا درول شوي، هویت یې معلوم شوي او وروسته برید کوونکي دغه کس وژلی چې دا ډول وژنی اکثراً د ناقانونه تلاشي پوستو کې ترسره شوي.

**UXO:** ناچاوده توکي.

**جنګي جرمونه:** جنګي جرمونه د بشر پالنې د نړیوال قانون د میثاق او عرفي قانون څخه جدی سرغړونې دي.

په غیر وسله واله نړیواله شخړه کې جنګي جرمونه د درېیمې عمومي مادې او نورو قوانینو او دودونو چې په وسله واله شخړه کې چې نړیوال خصوصیت و نلري د پلې کېدو وړ دي. په جنګي جرمونو کې لاندې موارد شامل دي - د هغو کسانو په حواله چې په نښتو، د ژوند او شخص په وړاندې خشونت کې برخه نه اخلي، د قتل، د ملکي وګړو په وړاندې د عمدي بریدونو په شمول، یا هغه کسان چې په نښتو کې برخه نه اخلي.[344]

**زکات:** فرضي /اجباري تادیات چې په کال کې د یو چا د شتمنۍ د تناسب په توګه ترسره کېږي او د خیرات لپاره کارول کېږي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره *لومړۍ ضمیمه: حقوقي چوکاټ* وګورئ.

[344] نړیوالې جنایي محکمې اساسنامه، ۸ (۲) (سي) (اي) ماده؛ د آی سي آر سي نړیوال عرفي قانون ۱۵۶ ماده.

## څلورمه ضمیمه: د ملکي تلفاتو ولایتي تجزیه

په راتلونکې پاڼه کې جدول د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ نېټې پورې د لوړ شمېر ملکي تلفاتو درلودونکو ولایتونو پر بنسټ تنظیم شوی. دغه جدول د راپور ورکولو په موده کې د افغانستان د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه په هر یوه ولایت کې د مستند شویو ټولو ملکي تلفاتو شمېر، په هر ولایت کې د ملکي تلفاتو دری مخکښ لاملونه او د ۲۰۱۹ کال د ورته مودې په پرتله د ملکي تلفاتو په سلنه کې زیاتوالی او کموالی رانغاړي.

| ولایت | مخکښ تاکتیک یا لامل | دویم مخکښ تاکتیک | دریم مخکښ تاکتیک | ټولټال ملکي تلفات | د ۲۰۱۹ کال په پرتله د سلنې بدلون |
|---|---|---|---|---|---|
| کابل | هدفي وژنې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ځانمرګي بریدونه | ۸۱۷ (۲۵۵ مړه او ۵۶۲ ټپیان) | - ۴۸ سلنه |
| بلخ | ځمکنۍ نښتې | هوايي بریدونه | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ۷۱۲ (۲۶۳ مړه او ۴۴۹ ټپیان) | + ۱۵۷ سلنه |
| فاریاب | ځمکنۍ نښتې | هدفي وژنې | هوايي بریدونه | ۵۷۶ (۱۴۶ مړه او ۴۳۰ ټپیان) | - ۱۳ سلنه |
| ننګرهار | ځانمرګي بریدونه | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ځمکنۍ نښتې | ۵۷۶ (۱۹۰ مړه او ۸۳۶ ټپیان) | - ۴۶ سلنه |
| کندهار | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ځمکنۍ نښتې | هدفي وژنې | ۵۴۰ (۱۸۹ مړه او ۳۵۱ ټپیان) | + ۱۶ سلنه |
| کندز | ځمکنۍ نښتې | هوايي بریدونه | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ۴۴۴ (۱۹۴ مړه او ۲۵۰ ټپیان) | - ۱۱ سلنه |
| غزني | ځمکنۍ نښتې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | هدفي وژنې | ۴۱۸ (۱۸۳ مړه او ۲۳۵ ټپیان) | - ۳۸ سلنه |
| هلمند | ځمکنۍ نښتې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | هوايي بریدونه | ۴۱۰ (۲۱۴ مړه او ۱۹۶ ټپیان) | - ۳۹ سلنه |
| هرات | ځمکنۍ نښتې | هدفي وژنې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ۳۳۹ (۱۲۴ مړه او ۲۱۵ ټپیان) | - ۱۵ سلنه |
| زابل | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ځمکنۍ نښتې | هوايي بریدونه | ۳۰۳ (۱۲۰ مړه او ۱۸۳ ټپیان) | - ۳۹ سلنه |
| خوست | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | هدفي وژنې | دله ییز بریدونه | ۲۸۱ (۵۶ مړه او ۲۲۵ ټپیان) | + ۴۳ سلنه |
| غور | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ځمکنۍ نښتې | ګواښونه/تهدیدونه/خوروني | ۲۷۰ (۵۹ مړه او ۲۱۱ ټپیان) | + ۲۵۱ سلنه |
| لغمان | ځمکنۍ نښتې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | هدفي وژنې | ۲۶۷ (۶۲ مړه او ۲۰۵ ټپیان) | - ۵ سلنه |
| بغلان | ځمکنۍ نښتې | هوايي بریدونه | غیر انتحاري تعبیه شوي چاودېدونکي توکي | ۲۵۳ (۸۱ مړه او ۱۷۲ټپیان) | - ۲۸ سلنه |
| تخار | ځمکنۍ نښتې | هوايي بریدونه | هدفي وژنې | ۲۴۰ (۸۸ مړه او ۱۵۲ټپیان) | + ۲۵ سلنه |
| بادغیس | ځمکنۍ نښتې | هدفي/عمدي وژنې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ۲۲۱ (۱۰۸ مړه او ۱۱۳ټپیان) | + ۳۷ سلنه |
| پکتیا | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | هدفي وژنې | ځمکنۍ نښتې | ۲۰۶ (۶۲ مړه او ۱۴۴ ټپیان) | - ۶ سلنه |
| بدخشان | ځمکنۍ نښتې | هدفي وژنې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ۱۸۶ (۵۹ مړه او ۱۲۷ ټپیان) | + ۷۵ سلنه |
| اروزګان | ځمکنۍ نښتې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | هوايي بریدونه | ۱۸۲ (۶۱ مړه او ۱۲۱ ټپیان) | + ۲۶ سلنه |
| لوګر | ځانمرګي بریدونه | ځمکنۍ نښتې | هدفي وژنې | ۱۷۱ (۴۷ مړه او ۱۲۴ ټپیان) | - ۲۲ سلنه |
| کونړ | ځمکنۍ نښتې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ناچاوده توکي/ځمکني ماینونه | ۱۷۰ (۲۸ مړه او ۱۴۲ ټپیان) | - ۳۴ سلنه |
| سرپل | ځمکنۍ نښتې | هدفي وژنې | غیر ځای په ځای تعبیه شوي چاودېدونکي توکي | ۱۶۱ (۵۶ مړه او ۱۰۵ټپیان) | - ۲۶ سلنه |
| کاپیسا | ځمکنۍ نښتې | هدفي وژنې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ۱۴۸ (۴۲ مړه او ۱۰۶ ټپیان) | + ۱۹ |
| وردګ | ځمکنۍ نښتې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | هدفي وژنې | ۱۴۵ (۵۵ مړه او ۹۰ ټپیان) | - ۲۱ سلنه |
| سمنګان | دله ییز بریدونه | ناچاوده توکي/ځمکني ماینونه | هدفي وژنې | ۱۳۳ (۱۲ مړه او ۱۲۱ ټپیان) | + ۱۹۶ |
| جوزجان | ځمکنۍ نښتې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ناچاوده توکي/ځمکني ماینونه | ۱۲۰ (۴۷ مړه او ۷۳ ټپیان) | - ۲ سلنه |
| پکتیکا | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ځمکنۍ نښتې | هدفي وژنې | ۱۱۹ (۳۹ مړه او ۸۰ ټپیان) | - ۲۹ سلنه |
| فراه | ځمکنۍ نښتې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | هدفي وژنې | ۱۱۴ (۵۹ مړه او ۵۵ ټپیان) | - ۲۲ سلنه |
| بامیان | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ناچاوده توکي/ځمکني ماینونه | هدفي/ عمدي وژنې | ۹۶ (۲۲ مړه او ۷۴ ټپیان) | + ۱۸۲۰ سلنه |
| پروان | هدفي وژنې | ځمکنۍ نښتې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ۷۶ (۴۷ مړه او ۲۹ ټپیان) | - ۶۹ سلنه |
| دایکندی | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | ځمکنۍ نښتې | هوايي بریدونه | ۷۲ (۴۲ مړه او ۳۰ ټپیان) | + ۳ سلنه |
| نیمروز | ځمکنۍ نښتې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | د زیاتې قوې کارونه/د خطر اخطارونو پام کې نه نیول | ۵۱ (۲۴ مړه او ۲۷ ټپیان) | - ۱۸ سلنه |
| نورستان | ځمکنۍ نښتې | غیر انتحاري ځای په ځای شوي چاودېدونکي توکي | N/A | ۳ (۱ مړ او ۲ ټپیان) | - ۸۶ سلنه |
| پنجشیر | N/A | N/A | N/A | ۰ (۰ مړه او ۰ ټپي) | ٪۰ |

## پنځمه ضمیمه: د افغان دولت غبرګون

جمهوری اسلامی افغانستان
دفتر شورای امنیت ملی

Islamic Republic of Afghanistan
The Office of National Security Council

سترحقوقي مشاوريت

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د ملی امنیت د شورا دفتر

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر (یُوناما) محترمې ادارې ته!**

**دنیکو هیلو په وړاندې کولو سره،**

د ملي امنیت شورا دفتر د ملکي مرګ ژوبلې په هکله ستاسو راپور په ډېر غور او دقت سره مطالعه کړ. د افغانستان دولت د ټولو اړوندو نړیوالو ادارو څخه چې د ملکي خلکو د ژوند ژغورلو په اړه کار او فکر لري د هغوی د فعالیتونو قدرداني کوي او هیله مو دا وې چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې د ارقامو په راټولولو کې د پوره پاملرنې او دقت څخه کار واخلئ.

د افغانستان حکومت د ټولو هغه ځمکني او هوايي بریدونو چې د ملکي خلکو ژوند په خطر کې اچوي، تل ده ده کړې ده. په داسي حال کې چې وسلوال مخالفین د افغان دفاعي او امنيتي ځواکونو سره په وسلوالو نښتو کې تل ملکي خلک د ځان سپر ګرځولي دي چې د دوی دغه کړنه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ستر عامل شوي دي.

د یُوناما د راپور له مخې طالبان 45 ٪ سنله د ملکي مرګ ژوبلې مسؤلیت په غاړه لري پداسي حال کې چې د افغانستان دولت په منظم ډول د ملکي مرګ ژوبلې شمیر او ارقام ثبتوي، زموږ د محاسبې له مخې د طالبانو مسؤلیت تر هغه څه لوړ دي چې تاسو یې یادونه کړې ځکه د طالبانو ترځنګ اکثریتو ترهګرو ډولو ته دوی زمینه مساعده کړې چې تخریبي فعالیتونو ته دوام ورکړي. د بله طرفه په دوحه کې د سولې د خبرو د پیلېدو سره یو ځای، وسلوالو طالبانو په افغانستان کې د خبریالانو، مدني ټولنو او د بشر د حقونو پر غړو باندي حملې شروع کړې ترڅو د سولې او پخلاینې اوچت شوي غږ غلي او خاموشه کړي.

د ملي امنیت شورا دفتر په ۲۰۲۰ میلادي کال کې د نړیوالي ټولنې د غوښتنو او ضرورت په خاطر د ملکي مرګ ژوبلې د مخنیوي او حد اقل ته را ټیټولو په منظور یو لړ مهم فعالیتونه تر سره کړي دي چې په لاندې ډول ستاسو خدمت ته وړاندې کېږي:

**په ۲۰۲۰ میلادي کال کې د ملکي خلکو د ژوند ژغورلو په اړه د ملي امنیت شورا دفتر فعالیتونه په لاندې ډول دی:**

1. د افغانستان د ملي امنیت شورا دفتر د ملکي تلفاتو د مخنیوي پالیسي، د ملي دفاع وزارت د ملکي تلفاتو او د هوايي ضرباتو پالیسۍ هغه عمده لاسته راوړنې دي چې عملا یې د ملکي تلفاتو په ټیټوالي کې مرسته کړې ده.
2. د ۲۰۲۰ میلادی کال په جریان کې د ملي امنیت شورا دفتر د ملکي شهیدانو او زخمیانو سره د نقدي مرستو او کومکي کڅوړو طرزالعمل تصویب او د جلالتمآب ولسمشر د لوړې منظور شو چې له مخې به یې د شهید وارث ته سل زره افغانۍ او ټپې ته پنځوس زره افغانۍ ورکول کېږي؛
3. د افغانستان د اسلامي جمهوری دولت د کابینې د ۱۳۹۹/۰۸/۱۴ د پریکړې له مخې په ټولو ولایتونو کې د ملکي تلفاتو د دقیق راپور ورکولو لپاره د والي تر مشرۍ لاندې کوچنۍ کړۍ ایجاد کړې دي؛
4. د ملي امنیت شورا دفتر د جلالتمآب ولسمشر د هدایت سره سم د ملکي مرګ ژوبلو د قضیو د تعقیب طرحه جوړه کړه او عملا کار ترې اخیستل کېږي. د دغه طرحې له مخې به د ملکي تلفاتو ټولو اړوند اندېښنو ته چې د نړیوالي ټولنې لپاره پیدا کېږي پر وخت ځواب ورکول کېږي؛
5. د افغانستان په ملي دفاع وزارت کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي په خاطر نوی ټیم ایجاد کړل شو.
6. د ملکي تلفاتو د ژغورنې بورډ، کاري کمیټې رامنځ ته کړې چې عملا د موجوده پالیسو څخه نظارت کوي ترڅو د ملکي تلفاتو ګراف حد اقل ته را ټیټ کړي؛

7. د کورنیو چارو په وزارت کې د کابل په سطحه د ملکي تلفاتو د مخنیو لپاره نوي یونیټونه جوړ شول؛
8. د ملي دفاع وزارت له لورې د شپنیو او خاصو عملیاتو لپاره ځانګړي طرزالعمل او میکانیزم جوړ شو؛
9. په ۲۰۲۰ میلادی کال کې د افغانستان د ملي امنیت شورا دفتر د غیر نظامیانو د مرکز (CIVIC) سره د یوې موافقتنامې په ترڅ کې دغه ادارې ته اجازه ور کړه چې د افغانستان په ټولو قول اردوګانو او د مارشال محمد قسیم فهیم په ملي نظامي اکاډمۍ کې و ټولو افسرانو، بریدملانو او اړوندو قومندانانو ته د ملکي مرګ ژوبلې د مخنیوي په هکله روزنه ور کړي؛
10. په تیرو درو میاشتو کې د افغانستان ا.ج. د چارو د ادارې له لورې د (۱۱۴) ملکي شهیدانو د وارثینو او د (۲۸۴) تنه ملکي ټپیانو سره **(دوویشت میلیونه شپږلکه او لس زره)** مرسته کړې ده.

## شپږمه ضمیمه: د طالبانو غبرګون

یادونه: دغه غبرګون کټ مټ هماغسي په دې راپور کې نغښتل شوي لکه څرنګه چې تر لاسه شوی و، په دې کې تر سره شوې ارجاع ګانې د هغه راپور د مسودې پر بنسټ دي کوم چې د جګړې له ښکیلو خواوو سره شریکه شوې وه، چې تر هغې وروسته د پاڼو شمیرې بدلې شوي او ځینې ارقام تازه شوي.

**د یوناما د ۲۰۲۰میلادي کال د ملکي تلفاتو د کلني راپور په اړه د افغانستان اسلامي امارت د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتو کمیسیون غبرګون**

ښې چارې!

مننه کوو، چې د یوناما له لوري د ملکي تلفاتو کلنی راپور له موږ سره شریک کړل شو، د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتو کمیسیون لخوا نوموړی راپور په دقیقه توګه وکتل شو، چې په ښکاره ډول ورڅخه معلومه شوه، چې یاد راپور له حقائقو څخه عاري او بې تحقیقه جوړ شوی دی.

د یادولو وړ دی چې یاد راپور په اصل کې  په سلیقوي توګه عمداً د یو پلان په اساس د اکثره مرګ ژوبلې پړه په اسلامي امارت اچول شوې ده. چې هیڅ حقیقت نه لري، راپورونه پکې په کامله طریقه مبهم ذکر شوي دي او دقیق معلومات پکې نشته.

د لاندې دلائلو او ځوابونو پر اساس د یوناما له لوري ترتیب شوی راپور په کلکه ردوو.

۱ـــــ یوناما د خپل د راپور په لومړی مخ کې د تائید او د ثبوت معیار د عنوان  لاندې لیکلي دي چې: [د ملکي وګړو د خوندیتوب په اړه د خپلو راپورونو لپاره، یوناما یوازې تائید شوي ملکي تلفات شاملوي، ملکي تلفات د "تائید شوي" په حیث هغه مهال ثبت کیږي، چې د یوناما له خوا د کتل شویو معلوماتو د بشپړتیا پر بنسټ دا په ډاګه شوې وي، چې څرګند او قانع کوونکي شواهد شتون ولري، چې ملکي وګړي وژل شوي یا ژوبل شـــوي، د دغه معیار د پوره کولو لپاره یوناما لږ تر لږه درې مختلف او خپلواکه سرچینو ته اړتیا لري لکه قربانې، شـــاهدان، روغتیايي کارکوونکي، ځايي چارواکي، په جګړه کې د ښکېلو غاړو له خوا تایید، قومي مشر او یا نورې سرچېنې، چیرې چې شونې وي، معلومات د قربانیانو یا د پېښــو د عیني شـاهدانو او د پېښې ـ د ځای د حقیقت موندنې د هڅو له لومړنیو سرچینو څخه تر لاســه کیږي، د حقیقت موندنې دغه ډول چارې د امنیتي محدودیتونو له امله چې لاس رسی اغېزمن کوي، تل شـونې نه وي، په داسې شرایطو کې یوناما پر یو لړ تخنیکونو اتکا کوي چې د باوري شـبکو له لارې چې تر شـوني بریده پراخې سرچینې او معلومات کاروي معلومات راغونډ کړي، چې ټول یې د اعتبار او باور په موخه ارزول کیږي، په دغو تخنیکونو کې د پېښــو په صـحنو کې د راغونډ شـویو ډیجټالي شـواهدو لکه د ویډیوګانو، انځورونو او غږیزو ریکارډونو ارزونه، له روغتونونو او روغتیايي مرکزونو څخه لیدنې، د ملګرو ملتونو د امنیت او خوندیتوب د څانګې راپورونه، د دویم لاس سرچینو معلومات، د نا دولتي ادارو او د دریېم لوري له خوا راغونډ شوي معلومات او پخپله د جګړې ښکیلې خواوې شامل دي.]

ځواب: د راپور د مستند کېدلو لپاره دا مذکور مراجع د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتو کمېسیون هم په کلکه مراعات کوي، بلکې موږ له دې څخه په زیات کره والی باندې د ملکي تلفاتو  راپور ثبت وو، بله دا چې  زموږ تحقیقات د پیښې‍ـــ په وخت کې په عاجله توګه وي، مګر یوناما  د خپل راپور مستندوالی د یادو مراجعو په اساس د پیښو څخه وروسته کوي.

د راپور د کره والي او مستندوالی په لحاظ زموږ راپور په نسبت سره د یوناما راپور ته ډېر مستند وي، ځکه  چې د یوناما لخوا که دغه مذکورې د تائید طریقه کیږي نو په هغه ساحو کې کیږي چې د حکومت تر واک لاندې وي نو هلته حتماً د هغه کسانو څخه معلومات اخلي چې د امارت خلاف خلک وي نو دوی په عمدي توګه د اسلامي امارت په ضد راپور ورکوي، نو په دې صورت کې راپور د تائید وړ نشي ګرزېدلی.

همداراز کوم اشخاص چې د کابل اداري د بمبار یا نورو عملیاتو له کبله زخمی شي او بیا د تداوي لپاره ښاري یا هغه ساحو ته انتقالیږي، چې د کابل اداري تر واک لاندې سیمه وي، نو که د دغو متضررینو څخه د تلفاتو او یا د پیښو پوښتنه وشي نو حتماً د ډار له کبله او یا د دې له کبله چې کوم امنیتي مشکل ورته جوړ نشي متضرر کس ټوله پړه په اسلامي امارت وراچوي، نو په دې صورت کې راپور د تائید وړ نشي ګرځېدلی.

د راپور د مســـتندوالي په خاطر یوناما د روغتیايي مراکزو څخه معلومات اخلي، چې د روغتیايي مراجعو څخه معلومات هم نشي‍ـــ کره کېدلی، ځکه اکثره روغتیايي مراکز په ښارونو او د کابل اداري تر واک لاندې سیمو کې وي، د دې لپاره چې د کابل اداري لخوا کوم مشکل ورته جوړ نشي نو حتمي ده، چې د امارت په ضد معلومات ورکوي.

همداراز د یوناما لخوا د تخنیکي وسائلو په مټ معلومات هم د کروالی معیار نه دی، ځکه یوناما کارکونکی د امنیتي ستونځو له کبله د ښارونو څخه نشي وتلی، نو حتمي به د ساحو څخه  د هغه خلکو څخه ویډیویي او غږیز معلومات اخلی چې  د کابل ادارې پورې تړلي خلک وي.

همداراز د رسنیو څخه راپور اخیستل دا هم د کره والي معیار نشي-کدای، ځکه رسنۍ په ښارونو کې مراکز لري او حتمي به د کابل ادارې په طرفداري باندې راپور ورکوي.

بله دا چې د کومو قومي مشرانو او ملکانو لخوا معلومات کیږي نو دا مشران او ملکان د کابل ادارې لخوا مؤظف شوي وي او د کابل ادارې په طرفداري باندې د بعضې ملاحظاتو له کبله معلومات ورکوي.

د یادولو وړ ده چې کوم راپور د یوناما لخوا ترتیب کیږي باید د یوناما او زمونږ د کمیسیون تر منځ مخکې د نشر- څخه مجلس وشي. او یو بل ته په تلفاتو باندې قناعت ورکړو. او بیا نشر شي. صرف په راپور غوښتلو یا راپور ورکولو باندې راپور موضوع واقیعت بینه نشي کېدلی.

همداراز د یوناما په نسبت د اسلامي امارت د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتو کمېسیون لخوا د پیښې تحقیق په مستند ډول کیږي هغه دا چې اکثره هغه پیښې چې د اسلامي امارت په مفتوحه ساحو کې کیږي نو د اسلامي امارت مربوط کارکونکي یې په اسانه طریقه د متضررینو سره د ملاقاتونو، د ویډیویي او غږیز بڼه د مصاحبو او راپورونو راټولولو او د کلي د ملک، قومي مشرانو او عامو خلکو او د ساحې د نورو ټولو کره او مستند مراجعو څخه مکمل معلومات کولی شو، مګر یوناما دغو مراجعو ته په اساني سره لاس رسی نشي کولی، بلکې په نورو اتکاء کوي.

همداراز  د ملکیانو د تلفاتو د مخنیوي لپاره د اسلامي امارت په رسمي چوکاټ کې یو خپلواک او صلاحیت لرونکی کمېسیون جوړ شوی دی، چې د ملکي مرګ ژوبلې په دقیقه توګه څېړنه کوو.

همداراز موږ الحمد لله مسلمانان یو او د اسلامي عقیدې په لحاظ موږ د ملکیاتو د تلفاتو په رابطه ډېر احتیاط او مستند والي ته ډېر جدیت لرو.

۲. یوناما د خپل راپور په (۴) مخ کې د جګړې له ښکیلو خوا وو سره د ملکي تلفاتو په شمیرو کې توپیرونه د عنوان لاندې لیکلي:

یوناما د دې یادونه کوي چې د دغې ادارې د ملکي تلفاتو شمیر ښایي له هغو سره توپیر ولري کومې چې د جګړې د ښکیلو خواوو له لوري راغونډې شوي، یوناما موندلې چې د جګړې ښکیلې خواوې د یوناما د موندنو په پرتله په ثابت ډول د هغو ملکي تلفاتو په اړه چې د دوی د عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي کم راپور ورکوي، د جګړې ښکیلې خواوې د معلوماتو د راغونډولو په خپلو میتودولوژۍ ګانو او په خورا مهم ډول د ملکي شخص د تعریف په حقوقي شننه کې له یوناما سره توپیر لري.

یوناما د ملکي شخص هغه تعریف تطبیقوي کوم چې د بشرپالنې نړیوال قانون منعکسوي، ملکي اشخاص د هغو په څیر تعریف شوي، څوک چې د جګړې د ښکیلو خواوو د وسله والو ځواکونو غړي نه وي، د داخلي وسله والې جګړې په صورت کې، په دې کې د دولتي وسله والو ځواکونو غړي او دغه راز د جګړې د غیر دولتي خواوو د تنظیم شویو وسله والو ډلو غړي شامل دي، د منظم وسله والو ډلو غړي، په منحصر ډول د نادولتي ډلو وسله والې یا نظامي څانګې پر غړو اطلاق کیږي، چیرې چې افراد نا دولتي ډلو ته بل ډول فعالیتونه یا د ملاتړ نور شکلونه وړاندې کوي، نوهغوی د منظم وسله والو ډلو غړي نه ګڼل کیږي، د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې په جګړو کې د مستقیم ګډون د نظریې په اړه د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د تفسیري لارښوونو پر بنسټ، چې په تعقیب یې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو یو شمیر میکانیزمونه او څارندوی ماموریتونه هم رامنځ ته شوي، "په منظم وسله

والو ډلو کې د انفرادي غړیتوب لپاره پریکنده معیار دا دی، چې یو شخص د یوې ډلې لپاره په جګړو کې د هغه/هغې د مستقیم ګډون لپاره یوه دوامداره دنده اشغالوي، هغه کسان چې له وسله والې مخالفې ډلې سره مرسته کوي په سیاسي، مالي یا بل ډول؛ خو په منظم وسله واله ډله کې کوم دوامداره جګړه ییز فعالیت نه لري، د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې د وسله والې ډلې غړي نه ګڼل کیږي، د ملکیانو په څیر، هغوی له بریدونو خوندي دي، تر هغې چې هغوي په جګړو کې په مستقیم ډول ګډون نه وي کړی.

یوناما موندلې چې د جګړې ښکیلې خواوې د هغه څه په پرتله چې د بشرپالنې په نړیوال قانون کې منعکس شوي په دواړو پالیسي. او عمل کې د "ملکي شخص" خورا کوچنی تعریف کاروي، چې له امله یې د وګړو پراخه برخه د هدف ګرځونې سره مخ شوي، یوناما په دوامداره ډول د هغه تعریف په اړه چې د طالبانو له خوا کارول شوي اندېښنه څرګنده کړې او همدارنګه له دولت پلوه ځواکونو سره د خپلو تعاملاتو پرمهال په زیاته کچه ورته اندېښنې په ډاګه کړې، د بشرپالنې د نړیوال قانون له معیارونو سره په تعریفونو کې دغه توپیرونه په عام ډول د ملکي وګړو لپاره خوندي شوی چاپیریال په منفي ډول اغیزمن کوي، او دغه راز د یوناما له خوا د مستند شویو په پرتله د جګړې د ښکیلو خواوو له لوري د راپور شویو ملکي تلفاتو د کم شمیر د راپور لامل ګرځي.

ځواب: اسلامي امارت په مفتوحه ساحو کې د صحت او تعلیم او تربیې افرادو ته اجازه ورکړي او موږه چې د کومو کسانو څخه خلاف یو هغوی د ملکیانو په څېر نه ګرځي بلکې دوی مسلح وي او یا مسلح کسان ورسره وي او ستاسو د تعریف په اساس که مذکور کسان چې تاسې ورته ملکیان وایې مسلح وي نو بیا د ملکیانو په جملې کې نه راځي.

۳ــ یوناما د خپل راپور په (۸) او (۲) مخونو کې د کم عمره افرادو د استخدام په رابطه داسې لیکلي دي چې یوناما همدارنګه د جګړې د ښکیلو لورو په تیره بیا د طالبانو له خوا د ماشومانو د ګمارنې او کارونې مستندول جاري ساتلي.

ځواب: د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عالي مقام د فرمان په اساس د نظامي کمېسیون، د دعوت او ارشاد کمېسیون له لارې د کم عمره کسانو په رابطه کوټلي اقدامات ترسره کړي، چې د خپلو صفونو په تصفیه کې یې جدي پاملرنه کړي او خپل صفونه یې له ماشومانو څخه ساتلي دي، نو دا خبره صحیح نه ده چې اسلامي امارت په خپلو لیکو کې کم عمره کسان استخداموي او یا یې د استخدام مخنیوي نه کوي، بلکې په جدي توګه یې دې موضوع ته پاملرنه کړې ده.

اما د دې بالعکس د کابل اداره کې داسې اقدامات نه دي شوي، که وایې هغه هم تش په نامه دي، ځکه په ډېرو پوستو کې دوی د ماشومانو د استخدام سره سره ماشومان د بچه بازی او نورو ناوړو کارونو لپاره استخدام کړي دي، چې دا له هیچاڅخه پټه نه ده.

۴ــ یوناما د خپل راپور په اتم (۸) مخ کې لیکي [پوهنې ته د ماشومانو د لاس رسي حق په ۲۰۲۰م کال کې د وسله والې جګړې له امله کمزوری شوی، په تیره بیا پر ښوونځیو او ښوونکو د بریدونو له امله، دغه کار په عمده ډول د سوځولو او ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو له لارې د ښوونځیو د ورانولو او د ښوونکو د هدفي وژنو په ګډون د دولت ضد عناصرو له خوا د مستقیمو بریدونو له امله رامنځ ته شوی. الخ]

ځواب: د یوناما د راپور دا پورتنۍ ادعاء بې اساسه بولو، چې هیڅ ثبوت نه لري، اسلامي امارت د تعلیم او تربیې د پراختیا لپاره د تعلیم او تربیې په نوم کمېسیون تاسیس کړی دی او مکاتبو ته یې رسماً اجازه ورکړې، بالعکس د کابل ادارې لخوا په عملیاتو کې مکاتب تعلیمي ادارې او مدارس او همداراز صحي مراکز په نښه شوي چې په تیر کال کې ۴۵ بریدونه خاص په مدارسو باندې ترسره شوي دي او موږ سره یې مستند راپورونه موجود دي او همدا کړنې یې له نورو هیوادوالو او نړیوالو څخه هم نه دي پنا.

لاندې یې د ځینو پیښو یادونه کوو:

۱: ۲۰۲۰/۹/۸م

بلخ ولایت خاص بلخ بوکې سیمه کې مازدیګرمهال سه شنبه ۴ بجې د غرب غلامانو د تیر په څېر یو ځل بیا یوه دیني مدرسه د ډرون طیارې هدف وګرځوله، چې په ترځ کې د مدرسې یو اطاق مکمل له منځه تللی او دنورو اطاقونو او د مسجد شیشې ـ یې ماتې کړي او یو وړوکی حافظ محمدامین ولد ظاهر خان یې ټپي کړی.

۲: ۲۰۲۰/۸/۲۲م

د لغمان د قرغي ولسوالۍ اړوند د سرخکانو په ساحه کې د سعد ابن وقاص ــ رض ــ په دیني مدرسې د ملي امنیت عسکرو چاپه اچولې په خورا وحشت او ظلم سره یې ـ ۲۵ ـ کسان طالب العلمان نیولي له ځان سره یې وړي دي، چې اکثر پکې کم عمره ماشومان دي، د پیښې پرمهال ځینې متعلمین تختیدلي دي، د مدرسې مهتمم، ګل رسول صاحب ته یې جدي اختار ورکړي دی چې استاذان او شاګردان به ټول نیسو زندان ته به یې لیږو د ویري او وحشت فضا یې خلکو کې خپره کړې ده.

نورو دیني مدارسو ته یې هم لوې تشویش اچولی دی چې څه به کیږي حالات ترینګلي دي، هر سړی د خوف احساس کوي.

۳: ۲۰۲۰/۸/۲۵م

د بغلان ولایت بغلان مرکزي ولسوالۍ اړوند د بیکزادو سیمه کې د شپې یوه بجه د غرب غلامانو لخوا بمبار وشو چې له امله یې د زید بن ثابت رضی الله تعالی عنه مدرسه په مکمله توګه تخریب شوه او پرمهال یې د مدرسې پنځه ۵ تنه شاګردان په شهادت ورسیدل.

د شهیدانو نومونه په لاندې ډول دي: ۱ـ شهید مصطفی ولد نیک محمد ۲ـ شهید نجیب الله ولدعبدالله ۳ـ شهید عبیدالله ۴ـ شهید سهراب ولد پتنک ۵. شهید ابراهیم ولد شیرولي او څلورکسان زخمیان دي ۱. حافیظ الله ۲. نصرت الله۳. جان محمد ۴. او یوتن بل.

۴: ۲۰۲۰/۷/۱۲م

د لوګر ولایت مرکز اړوند د کلنکار په ساحه کې د تیرې چهار شنبې په ورځ په (۱۱) بجو د اجیرې اردو قطار د کابل او لوګر په سړک تیرې ده چې د دوی ټانک د سړک په غاړه د کلنکار جهادي لیسې خواته (۴) بیګناه ماشومان چې د مدرسی شاګردان ول په شهادت ورسول چې څلورواړه د یوې کورنۍ غړي ول.

۱. ۱۵ کلن قاري وهاب ولد ګلاب ۲. ۸ کلن قاري فواد ولد ګلاب ۳. ۱۲ کلن قاري رحیم الله ولد عبدالقیوم ۴. ۱۲ کلن قاری مشتباح ولد احمد شاه

۵: ۲۰۲۰/۷/۲۶م

د خوست ولایت موسی خیلو ولسوالۍ اړوند په همدې ورځ مازدیګر شپږ ۶ بجې د زوړکوټ سراج العلوم مدرسه د کابل مزدورې ادارې لخوا هغه مهال د هاوان په مرمۍ ولګیده چې مزدور دښـــمن د ملکیانو په کورونو د هاوان بې هدفه ډزې وکړې، چې له امله یې د مدرسې تعمیر او شیشې تخریب شوې.

۵ـــ یوناما د خپل راپور په نهم (۹) مخ کې لیکي [ هدفي وژنو، د ملکي وګړو په اصطلاح "ترور" په ګډون، په ۲۰۲۰م کال کې ۱۲۴۸ ملکي تلفات (۷۰۷ مړه او ۵۴۱ ټپیان) اړولي، چې د ۲۰۱۹م کال په پرتله د دغو بریدونو له امله د ملکي تلفاتو په شـمیر کې ۴۵ سـلنه زیاتوالی په ډاګه کوي، په دې کې د رسـنیو د کارمندانو، د مدني ټولنې د فعالینو، د قضائیه قوې د غړو د حکومت د ملکي اداري، ............ملکي تلفاتو ۹۴ سلنه هغه یې دولت ضد عناصرو ته منسوب کړې، د دې له جملې څخه ۷۶۱ ملکي تلفات (۴۵۹ مړه او ۳۰۲ ټپیان) د هدفي وژنو له امله وو چې طالبانو ته منسوب شوي او د ۲۰۱۹ کال په پرتله ۲۲ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي.

ځواب: موږ د یوناما په راپور کې د هدفي وژنو او ترور یاد تلفات ردوو، ځکه اکثره هدفي وژنې په هغه ســاحو کې کیږي چې د کابل اداري په ولکه کې دي، نو په حقیقت کې هدفي وژنې د کابل اداري او د کابل اداري د اسـتخباراتو لخوا کیږي او یا دوی پکې پوره لاس لري، لکه د وحید مژده، د دکتور ایاز، د مولوي عزیزالله مفلح، د انجینر عاطف او د فرشـته کوهسـتاني وغیره مړینې، مګر بالعکس یې پړه په اسـلامي امارت اچول د راپور نیګړتیا بولو او وایو چې په راپور کې د بې پرې توب اصل په نظرکې ندی نیول شوی.

د مرموزو قتلونو د تحقیق په رابطه د اسلامي امارت د مشرتابه عالي مقام لخوا فرمامین صادر شـوي دي، چې د اسـلامي امارت ټول مجاهدین ورباندې په کلکه عمل کوي.

۶: یوناما د خپل راپور د جګړې ښــکیلو خواوو ته د ملکي تلفاتو منســوبونه د عنوان لاندې لیکي: [ د ۲۰۲۰م کال د جنوري له ۱ نېټې څخه د ډیسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۶۲ سلنه دولت ضد عناصرو ته منسوب کړې چې د هغو له جملې څخه، ۴۵ سلنه یې طالبانو، اته ۸ سلنه یې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې او نهه ۹ سلنه یې نامعلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي.

دولت پلوه ځواکونو په ۲۰۲۰م کال کې ۲۵ ســلنه ملکي تلفات اړولي، یوناما ۲۲ ســلنه ملکي تلفات افغان ملي امنیتي ځواکونو او یوه ســلنه یې نړیوالو نظامي ځواکونو، دولت پلوه وسله والو ډلو او نامعلومو ګڼو دولت پلوه ځواکونو ته په ترتیب سره منسوب کړي.

نهه ۹ ســلنه ملکي تلفات د دولت ضـد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د ځمکنیو نښـتو له امله رامنځ ته شـوي کوم چې نه شي کیدای کوم مشخص لوري ته منسوب کړای شي، د پولې په اوږدو نښتې چې پاکستاني نظامي ځواکونو ته منسوب شوي له دوه سلنې کم ملکي تلفات اړولي، پاتې دوه سـلنه ملکي تلفات هیڅ لوري ته نه شـوای منسـوب کیدای او زیاتره هغه یې له جګړې څخه د پاتې شـونو چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي ملکي تلفات دي.]

ځواب: متأسفانه ستاسو راپور له هغو پیښو او سیمو څخه بشپړ معلومات نلري، چې د کابل اداري ځواکونه هره ورځ د ملکي خلکو پرکورونو، بازارونو، مساجدو، تعلیمي مراکزو او په نورو عام میشته سیمو کې، چاپې وهي، بمباروونه او د ثقیله اسلحو بریدونه ترسره کوي او

د ملکي وګړو په وړاندې نور ډول ډول مظالم تر سره کوي، چې راپورونه یې هره ورځ په رســـنیو کې خپریږي، په داسې حال کې دا معقوله نه ښکاري، چې بیادې هم زموږ مجاهدین د ۴۵ سلنه ملکي تلفاتو مسـئول وګڼل شي او دولت پلوه ځواکونوته دې ایله ۲۵ سلنه منصـوب کړل شي، نو دا معلومه شـوه، چې له کومو مراجعو څخه دوی خپل راپورونه راغونډ کړي دي او دوی یې د مسـتندوالي دعوی کوي چې مخکې دوی ورڅخه یادونه کړې ده هغه مراجع مستند او بې طرفه منابع او مراجع نه دي، نو یاد راپور په مستندو راپورونو کې نه شمارل کیږي.

۷: یوناما د خپل راپور دولسـم (۱۲) مخ کې لیکي: [یوناما ۱۲۰ ملکي تلفات (۸۹ مړه او ۳۱ ټپیان) نړیوال نظامي ځواکونو ته منسـوب کړي، چې ۸۴ سـلنه کمښـت راغلې او د ملکي تلفاتو ترټولو کمه شـمیره ده له هغه مهاله چې یوناما ۲۰۰۹ کال کې د سیسـتماتیک ثبتولو کار پیل شـوی. د

۲۰۲۰ کال په لومړیو دوو میاشـتو کې، د نړیوال نظامي ځواکونو هوایي بریدونه په ۲۰۱۹ کال کې د ورته ملکي تلفاتو لامل شـو. بیا وروسـته، د متحده ایالاتو - طالبانو د تړون له لاسلیک کیدو وروسته، د نړیوال نظامي ځواکونو ملکي تلفات ټول ودریدل.]

ځواب: نړیوالو ځواکونو د ۲۰۲۰م کال د اسـلامي امارت سره تر تړون وړاندې، په مذاکراتو کې د لاسـته راوړنې په هدف، ګڼ شـمیر ملکیانوته تلفات اړولی، چې مسـتند راپورونه یې زموږ سره ثبت دي او د نورو بادرکه نړیوالو، بالخصـوص د افغان ملت څخه هم نه دي هیرشـوي او له تړون څخه وروسته هم یادو ځواکونو بسنه نه ده کړې، بلکې په ګڼو ولایتونو کې یې پرملکي خلکو هوایي بریدونه کړي دي، چې د دوی د تړون د څارنې له کمیسیون سره باربار شریک شوي دي او هغوی تائید کړې، نو موږ پورته ادعا د حقیقت او عینې پیښو څخه صریح تخلف بولو او دا وینو چې په راپورکې له داخلو جهتونو سره د مور او میرې چلند شوی.

۸: یوناما د خپل راپور په (۴۲) مخ کې لیکلي دي: [ ملکي وګړیو ته له سـپکاوي او بې رحمۍ ډکو او غیر انســاني سزاګانو ورکول د ۲۰۲۰م کال د جنوري له ۱ نېټې څخه د ډیسیمبر میاشـتې تر ۳۱ نېټې پورې، یوناما د طالبانو د موازي عدلي جوړښت لخوا له سپکاوي او بې رحمۍ نه د ډکو او غیر انساني سزاګانو چې په هغو کې د غیر اخلاقي کړنو او زنا تورونه هم شامل وو پېنځه پېښې مستند کړې.

په دغو سزاګانو کې څلور تنه ملکیان وژل شوي او دوه نور ټپیان شوي دي، په دغو پېښو کې د دریو نارینه وو او یوې ښځې اعدام او د دوو ښځو او یوه نارینه د وهلو پېښې شاملې وې، د بېلګې په توګه، د جنوري میاشـتې په ۱۹ نېټه، یوه مېرمن د خپلې مور د سـترګو په وړاندې په لرګیو او وسـپنیزو کیبلونو تر وهلو لاندې ووژل شـوه او د یوه نارینه ګوتې او پښې د سزا په توګه د طالبانو لخوا د دې له کبله ور مات کړای شـول چې ګواکې له خپلې مېرمنې پرته یې له بل چا سره نامشروع جنسي اړیکې درلودې، د جون میاشـتې په ۲۶ نېټه په فاریاب ولایت کې، دوه تنه نارینه په عام محضر کې د سلګونو خلکو د سترګو په وړاندې چې ماشومان هم پکې وو، اعدام کړای شول، دا کار د طالبانو د موازي عدلي سیستم لخوا د عدالت د تطبیق په موخه د یوه جرم د 111سزا په توګه تر سره شـــول، هغه سزاګانې چې د دولت د مخالفینو لخوا خلګو ته ورکول کېږي، د افغانسـتان د قوانینو په اسـاس یو جنایت دی او همدارنګه له بشـري حقوقو تیري او تر پښـو لاندې کول ګڼل کېږي، په دې سربېره، سـختې سزاګانې لکه اعدامول، له نړۍ والو بشر دوستانو حقوقو څخه سرغړونه ده او ښایي جنګي جنایت وګڼل شي، په عام محضر کې اعدامونه یو غیر انساني عمل دی او د هغو خلګو چې د اعدام سزا ور اورول کېږي او د هغو کسانو چې د دې عمل لیدنه کوي په خاص ډول د ماشومانو د روحي ناروغیو د زیاتېدو سبب ګرزي، یوناما د دولت له مخالفو ځواکونو په کلکه غواړي چې ژر تر ژره د خلګو په وړاندې له بې رحمانه او غیر انساني او سپکووونکو کړنو او سزاګانو څخه لاس واخلي.]

ځواب: دا مبهم او غیر ثبوت شـــوي راپورونه هیڅ کله د منلو وړ نه دي، موږ یوناما ته په هرو دریو میاشـــتو کې ( د یوناما له لوري طالبانوته منسـوب شـوي د ملکي تلفاتو غوره پیښې) چې په جدولي ډول زموږ سره شریک کیږي، په ځواب کې د دا ډول پیښـو معلومات په تفصـیل سره ورکړي دي، چې اکثره هغه پیښې وي، چې یا د خپل منځې سـتونزو له امله، یا د نامعلومو اشـخاصـو، غلو او د کابل اداري د مفسـدو غړو لخوا ترسره شوي وي، مګر په دې راپور کې په هغو ځوابونو اکتفا نه ده شوي، بلکې هم هغه پیښې بیرته پر مجاهدینو اچول شوي دي.

بله دا چې افغانستان کې اسلامي او افغاني محیط دی، دا محیط د اوړپا او امریکا سره پرتله کول د دې معنی ورکوي چې یوناما د اسلامي او افغاني اصولو څخه هیڅ معلومات نه لري، زموږ په قضایي سیسـتم باندې چې په راپور کې کومه نیوکه شـوې، دا د اسلام مقدس دین ته سپکاوی او پر اسلامي ارزښتونو نیوکه ده، زموږ قضائي سیستم اسلامي قضائي سیستم دی چې د عدل او انصاف څخه ډک دی او زموږ قضایي سیستم په الهي قانون بنا دی او الهي قانون د ټولو انسانانو لپاره کافي او شافي او د عدل او انصاف څخه ډک او مملو قانون وي او دی، هیڅ وضعي قوانین او وضعي قضائي سیستمونه یې په عدل او انصاف کې مقابله نشي کولی.

د افسـوس مقام دا دی چې یوناما په عمدي توګه د هغه اسـلامي نظام پر خلاف یادونه کوي چې د کوم نظام لپاره مسـلمانانو له پیړیو راهیسې قرباني ورکړي او ورکوي یې، نو هیله مو داده چې په خپلو راپورونو کې داسې څه ذکر نه کړئ، چې هغه په اسلامي ارزښتونو او قوانینو نیوکه وي، ځکه یو به مسلمانان عکس العمل ته مجبورشي او بل به د یوناما هیثیت او بې طرفي ته جدي صدمه ورسیږي.

۹: یوناما د خپل راپور په دولسـم (۱۲) مخ کې لیکلي دي [ ماشـومانو ته د سـخت زیان یو مثال د ۲۰۲۰ فبروري کې په شـمال ختیځ سـیمه کې پیښ شو، کله چې د طالبانو لخوا ګمارل شوو درې ماشومانو هڅه وکړه چې د کوژدې په یوه ګوند د هدف په وړاندې د ځان وژونکي برید هڅه وکړي، په لاره کې، یو ماشومانو په ناڅاپي ډول خپل چاودیدونکي مواد وچاوه ول ، هغه یې وواژه او دوه نور ماشومان یې ټپیان کړل.]

ځواب: په هغو پیښـو کې چې د یوناما لخوا مورته په هرو دریو میاشـتو کې د جدول په شـکل را لیږل کیږي، پورته یاده شـوي پیښـه هم ځواب شوي ده؛ خو متأسفانه چې دلته یې یوځل بیا یادونه شوي، په دې راپور کې یې هم په مبهمو پیښو باندې اتکاء کړې، یعنی په پورتنی پیښه کې دا معلومه نه ده چې دا د شمال ختیځې په کومه ساحه کې او په کومه نیټه ترسره شوې ده.

اسلامي امارت هيڅ کله هم د استشهادي عمليات لپاره ماشومانوته اجازه نه ورکوي او بيا په واده باندې! دا د هيڅ عقل او منطق سره برابره خبره نه ده موږه یې يوځل بيا په کلکه ردوو.

۱۰ــ يوناما د خپل راپور په څلورويشتم (۲۴) مخ کې ليکلي دي: [يوناما د روغتيايي پاملرنې پرلپسې حملو سره اندیښنه لري چې د طالبانو لخوا مستقيم تاسيسات او محافظتي پرسونل په نښه کوي، په شمول د جبري کلينيک تړل، هدفي وژنې، اختطافونه، او د تعبيه شوي چاوديدونکي توکي.]

ځواب: اسلامي امارت د صحت په رابطه خدماتو ته په خپلو مفتوحه سيمو کې اجازه ورکړې او د اصولو په چوکاټ یې کې په دوامداره توګه یې خپله مرسته ورسره جاري ساتلې، معلومه ده چې د صحت په رابطه هيڅ مشکل د امارت  په پالسيو کې وجود نه لري، بالعکس د کابل ادارې لخوا د هيواد په مختلفو سيمو کې به کلينکونو بمبار او د ثقيله اسلحو ډزې شوې دي، چې له کبله یې روغتيايي مراکزو او کلينکونو ته زيانونه رسېدلي دي، طبي پرسونل پکې شهيدان او زخميان شوي دي، زموږ د دقيقي محاسبې له مخې په تيرکال کې (۱۵) کلينيکونه او مکاتب د دښمن لخوا عمدا تربريدونو لاندې راغلي، دا ټولو ته معلومه ده چې اسلامي امارت د صحي مراکزو حفاظت کوي او کړی يې دی.

۱۱ــ يوناما د خپل راپور په شپږ ويشتم (۲۶) مخ کې ليکلي: [ سږکال د ۲۰۱۹م په پرتله د پيښو په شمير کې ۱۶ سلنه کمښت ښودل شوی، يوناما د ښوونې او روزنې په تاسيساتو او پرسونل د مستقيم بريدونو دوام ته اندیښنه لري چې د دولت ضد عناصرو لخوا ترسره شوي، چې دا په ۲۰۲۰م کې د ۳۶  پيښو مجموعه وه. د کال په جريان کې، طالبانو په ښوونه او روزنه ۱۶ مستقيم بريدونه ترسره کړي، پشمول د اور وژنې ، ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي، ګواښونه، اختطافونه، او د پرسونل هدفي وژنې دی. د مثال په توګه، د جولای په ۱۵ په تخار ولايت کې، طالبانو په يوه ښوونځي کې اور واچاو، په بشپړه توګه يې د کتابتون او لابراتوار په ګډون ودانۍ ويجاړه کړه. داعالي ليسه مخکې د ۱۰۰۰ هلکانو او انجونو ته تعليمات برابرول.]

ځواب: د يوناما د راپور دا برخه هم بې اساسه دی، اسلامي امارت د ښوونې او روزنې ملاتړ کوي او په همدې هدف يې يو مستقل د تعليم او تربې کميسيون تأسيس کړی دی، هيڅ کله چاته په تعليمي تاسيساتو او پرسونل باندې د بريد کولو اجازه نه ورکوي بلکې په کلکه توګه يې مخنيوی کوي.

بله دا چې د تخار ذکر شوې پيښه په ښار کې شوې او اسلامي امارت په هغه وخت کې رد کړې ده، مګر د کابل اداره قصدي داسې اعمال او ګړنې ترسره کوي ترڅو يې پړه پرمجاهدينو ور واچوي، متأسفانه د يوناما اداره بغير د دې چې کره او مستند معلومات ترلاسه کړي، اسلامي امارات ته د دا ډول پيښو په مسئوليت منسوبولو کې د کابل ادارې سره همکاره شي.

۱۲: يوناما د خپل راپور په يوڅلويښتم (۴۱) مخ کې ليکي : [د جګړې اړوند، د ملکي وګړيو برمته کول او تښتونې، د دولت مخالف ځواکونه په خاصه توګه طالبان، په ۲۰۲۰م کال کې د ملکي وګړو برمته کولو او تښتونو ته دوام ورکړی چې شميره يې د تير کال له تښتونو سره برابره وه. د دغو تښتونو په مټ طالبانو ملکي خلک له خپلې آزادۍ څخه بې برخې، او د برمته کولو په مهال ټپيان او ووژلي دي.]

ځواب: اسلامي امارت هيڅ کله برمته او اختطاف ته اجازه نه ورکوي، بلکې، د يوناما په ګډون ټولوته معلومه ده، چې په تيرکال کې ګڼ شمير اختطاف چيان د اسلامي امارت د مجاهدينو لخوا ونيول شول او برمته شوي اشخاص د هغوی له منګولو څخه خوشي کړل شول، د داسې واقعاتو د ښه ثبوت لپاره ګڼ شمير ويډيوګانې په رسنيو کې نشر شوي دي، چې هرڅوک کولی شي لاس رسی ورته وکړي.

همداراز ټولو خلکوته ښکاره ده، چې په دې ډول پيښو کې اکثره د کابل ادارې چارواکو لاس وي او حتی په ځينو پيښو کې له خپل نظامي لباس او رنجرموټرو څخه هم استفاده کوي اوکله چې د دې ادارې د کوم اورګان له لوري اختطاف چيان ونيول شي، په ډير کم وخت کې بيرته خوشي کړل شي، چې په ځلونو په دې اړه د ولس اعتراضونه رسنيوته راوتلي دي.

که د سلامي امارت له لوري د دښمن د اشخاصو نيول کيدل او يا د هغو کسان نيول چې د دښمن د غړيتوب شک پرې کيږي په اختطافي پيښو کې حسابوئ، نو بيا خو پکارده، چې د کابل ادارې له لوري د چاپو پرمهال او د عامو لارو په اړدوکې  د ملکي وګړو نيول هم په دې راپور کې درج کړي، چې هره ورځ د هيواد په ګوټ ګوټ کې په سلهاو کسان نيول کيږي او وروسته د څو روپيو په بدل کې خوشی کيږي.

۱۳: يو ناما د خپل راپور په (۴۳) مخ کې ليکلي: [ د ۲۰۲۰ زيږديز کال په اوږدو کې، يوناما په پر له پسې توګه داسې شواهد تر لاسه کړل چې د دولت مخالف ځواکونه په خاصه توګه طالبان د ملکي خګو ژوند په خطر کې اچوي. دا کار په خاص ډول په جبرې ډول د نظامي موخو لپاره د ملکي کورنو او نورو ملکي تاسيساتو د کارولو او له ملکي خلګو د مرستې غوښتل او د هغوی د تحريک او هڅولو په مټ هغوی د دولت پلوه ځواکونو تر بريد لاندې راولي.

یوناما د ملکي خلګو په منځ کې د طالبانو د پټېدلو ډېري داسې پېښې– تائید کړې چې په هغو کې له ملکي کورونو څخه د نظامي موخو او له هغه ځایه د نظامي پلانونو او بریدونو ترسره کول، او همدارنګه د دولت پلوه ځواکونو په وړاندې د جګړو په مهال په ملکي کورونو کې د پناه اخیستل شـامل وو. د بېلګې په توګه د فبروری په ۷ نېټه د بلخ ولایت په چهاربولک ولسـوالۍ کې افغان امنیتي ځواکونو د طالبانو په وړاندې چې په ملکي کورونو کې ځای په ځای شـوي وو له درندو وسـلو کار واخیسـت. د درندو وسـلو یوه ګولۍ په یوه کور ولګېده چې په ترڅ کې یې دوه نجونې، دوه هلکان او دوه نارنیه ټپیان شول او کور یې ویجاړ شو. د سبتمبر میاشتې په ۲۶ نېټه د ارزګان ولایت په کیزاب ولسوالۍ کې په یوه کور کې د دولتي ځواکونو د هاوان مرمۍ ولګېده چې له امله یې یوه مېرمن سـخته ټپي شـوه. تر پېښې ـ څو شـېبې وړاندې، طالبان نوموړي کور ته په زور ور ننوتي وو. خلګو هڅه کوله چې خپل ارزښـــتمن توکي له ځان سره واخلي او و تښـــتي خو د هاوان ګولۍ ولګېده او پېښـــه یې را منځ ته کړه. د اکتوبر میاشـتې په ۱۹ نېټه د بلخ ولایت په دولت آباد ولسـوالۍ کې طالبان یوه کور ته ننوتل او د کور څښـتن یې اړ ایسـت چې هغو ته ډوډۍ چمتو کړي.

ځواب: موږ د یوناما په راپور کې دا او دیته ورته ادعا وې بې اساسه بولو، د اسلامي امارت مجاهدین هیڅ کله هم نه د ملکي خلکو په کورونو کې سنګر نسي او نه د ډوډې لپاره د چا کورته په زوره ورننوزې، بلکې دا د کابل د ادارې یو منفي پروپاګند دی چې د یوناما لخواهم بدرګه شوی.

د افغانسـتان ملت یو مجاهد ملت دی او په خپله د دې مبارزي برخه دې، د شرعي مکلفیت پراسـاس په هره ممکنه لاره د دې جهادي صـف مرسـته کوي، د دې ضرورت نه پیښـېږي چې له چا څخه دې ډوډۍ په زوره وغوښـتل شي، بلکې په هره سـیمه کې ډېر داسې خلک وې، چې مجاهدته د ثواب په نیت ډوډۍ ورکوي او کوشش کوې، چې په دې مبارزه کې په یو ډول له دوی سره ځان شریک کړي.

بالعکس د کابل ادارې د ځواکونو لخوا په کلیو، د خلکو په کورونو، صحي مراکزو او مکاتبو کې پوستې جوړې شوې دي او ډېر داسې انځورونه او ویډیوګانې د دوی لخوا خپورې شوي دي، چې د خپلو عملیاتو په جریان کې د نښتو پرمهال د ملکي خلکو کورونوته ننوتلي او له هغه ځای څخه جنګیږي، یواځې جنګیدل څه چې په زوره د سیمې په خلکو خپل ټپیان د جنګ له سهنې څخه باسي او نور ډول ډول کار ورڅخه اخلي، ډېرځله خو د تګ پرمهال په کورکې شته قیمتي اجناس له ځان سره وړي او کورونه لوټ کړي.

۱۴: یوناما د خپل راپور په (۳۲) مخ کې ذکر کړي، چې په تیر ۲۰۲۰م کال کې د طالبانو له لوري ۱۳ هغه فدایي بریدونه ترسره شـوي، چې عامو خلکوته یې مرګ ژوبله اوښتې؛ خو طالبانو د ۴ بریدونو مسئول منلی دی.

ځواب: سـتاسـو په راپور کې د ۱۳ فدایي بریدونو پړه پرطالبانو اچول شـوي، سره له دې چې تاسـو خپله وایې چې اسـلامي امارت په همدې پیښـو کې د ۴ پیښـو مسـئولیت پرغاړه اخیسـتی، نو د ۹ پیښـو مسـئولیت د چا په تائید پر مجاهدینو اچوئ؟ معلومه خبره ده، چې د دښـمن لخوا څه ویل کیږي هغه په خپل راپور کې لیکلئ، دښـمن خو په سـپین سـترګی سره ډیرې هغه پیښې ـ هم اسـلامي امارت ته منسـوب کولي، چې د داعیش وسله والې ډلې یې په ښکاره یوځل مسئولیت پرغاړه اخیستی وو.

نو ځکه موږ د یوناما دغه راپور ردوو، بې پرې یې نه بولو او په ریښتونې توګه د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي په هدف نه راته ښکاري.

د یوناما په ګډون له ټول بشرـــپالو ادارو څخه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې په اړه راپورونه خپروي، هیله لرو، چې په خپلو راپورونو کې د بې پرې توب اصـل په نظرکې وسـاتي او خپل راپور په ربښـتونې او دقیقو ارقامو چمتو کړي، ترڅو په داسې راپورونو د بې ګناه انسـانانو د مرګ ژوبلې مخه ونیسو.

مګر که د ملکي تلفاتو له موضـوع څخه سـیاسي اسـتفادې ته دوام ورکوو، نو بیا نشـو کولی چې خپل هدف ته ورسـیږو، بلکې پرځای به یې هغو خلکوته برأت او جرأت ورکړو، چې ملکي وګړوته په بې پروایې سره عمداً مرګ ژوبله اړوي.

مننه